# دَ غني کلیاتُ




Ketabton.com

غني خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دغني کليات

## دپنجرې چغار، پلوشې او پانوس

## ويونکې

خان عبدالغني خان

خپروونکې

دقومونو او قبايلو وزارت

دنشراتو رياست

۱۳۶۴ ش / ۱۹۸۵ ع

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه

عبدالغني خان د پښتنو د ستر اجتماعي، سیاسي شخصیت خان عبدالغفار خان مشر زوی دی. غني د هندوستان د نیمې وچې د خلکو د آزادۍ په غورځنګ کې د ماشوموالي تجربه د پاکستان تر پیدا کېدو پورې مخامخ خپله اخیستې او بې شکه د ضد استعماري او ضد امپریالیستي مبارزې د میدان یو مبارز پاتې شوی دی او په دغه لاره کې یې سختۍ او جیلونه ګاللي دي. د دې سره سره د متحده هند تر محدودو اک لاندې انتخاب شوي مرکزي قانون جوړوونکي اسامبلې کې د هند د آزادۍ غوښتونکي ګوند کانګرس له خوا د پښتنو د صوبې یوازینی منتخب نماینده پاتې شوی و.

د هندوستان د وېش په نتیجه کې د پښتنو لې برخې کېدو غني خان په مرد جرات ادبي تره ګوزي سیاستونو باندې لې باور کړ، د سیاست د چیغو او نارو له کتاره راجلا شو او د شعر تېره توره یې د نابیانه شو د حقیقتونو او نادیونکو د ګوتونو د بیان او رسوا کولو لپاره له تیکي را وایسته. هر څه یې چې زړه او الهام ورته ویل، هغه یې ولیکل او په دې توګه یې هغه لوی عقل چې "شعر" نومیږي صیقل کړ او د رعایتونو او قیودو له ننګ او شرم نه یې آزادي ورکړه.

بل دی چې غني د فلسفي تفکر په لحاظ تحلیل کړو او بل دا دی چې دی یو نقاش، مجسمه جوړوونکی او خوارځیز هنرمند په توګه یې وپیژنو، دی زموږ د دوران یو ډېر لوی شاعر دی چې د انسان

A .S.K B

په ښکلا، اولولې او د هغه په کمزوريو ترل هم پښتون شاعر ښه پوهېدلی دی. د و انسان تکل
غوښتنې او ننګ او رهونو د هغه ځينو مذهبي، فلسفي، سياسي او خرافي انديښنو کې ځيرلی او
آزمولي دي. غني د دې لپاره چې د شعر ژبه پاکه، سپيڅلې او د دې لپاره چې انسان د دوکې لاد
پرخاتن بانډې د بادرې کولو په لومه کې ښکېل نه کړي، پر ټولو قرار دادي، تعد ساتوبازي
چينه بندي او خلګو ته د رياکار، شيخانو او، وطن فروشه اخوندانو کاذبه لاڼي او مقدس
د دواغ بربنډ دی.

اې دلبريانو نيکه لمونځ ښه که مستي ښه ده
حسن خو بيا ښه دی که حسن پرستي ښه ده

په پاکستان کې د پښتو ژبې د زوالي بدمرغۍ او د پښتنو د کم سوادۍ له کبله
د عبدالغني خان غني شعر د نيوال د ده د شعر د پيازړي، سوزيک او د هغه د رنګينو
عطرو د ورږمو له احساس څخه محروم کړی دی. زه باور لرم چې پښتانه، افغانان
او نړيوال به په لنډ مستقبل کې غني د خپلو نه نه ښه ښکلو شعرونو په محراب کې ودروي
او وبه يې لمانځي.

د غني انتقادي ژبه بربنډه ده. دی ديورومانتيک، رياليسټ
په توګه د ښکلا او د مينې ستاينونکی دی. ليکن په هرڅه. هرځای او هر وخت کې
انسان د اد ځمکې خوځنده او وښيار خاوند نه هېروي. هغه له خپلو ټولو بلابو
او خطو وسره د ده د شعر په محراب کې ناست دی او د خپلو ښه بخو او بلا يو په
ننداريتوان کې د غني د شعر ته د لذت او عذاب په زانګو کې د ژوندانه د دوام
لپاره الهام ورکوي.

سليمان لايق

(c) ketabton.com: The Digital Library
A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یادونه او منته

د قومونو او قبایلو د وزارت او همدارنګه د نشراتو او فرهنګي امورو د ریاست له خوا په دې وروستیو څو کلونو کې ځینې کتابونه او رسالې د مقالو مجموعې او نور ګڼ شمېر فرهنګي، ادبي، تاریخي او علمي کتابونه د حروفي چاپ په آفسیټ او ګستتنر له لیارې چاپ او خپاره شوي دي چې د دغو کتابونو له جملې څخه ځینې یې ډېر ښه علمي ادبي، تاریخي او کلتوري کتابونه د افغانستان د علومو اکاډیمۍ علمي غړي معاون سرمحقق زلمي هېوادمل د هېواد له فرهنګ سره د مینې له امله په ځان الزامي، بې اجره کار او برېته له کومې رسمي مکلفیته په وړیا ډول موږ ته چاپ کړي دي، د ځینو کتابونو اډیټ او د مقالو د دریو مجموعو (د الفت یاد، د ننګونو شاعر غني او اجمل) تدوین یې هم وړیا ترسره کړي دي.

زموږ له کتابونو سره یې د باچا خان زمانه، ژوند او جد وجهد. او د باچا خان لیکونه هم ده بې له کومې مادي ګټې په بشپړ ډول وړیا چاپ کړي دي. د نشراتو او فرهنګي امورو ریاست د ده دغه د ول همکارۍ ته په درنه سترګه ګوري له زړه د منې ترې کوي او له خدایه په پوره د هېواد په فرهنګ اکاډمي مین هېوادمل ته په راتلونکي کې هم د زیاتو د نشري فرهنګي او علمي مرستو هیله لري

په درناوی

عبدالرووف ...

د نشراتو او فرهنګي امورو رئیس

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


| مخ | عنوان |
|---|---|
| ۱ | پیشکش |
| ۳ | دعا |
| ۴ | ثنا |
| ۵ | ژوند |
| ۷ | ګواه |
| ۸ | خوږه |
| ۹ | بلخه |
| ۱۰ | تش جام |
| ۱۱ | غم |
| ۱۳ | هوش |
| ۱۴ | حسن |
| ۱۶ | اوربکنې |
| ۱۹ | حساب |
| ۲۲ | غزل |
| ۲۳ | قسمت |
| ۲۴ | د فریدون د مور خط |
| ۲۸ | اول سبق ستا د لیدو خورا |
| ۳۱ | توقه |
| ۳۲ | ورکنې |
| ۳۴ | جنت |
| ۳۶ | سپرلے |
| ۳۹ | ژوندون |
| ۴۱ | بلهلار |
| ۴۳ | قسمت |
| ۴۵ | قارغان مارغان |
| ۴۶ | مرګے |
| ۵۰ | چینغ |
| ۵۲ | مزه |
| ۵۴ | بازیګر کمتر |
| ۵۶ | کوچے |
| ۵۸ | تورانئ |
| ۵۹ | ملا چرګک |
| ۶۱ | بورا |
| ۶۳ | تاره |
| ۶۶ | کورکوره |
| ۶۷ | مچ |




A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library


| عنوان | مخ | عنوان | مخ |
|---|---|---|---|
| شپږ زمري | ۶۹ | کټ ماله | ۱۰۶ |
| اوږه کلونه | ۷۴ | مسافر | ۱۰۹ |
| پلوشه | ۷۹ | بې غيرته پښتون | ۱۱۱ |
| خيال او رنګ | ۸۰ | دامکان او لا امکان | ۱۱۳ |
| يو خط | ۸۲ | قانون | ۱۱۵ |
| کاروان | ۸۳ | آسره | ۱۱۶ |
| بې وفا | ۸۴ | د بودۍ تال | ۱۱۷ |
| ښکلا | ۸۵ | دره په دره | ۱۱۸ |
| خمار | ۸۶ | کوډ اګي ! | ۱۲۰ |
| ملا بسم | ۸۷ | مرګ | ۱۲۱ |
| صنوبر | ۸۸ | مينه | ۱۲۳ |
| ترانه | ۹۱ | جنت | ۱۲۴ |
| صحرا | ۹۵ | شمع | ۱۲۸ |
| خړ وو چه هيڅ نه وو | ۹۷ | جانان تها | ۱۲۹ |
| جزا | ۹۸ | قيدي | ۱۳۱ |
| شهوت | ۱۰۱ | غيرتي | ۱۳۲ |
| خندا | ۱۰۲ | | |
| سپيڅې | ۱۰۴ | | |




A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library


| عنوان | مخ |
|---|---|
| تسلی | ۱۳۵ |
| سوال - خانان | ۱۳۶ |
| افسوس - راگ | ۱۳۷ |
| گرځیرګی - حال زما | ۱۳۸ |
| گله - دوصال مزه | ۱۳۹ |
| ثنا - مورے | ۱۴۰ |
| بابیره - بهار | ۱۴۱ |
| اے دمرحبا دلبره | ۱۴۳ |
| غزا - خان | ۱۴۴ |
| اتفاق - انسان او فطرت | ۱۴۵ |
| غم | ۱۴۶ |
| دا روش دے د دنیا | ۱۴۷ |
| ازبیلتیه - زوراور | ۱۴۷ |
| دتورے فریاد - جتیه | ۱۴۸ |
| خرمستی | ۱۴۹ |
| ترانه | ۱۵۰ |
| دعا - زړه اوس | ۱۵۱ |
| کونډه | ۱۵۳ |
| دعشق نور | ۱۵۴ |
| آرزوگانے - ته اوزه | ۱۵۵ |
| بلبانه | ۱۵۶ |
| خانصاحب | ۱۵۷ |
| مورے | ۱۵۹ |
| گل که یار | ۱۶۰ |
| لیلی | ۱۶۱ |
| سوال - لیونتوب | ۱۶۲ |
| توبه | ۱۶۳ |
| سیل | ۱۶۴ |
| گلی - بهانه | ۱۶۵ |
| پلوشه - غرور | ۱۶۶ |
| اد خارے گلے - گلو ورے | ۱۶۷ |
| پلوشه - لوبه | ۱۶۸ |
| گلو ورے - انصاف | ۱۶۹ |
| په کاړدی - زور | ۱۷۰ |




A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library


| عنوان | مخ |
|---|---|
| بادشاه خان ته خط | ۱۷۰ |
| نیمګړے مړے پښتو ترجیرا وانه | ۱۷۱ |
| د فقیرانو غزل | ۱۷۲ |
| خوشحال خان خټک | ۱۷۳ |
| لږ شو خمار پیدا | ۱۷۴ |
| میاجعفر شاه ته خط | ۱۷۵ |
| ګډے وډے | ۱۷۵ |
| پلوشه | ۱۷۶ |
| کارغه او بلبل | ۱۷۷ |
| پلوشه | ۱۷۸ |
| رشته | ۱۷۹ |
| پلوشه | ۱۸۰ |
| زه | ۱۸۱ |
| معمی - پلوشه | ۱۸۲ |
| لنډے چړک | ۱۸۳ |
| دمال وزیر ته خط | ۱۸۳ |
| خـره | ۱۸۴ |
| دے تورے | ۱۸۶ |
| پلوشه | ۱۸۸ |
| پلوشه - دلربا | ۱۸۹ |
| هي هي زما ليلى | ۱۹۰ |
| پلوشه - بهار | ۱۹۲ |
| ولے | ۱۹۳ |
| درد ورد | ۱۹۴ |
| وتړلے - مینه او حسن | ۱۹۵ |
| زما د ګلو لښتے | ۱۹۶ |
| ځواني | ۱۹۶ |
| ګډے وډے | ۱۹۷ |
| پلوشه | ۱۹۸ |
| ګډے وډے | ۱۹۹ |
| خار در نشمه | ۲۰۰ |
| پلوشه | ۲۰۱ |
| بے پروا لکه لوی وے | ۲۰ |
| مناری | ۲۰۲ |
| حوره | ۲۰۴ |
| غمګینو سترګو | ۲۰۵ |
| عدم تشدد | ۲۰۶ |
| جدائی - فلسفه | ۲۰۷ |
| د فقیرانو سوال | ۲۰۸ |
| جانان - رباعی | ۲۰۹ |
| پلوشه - لیونی | ۲۱۰ |
| سوال ځواب دلیونی او ملا | ۲۱۱ |
| پلوشه | ۲۱۲ |




A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library


| عنوان | مخ |
|---|---|
| ګله ے وړے | ۲۱۳ |
| پلوشه | ۲۱۳ |
| د پسرلی شپه | ۲۱۴ |
| دعا | ۲۱۵ |
| شاعری | ۲۱۶ |
| جنډه | ۲۱۷ |
| مور | ۲۱۷ |
| دنیا پیروشهزادګۍ | ۲۱۷ |
| زه | ۲۱۹ |
| ترول او تال | ۲۲۰ |
| خسرو | ۲۲۱ |
| اسلام | ۲۲۴ |
| سیل | ۲۲۶ |
| ګله ے وړے | ۲۲۷ |
| مسلمان | ۲۲۸ |
| دنا د شمع کښے — د سحر نور راغی | ۲۲۹ |
| پلوشه | ۲۳۰ |
| اګست ۱۹۴۷ ع | ۲۳۰ |
| ترول | ۲۳۰ |
| ارمان - بکواس | ۲۳۱ |
| پلوشه | ۲۳۲ |
| دوه خبرے | ۲۳۲ |
| ګله ے وړے | ۲۳۲ |
| دنیاګۍ - ډالۍ | ۲۳۳ |
| ګله ے وړے | ۲۳۴ |
| قصه | ۲۳۴ |
| ګله ے وړے | ۲۳۵ |
| څوانه | ۲۳۶ |
| سلام | ۲۳۷ |
| د ژمی مابنام | ۲۳۸ |
| ژوند | ۲۳۹ |
| ژبه | ۲۴۰ |
| اول سرے ستا | |
| دلیډ خورا | ۲۴۱ |
| رباعی | ۲۴۲ |
| یادے دی | ۲۴۳ |
| دنیا | ۲۴۵ |
| ژوندون | ۲۴۵ |
| جنتی ته | ۲۴۶ |
| واده جنتی | ۲۴۸ |
| شان او شهک | ۲۴۹ |
| ترانه | ۲۵۲ |
| شاعر او لیلی | ۲۵۴ |




A .S.K B

| عنوان | مخ |
| --- | --- |
| اے نایکه | ۲۵۶ |
| ژوند | ۲۵۸ |
| غــزل | ۲۶۰ |
| عبادت | ۲۶۱ |
| دا ایلم تو تیان | ۲۶۲ |
| سزا او جزا | ۲۶۳ |
| ماتم | ۲۶۵ |
| پلوشه | ۲۶۶ |
| شاعری | ۲۶۶ |
| تک | ۲۶۸ |
| گلې وډې | ۲۷۰ |
| پلوشه | ۲۷۰ |

| عنوان | مخ |
| --- | --- |
| لکه داخلی چه ما شوم | ۲۷۱ |
| تقسیم | ۲۷۳ |
| بیا | ۲۷۴ |
| لیلیٰ | ۲۷۹ |
| خوکه | ۲۸۰ |
| وخت | ۲۸۱ |
| وائی ملا جان ـ پلوشه | ۲۸۳ |
| نرس | ۲۸۶ |
| خپله وه دسپرلی | ۲۸۷ |
| کیمیاکو | ۲۸۹ |
| دبودے تال | ۲۹۰ |
| صانه | ۲۹۳ |
| نارې | ۲۹۴ |
| اسپتال | ۲۹۶ |
| شهید ډاکټر صاحب | ۲۹۸ |
| پروت یمه یوانے | ۳۰۰ |
| واندت | ۳۰۲ |
| حسین | ۳۰۰ |
| صیبوبزئی | ۳۱۳ |
| نوی بلا | ۳۱۵ |
| دغتی پتوس | ۳۱۷ |
| حساب کتاب | ۳۱۹ |
| دنړے خال | ۳۲۱ |
| دنیا په غلام | ۳۲۴ |
| یوریپ | ۳۲۶ |
| سے زما وطنه | ۳۲۸ |
| جنت او دنیا | ۳۲۹ |
| مینه او حسن. | ۳۳۲ |
| سریاډی گل | ۳۳۳ |
| دنیا | ۳۳۴ |
| چه آدم خاړ .... | ۳۳۹ |
| قسمت | ۳۴۱ |
| مرگ | ۳۴۵ |
| یوآن | ۳۵۰ |
| رنګ | ۳۵۱ |
| گلې وړے | ۳۵۲ |




A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library


| عنوان | مخ |
|---|---|
| تصویر | ۳۵۳ |
| د سامري محل | ۳۵۵ |
| ګلدرې ګځي په شا | ۳۵۷ |
| جلال | ۳۵۸ |
| وا زمونږ غوټکې.... | ۳۶۰ |
| زما محترم ورور سردار علي خان | ۳۶۱ |
| بې نواته خط | ۳۶۲ |
| پلوشه | ۳۶۵ |
| نقاب | ۳۶۶ |
| اختر | ۳۶۸ |
| تپوس که جواب | ۳۷۰ |
| تلے مرګ | ۳۷۲ |
| لټون | ۳۷۴ |
| کاروان | ۳۸۰ |
| نه کېږي | ۳۸۲ |
| راګه ساقي راګه | ۳۸۳ |
| دیوداسي | ۳۸۵ |
| منم | ۳۸۸ |
| ګلونه د ډېر خاري | ۳۸۹ |
| خُمه، خُمه خُمه | ۳۹۰ |
| یو ټکے | ۳۹۲ |
| بامیان | ۳۹۳ |

| عنوان | مخ |
|---|---|
| سپرلی | ۳۹۴ |
| مانهلم | ۳۹۶ |
| سپوږمۍ سکی شو | ۳۹۷ |
| چینجی | ۳۹۸ |
| د لندن معشوقې | ۴۱۴ |
| عجیبه فلسفه | ۴۱۵ |
| ګوګوشتو | ۴۱۷ |
| ترجمه د اقبال | ۴۱۸ |
| دعا | ۴۱۹ |
| میلاد آدم | ۴۲۰ |
| یو بے مهارې اوښه | ۴۲۱ |
| سینډ خُمه.... | ۴۲۲ |
| باډیوه | ۴۲۴ |
| تالیئے | ۴۲۵ |
| خیام | ۴۲۶ |
| سرود قلندر | ۴۲۸ |
| نو بے سیاست | ۴۳۰ |
| زما لال | ۴۳۱ |
| کنی دنیا به ډه | ۴۳۲ |
| پلوشه | ۴۳۴ |
| دعا | ۴۳۵ |
| څوبرکیڅو | ۴۳۶ |




A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library


| عنوان | مخ |
|---|---|
| پلوشه | ۴۳۸ |
| حقیقت او مجاز | ۴۳۹ |
| اوه، چپتول عمر... | ۴۴۰ |
| پلوشه | ۴۴۱ |
| نه اوزه | ۴۴۲ |
| درز سینې په کیدو | ۴۴۳ |
| ګډې وډې | ۴۴۴ |
| خندا او ژړا | ۴۴۵ |
| چه د مستۍ نه... | ۴۴۶ |
| وه ملا | ۴۴۷ |
| ژوند | ۴۴۸ |
| عشق | ۴۴۹ |
| په سهوان مارچ... | ۴۵۰ |
| یو تجربه | ۴۵۲ |
| سوال جواب | ۴۵۴ |
| د لیونیانو نیکه | ۴۵۵ |
| شهید | ۴۵۶ |
| منصور | ۴۵۷ |
| خرو | ۴۵۹ |
| پیدائش | ۴۶۰ |
| ګډې وډې | ۴۶۲ |
| لنډۍ | ۴۶۳ |

| عنوان | مخ |
|---|---|
| مسلمان | ۴۶۶ |
| ساقي | ۴۶۷ |
| نوے کال | ۴۶۸ |
| زه | ۴۶۹ |
| سپر خلاصیږي | ۴۷۰ |
| د جیلخانې خوب | ۴۷۱ |
| ګډې وډې | ۴۷۴ |
| قید | ۴۷۵ |
| خاورې | ۴۷۸ |
| د خوبونو جهان | ۴۸۰ |
| آباد سبا | ۴۸۱ |
| مهذب | ۴۸۲ |
| سوداګر | ۴۸۳ |
| ګوکل | ۴۸۶ |
| جناب شیخ | ۴۸۸ |
| تاریخ | ۴۹۰ |
| ساز | ۴۹۱ |
| صاحب | ۴۹۳ |
| اور | ۴۹۴ |
| آدم | ۴۹۷ |
| نه کیږي په عقل | ۴۹۹ |
| اختلافات | ۵۰۲ |




A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library


| مخ | عنوان |
|---|---|
| ۵۰۳ | لوړه |
| ۵۰۵ | ویش |
| ۵۰۶ | دغم لور |
| ۵۰۷ | زور |
| ۵۰۸ | بُت |
| ۵۰۹ | پېرزوند ګلو |
| ۵۱۰ | ولے ؟ |
| ۵۱۲ | باچا |
| ۵۱۵ | دوزخ |
| ۵۱۸ | لیونی |
| ۵۱۹ | زه |
| ۵۲۰ | اوښ |
| ۵۲۳ | مرګے |
| ۵۲۴ | کمتره |
| ۵۲۶ | باورپرے |
| ۵۲۷ | میړنے |
| ۵۲۸ | وصیت |
| ۵۳۱ | ماشے |
| ۵۳۴ | پېرے |
| ۵۳۵ | اُس بلدو |
| ۵۳۷ | پلوشه |
| ۵۳۸ | قارغه |

| مخ | عنوان |
|---|---|
| ۵۴۰ | پلوشه |
| ۵۴۱ | چرګ |
| ۵۴۲ | ښځے |
| ۵۴۴ | تیروتے |
| ۵۴۵ | زبرګ |
| ۵۴۷ | ګلے وے |
| ۵۴۹ | ګلے وے |
| ۵۵۰ | عجیبه فلسفه |
| ۵۵۳ | دتوت ښاخ |
| ۵۵۵ | بس دے افلاطونه |
| ۵۵۸ | پتیره دادنیا |
| ۵۵۹ | جوارګر |
| ۵۶۱ | الا بلا په کړن ملا |
| ۵۶۲ | جلال |
| ۵۶۴ | پلوشه |
| ۵۶۵ | پلوشه |
| ۵۶۶ | اراده |
| ۵۶۷ | رښتیا |
| ۵۶۹ | غمونه |
| ۵۷۱ | تجربه |
| ۵۷۲ | خدایه ولے ؟ |
| ۵۷۴ | باباته |




A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

| عنوان | مخ |
| --- | --- |
| خه دپاره | ۵۷۵ |
| بورا | ۵۷۷ |
| پلوشه | ۵۷۸ |
| حال نه ما | ۵۷۹ |
| خه وکړم | ۵۸۰ |
| زړه چاودے | ۵۸۱ |
| کښے ورځے | ۵۸۲ |
| زما محل | ۵۸۳ |
| قسمت | ۵۸۵ |
| اوږی | ۵۸۶ |
| د پښتو ترانه | ۵۸۷ |
| پلوشه | ۵۸۹ |
| مینه | ۵۹۰ |
| تماشه | ۵۹۱ |
| پلوشه | ۵۹۳ |
| نهه نوے - پلوشه | ۵۹۴ |
| کښے ورځے - پلوشه | ۵۹۵ |
| مخ د جانان | ۵۹۶ |
| یو جام | ۵۹۷ |
| خضد خضر | ۵۹۸ |
| ولے | ۵۹۹ |
| یو جام | ۶۰۰ |
| کښے ورځے | ۶۰۲ |
| کښے ورځے | ۶۰۳ |
| بنی آدم تفصیل | ۶۰۴ |
| خیال | ۶۰۶ |
| دوه سترګے | ۶۰۷ |
| وهم | ۶۰۹ |
| شان دانه | ۶۱۰ |
| راشئ ورور دیار غږه | ۶۱۱ |
| شاعر | ۶۱۳ |
| تنظیم نظم ... | ۶۱۴ |
| ادیبو نیا نو ته | ۶۱۶ |
| دعروج ښکار | ۶۱۹ |
| کښے ورځے | ۶۲۱ |
| ترانه | ۶۲۳ |
| دعا | ۶۲۵ |
| مینه | ۶۲۶ |
| مرو شمع | ۶۲۷ |
| بنده | ۶۲۸ |
| سلام | ۶۳۰ |
| د ژی ماښام | ۶۳۱ |
| مست | ۶۳۲ |
| نوی اوسینګاری .. | ۶۳۴ |
| عقل م حیرانه | ۶۳۵ |
| ټونډ | ۶۳۷ |
| کیږي | ۶۳۸ |
| مسانی | ۶۴۰ |
| ترک خیال | ۶۴۲ |
| یره تیصر | ۶۴۴ |
| د مدرنیا دونی | ۶۴۶ تا ۶۸۰ |



A .S.K B

ستا په نوم زما ربه

د

# پنجرے چغار

ګوره بلبل په پنجره کښے جوړ
لوے یو جهان د ګلونو که

مست شو صحرا او په خوب کښے ئے
ډک لعل جهان د سیند نوکه

د غني د جیلخانے د زما شعرونه

هریپور۔ ۱۵ اکتوبر ۱۹۵۰ ع کښے
ما کتاب شروع کوم
غني

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پیشکش

شاعر دَ خپل ماحول غلام وی، دَ ده مثال دَ یو داسے حیوان دے چه دَ هغه په وجود خرمن نه وی، که پو ــے تے داز غی څوکه وروړے نو په کریکو ځان وژنی۔ او که پو ــے تے آرام ورشی نو دَ خوشحالئ نه بے هوشه کیږی.

اوکوره انسان ته چه بادشاه دَ ځناورو دے
دے که دیر زور وکی و ــے تے نه شی دَ خپل ځانه
دے دَ خپله ځانه دَ جهانه رد کیدے نه شی
کله دَ کعبے نه تاوشی کله دجانانه

بنده دَ خپل احساس او بے حسئ په قلاکښے بند دے، او دغے ته خلق قسمت وائی. خوشبخت کاله وړاند ے واقعاتو نه دَ خپلے لوئے قلا نه راوښکلم او په دیرو وړو وړو دَ خښتو قلاګانو کښں بندیوان کړم.

دغه دَ درد، زور او تیرے ماحول کښے ماته دَ لا رے روښانه کولو صرف یوه شمع وه، او دا ځما دَ ځوانئ او مستئ کلونه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه په دې تور او تاريک باغ کښې شوې دي او ما ترېنه يوه مړاوې ګلدسته جوړه کړې ده مخې فرښتې ته پېش کوم، چا چه د خيله آباد د نوابې رستم جنګ محل د غني د تالا شوې جونګړې د پاره پرېښود. او ماشي دا دغم. د درد او بې سروسامانۍ روږدې ډيرې په خندا خوشحالۍ او بهادرۍ تيرې کړې. زه چه د مخې درد ته ګوردم نو خپل درد راته روک شي. زه چه د مخې نړتوب ووينم. نو په خپله بزدلۍ ستوماڼه شم. زه د ډيرو نړانو نړيم. خو د مخې نه نړ نه شوم.

نو ځکه دا کتاب زه په ډير ادب او ډيره مينه د خپلو بچو مورته پېش کوم.

يو خوب د شاعر په جامه انساني
يو ساز دور دراز ښکلې خوب آسماني
يو ګل د جنت په خصلت رحماني
يو جسم ناري يو زړه ګې نوراني
شوله داسې پيدا د غني دلبرا
په غيرت پښتنه په نهايت ايراني

مړک پروجيل
۱۹۵۳ ع



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دُعا

ستر کو دَ جانان کښې زما بنګلي جهانونه دي
وا دِ خله دنیا زه وږے ستا دَ دنیا نه یم
کوږه دَ فقیر کچکول کښې تاج دَ سکندر دے پروت
زه یم دَ سخیانو دَ شومانو ګدا نه یم

زه ئے په غرور درنه دَ سینے په نوم غوارمه
زه ملنګ بے نیازه ستا دَ دیں واویلا نه یم
یو دَ سپوږمۍ څاڅکے درنه ټیک له دَ یار غوارم
زه یم دَ خوبونو دَ لالونو ګدا نه یم
هغه مستي غوارم چه ئے مرګ نشي وژلے
زه دِ دَ غمونو دَ بیګا او سبا نه یم
او تشه دنیا ګټے که دِ بخښے نواے امیره !
ستا شوه ستا دنیا۔ زه وږے ستا دَ دنیا نه یم

غني



A .S.K B

# ثنا

تورې شپې دې کله کله د غمونو انبار راوړي
کله شمع ساقي راشي او خيام او ستار راوړي
کله توره شپه لحد شي هر څه روک کړي په تيارو کښې
کله رنګ او خمار راوړي کله شرنګ او دلدار راوړي
کله ډوب او بې قراره يو درياب د آسويلو شي
کله مست د رنګ محل شي بې خودي او خمار راوړي
دا زما بې خودي واړه يو نظر ستا د قرار دے
دا زما درياب د حسن ستا يو څاڅکے د خمار دے

غني

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژوند

چه خمار مستي ته وزي — شراب شي ترخې او به وي
چه سرور غرور نه نه وي — دا ژوندانه ورند ؤ دخه وي

چه د مينې ذره شي پاتې — لکه ګل وي رژېدلې
یا شغله یوه د نور وه — یا یو موټې د خزلې

چه په ژوند کښې سختنه وي — لکه بې مالګې طعام
چه په خوله کښې خندا نه وي — لکه ډک د خاورو جام

چه خواني کښې تکليف نه وي — لکه پته ميان کښې توره
نه نې پرق شي نه شرنګ شي — په زنګونو شي زخوره

چه آرام وي او سمام وي — او یاري په جایداد وي
خو بانو هم شيريني وي — هر ترو پرو فرهاد وي

چه بې سر په خندا و شي — هاله خوږ راز و نیاز شي
چه د سپينو تورو جنګ شي — ښکاره هلته کښې ایاز شي

ژوند که تش فيرني خستل شي — داخو سپي هم شي ختلې
که تش نسل زیاتول وي — دا غومې هم شي ښه کولې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند نه خیټه نه مانۍ دی — نه ډیرۍ د سرو لالونو
نه یاران نه معشوقې دي — نه باغونه د ګلونو

ژوند خو تله دی یو به مخه
غرزېدل او پاڅېدل دي
تکې سوز او تکې ساز دے
څه خندل دي څه ژړل دي
ژوند په سترګو د عاشق کښې
پلوشه ده د خمار
په صحرا کښې لټول دي
د آشنا د کوڅې لار

غني
حیدرآباد جیل
۱۳۴۹-۹-۱۱





A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

هری پور ۱۴ مارچ ۱۹۵۰ ع

# ګواه

یو تکی ذ رنګ کښې دریاب رنګا رنګ
یو ښاغلی ذ ساز کښې هم سوز او هم شرنګ
ذ ژوندیوه لمحه کښې سوونه عمرونه
یو چونګ کښې دخاورې مستی او غمونه
په لپه ایرو کښې ښارونه ذ نور
ذ هر ګل په شونډو رازونه ذ طور
خاورینه خرمن کښې خندا او غرور
تیارې ذ شهوت او رڼا او سرور
دے بت کښې ذ خاورو دا تال ذ ابد
ذ ښاغلی په غږ کښې جمال ذ ابد
ثبوت مانه لوئی ستا د ښان کوم دے
ګواه مانه سبه ستا ذشان کوم دے

خانپور



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خان پور

# څومره؟

څومره مینه مستي ده کرم ادب څومره؟
څومره تا دلدار جانان کرم رتب څومره
نه زه ستا په حد دخان په حساب پوه شوم
ستا پوهیږي پخپل هنګ او طرب څومره
تورانني په ساز سرود ترکومے رسی
ګلاب پوه دے دخایشت (*) په مطاب څومره
داسپوږمۍ چه کل جهان حیران حیرانګړي
داپوهیږي دخپل نور په سبب څومره
رنګ رنا دخپل ځیګر پړ خو رونه
دومره خیشت وي چه زماوي طلب څومره
داچه ورکے شونډے اور سرور روښان کړي
معشوق پوهیږي دعاشق په مطلب څومره
ځامینه ده ادب دپنجرے اوزي
وایه څومره دجانان کرم رتب څومره

(*) خایشت: ښایست.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بلڅه

په نظر کښې مې — د باغونو خیال
په نصیب کښې مې — لاره د غرونو
عجیبه اچار — مې اچولې دې:
د کلونو — او د غمونو
په غوږونو کښې — شرهار د ساز
د ګنګرو پېنزیب — او خندا آواز
ډوب مې زړه لټئ — بل څه نوې ساز
بل څه نوې سوز — بل څه نوې راز
ځکه خیال کښې مې — د باغونو رنګ
او نصیب کښې لاره — د غرونو
ما د تورو هیرو (*) — جوړ کړی دې
ځان له بنګلې تخت
د خوبونو

مرحب پور

(*) هیرو : ایرو



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تش جام

هغه څه ساقي وي — چه تش شراب وي جام کښې
نه ورکې خمار د سترګو — رنګ د سرو لبانو
دا د دوزخ اور وي — چه تش سکوي رڼا نه وي
دا هغه کانړے دے — چه خطبې لولي مابنام کښې
دا د ازغو جاړه د کاب — خو ګلاب نه لري
دالوګو وهلے میږ — تیکه او کباب نه لري
زهر زهر زړه مړ دي — شراب چه خمار نه لري
کفر کفر کفر دے — مستي چه قرار نه لري
څه هغه بنده وي — چه جنون او دلدار نه لري
هغه د څ رسیند وي — چه غوړئې او آبشار نه لري
هغه څه مومن وي — چه مستي د کافر نه لري
څه وي هغه سترګے — چه د مینې نظر نه لري
هغه دعا څه وي — چه شرنګار او ښنا نه لري
زهر زهر زهر دي — شراب چه خمار نه لري



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غم

پنسن مې بخمیر، روک که قلم تش دَ سیاهئ نه
کوټه کښې یخ او تریخ لوګے باهر(٭) یخنه ٭ میلې
دماغ مې پریشانه زړګے پریوتے دَ مے مستئ نه
خیالات مې روک نوستلي غم وهلي په بدلئ
دُنیا مې دَ امید دَ رڼا نشه تکه توره
دَ غم دَ قیصو که ده خندا آوازئ مېر
هره لمحه دَ ساه ترخه بے خونده او چه سپوره
محمد دِ خان لیونے که شوخئ بته ایازئ مېر
داغم نه دَ طاقت دَ حکومت، نه دَ شوکت دے
داغم دَ تیریدو دے ـ بے مطلبه دَ ژوند ون
لیلیٰ محمل صحرامه تیار دی خو افسوس
دَ خان لیونی کولو امت ونکړو مجنون

په پېرول
۱۹۵۰ع

(٭) باهر: بهره د باندے.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هوش

شراب هله شي شراب چه څوکي(1) وڅکي
څاڅکي سیلاب شي چه چپه شي آبشار شي

ګل چه خور کړي په سپیا دین د رنګ دوران کاچل
په تیر وکړي جوړ عجب د خیښت بازار شي

چه آواز د سرو اوزي بل ئې رنګ شي
چه خوږي د خوږو اوزي نو خمار شي

چه فولاد د مینې مستې اوبه واخلي
نو حیران او پریشان مار د ستار شي

سرتوب چه لوړ راجت شي لیونتوب شي
چه صحرا په رنګ مین شي نو ګلزار شي

چه انسان مالک د حسن او سرور شي
او در او ګور دور ته ګلونه لاله زار شي

د سپوږمۍ حسن روڼبا شي په شبنم کښې
د غانتول(2) او کښې ولونه د ښامار شي

د ژوندون مطلب کمال دے د اظهار
یوله او ښکې یوله. اخ. یوله ښکار شي

بل څه نشته څان او ژوند پوره کول دي
قسمتي هغه خوبونه چه بهار شي

بس بله دے که مجنون دے که مدهوش دے
خو خوړونکې اخستونکې د ده هوش دے

که جومات کښې بس الله الله شي دے
میخانه کښې یو آواز د نوش بنوش دے

دغه خوند کړه چه یو یار شي یو ربیار شي
دغه خیال کله جانان کله بهار شي

ټول د هوش کفر که مینه که سرود دے
د ژوند سر دي نه شمع ده نه نور دے

(1) څوکي: څوک يې. (2) غانتول: غاټول



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

عجیبه واکډه ارکه جوړ رب دَ جهان — چه دَ عقل تور کندو ته قانون وائی
دے دَ حُسن بخاری ته لیونے وائی — او دَ خاورو سوداګرو ته قارون وائی
دَ ژوندون احساس ته خبط او سودا وائی — عاشقے ته دَ بدبختو جنون وائی

دَ ده هوش دَ ده دَ مینے تورمبا مار شی
دا عیسیٰ غریب چه خپل بستر په دار شی

هوش عمل یو دَ سوځو منارو دے — لوئے وطن دَ دریابونو دَ درو دے
ده کښے بخے تارخانے دَ طور دَ کتو — دے کښے خوریو تور دریاب تبه په تیرو دے
دے کښے سپین لوئے محلونه دَ ریا دی — دے کښے خور خاموش ارمان دَ مقبرو دے
کله کله دَ مستئے سره خمارونه — کله کله تش کچکول یک دَ آسرو دے

دا دَ شکر چه دَ غم په تور محل کښ — رانبکاره کله یا مینه یا دلدار شی
دا دے شکر چه دَ مرګ په بادشاهی کښ — کله کله ځانګے وخاندی آبشار شی
دا نعمت دے چه په لوږه کا نه شوے — خط و خال تالا په سرو شونډو دَ یار شی

هوش چه ورک شی دَ خپل هوښه نو مستی شی
چه خوږی دَ خوږه اوزی نو خمار شی

کرسر



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حسن

او ه تپوس د حسن مکوه　　　سمندره شي څوک تللے
څوک سپوږمۍ شي رانیولے　　　څوک زهرا شي بنګلولے

حسن پلار د مینے او مور د عشق
پکښې پټ دي ټول سپین او تور د عشق
د ده خیال نظر همه زور د عشق
په سرو شونډو بلې ښکلے اور د عشق
دا بابا د سر او سرور دے
دا تعبیر د جلال او نور دے
دا مکه د سترګو خندا کښې
دا په هر کوڅه کښې طور دے

د آدم د نوم بس یو دا سبب　　　د بهار سبب د رڼا سبب
د حوا د ژوند او ارمان قیصه　　　د سرود د رقص او د ژړا سبب
دا جواب د لکونو سوالونو دے　　　نشته هیڅ د ژوند ون بل جواب
دا صوفي ته محراب او منبر خالي　　　لیونی ته کباب او شراب



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دے د خیال او رنګ دنیا ګښے دا پلوشه د مینے د یار ده
دا د رحم پیغام او وعده د وصال رالیږلے غلام له دلدار ده

دا د مرګ سبب
دا د ژوند ضرور
دا د ګناه تعریف
او معنی د نور
دا د عشق وجود
دا د مینے راز
دا د سوز خوند
دا مستی د ساز

هر نظر ئے شراب د مستی ده دا د روح لیونے میخانه ده
د بنده او آقا د زړه راز دے د ژوندون او جنت افسانه ده

خان پور
۱۹۵۰ع



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اور کښې

ډول د لرے خوږ دے د هندکیانو دا متل دے
هره فلسفه د لرے ښه او پوره ښکاري

ذره د بنده نه دے عجیبه بے چله چل دے
ډوبه په ارمان کښې چوارې هم حوره ښکاري

عقل له دهوکه ورکوی حسن که دلدار دے
خان ته تنبتیدل دی عبادت دے که خمار دے

دا مسته رنا دا مینه حورے او ماښام
څه رنګین سراب دے د لیدلو پوهیدلو

دا چه ورته ګورے بل څه نه وینے نه ګورے
دا عجیبه دام چا دے جوړ کړے د لیدلو

دا یوه قصه ده د ډک جام د توئیدلو
دغه فلسفه ده د دریاب د بهیدلو

رحم نه انصاف دے یو تدبیر دے د دوام
هر څوک ئے پکار دی که خیتو دے که خیام



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

شنهٔ وی دَ نږدے نه او دولکے دَ لرے
دوارو غږیٔ یو شانے او یو رنګے خبرے
ډک دَ ظلمه زوره دَ طاقته دَ باز پرے
جوړے دَ مهین او رنګین بوی دَ ګل وزرے

کومه لارچه اخلے خو مقام ئے بس یو دے
دلته زر جوماته دی امام ئے بس یو دے

ځکه لیونے یے مرور شی ځکله کله
بل خواته ورتا وګرزی دا دَ موش تهقه شله
پریوزی په پړاو کړی بتخانه کښے دیوه بله
خپے سپینے پولے لمنے تا قتی دَ منزله

تا ته اور سرور دے یو ما ولے وژنے اور کښے
اے دسپین او تور مالکه څه مزه ده تور کښے

ولے زما لال وی پیروت په ځلے کښے دَ ښامار
ولے دے ګلاب له نه اوربل او نه بهار
ولے دِ بندی که ښا ښکے تن کښے دَ ږنه وکی
غوارے تر چپے دَ سپین ساز و نه دَ ابشار

ماله مرګ او ژوند دے تاله تش دَ ښځے ول دے
اور کښے دے بل کړے ولے حسن الوول دے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اور ته دے نیولے یم فولاد جوړے زمانه
سبه۔ چه زه فولاد شمه نو څه زما جانانه
جسوله فولادو له جوهرو له کمال له
بس خاورے کیده دی روکیږدی دنیا ته

ولے دِ ورانولو له جوړ کړے سور محل دے
اور کښے دے بل کړے ولے حسن الوول دے

غني
ډیره اسمعیل خان
۱۹۵۰ع





A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حساب

یو خوالیو نے دے دَ تیکرو جام په لاس
غواړی دَ عطار نه روح دَ گل۔ خمار دَ گل
بلخوا۔ او بنیار شاه۔ دَ بوے په کته په لباس
پوخ ئے که خوراک له هم۔ پیچنی۔ له هم بلبل
تله په لاس ناست دے خرخوی مینه خمار
بس دَ ده ایمان دغه جنت دے نشته بل
بے خماره مینه لکه بے نشے شراب
زمونږ ئے خکل حرام حرام وړته کتل
بے مینے ژوندون دے۔ لکه بے سره ستار
تمنک ترے نه او منکل دَ جنت حورو ته کنزل
روکه کړه مجنون لیلیٰ محل کښے دَ ایران
ده ته سر محل شو دَ غمونو بیابان
ټول جهان ته اورو ده ته مینه دَ جانان
وه دَ ده خندا پښه ژړا کښے دَ جهان



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده ته درد او چغو کښې و ناست مستي ژړلون
ده له وے د ده لاړے یو مر کے، او یو مجنون

ښه - یو خوا خو دغه بلخوا بله تماشه ده
ناست خان له د نمرود ے د اودبل درد نشه ده

داخه عجیبه شانتے انصاف دے د فطرت
گل له ښکلې بوی دے او د ښبر خوار له لشه ده

داخه عجیبه خیشت پرستي ده د رحمن
مره پرته بلبله ده او ښښتې پے بابښه ده

څه وکړي شاباز یا به روکیږي یا به زور کړي
څه وي جرس چه وي د ژوند قافله چه شور کړي

دغه د جهان، دغه ئے چل، دغه ئے راز دے
دغه د ساقي، دغه محمود، دغه ایاز دے

دغه وائي د غم او دغه وخ د همه ساز دے
دغه د خیام او د بلال د خکلے آواز دے

خان مستول مینه او خمار زیا تول
دے د ژوند تنور کښې سور انګار زیا تول

یو دیار د ښکلے وږے او بل ئے د دولت
یو د خان په سترګو روک او بل ئے په شوکت



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو ئے مست پہ شرنگ او پہ خندا او پہ سرور
بل ئے پہ غضب دَ غورزنگونو دَ شهوت
یو ئے پہ تیرو دَ غم پہ لړو دَ ماښام
بل ئے پہ سیلئے او پہ باران او پہ قوت
یو ئے پہ پښتو پښتو سوالونو دارمان
بل ئے پہ باهوا او پہ جلال او پہ شوکت
یو لہ تیز نیلے، سترگے سرے سرو تورو پہ لاس
بل لہ تنهائی، رنگین ملکونہ دحیرت
یو لہ دَ الماسو محل، سپین او روڼ او پاک

دوی سره حساب خو لرے گران شان دے
ستا پہ هر جنت کښے لرے عذاب شان دے

غنی

ډیره اسمعیل خان





A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

هله يار وته نژدے شوم — چه دَ ياره شومه لرے
هلَے(*) پوئے شوم په خبره — چه ئے ناوړمه خبرے
چه ملنګ شومه جانانه — خزانه ئې و مُنتـله
په زړګي کښې ئې پرتے وے — ښکلے ښکلے ملغلرے
چه ئې ګل بُستان قربان که — نو د ګل بُستان مالک شوم
چل ئې هله دَ پر زده که — چه ئې وسوے وزرے
چه په جام کښې دَ ساقي ئې — دَ ځوانئے وينه کړه ګډه
هله پوره شو محفل کښے — د خمار خمار بڅرے
چه په شوق او مستے ئې — دواړه سترګے ورلوګے کړے
هله هله راته او کړے — دَ ساقي سترګو خبرے
چه پرے مستے ځواني دا وکړے — چه پرے ښکلے سرے خادرے

دغني دی ليونيه!
دَجانان شونډے شکرے

غني
حيدر آباد جيل

(*) هلے = هلې.



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قسمت

چه ښوک سوال دَ پلاؤ ورکړي ورکړے دال
اکثر خوړکړي په ښکاري دَ ښکاري جال
چاته جام کښنے دَ سره وخاورے ڈکے واچئے[1]
چاله ورکړے دَ ایرو په ڈهیر[*] کښے لال

یو وبال چه ښوک په صبر صبر تیر کړي
ورله راولے دَ مغے لوئے وبال
ځو مره بار چه ښوک وړي دومره ورا چے
دَ زمري خطرے نه تیري شغال

چه کوم کال خلق زاري دَ باران وکړي
په باران پسے[2] زاندهٔ کړے هغه کال
لیونی نه خفه مشے دهٔ قربان شم
اکثرو داغے دَ خره په ځائے کلال

غني

حیدر آباد جیل

(۱) واچئے، واچوے. (۲) پسے، پسے بے.
(*) ډهیر: انبار، ړلی



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دَ فریدون دَ مور خط

ښاغلي دادا! په ۱۹۵۱ کال کې د ۱۵ پر تاریخ د جون

د میاشتې ۱۹۵۱ع ښاغلی یو او یوازې زوی فریدون

رستم جنګ پیدا شو. د هغه مور د پېښور په هسپتال

کښې وه. او زه لرې په مزاره کښې ناجوړه پروت وم. هم رخصت

په مِ د کوټې د دروازې پر څنګ ښې یو تور بلا هغه توپک

او سنګین په لاس پولیس ولاړ وو. ټول جهان

تور او تاریک وو. د وجود د ناجوړتیا سره م روح هم

د مایوسئ آخري مقام ته رسیدلے وو چه ناګهانه

خبر راغے چه زوے دِ وشو. ما وے سبه د هٔ غني

روک خوئے خو میرات خونه ئے.

دَ دغې ورځې دَ درد او د خوشحالئ بیان زه

نشم کولے. خو درد او خوشحالي دواړه انسان

ډیر ستومانه کوي. او چه آخرِ مِ سترګے د هوش

د نیا ته پټې کړے. نو ګورم چه د فریدون مور راغله



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ماته ئې یو خط په لاس کښې کېښود

دا هغه خط دے :

ما ذ دوو لپو خاورے تاله ژوند اد جهان جوړ که
خپلې مینې دا سے یو ړم بل م تاله جانان جوړ که
دا چه زه د وفا ډکه د جنون جهان له لاړم
دا م لال هغه لته وموست[*] د همه لالونو ښکلے
دا زما د غرور نخښه د هغو کیلو جواب دے
چه به تا په ما بنا مې کښې ماته کولے غلے غلے
دا ثبوت زما د مینې د ایمان او د وفا دے
دا زما روح چه روښان شو د ده سترګې کړے رسلے
دا تصویر زما د ژوند دے خه خندل ده خه ژړل ده
د شهباز د وزر ښغ دے پوست سره نو د بلبلے
دا ثبوت د شاه د مینې ، دا زاری ده د غلام
دا انعام د تولو ښکلے د هما ونسکین جام
دا تعبیر ستا د خوبونو او زما خ د ارمان دے
ما جوړ کړے د خپل ځانه ښکلے عکس ستا د ځان دے
په صحرا م وو خور کړے سور ځادر د ګلستان دے
هر ساه کښې م لیکلے نوم د مینې د جانان دے

---

(*) وموت : وموند .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

داچه زه ستا د خوبونو د جنون تالاش کښې لارم
ستا خانئې له م جوړ کړے ستا نه سبه غوندې بو خان کړې
داچه ما ستا وزرو نو کښې ارمان د عقاب ولید
دا عقاب م ستا نه جوړ کړ، هم عقاب هم ئې ارمان دے
دا سرې د ساقي شونډې خه مستي او خیام
دا په سوز کښې رنګ د ساز دے د ممبر د پاسه جام
دا د نیشت، په شاملات کښې ما اجل ته کینبود څلې
دا خوما د صبا طمع کړے پرون سره بدلے
داچه زه یو رنګین خوب شم د تالاش او د آرمان
ستا په تور تاریک محل کښې سپینې شمعې شولې بلې
ما د درولو خاورتاله ژوندې او جهان جوړ کړه
څلې مینې داسې یو رم بل م تاله جانان جوړ کړه
ماکه داؤ په یو آرمان ستا څپل ژوندون تمام تمام
ما څپل هوش کلال له ورکړه چه تړ تاله جوړ کړي جام
چه ته قول مجنون شې زه همه لیلی لیلی شوم
چه ته رنګ شې او خیام شې، زه شراب زه ګل اندام
چه ته طور شې او موسیٰ شې، زه د نور برق او رنا شوم
چه ته شور شې او ارمان شې زه د وصل ګل سمام



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تهٔ چه شوې دَ اور بڅرے زهٔ هم سره لمبه د اور شوم
چه مستا زړهٔ په تالاش سرهٔ شو ، زهٔ شوم لاړهٔ . زهٔ مام
دا چه مستا سوندره شوے تږے دَ مستے دَ سرو شرابو

دا خوځکه زهٔ جانانه هم شراب شومه هم جام
تا چه سوال دَ رڼا وُکه ، دَ بهار صبح صادق شوم
تهٔ مئين چه په تياره شوے ، زهٔ دَ ډُمي شوم ماښام
چه تا نوم دَ غُرا (۱) ، واخست (۲) ما کړه مرګ ته ديوه ملبه
چه تا نيت دَ طواف اوکه ، نو ما وتړو احرام
ما دَ دوو لپو خاورے ، تا له نور او بُستان جوړ که
خپلے مينے دا سے يوړم ، بل م تا له جانان جوړ که

بهګنوتر
۱۹۵۰ع

---

(۱) غُرا ځکه . دَ عربو د جنګ بت خدائے وو ، دَ اسلام نه اول . (۲) واخيست



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

آرزو

# «اول ستر کے ستا د لید و خورا»

زه خو ساز او سرور او خمار پیژنم یا لیلیٰ پیژنم یا ایاز
زه خو غم او اور او دلدار پیژنم یا رقیب پیژنم یا غماز
دے نسکورو شمکورو (۱) ته د نورو قصے د جنت قصے د جلال قصے
منزکورے (۲) ته د زړه قصے د ماښام قصے د ملال قصے

زه خو ګل او چمن او شراب پیژنم او بهار پیژنم او خزان
زه خو شرنګ او رنګ او کباب پیژنم نه ګناه پیژنم نه شیطان
دے ملا هوش بے هوشه د خو طمع ته به ظلم دی ته به زهر دے
د ګیرنه ستا د مالتو طمع او ګیر غریب له اور دے
دے شمکورنه ستا د لید و طمع، دے نسکورنه تا ته د تلو طمع
اول ستر کے ستا د لید و خورا، بیا کوره د مینے و طمع

زه خو ساز او سرور او خمار پیژنم هغه خرم ته به چے ځکلے شم
زه خو شرنګ او غورزنګ او ستار پیژنم او جانانه هغه لیدے شم
زه خو ناز او مکیز مسخره پیژنم ښکلے خط پیژنم ښکلے خال
زه خو شونډے پستے او خوله سره پیژنم، او رنګینه خندا د وصال

(۱) شب کور - شوکور. (۲) منزکورے، د موږک چرچی.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه خوستر کې خوربې په ارمان پېژنم، او نزې تومکېدا(۱) ملنبام

زه خوست او منت دَ جانان پېژنم، د ساقي په سرو کتو کښې جام

دَ ملهوش بې هوش ته دَ نور قيصې دَ جنت قيصې دَ جلال قيصې

دا کونکښې ته دَ باتور قيصې، دَ پرواز دَ خيشت(۲) او کمال قيصې

چه پتنګ دَ نمر رڼا نه شي ليدلې

ګناګار(۵) شو چه په شمع شو شيدا

زړه کښې چونګ لپه هيله دَ ځاڅې ځي شي

چرته ځاکې کرم پکښې دا دَ نور دريا

څنګه څنګه په يو کوټ کښې دا جهان او آسمان واچوم؟

دَ شبنم څاڅکي کښې څنګه دَ سيندونو دوران واچوم؟

او بيا لا-دا-دې دَ پاسه به حساب او کتاب هم وي!

دَ رندو ستر کو بادشاه له به سزا او عذاب هم وي!

دغه ستونزې ستا دي جوړې ماله ولې شو عذاب

چه خوار ورپرې باندې لګي دَ شکرونه شراب

دغه ستر کې چا کړې جوړې خيشت ته وګې او حيرانه

په کلونو کښې چا خور که دا خاښت دَ لامکانه،

چا که جوړ ځان له مکان خپل روک(۳) زما دَ کل امکانه

زه په څاڅکي کښې دوبېږم. سمندر بې پايانه

(۱) ترمکې، ترلوږو ټي تياره. (۲) خيشت، خاښت = بنايست. (۳) روک: ويک. (۵) ګناګار = ګنهګار.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه یو تور د تیرې سورې، ته د زمکې آسمان نور(۱)
بې کنار دریاب د رنګ ته زه یو څاڅکې د سرور

ته ژوندون د کل ژوندون ئې زه د مرګ لمحه ناکام
سمندر ته د مستۍ ئې زه یو مات او سوری جام

ستا په رحم دیر نیاز یږم ځکه یم ورته ګویا نه
د غلام ګیله هم واوره د سپوږمۍ مخې او ستورو خانه

* * *

زه خو ساز او سرور او خمار پېژنم، هغه خو دم ربه چې ګلې شم
زه خو شرنګ او غړنګ او ستار پېژنم او جانان هغه ته لیلې شم

زه خو ناز او مکیز مسخره پېژنم ښکلې خط پېژنم ښکلې خال
زه خو شونډې پستې او ځلې سره پېژنم او رنګینه خندا د وصال

زه خو سترګې خوږې په ارمان پېژنم او نرۍ ترمکئې د ما نام
زه خو ست او منت د جانان پېژنم د ساقي په سرو ګوتو کړی جام

که شکور نه ستا د لیدو طمع، دے نسکور نه تا ته د تلو طمع
اول سترګې ستا د لیدو خوږ، بیا کوه د مینې طمع

---

(۱) اللّٰهُ نُورُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۔



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# توقه

ما به شمع کوله
تا که جوړ رانه پتنګ
تا مه ښکار له ډ کبوړو
تا د رښين کړم په غمنګ
ما د قصے و ملنګ يم
تا رښتيا کړمه ملنګ
ما پيښے کړے، د تورو زنو
تا مِ کوړله راوړو جنګ
زه خو غږ کولے نه شم
په ټکيلو ته خفه کيږے
خو حقه داده لويه خدايه
ته په توقو نه پوهيږے

غني
حيدرآباد جيل



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دڼ کښې

ګوره بلبل په پنجره کښې جوړ
لوئے یو جهان د ګلونو که
مست شو صحرا او په خوب کښې ئے
دک تول جهان دَ سیند وتو که

دا روحانی کارخانه زما — زور او ستم نه خمار جوړی
دا لیونے شان ځیګر زما — او نه پیسی تر نه هار جوړی
دا مصور په خپل رنګ مسرور — تول جهان مست او سرشار وینی
دڼ کښې چپے او خند اَدَ سیند — شاخکی کښې مخ دَ آبشار وینی

ګوره بلبل پنجره کښې جوړ
لوئے یو جهان دَ ګلونو که
مست شو صحرا او په خوب کښې ئے
دک کل جهان دَ سیند ونو که

* * *

ورته سپرلے او ځوانی شو مخ کښې — لیونی ورځ او رنګین ماښام
خوا کښې ګلاب ئے په مستے تیر شو — شونډه وکښې رنګ او ګوتو کښې جام



A .S.K B

وړه چینه شوه چرته روان　　　دروند او مرګ ئې شروع که ساز

ډوبلو ډوبېدے شو عشق راز نغوان　　　خیشت پټ که شال کښې د مینې راز

بیا خزان راغے ګلونه لاړل　　　ستاړه شو غلې او شراب کم

ځوانی رخصت شوه خندل نایاب　　　دعا اوږده شوه او رباب کم

زړه خپل تخت وکړه سر او سودا له　　　وخت شو بادشاه او ډوند مړے شو

مستئ جنګ بیله تورو ئے کېنوه　　　سرور غلام شو جنون مړے شو

واړه رنګونه تیرے کښې ډوب شو　　　سبا رخصت شو او ماښام راغے

او میخانه شوه د جرا ډکه　　　ساقي رخصت شو او امام راغے

خوناکهانه ورو لولکه　　　په خوب ورد شو او خوب ئې ولید

نوے سپرو او سره ګلونه　　　د عشق ایمان او نن توبې ولید

د خپلې مینې جواب ئې ولید　　　نوے لولکے نوے ګلونه

روښانه ئې ولید یو نوی رنګ کښې　　　خپل ارمانونه، خپل امیدونه

مصور په خپل رنګ مسرور　　　تول جهان مست او سرشار ولید

دن کښې(۱) چپې او خندا د سیند　　　څاڅکې کښې ئې د آبشار ولید

کوره بلبل په پنجره کښې جوړ　　　لوے یو جهان د ګلونو که

مست شو صحرا او په خوب کښې ئې

د کے تول جهان د سیند ونوکه

تهند بانی حبل

---

(۱) دن = دنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جنّت (۱)

ستا دَ جنت څه حدم ښته دے ؟ اے بے حسابه اَبے پایانه
ستا خیشت او مینه ځوک شي تللے . دَ دستر کو پته روک دَ ارمانه

د ملا ستر کے دَ تهږد کے راته قیصے کوي دَ دیه داو زور
دَ جانان شونډے دَ کوکو دے وي[۲] راشه او گوره جنت کښے اور

مرګ بلے ستر کے او خوږ ېنځے راته خوزي[۳] لحد . نیست او عدم
شیطان ، ملا ، دوارړه په یو آواز وي . ستا کناه ډیره ده او رحمت کم

مشک و لاړ عصا په لاس . قبا په ولي دستار په سر
لاړو وزرے د بلبل ایښے ، ښائي شهباز ته دَ الم سر

ښا پیرک شه دے د کاروان . دَ دنیا خیشت او سنګار لتی
سا مې ژاړي دَ زړه بت کښے ژوند ون مستي او خمار لتی

---

(۱) په جنت ما نوزم دوه دي او دوه او دوه نکلونه لیکلي دي ، ځکه چه بې دانشي دانسان په دماغ کښے د جنت نقشه ډیره عجیبه او لطیف ده . خو عامو انسانانو دَ یو تصور د پاره ام دومره دیره نه دے هضم کړے لکه دَ جنت دَ پاره . (غني)
(۲) وي : وائي . (۳) خوزاي : خوځوي .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کو نکت دَ سوتو په ډیرۍ پورته ، زیړے لړکے ته دَ نوریان کړُ
چینجې دَ خاورے په ممبر برہ ، تیصے دَ حورو او دَ آسمان کړُ
ځکه په چغوزه دَ جمانه لارم په لوری دمیخانے
دے خپلو سترګو ډوب کړم ډله کړم هم شرابی کړم هم لیونے
خو چه په بلدو او بد رنګو خپل لکه دسکورلو ګړا او ورشمه
چه سُر او تال م تیار ؟ فناکړی دَ بے وسئے فریاد ډرا او شور شمه
نو ځان ته وایم تاته وا او روم دا دَ مجبوری زړګی بهانه
ستا خیشت او مینه څوک شی تللے دا بے حسابه ابے پایانه

غنی
خانپور جیل





A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سپرلے

بیا سپرلے راغے بیا ئے پیغام راوړه
د رنګونو. ګلونو. او. رڼا
شو ساقی مسکے ډک ئے جام راوړه
د مستئ. خوا ښئ او خندا

یو سبا راغے. یوه شپه لاړه
د تیرو. یریدو. او ارمان
یو زیړے ګل م ماښام ولیدلو
سلامونه ئے کول د جانان

دا دماغ زما چرے نه منی
چه د ګل خالق به سقر کړی جوړ
خنک خوړ ئے به پے زما کړیکے لګی
چا چه ماله نرګس او دلبر کړه جوړ

دا شینکے چمن. دا ګلونه سره
دا مست مست ښائے مستانه ماښام



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ثبوت دَ ساقي دَ مينې دے

دا دَ سرو شرابو بر پوره جام

دساقي چه ستر ګے خمارے دي

دا خمارے ماته جور کړے دے

دجانان چه شونډے دلدارے دے

دا سينګارے ماته جور کړے دے

دا سپوږمۍ او ستوري او مست ماښام

مشغولا (۱) زما دغمونو ده

دا په ما مئين دے مالک زما

ښکه د که دنيا د کهلونو ده

سپر لے ښه دَ جانان مست شوندے

هره ساه او زړه کښے ګل نور خوري

په ګلونو کښے خپله رڼا خوري

په نسيم کښے رنګونه دَ طور خوري

چه تر خو يوه نظاره دَ رنګ

دَ غرزنګ دَ مستۍ په انسان کښے کي

تر هغې به دا زه وُ نه منم

چه اور ونه به هغے جهان کښے دي

(۱) مشغولا ـ مشغوز.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه جور کړے نه یم سزا له یار
زه ئې جور کړے یارانې له یم
مانه مینه ـ خندا او مستي غواړي
که جمات که بتخانې کښې یم

بیا سپرلې راغئے بیا پیغام راوړ
د رنګونو، ګلونو، او رڼا
بیا ساقي راغې ډک ئې جام راوړ
د مستئ ـ خولئ او خندا

بیائې سرو ګوتو کښے ونیوه
لیونی ته جام دغمونو ډک
د ژوندونه ډک، د فراق نه ډک
د وصال د رنګونو خوبونو ډک

فروري
۱۹۵۰ع



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژوندون

لکه کال کښې سپرلې او خزان — لکه روح کښې سبا او ماښام
لکه سیند کښې چپې او غلې شتې — لکه ژوند د مرګ دې غلام
لکه تله خلاصیدل د مستۍ شته — نښیدل ـ ماتیدل ـ د هر جام
ژوندون څه دې یو سیند دې روان — اول لوی لوی موجونه کښېتونه
بیا تش تش شي چپې نرۍ نرۍ شي — غلې لګې شي ډېر شي ډوبونه
اول هر یو غوټی تنک کښې ورانې کړي — ورانوي غورزوي کو لوی غرونه
اول هر څوک روکی(*) بي ځان — بیا د بل شي روان کړي نهرونه
دریابونه لوټ لوټ کړي فنا کړي — غوټونه نکونه لښتي کړي تالا کړي
یا نې هر څوک د خپل اند دل وي — یا مرغې شي خدمت د هرجا کړي
ځان کړي روک خو کلابه نر کښې — په زرګونو سیندونه پیدا کړي
ژوندون څه دې یو باغ دې لویېږي * * * — رو ول کیدل دي د خیښت(1) زیاتیدو له
خپل ژوندون خپل سنګار وړکول دي — سوزیدل دي ژوندون خوریدو له
د انګور په شان روک فنا شه — چه خمار شې د چا سترګو سره له
د منصور په شان او خپږه دار ته — څه بهانه لټوه رسیدو له

(1) خیښت: بنایست. (*) روکی: وړکوی.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوندون څه دے يو خوب د ليدے شي | د خندا او ژړا واک د بل دے
يو دوران د صحرا و ماښام دے | د ماښام او سبا واک د بل دے
يو رنګين شان محل د هوا دے | د هر ګوټ د هوا واک د بل دے
باغ د بل په ګلونو زه پريم | غم زما د خندا واک د بل دے

***

ژوندون څه دے يو ساز دے عجيبي
کله پوست، کله زير - کله بم
کله اور سوز يله، شور غوغا شي
کله غلے، قلار، شومه دم
کله شرنګ د ګنګروشي خارشي
کله يخ اسويلي او ماتم
کله تال مستانه د خيام شي
کله سپور ماښامونه د غم
که وي ترخ. که وي خوږ تير به شي
ژوندون څه دے يو خوب د ليدے شي

غني
دارالامان
په ميرول



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بله لار

رحم فقیرله روا ، بادشاه له حرام دے
شاعرله کوټ دَ زمزم دَ میوجام دے
بلبل د مینے کمال خون دَ انصاف دے
سخاوت شان دَ خان مرګ دَ صراف دے
رقیب له شور او ماتم یار له وصال دے
یوله دَ وینے څاڅکے او بل له لال دے
ماله دَ ګند کندا ۔ لاله ته بام دے
یوله دَ مرګ پیغام بل ته دوام دے
دعجیبه ژوندون عجب کاروان دے
دے کوږ دوکان کښے کته کښ زیان دے
یوناست محل کښے غمګین حیران دے
بل ته ایروکښے ویرپروت ایران دے
داروک کاروان کوم خوا روان دے
روند نے نظر دے اوچ نے ایمان دے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ظالم ـ جابر ته ـ سجده ، دُعا ده
میرے دَ عُمرهٔ رحیم رحمٰن کړ
دَ زورور او یَرے[1] بت ته نه کوـ بنه
رِوک تَرے دَ مینې ـ د نور مکان دے
دَ بل دَ وینو لاس کښې جام دے
تنګ ئے جمات دے رونډ ئے مام دے

خوږه خمره کړم چه دینم په تشو کښې رنګ دَ یار
دَ کلو نور ژید و کښې امید ونه دَ بهار
دَ تاوان قلا کښې پته دَ جنون ناو مستانه
رنګ محل ته نه شم تلے دَ صحرانه دَ جانانه
ماله غم ماتم دَ یار نه دَ غم دَ غم تعویذ دے
ماله بل کل ته کتنه بے شرمي دَ شوق دَ بیزد دے
هغه غم چه مستول کړي دَ نامباتو[2] نه لذیذ دے
زلیخې ته تور خُنکل دے سره محل که دَ عزیز دے
ماله بله لاره نشته دَ جنون او دَ جانانه
کنې خوږه مې خندلے، دیره دیره دَ ژړانه

غني
دغرسر

---

دیره اسمعیل خان

(1) یرے: ویرے۔ (2) نامبات: نبات.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قسمت

زه نو مه خټه یم لاس د کولال کښې
یا به د میو جام شم او یا کوزه د جمات
یا د یو کټې د زیارت د میخانې فانوس
یا د ډیران تیکرے سړے او مات
ځوانی مستی تهٔ وندونو د بل د لاسه دي
ځانه وس شته او نه هم واک
شیخ په باغ کښې د یار د کوره
کوم ګل پلیت کړمه او کوم پاک
ښکه ملامته زه په ګناه شم — چه وس قسمت او تدبیر د بل دے
ښکه ستوماڼه زه په خندا شم — خوب دِ د بل او تعبیر د بل دے
! هم ګناه ده مین په ښکلی یم
نه زه د ښکلی آتا نه د نظر
نه هم د واک دي خمارې سترګے
نه او بڼے شونډے مدهوشه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما نه دی اېښی د یار نظر کښې      سپړلی ګلونه او سوړ خمار

ما د چپل نور نه دی جوړ کړې      شړنګ او غوړنګ او ړنګ د بار

ما د صبا په پسته ډنا کښې      نه دې خور کړې د جادو ساز

چا شیرینۍ وو فرهاد ته خولې      چل جوړ نه کړه محمود خان د ایاز

زه نه پوهېږم چې چا روښانه
د زهرا نور که په مخ د لال کښې

زه تصویر یم د بل د کوتو
بې جبانه(*) ختم لا س د کولال کښې

یا به قسمت وی یا به دوزخ وی
او که وی دواړه نو ته رحمن نې ؟

نه شم زغملې . نه شم منلې
چې ته جلا دې او هم جانان نې

غني ـ خانپور

---

(*) جبانه : ژبانه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قارغان مارغان

تر اوسه پورې موږ د ژوند ډېرې نې مسئلې وارې واره وې. د کومې ورځې نه چې آدم له قانونه هوش ورکړې دی، دا سوالونه د ډېر مغز راروان دي. هر سړی وله د خپل طاقت او پوهې په مناسبت جواب نه کوري. انسان ډېر د مرګ سوال جواب شته ولې د مرګ جواب نه لري. د جهان اکثره فلسفې او تول مذهبونه د عزرائيل د شاهنشاهيت برخلاف بغاوت دی. تول د دغه توره ګنډه نه تبنتي، خوک يو ګز خوک يو ميل او خوک نيم ميله خو د غه چغه بيا هم، اکه ما چه پخوانۍ کښې يو ورځ ولي وه.

## خاورے

چغې وې اجل ملا ته اورے کړه نه اورے
تښه خاوره نه دے غني ځنګه بشي خاورے

---

او يا بله ورځ چه د لحد به تورو زمړ د مستې سوړشال

ډير ګرم سره وو.

(غازي، دهي.)



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مرګے

مرګے دِ راشي　　　چه کله ئے وس وي
ګل به مِ لاس کښې وي　　　او یا به اَس وي
یا به ټوپک وي　　　یا به قلم وي
ډوب به خندا کښې　　　دَ دنیا غم وي
په څه مو بخت وي　　　دومره به بس وي
مرګے دِ راشي　　　چه کله ئے وس وي
ولے آخر سرے ستړے شي ، او دا ارمني چه ،
چه جام کښې ګوټ ګوټ　　　شراب عمیږي
سپرلے خلاصیږي　　　ګلاب کمیږي
دنیا دَ شمع کښې　　　دَ سحر نور راغے
سکور دَ بلبلو ته　　　نوے دَ باتور راغے
ستار کښې شرنګ هغه　　　دَ ماښام نشته دے
سرور په سترګو کښې　　　دَ خیام نشته دے
دَ ښکلے نه ښکلے ، دَ مست نه مست ، دَ سُور نه سُور ، ګل آخر خپلے حیرانے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوغمجنې سترګې دَ خزان یخو او بې رحمو بادونو پورته کړې
او دخپل ژوند دشروع او خلاصیدو تپوس ترې وکړې او
دغې ته وایو مونږ فلسفه.

زه مرګ یوه ورځ په مخه کړم. او دَ خپلې مور دَ سینې نه
ئې دَ خاورو هغه ډیرئ ته بوتلم، کوم ځاے چه په
یو دشت او بیابان کښې دَ هغې ملهوکې پراته وو. ما چار۔
چاپېره او عقل. ستغ دښت، سره خاورې او شنه کاڼی
وو. دلته نه دګلونو چمن وو، نه دَ بلبلو باغ، دې دَ بدرنګئ
په سمنه کښې دَ حُسن یوه قطره هم نه وه. زه دخاورې
دَ یو ډیرئ ځوا کښې او درېدلم یوه ماته شنه خازه وه
مثل دیرش کاڼي ښکته پراته وو. نورے ملګي او چې
ترې ورېږے خاورے وے. مرګ هم را ورسید او شاته
م دَ آسمانه او چت ولاړ وو. خو ما سر او چت کړه او
دَ مرګ خالق ته م اوو ے،

زه دَ هغې لال زه دَ هغې دسترګو تورومه

زه به دَ هغې په سینه تل وُده نسکورومه

اوس ئې ښکته ښکته دَ مزار کاڼو ته ګورمه



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاورو کښې هغه ده چه ئې زه د زړه هلال ومه
هغه لال شو خاورې چه ئې زه وړوکے لال ومه

لا ړمه آسمان ته ماورا ئے د جهان مو ړه سپوږمۍ
زوړ د مرګي زيات دے که دے زيات د مينے زوړه سپوږمۍ
اوري په لحد کښې څوک د سوي زړګي شو سپوږمۍ

موتے خاورے ښکلے پټ د حُسن يو جهان کړي
يو پوکے د باد اچمن ښکلے بيابان کړي

خول م نه جوړيږي چه ظالم ووايم ړځن ته
څومرګ چه د جهان بادشاه کړم څه ووايم خان ته
ولے دعوازه د علم لړ(۱)، نه شوه انسان ته
سيال ئې د خان ولے کړم چه زه د خاورو سيال ومه
هغه لال م څه شو چه ئې زه وړوکے لال ومه

---

خود ژوند خاښت دادے چه تول عمر انسان سره د دے د خلاصيد و فکر نه وي، کله کله ئې دا توے غښے هيرے شي، او په خپل ماحول کښې دوړو وړو خيزونو په تماشه شي او دوړو وړو شمعو په تالاش کښې ځان د هغې لوئې تاريکۍ نه او تښتوي.

(۱) لړ ـ لوبي ـ پرانتي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ حیدر آباد سنده په جیل کښې زما دَ تو تې تو تې

مستقبل نه علاوه ډیر نور څه هم وو، د چکښې دَ دروازې په خوا کښې

د میږو جالې وې، کله نا کله به نهوبن د احاطې په کیکر کښې کمترې(۱)

کیناستې، کله به مو نیمه شپه کښې دَ تارو چرچق واوریدو

کله به تور تاریغه لکه دَ یو جمهوری وزیر اعظم دَ شور او

چل نه ډک په دیوال کیناست. دَ ټمبې خواله به ماښام کښې

چینلې څه راغله. دَ دیوال دَ پاسه به دَ اوبس بر بر راغې

او په دغه وږو کښې زه ډیرو وږو تږې او یوازې وَم، نو ما

دے تو لوسره خبرے کولے. میږوته به مې خپل دَ تیلو

پوخ ساګ(۲) غور زوو، او کمتروته به مې خپله دَ باجرې دوډۍ

چورۍ(۳) کوله. دا روان شعرونه ما دَ همغوی په مجلس

کښې لیکلی دی که زه دَ همغوی په طبیعت نه یم پوې شوے

نو معانی غوارم زه دَ انسان هلوکی لرم. او دَ چینلۍ

په خرمن نه شم ننوتې.

---

(۱) کمترے: کوترے. (۲) ساګ: سابه. (۳) چورۍ: مالیده.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# چینلخ

ځ دِ دَ شیخنو په شان نه خاندی او نبیاردے
بنګلے دِ آواز لکه دَ ژړندے دَ غرار دے
سټرګے بتے بتے، بغے بغے تښے تښے
چغه دره منے غریبه، توره دره اور ښے
ځله کړزه وېښ لوبه او بزده او وازه وېسته
زرد دِ زړه کے خورشی دنګا چه کړے راپلیته
خیته دِ چیستے، لوبه او پلنه دَ لاله په شان
لنګهے دِ پاپے، ارتے سپینے دَ منتولا په شان
توپ وهے تل نه کے خه هډ رنګه دِ رفتار دے
بنګلے دِ آواز لکه دَ ژړندے دَ غرار دے
اوسے په اوبو کښے دَ تیخ او دَ ملنې په شان
کښې دِ دَ سرې مے کاته دمار کمی، په شان
ګرزے په پټو کښے دَ نولی او دَ لو مبړ مسے
توپ دِ دملخ په شان، غټے دباکو کرمسے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه اوبه څه خاوره شوے څه مېږ څه کبوړے
کله دِ په سترګو کښې چپے وی کله دوړے
رنګ دِ بے نمکه دَ خزان نه دَ بهار دے
ښکلے دِ آواز لکه دَ ژړندے دغاړ دے

شړپ کله ښنا نګ کښې کله شړپ دَ لښتی غاړه کښې
بچ ما شے چه پېښ شی خیل خانه ورله دیجاړ کړے
خوب کوے په خاورو خو مستی یاری او بو کښې کړے
او سے په تیراه (۱) بکښې خو بچی راوړه پېښور (۲) کښې کړے
پښې دِ دَ بتے او لینګی دَ چرګوټې په شان
چیت او لنډ او بلن، راغونډ وجود دَ مرهتی په شان
مخ دِ دَ دله دے رنګ روغن دِ دَ ښامار دے
ښکلے دِ آواز لکه دَ ژړندے دَ غار دے

---

(۱) تیراه دافریدو وطن.
(۲) دَ پښاور خوا کښې کلے دے بکښې مشهور زیارت دے.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مړه

اوس په کندو کښې یاړه غــل نه پلار دِ غــل دو
مور دِ غلچکۍ ده ، ستا نیکه دَ بد و مــل دو

قوم دِ حرام خور دے قبیله دِ حــرام خوړه ده
مړ شو ے په غورو پسے لګنې توړه دِ سپوږه ده

سترګے دِ کاسیرے دی ، چلباز دی بے شرمے دی
کلک دِ دی غابنونه او پاڼۍ دِ نرمے نرمے دی

خیټه دِ کوهۍ ده دــعـدو باد شــنانه ځــے
سر دِ دَ نولی او بریتو کی دَ تُـــره باز ځــے

غلا کے دَ غریبه غلا دَ خانه ، دَ بنهیا نه کے[*]
سید او مُلا نه پیژنې ، بوته دَ هرچانه کے

ستا د اړو کے[۱] خیټه دے همه جهان مړه نه کړه
ستا کاسیره تنده دَ عمرونو غلا سره نه کړه

زات دِ خناور دے خو خوراک کے[+] دَ انسان ځــے
اوس په سخسوری کښې نیږنې ختے دَ خان ځــے

(۱) ږدو کے - ږدو کے . ږده (*) کی : کوی . (+) کے : کوټ .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړه دې د یزید دے طبیعت دې د شیطان ھسے
چین دې د منت دے خو همت د پهلوان ھسے
خو ورشے چه پیشوله نو پولاؤ پیتی دې ډېره شی
پش په خیته موړ شی په تاکیاړه ـ باړه تیره شی
غل تر هغې غل وی چه ترے بره غل پیدا نه وی
چل تر هغې چل وی چه ترے بره چل پیدا نه وی
دوه دانے ترے او خورے دوه دړې خادړے ایږی کړے
اوبے خوله دې خادرے ورشه انبار دړے دړے کړے
خوئے دې د خنزیرګے او فطرت دې د بنامار دے
خوله کښے دې آفت دے او په شونډو کښے آزار دے
خو غوټه چه شی سخته آخر پسے ئے چاړه شی
ته شے په جوارو پیشوګان په تاماړه شی
اوسے چه کوم کور کښے حرام خوړه هغه کور لوټے
داسے حرامی ئے خپل بابا او خپله مور لوټے
خو ورشے چه پیشوله نو پولاؤ پیتی دې ډېره شی
پش په خیته موړ شی په تاکیاره باړه تیره شی



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بازیګر کمتر

چاله لوبه چاله تماشه　　چاله نور چاله نظر
څوک بندي د خپل نګاه وي　　څوک غلام د خپل ځیګر

یو جوړ کړي د سقر نه　　سره ګلونه ماریګر
بل د حورو د غلمانو　　نه جوړ کړې دې سقر

په نیکرې پسې ژاړي　　یو خو ناست په تخت قاتلان
بل خوا زړه ګه وصال دې　　او لکه قصه بیلتون

چې ته پسې ته خپله لوبه　　هم لیلی شتی هم مجنون
کله خر ته خپل خرتوب شي　　مست جادو رنګین افسون

دلته رنګ بله رنګي دولي　　د احساس کتوال یو جام دې
زما سترګو پیدا کړې　　سپین ساقي او تور الهام دې

شپه او ورځ زما نظر دی　　روند له نمر او ماښام نشته
زه عاشق ځکه د رب یم　　چې انسان له دوام نشته



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

رَبّ دے هرڅه، او هغه چې زما هوش پې نه پوهیږي

رَبّ زما دَ روکیدو نه بَرَه، لوے، سپین مقام

رَبّ زما دَ هوش صحرا له یو محل دے دَ کمال

رَبّ زما دے مستي سره دَ مستۍ بر پوڅ جام

دا دَ روکو په وطن کښې یو ارمان دے دَ دوام

دا په تورو تورو شپه کښې محبوبا ماه تمام

چه امید دَ هوش یاغي شو

چه مدهوشه شو نظر

خپل طاقت وته سرهد شو

په سیل ووت بازیګر



A .S.K B

# کوچے

«کوچے» زما یو ډیر زبردست سپین سپے
ما قسم قسم سپي ساتلي دي. انګریزي
جرمني، لغړ او ببر، ولې د کوچي
په شان بهادر، خیشته
او هوښیار سپے
نه پیدا شوے
دے او نه به پیدا
شي، زما د بند په دوران
کښې مړ شو.

زما کوچیه! زما کوچیه — ته خو سپے نه وې زما آشنا وې
په تنه نر وې ترا زمریه — قصه د مینې نوم د وفا وې
چې زه اوچت وم د کل جهانه — په لکها سړو م داسې بره
ستا سترګې زر زر د مینې ډکې — تیرې د زړونو د ځان او سره
چې زه آسمان نه خاورو له راغلم — تاج م راکوزه که اوچار لم وا خست

(c) ketabton.com: The Digital Library

شال او د ستار او خلعت مې ورکه      کندم یې په سر که او جول مې وخست
ما ته زه هغه شان د ملک پادشا دم      هم هغه سترګې هم هغه مینه
چې ټول جهان غېل دا زل کړل      تا ز قوله لکي د مهینه

ته خو آشنا وې زما د سترګو

نه مې د زور وې او نه د زرو

د تقدیر ټول که دلاونډ که سپک شو

ستا بس یو ټول وادیو نظر و

ته زما یار وې د بد وو ورځو      د بد وو ورځو یار نه هېږي
چې ټول جهان یو تور صحرا شي      د سرو ګلو نو خار نه هېږي

هائے چې د ژوند په دنا کلي
سترګې روښانه ستا د وفا وې

زما کوچیه! زما کوچیه!
ته خو سپې نه وې زما آشنا وې

( تمندیاني )



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تورانۍ

دا سې تکي په پښتو ژبه کښې نښته
تورانۍ چه پرې زه دوایم ثنا ستا

دې دَ خاورو جوړ و شوند دې کښې خنک خاکم
خوشحالي، مستي، خواني او خندا ستا

دَ غمو پرې خنک په تو لو کښې منکاره کړم
خنکه کېږه کړم مېښوني در دې دام کښې

خنکه و نسیم په کوتو کښې سره ستا
خنکه و اچوم دَ نور دریاب په جام کښې

خنکه خوب دَ خوانۍ کړم بندي دَ خاورې
په غم او تلم رنګونه د وصال

خنکه نور دَ یار دې ستړ کو لاس کښې واخلم
څرنګ او ترم پنډ وکي کښې هلال

نا دیدۀ غلام دربار کښې دَ سلطان
دا سې زه ولاړ ستا حُسن ته حیران

داده بس چه مجبوري م خپله او نبو
تورانۍ نه شم کولې ستاییان

خو چه ستا پیغام دَ نوي صبا واورم
لکه ګل چه دَ سپرلي واوري پیغام
تیاره هیره کړم په طمع دَ رڼا شم
په لحد کښې او څکم دَ مستۍ جام
امید و ینن شي ژوند ته بل خیشته مثال کړي
دَ مرګي دَ غمه تاو دَ ژوند و ن شال کړي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مُلا چړک

زیږ دِ قمیص دے — خرړ دِ خنبتک دے
شمله دِ نیغه ده — او کوټ دِ ډبرک دے
توله ورځ ګڼے ګڼے — په ځان مینه
چا خوار چینجی پسے — کنده کوینه
نمایشی شان ئے — کړے دَ غرور الوته
دَ مشرو تو نه دِ ک — ستا قدمونه، کاته
بچے بچے دِ ستړ کے — دی دَ "پښتو"(۱) په شان
په دریغه دریغه تله — دے دَ تهتو په شان
دَ سلیمانؑ دَ لالی ! — نوم او صافه دَ امام؟
یو خوا قبا او تسپے ! — بل خوا پیاله او خیام !
یو خوا سپین روږے ملک — مَرینے دَ رسم او قانون؟
بل خوا د مینے دلال — بندی دَ رسم او افسون !

---

(۱) "پښتو" زما معزز او محترم دوست مهر دل خان دَ هوتی- خان خیل، قد ئے وړو کے دے، خو دماغ ئے ډیر اوچت دے. او مونږ ورته دَ قهر او محبته "پښتو" وئیل.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو خوا تنګي تاريکي　　د بل د خيال سودا
د هال او بيح سودا　　د خان او مال سودا
بل خوا د بل په سينه　　ځان او ناموس ورکول
پټ شاباشي له د زړه　　د خار جلوس ورکول
يو خوا د بل سترګو کښې　　د دړنيلو تالاش
بل خوا د ماتو څانګو　　د الوتو تالاش
زيرک او معقول پخښيه　　پکه په سر مُلا
تا کښې ښکاريږي ماته　　د ژوند عجيبه قصه
چه ګله ته والوزې　　ملکه سباء ووينم
او سليمان ته خاږې　　توله دنيا وُوينم
د بحر و بر بادشاه　　ورې شان جوړې ته
قربانوي خوشحالي　　د غم مير منې ته
د ګل خندا وُوينم　　د لولکي پرواز
د محمود اوږې سترګې　　معصومه ګُله د اياز
زه د آدم د جوړښت　　په وجه راز پوې شم
په خپل انجام پوې شم　　په خپل آغاز پوې شم



A .S.K B

# بورا

تورہ بورا تورہ ته مهمند یې که خټکې (*)

نه وې کښې دکوم نکت دا ارمانونه دلو لکې

مور دې د ګل اندامه ده بابا دې شرابان (۱)

رنګ دې د شاخیل او طبیعت د شاهجهان

بنګ دې د دمبر دے فلسفه دې د خیام ده

تور کو نکته تا کوم ځائې شکلے خوا د جام ده

تا د رنګ او حُسن ساز د چا په ستار واوریدلو

تا د چا د ګُلې داستان د مینې او یار واوریده

اے تورې دیچکیه تاکښې د شیرازو لے

اے خپه ماښام: تاکښې نور او ګلانه وې

خو یاره تاکښې م ! یو صفت بد دې شي

ستا کوڅه د ښاپیرئ! م عادت بد دې شي

اے هرجائی عاشق د دیوګل یارنه ے

---

(۱) شرابان هغه دیو وو چه په ګل اندامه ښاپیرئ مئین وو.
(*) خټکې: خټک یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ مینې نوم دِ سپک که — دَ یو دلدار نه ئې
هره لمحه لحظه کښې — نوی خمار لټه ئې
او په مذهب دَ مینې ته بې وفا ئې — پرون د بل وې اوس زما ئې
په رنګ او بوی مینه — جانان دِ هیر دے
خوانی مستی ننګلوې — خزان دِ هیر دے
دَ فراق تور غمونه — ژړا افسوس او ماتم
هیر دِ دی اوچ سیلونه — زړه خوانی، نوی غم
دَ زیږو کلو شان کښې — مرګ دروکیږ دِ دی هیر
دَ نن په شوق مسته — سبا رانګه دِ دی هیر
داسې بې توله ته ئې — خنک بې پایانه چه زه یم
ته دَ هغه نې بورا — دَ چا انسان چه نه یم

تا کښې رڼا او تیاره
سپین شته او تور شته
چه ته ښکاره شې نه ویم
زما هم رور شته



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تارُو

وګوره يو ونځې تور تارو په سجده پريوته
وې کړه رَبّ ته عجيبه غوندې دعا

وې تور ولې تنها يې دې اوخړې وزانه ؟
ولې يو - باتور - يوه ګنجې - يوه هما !
زه به تل حُسينؓ يم او ښکاري به تل يزيدي ؟
لاس ګڼې عمله دام - کله توپک - کله لينده ؟

پَرَدَ بورا يوسې تور بورا دَ ګلو مينځ له
پر ورې ګنجې غريبه بوی له او ويران له
پَروري لولکه، لکه باد د ګلو پاڼې
پرورې پتنګ د ناله، سوز له، او تاوان له

پَرورې مينې د تورانۍ ښارو مېنو کې له
پَرورې کرګوره دَ شهباز او ښکرې نوکے له



A .S.K B

پَرِ قارغه په کند، پتنګ ورو اچوي په اور
پَرِ عقاب له غره او تپوس له شي پیغور

پَرِ تیو په باغچه کښې د صحرا د دړې لیواله کړي
بل له جام د ژوند شي، جام د زهرو د منګوي

پر د عقاب لوئ شو رتبه وي د تنزرو!
وي هر مارغه کښې نشته تله د توتکرو

وي هغه ملک د د شهباز د شکرې کور که
کوم ځای چې درانه ګرزي سیلونه د کمترو

یو تنزرې بس دو ستا کمال ښکاره کولو له
ښکلې د طاوسه خوش زبانه د کمترو

بس چه یو مارغه وي، یو ئې پرې او یو ته وي
بس چه تل باجره وي، خاور دوي د وا سنه وي

بس چه تل سپړلي وي، زیړ کلونه وي، سبا وي
بس چه بس یو ته وي، یو ارمان وي، او یو ته وي

* * *

تول جهان خاموش شو، د خپل زړه آوازئې واورېده
زیړ لکه غلام، د بادشاهانو رازئې واورېده

تول جهان خاموش شو، یو آدم وو چه ګویا نه شو
سینې د اسې یوړو بې خبره د خپل ځانه شو



(c) ketabton.com: The Digital Library

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

وے ، زړ لکه سوالونه څوک جواب یم زه د ټولو

زه یوه قصه نه یم ، خوب یمه د ټولو

زه کله مراد ، کله ارمان ، کله غرور یمه

زه تنک او تکړه یم ، زه شراب یمه د ټولو

زه یمه مخلوق خو د خالق د رنګه ډک یمه

زه کامل کمال ، زه سُر رباب یمه د ټولو

زه یم تور سترګې د باز سترګې د تنزرو

ما کې پټ ارمان د حُسن ۔ زور د وزرو

پهار پور



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کورکوره

خومره ښکلې تصویر دې ستا — خومره ښکلې دې آواز دې
ستا په نظر کښې سپوږمۍ پټه — ستا په پاپو کښې ایمانه دې

مخ دې نازک د ماشوم په شان
خوئ دَ خیشته نازنین هسې
خیال مستانه دَ خیام په شان
ملَه دَ مخمورا جبین هسې

مینه. لوبې. ستړکې وې — ناز او نخرې دَ دلدار کوې
ته دَ گلاب او نرگس په شان — ما ته قصې دَ گلزار کوې

ښکلې ثبوت دَ خالق دَ خیشت
ما له قصه دَ جنت ئې ته
ما ته داستان دَ کرم کوې
ما له دلیل دَ رحمت ئې ته

ستا دَ گوگو. خیشته آواز — ما له اذان دَ بلالؓ دې
ستا دَ خنا! دنا وجود — ما له پیغام دَ وصال دې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مچ

شغ شي چې کښې راغوته شي    دا د ښه خبرې رنځ دے
پکښې داسې چورلک او وهي (۱)    ته به وې د بنګړي (۲) منځ دے

اوږې ژبه د شه خاوړے
نه د خوب شته نه قرار
په تروږ سوتو مېنه
والے (۳) ئې د چا آزار

د هرچا کره مېلمه ئې    نا بللے بے عزته!
نه په شړپ باندے جاروزې    نه په سوک او نه په لته

تور دوغ بے شمېره سترګے
تیار خوړے مردار خوړے
بد خوئي سخا د ډوډئي ګډ
پهرشي د پاسه سوړے

که نور دوای ته پرے مړے    که غوړي دي ستا پکار وي
ستا پرے بے صبره غوته وي    که خاشنه وي که انار وي

(۱) اووے: وړے ۰ (۲) بنګړے: اټ ګیلا ۰ (۳) والے: وهلے ۰



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې غیرته خونې د دمره

دمره زور وینه څښتي

اې شهیده د کعبا بو

اې غازي د پړا تې

که پښتون خپلواک د مره شي
ته د خپله خوبه ناوړه دې

ره دا سر د ښتي زار شه
شرپ شي زړه ښته دا وړې

بلا دې بلا دې د پاپي دي

دلينګو پوره لړ لې

خله دي زېرو په لاوړن ده

چه پرون دې وو خوړلې

سخا میره لبقرې با بویه
ستا پولاډ فیرنې حلوا ده

ستا دې خپته کینې دوزخ دې
ستاد ښونا وکینې بلا ده

تو له روحې چپه چپه
ستا د اخله اوزه کا ته شي

د دنیا کنه و نخلاص شي
ستا قلمه قلا د نه شي

خیر دې ژړې را روان دې
تور او ربوز به د ښچر شي

چینګه خله بچر ته پروت ئې
د اقلمه به دې پا پر شي

زه به خوږمه په قلا را

تو د شربت او خوږ بې کړې

دابو ړ ګ نیا به دوم ړ دي

توره چه ته بم[1] مرې (رحیمه آباد جیل)

(۱) بم = به هم.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپږ زمري

په ۱۹۲۹ع کال کښې زه په دریم ځل د هري پور جيل ته راوړسېدم. دا زما د بندیدو دریم کال وو. په دې دوران کښې ما د پېښور او حيدرآباد سنده جيلونو کښې ډیرې بدې ورځې تېرې کړې وې، مونږ ته ایل یاران. دوستان خپل خپلوان د پاکستان په ټولو صوبو کښې خواره بنا وو. خو د هري جیل ماته د کور په شان ښکارېده. ځکه چه دې کښې زما بابا ډیر کلونه تېر کړي وو. د هغه د لاس ډیرې ونې دلته کښې شنې ولاړې وې. زه د حیدرآباد د جهنم نه دلته په کال پس راغلم او په ډیره موده پس م یو وړوکې د زیړو ګلونو نه ډک بوټی ولید. هر سحر چه زه به پاځیدم نو د هغه سلام له به لاړم. زه په انګلستان، یورپ او امریکه کښې ډیر ګرزیدلې یم او ډیر لوی لوی باغونه م لیدلي دي. ولې د دومره خاپست او رنګ په یو بوټي کښې هم نه وه. څومره چه دغې غریب او ارزان ګل له د خوا د او سپینې توری پنجرې او چاپېره



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تور ماحول ورکړے ده. دے پنجره کښے ماسره نورهٔ شپږ ملګری وو:

۱- پیر شاکر الله ډکو جبر ګړئ.

۲- خانخیل محمد دل خان د صوتی د نواب هوتی ورارهٔ.

۳- جهان زیب خان د رزړو. زما د تره ورزوی.

۴- فردوس د مانیرئ چه مونږ ورته د میتے نه کوګوو ایو.

۵- زرین خان د میاسے د پارلیمنټ ممبر.

۶- یوسف خان بابوخیل.

یو ما بنام مِ دماغ اوتښتید، دا د تم توتو شعر مِ اولیکه او دودئ نه پس مِ واوروو:

دلته کښے پنجره ده په کښے شپږ دی ازمری
خوګ غمت، خوګ اورېده دی، خوګ خا ره ئ کړ خوګ نری
رورهٔ پاکستان عجیب جور کړے چَڑیاګر[1] دے
بند پکښے، دیوان، پیریان، ازدوزی بنا پیری
(۱) ورته مخامخ ورهٔ پنجره ده د کوکو
مخ ئے اوچ یو بند ے دے په مثل د ماکو

(۱) چڑیاګهر: باغ وحش.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

رنګ ئې دَ نیرنګ دے خوږې زړه دِ دَ پښتون
تن ئې دَ بلبلې خو ښمت د هـــلا کـو
ونئ اوکنه، اوکنه، ښن کنه ښن ښن کنه
یارہ که رَبّ زه کرم دَ دے تولو تولوا کـو
زه به دا څار به څمتونه کرم یو څل نرے
دلته کښې پنجــره ده پکښې شپږ دی ازمري

(۲)

اَخوا ئے زرین دے دَ وطن نوم ئې میاسه
ښاپام او باسی دَ خــبرونو خلاصه
غانبن دَ غریب نشته کښې خوښې ئې دی چرګان
ښه ورځ کډو خوږی دِ یکے خوار له دلاسه
تن ئې دَ پنځنې دے خو عقــل دَ لقمان
خیال کښې انشاروی اوزړګی کښې تلوسه
حرص دَ دنیاته لګوی دنګ کوری
دلته کښې پنجـــره ده پلښې شپږ دی ازمري

(۳)

بل سرکښې یوسف (۱) دے ښاضمه دَ غریب ورانه ده
ښه ریختې قصه دَ اد رقو، پوکو. روانه ده
دال ئې هوا بند کړی، الوکان ئې اینه سیزی
غور ئې زړه له بد دی مساله په که، دو کرانه ده

---

(۱) یوسف خان آخر معافی او غوښته او کلی ته لاړ. اِنَّا لِلّٰہِ وَاِنَّا اِلَیۡہِ رَاجِعُوۡنَ.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

مالکه ئې ستر ګې زيرې کړې بنو ردو آشونئې او چې کړې
دې جيل ته حيران دې ، جيلخانه ده ته حيرانه ده
چا ئې چه ديره او خکلی لګی اِنګی پرې نړی
دلته ګينې پنجره ده پکښې شپېږ دي ازمرې

خوا کينې ئې دې پير شاکرالله زموږ خان
(۴) مرچا ته رسی ، تيپر ، او ګُــــره ، الوکان
دې خواته سپې کل ، اخواغوري . اخوا صابون
تله به لاس ناست وي د چلونو کی بيان
خان دَ لو يې مرکړي خو آشناله دالے ولېږي
کاش چه وے دَده به شان تول زموږ پيران
مالګُرو راکړي . يارله ولېږي ـ ستري
دلته ګينې منجـره ده پکښې شپږدي ازمري

ديخوا ترے مهر دلِ دې دې زموږ درو ئې رور
(۵) چرته چه دې ناری هلته وي خندا او شور
يوموټی وجود ګينې ئې يوغ دَ تنور پروت دے
سل مرګه به واخلي وابه نخلي يو پيغور
تل به بل سوَرلی کړی به فطرت پيدا اخان دَ
مُرې جوړ کړي دے غرور ګينې خان له کور



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خیال ئې د موسیٰ او خاندان د سامري
دلته کینې پنجره ده پکښې شپېږ دي ازمري
خو اکینې ئې لالي (۱) دې زمونږ کښې زما وررور
(۶) قید لې که په دې چې د دې زړۍ زما د ترور
دې په زړه باتور وو خکه کورله د غم داغ
ښته خلې، خلې، زما د خپلو بچې نور
داورو کې زړه ښنګ د وطن سینې تالاکه
داخو دې له جوړ وو چې کړي خاورې د عشق اور
دارو کې زړه ښنګه دهوکه نه که سامري
دلته کینې پنجره ده پکښې شپېږ دي ازمري

چې دا شعرم واورېدو، نو ټول ملګري م چپ شو. یوسف خان خوراسره خبرې بندې کړې. زرین کاکا مهردل خان ته خپل زړه سپک کړ. محمد ولي خان م خفه شو. دېر باره ئې راته اووې. زه دېر خفه خپلې چکښې ته روان شوم. ناګهانه م هغه وړه د زړه ګلونو بوټې ولید، و بهره خو اکنې کینا ستم. هغه وې ورته خان: بڼن خو دېر خفه»، ماوې «ټول دوستان م خفه کړي کې د خکه خفه یم. ما خو توقه کوله خو هغوی ترې بوقه جوړه کړه». بیا وې خان: «داخپله خوله دې م قلا ده هم بلا». د نګلي د ګلې. بیا شعروليکه». نو په دغه ما ښام ما د خپل ژوند اوله قصیده ولیکله او د تجربې په طورم خپلو ملګرو ته را وروله او هو، هغه ما ښام زه په ټوله دنیا ښه دوست او لوی شاعر شوم اوکوم شعر چې زما ټول مرور دوستان زما مینه ناک یاران کړه. هغه لیکم.

---

(۱) جهان زیب ته مونږ لالي وایو.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اوه کلونه

یو ورېد غونډ پنجره کښې — په یو کوټ کښې دې د جېل
د اوو کلو جوړ کړے — آزادي له چا امېل
(۱) اول کال نے زرین خان دے — چه په مات او ګوډ وجود
د الله الله سوړے وي (*) — په تنوړ کښې د نمرود
(**) پوی په سود او پوی په زیان — په دماغ لکه لقمان
دیو خیال او خوب د پاره — په خندا خوږوي ژبان
که روند پرېوځي سوړ لګا ته — همت نه دے حماقت دے
چه هم سوځي هم روان وي — دا مردي دا شجاعت دے

دا ستم نه بهادر دے د دمیاسي ٠ روکے نانا
د ترخو چایو پیالو کښې نے کړه ډوډه په جیلخانه

(۲) ورپور دے فردوس خان (۱) — په غځ سپین په زړه نازک
د پښتو په نوم او ننګ کښې — د فولاد د ګټے کلک

لا ور روکے شان هلک وو چه پرې وشو امتحان
د لیلے په عبادت کښې د رقیب شو بندیوان

---

(۱) فردوس خان د ۱۳ کالو په عمر او جیلخانے ته راغلے وو.
(*) وي = وهي . (**) پوی = پوه .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دنیا په وارو نرمو — په پښتو به خوږ و پوهیږي
چه پښتون په تیرو سرشي — دے لا سر کښې او غورزیږي
خپله ګنه خانی پریږدي، کنډرا دخلي د ملنګ
خان په ننګ خاوري ایرګړي چه پښتون ته واخلي ننګ

رب دې بوزي ما نیږ سه ته — چه کښې(1) بیا د آدے سیل
د ارو کلو جوړ کړے — آزادئ له چا امیل

(۳)
ورپسے زما چکئ دی، چه لږ سم پیدا دیوران
په میراث کښې م زبرګی دی، خو په فکر کښې شیطان

یم پیدا د هشتنګره — خو په فکر اتمان خیل
یو عزه ورانه، ویجاړه — غونډ زانه د دے سیل
قسمت جوړ بد په نه خوږ کي د هاو ښکلی پلاله
نصیب ښپول دا زغوږ کړه د پښتو کلو ګلزار له

خوږ بخته تینبسته نشته — زه پر تنګ یم د هرچا نه
مانه دې د غم او تکلیف کښې — دي د زونډ تیرول ګرانه
وګخه او کوم ویږېږم، که چا اخمه د سیل
د ارو کلو جوړ کړے، آزادي له چا امیل

(۴)
راپسے روکے لالی دے — پاکستان ترے نه پیږي
چه تاریخ انګریزي وائي — نو جناح(2) صاحب قاریږي

(۱) کښې: کړی (۲) محمد علي جناح (۱۸۷۶-۱۹۴۹ ع)



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ کلي نه نے راوښکه. دَ ښونځو تورے کوټے ته
او دَ مکتب دَ کوړے راوست دَ ژوندونو مسلے ته

دلته هغه تعلیم سومي ! چه په کل جهان کښے نشته
جیل چه پښتني هغه منبود نه دَ تعلیم امکان کښے نشته

دے دغم هغه استاد دے، چه لقمان او افلاطون
ارسطو، سقراط، بقراط، نے په مخ کښے دَ زبون

دے بندي دَ انصاف نه دے دے بندي دَ چا دَ زیل
داورو حکلو جوړ کړے آزاد دے له چا امیل

ورپورے چکی کښے پروت. زمایار دَ هوتي خان
(۵)
په وجود یوے موټے غوښه، په خیګر لوئی پهلوان

که عیشونه که خندا وي که وي حورے که غلمان
هیڅ نے تینګ نکړي چه جوړشي دَ مستۍ تورے میدان

کاش چه دے خانانو راورے، یو څو دا نکے خانان
خو افسوس دے دا بانشته په هوتي او په مردان

څه بانخوک عقل کښے خاندي یو مثال یوه رهنا کړے
چه هم دل که ګوتے پورے تول عقل شي چراغان

روګے کال او دیرسه هدے په دے کال کښے دَ رامیل
داورو کلو جوړ کړے آزادي لے له چا امیل



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ور پسې شاکر الله دے      د هماؤنه او بسیار

(۶) په خندا خندا یې کړی      د هر چا د کور بېکار

دا یې پورې چا لیدلي چه خان او بس مرید نه
په خندا د حسین سترګه پسې یې یوسي یزیدنه

که د عقل په حساب سے      وی د زرو خزانے
دے به ګویا سکندر      یا دارا د زمانے

خوشحال چه لاسے نشته د زړګی په پیمانه
خاکه تش ګوندی نه وائی د کلونو افسانه

په ګښو به دروا کړی      یار د عطرو د پلیل
د اوو کالو جوړ کړے      آزاد ہے لهچا امیل

آخری دے یوسف خان      د غنی نه مرور

(۷) هم دے مال په شماله داشه      هم تالانے شو خیګر

پلار نے غرور دسدم ننګیالے او ترو باز
یونی په ننګ او پښتو ود جنګ چیشته راز

لکه باغ په ګل خیشته وی      داسے وو په دوسدم
ټوندے کاؤ د پښتون زړه نے      د ټوندو سترګو په نم

نے خیشته نامه بنکاری نوخانان د بابو خیل

ذ اوو کال جوړ کړے آزادنی له چا امیل



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته خلور مونوکران دی — پښتانه دی خوک هندکیان

یو چاچا، یو میر قدم دے — اسحاق او اکرم خان

اکرم خان د نغرو دے، کړی کدو بنه د پلاو
وی ملام باندې کړے، تود او تریخ شالان

چاچا بنه پوره بیره دے — میز کرسئ لکوی چسته

خور و ژو غریب خراب که — نوکری ئے شو لئے سسته

اسحاق او میر قدم پښتانه دی په نسب
خوراکئ زمونږ خند، مست، بنه په چغه بنه په درب

دامالیان دی او بہ او چپئ په شنو بوټو د رامبیل

د اور بلوجور کړے آزاد ئے له چا امیل

هری پور

۱۹۲۹ع



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشه

که سترګې ښکلې نشته ښکلي یاد خو ئې شته
که تخت دَ بادشاهۍ لرې دې ځلا د خو ئې شته
اوږدې شپې د فراق شوې په جانان یادولو تیرې
که وصل نشته شکر دې فریاد خو ئې شته
دا غم دَ مینې غم دَ خوشحالۍ په شان خوږ دې
دَ غم مالک هم خان دې جا یاد خو ئې شته
دا زه چه مسکې شونډې د تیاره شپه کښې ولاړ یم
دَ یار مروند که نه وي خو امید خو ئې شته
خُدایه دَ لالي راج هم بادشاهي دَ پاکستان ده!
آباد، ئې که یو نه وي. ډیر برباد خو ئې شته
چه آخلې لیونې ربه، په مینه کښې ئې ډوب کړې
دا یو داسې مرګې دې چه څه مراد خو ئې شته

غني
هرک پورخیل



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خیال او رنګ

دا سوز او ساز، دا شان او شرنګ
یو سورے دَ وخت او خیال او رنګ

دا اوبښ کاروان، دا سحر ماښام
دا کوتے او شونډے او مئے او جام
دا شپه دَ خزان او خوب دَ بهار
نشه دَ مجنون او پیاله دَ خیام
دا ګل، دا ساز، دا شان او شرنګ
یو سورے دَ وخت، دَ خیال او رنګ

دا زور، دا زر، دا تورے خیشته
دعا، او جزا، او حورے خیشته
دا ستر ګے، لیوالے دَ ژوند، او نور
دَ شونډے، مستانے مغرورے خیشته
دا تله راتله، دا خیال او رنګ
ارنګ، درنګ، سپاری تنګ



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ښکلې کاته، په نیاز کاته
دا رو(*) نازک، په انداز کاته
دا لړو کښې تا، د سپوږمۍ د مخ
نرګس کښې نیازبین د ایاز کاته

دا مینه، رنګینه، دا شان او شرنګ
یوسوړ سے د وخت، د خیال او رنګ

سپړدل د ګلاب او خندا د یار
کاږه کاته، په رضا د یار
انداز د مستۍ، او تول د غم
سرے سترګے او شونډے نه ما دیار
دا مست ماښام کښې د ژوند غوړنګ
یوسوړ سے د وخت د خیال او رنګ

محفل د غمونو او جهان د غم
یو شمع وړه، دنیا توره، تم
یو عجب خموش کښې یو کړنګ د ساز
په راج د مرګي کښې د ژوند آواز
دے تور سمندر کښې رڼا او رنګ
دا مینه، رنګینه، دا شان او شرنګ

غني
خانپور

(*) رو: ورو.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یو خط

زما خوږ دوست حکیم سید ۲ چار فضل دیوبندي ته

یا حکیم جي!

ته څه خبر یې د دښمن نه
پیاله کښې شوماره ذیلې پرې دي

دا خوږې دن دا اپسې دي
زړګې د سُر او خمار پرې دي

تا څه لیدلي دي مزې بې مینې
سر ملا هیڅه مینې مینې

ته څه خبر یې دا څه غضب دی
خوږ پرې لګي تار تار پرې دي

ما ته ملوګې دي کل مسئلې ستا
د سُر او زړیان او ږدیمې ستا
کوه چشمانو کښې د جانانم
د جنت حور قطار پرې دي

دغه نې د یار ساقي کلرنګه
ډکه پیاله په شرنګا شرنګ

نو ځکه به چه لیونی شم
تا ورانه لېچې د یار پرې دي

کوه آسمان کښې سپینې ووبانه
ما ته وي دا خله د جانانه (۱)

دوه ورې وروند د لیونی خاطر
وستني ورې د شمار پرې دي

غني
عبدالجبار

(۱) ورې - ورانې.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کاروان

ګوند او قرار، اودراو او به دي، منزه به یو ځای شي نه یو خوا کیږي

تیاره او نور یو د بل جوړه دي دا ګل به تیږه وشي دا چه تیریږي

لکه د سیلۍ دَ ژوند ټم لاړه ده، کله په ژړا کښې کله میل انګښې

مۀ عجب عجب پیالې او کوزې په ښکلو کښې خټې آسمان کښې

جانانه ما ته څه کړه را پورته، دَ آبکوږکې دا سترګې تورې

دَ ماښام لړې تیرې کړه میرې ولوړه دلبره اوس قیصې تورې

وګوره دا سپینه سپوږمۍ روښانه دا موږ ته خاندي دا موږ ته وائي

وړې ساعت ځواني د دوه عاشقانو کوي هغه چه ځواني کښې خالي

جامونه ډک کړئ زړونه مستانه

کاروان روان دے جرس غږیږي

شونډې له شونډو دَ مینې یوسي

سبا راتلونکے دے مجلس خوریږي

غني

حیدرآباد جیل



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بې وفا

حُسن حُسن لټومه  که په غرونو که په سمه

زه په مینه مینه پایم  بې د مینې مرمه مرمه

بې وفا که د جانان یم  بې وفا نه یمه د مینې

چې ترنګ خندا اتڼ یم  چې په سترګو مې رنګینې

چې خُم د میو تش شي  تش پیاله به شي بې خونده

بیا به ځي میخانې له  سینه به په سمه مجروحه

تش کوزې ځښلې نه شم  چې خوندونه نه وي د ګناهو

زه مین په پیاله نه یم  زه مین یم په شرابو

پتنګ نه خطي مین یم  چې د شمع رڼا نه وي

تورانۍ نه وي سندرې  چې مستي د سبا نه وي

بې وفا که د یو یار یم  وفادار د مینې یمه

حُسن حُسن لټومه

که په غرونو که په سمه

غني
حیا باد خیل

---

(۴) د ی : وایي.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بَند

نن چه خوږ ما بند کړي حرص او هوا بند
سبا غواړي د مغے نه سودا بند

د ته بوتان کښې مينه نه ګيرېږي    ځکه به بنا کاندې سيلاب د هوا بند
تو له غم تو نظر د نياز يو رل    لکه واچوې تيارے ته رڼا بند

ډک له نے د خُم چه نشه ليونے شم
جام کښې کوه پروت دے د نوم د آشنا بند

په دموتو يا د نه جوړيږي    چه يو خل زړه کړې د مينے بلا بند
د فولادو زنځيرونه دے چه پوړے کړم    کړم جانان په نازکې په ځنا بند

په جهات کښې دے د اوږه شونه ناست م
لکه وي په تبخانه کښې مُلا بند

د دنيا آزادي واړه م قربان کړے    چه کړم زړه د ځنبو بانړه تلا بند
قدے بند د ته بند ونه نشته    چه ته ختوې د وجود او د سا بند

ليونے واوريا په داسے شوډ کانو
په پنجره کښې که په شان د مينا بند

غني - حيدرآباد جيل



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خمار

چې نشه شمه د خپله خانه وځم
لکه وږمې چې تښتي د جېرې نه

مست شي د غمه دا زړګی او چغې شي
لکه پوټی سره کړي ګل د اوبې نه

دا ړونا وجود مجبور تن تنګې پېچ ومي
او د خیال په بیا بیړۍ بانا شم سور

د اووم آسمان د سیالی کړم روان
لټوم د ژوند چینه د رڼا کور

د ساقي خمار سره پرم پکار نه دی
دا زه ګورم د خپل خیال لیلی له لاس

دا د دې ژړه نګیسه وجود خوا کې دی
دا مستي مینه او حسن او دلدار

دا چې زړه د جانان سترګې نښتې
دا چکنې ده له ډېر کومه د رفتار

د شفق د سره د کور خال د جامونو
دا چې سترګې سره سره کومه په خمار

څه په عیش د ژوند نه ګټه یې ملاجانه
د تالاش د سوز بلا یې خبر نه شوے

عبادت سره تالې حورې غلمان
د ارمان خاورې کیله یو خبر نه شوے

لکه شمع ویلې نه شوے د خیال اوره
خوږه او شکله سو شراب او خمار نه شوے

مست نه یې د وا آوانغښت د شعره
د بجا جز ازباب ګلزار نه شوے

ژوند نه لحاظ تالاش نه خلاص شوی نه یم
سترګه مې کړه له چپلو پا پوړ یې یږه

لکه کلي ساعت نړک جهان نه او بنود
لکه سپینه دریاب له خپلو چپو یو یږه

غني ـ حیدرآباد جیل

---

(۱) وانغښت : وانخيست.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مدرسه

څه سبق راته ښئې زبه ! زړه دے غم په ماړه سه کېنې
فکرکوم خواته روان ځې ؟ په کوڅے د وسوسه کېنې
ته خبر نه ئې د خپل زوره زما ماتے شوے پښتنی
په پوالاُ چه م زړه نه شوے زړه کوم ئې په پټئې
وامنم ته بے پروا ئې هر څه کے[1] زما د پاره
خوکاش چه دے نازکو چنو ته تا وے بنولے لار هموار
واقعه یم سخت استاذ دے باغ ئے د ب ترخ ئې آواز دے
د لولئے نازک وزر ته گران د غرو د سر پرواز دے
ژوندون نه دے جوشند وده پکښے سل قسمه خوندونه
نه مسم خوږ شو نه سم ترخ شو هم صحرا او هم سیندونه
هیڅ په پته د پوی نه شو چه دا د وجود[5] کوم رنځ لـه
وے ولے د کور د ره نه ماوپے د دریاب مینځ لـه
زه په غاره یم خوشحاله زه باتور لامبوزن نه یم
زه د مینے تور یا ئے یم د جنګونو تورزن نه یم
غنی مړ په شمکو[2] شو وپه کے سپینه پتا سه
چونتی او که تائی او وه تیبه بنا که مدرسه

(١) کے : کړے
(٢) شمکی : [illegible]



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# صنوبر

لا اس م بنا. ژبه م بنده
د ټټ ناست يمه ديګر
لکه ناست وي وزر ماتے
په مابنام کښې بازيګر

چپه خوله او تيتے سترګے
د کال خوا کښې کونګے ناست دے

د خپل غم په ننداره کښې
ډوب مشغول دے صنوبر

د برهم د رباب په غاړه
تشه ليه اوچے شونډے

ليونے د ټنډے مړ شو
د مستۍ نه تش شو سر

د خوانۍ د غم مابنام
د پيږے سار (۵) د اختر
نه دی چا برابر کړی
نه به ئے څوک کړی برابر

---

(۵) سار = سحر.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

راته ښکاري چې بوډا شوې — رقص او شرنګ دِ نښتې خيال کښې
ګډا نه کوي نظر ستا — غوږ زنګ نه لوري په چال کښې
دَ زوال استازي ناست وي — تل په څوکه د کمال کښې
وخت او ژوند، هغه ښکاريادي — چې همام نيسي جال کښې

په وينتو کښې دِ ښکاره شو
دَ مرګي اَستازي سپين
قسمت ليک دَ ابد وکه
ستا دستر کو په جبين

نښت کې دک دَ لويو کندو — دَ مستي جهان مَهين
دَ خزان جامې اغوستې — دي نرګس او نسترين (*)
د سبا رڼا پېکه کړه — دک دَ شمعو و رنګين
اوس دِ خوږ په ژبه لګي — دَ شرابو نه کبين!

هغه سره ګلونه څه شو؟
چې تو کول به دِ صحرا کښې
هغه لوئې محل څه شوې؟
په قيام ـ به چې هوا کښې

هغه مست سرور دِ څه شو — چې به غکه دِ صهبا کښې
هغه سپين مشال چا يوړه — چې لګو به دې بيديا کښې

(*) سترين = سترن



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا تور تور سوري د چادي — چه روان دي دي په خوا کښې

بوسیاه دي د روخوزده کړل — تیتیدل دي دي په شا کښې

لاس د بند زبه دي بنده

ناست یوازې او دیګر

لکه ناست وي وزر ماتې

په ماښام کښې بازیګر

چه خوله او پښې سترګې

د کال خزانې او ګل ناست دې

د خپل غم په ننداره کښې

ډوب مشغول دې سنوبر

غني

مرګ بورجیل



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ته او زه

اې د مینې فرښتې!
اې د نور او رنګ قیصې
ښاپیرۍ ته چا بندي کړې
د غمونو د کوڅې!
چا ور و لولکه بزیره  کړه تورتم سیا بازان کښې
چا تصویر د صحرا جوړ که  دې د سره ګلو بستان کښې
په مینه چه شي مینه
یارانه نه ده بیوپار دے
چه په غم ارمان بدل کړي
دغه مینه دغه یار دے
که مجنون په لیلی ړوند وو  په مجنون ړنده لیلی وه
چه فرهاد مسک او مست وه  شیرینې هم په خندا وه
دا نه مینه نه وفا ده
خوشحالي مستي ګټل وه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

په چنجي کښې وزرونه
د لولکې توکېدل وو

دا د سود کتې قيصې وې ‌ ‌ ‌ ‌ بلکې قرباني نه وه
د مجنون د زړه مستۍ له ‌ ‌ ‌ ‌ د ليلی څوک ثاني نه وه

خو اې د حسن فرښتې:
اې د نور او رنګ قيصې
تا مستي بې خودي ورکړه
په زړا او وسوسې

اې محبوبې بت پرستې ‌ ‌ ‌ ‌ زه يو عمر د تيرو يم
اې د سپينو ګلو لښتې ‌ ‌ ‌ ‌ عکس ستا د لولو يم

اې د غر د څوکې وا ورې
ستا د خاڅکو زه د ګلو ډنډ کې
زما عمر د مستۍ دې
ستا نياز بين زړه ورد کې

ته نۍ حوره د فردوس ‌ ‌ ‌ ‌ خندا زه د جهان
ته ژوندون رڼا او شمع ‌ ‌ ‌ ‌ زه تياره، غم او طوفان
ته تسکين د مسلمان نې
زه يم مينه د کافر



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته په سینه تالا زړه یې

زه په حُسن تالا سر

ته بنیاد او روح د سینه یې       زه موجونه سرېږي

ته سرود، طور او موسیٰ یې       زه ارمان د ساحوري

اې د حُسن فرښته

ته یې حوره د رضوان

زه بادشاه یم د دوزخ

په لمبو د اور روښان

زه یخ باد یم د خزان       تورې لړې د ماښام

زه مین د بُت په سترګو       په ساقي یم او په جام

ستا خیشته مینې وفا نه

په معنی د مینې پوې کړم

ستا غمګین روښان نظر زه

هم بنا کړم هم سپړه کړم

اې د حُسن فرښته       ستا غم نه دنه سوځار دے

د خزانه تاجوړ کړې       یو نازنین غونډ بهار دے

تا کړه برو د سپوږمۍ نه

دا خندا کوکۍ قصه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تا په سترګو دَ آذر ګښې
عکس جوړ که دَ موسیٰ

تا پتنګ له مستي راوړه — د نورونو دَ زهرا
تا د سرو ګلو باغ جوړ که — په خیګړ ګښې د صحرا

تا دَ ژوند ترخو اوبو له
د شرابو سرور ورکه
او بڼې سترګو دَ کونکتې له
د لولکې غرور ورکه

تا خندا او ژړا په خوب ارمان کښې — ویښو دَ مینې شوې دَ غم جهان کښې
تا دَ یار شونډو کښې خوب دَ لاله لیلیٰ — تا دَ فراق پېغ تصویر دَ یار ولید

تا دَ تیږې دَ زړه دَ رڼا بنار که جوړ
تا دَ وروکي دَ ناره سینه لره آبشار که جوړ
تا دَ شبنم څاڅکي کښې دِ تصویر دَ نمر
که دَ امید دریاب او دَ مستۍ سمندر

تا دَ فراق دَ لمبو — رنګ دَ وصال جوړ که
نه ما دَ تولو تیرو — دَ زنې خال جوړ که

---

اے دَ حسن فرشتې
سپینې حورې دَ رضوان
بس تا وهکړه لیوني له — امید ونه او ارمان

غني۔ خانپورخیل



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# صحرا

که په شګو کښې ژوندون وي — رته بوم څه صحرا له
که سودا کښې ناز او شهنګ وي — ما مړینې ورکړه سودا له
که په سا کښې مستي نه وي — رته مرګ راوله سا له
که هلال پیغام د نور — د خندا او د رڼا نه وي
ما ته غوره توره شپه ده — ډېره غوره د هلاله
کله ژوند مطلب بل نشته — بس ژړل دي سوزېدل دي
داخپل جوش په بېرته واله — داخپل هوش په بېرته واله
زه پتنګ ستا په رڼا یم — مین ستا په تورو نه یم
که کافر که مسلمان یم — یمه ستا د نورونه یم
زما واړه کمزوري دي جوړې ستا ستا د کماله — تیاره ځکه شوله توره چه شوه ورکه د هلاله
چه تا روک کړمه حیوان شم — چه تا ووینم انسان شم
ته دریاب د شنو چینو یې — زه پېچي د لوږو تندو
چه تا روک کړم بیابان شم — چه تا بنګل کړمه بستان شم



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

داکه زما دَ څه دي، چه زه چیغې شم جانانه   داخو ستا دَ ښایست قیصې دي، چه زه غم شم بیانانه

یا خو واک د بادشاه راکه   او یا صبر د فقیر را

ژوندون دې دَ رنګین خوب له   یو ښایسته شانِ تصویر را

چه ستا حُسن پرې بند کړم   دا سې لاس دې دَ زنځیر را

که دا اوښکې ستا شراب وي   که دا چیغې ستا رباب وي

که زما ژړا دَ عمر   یو لمحه ستا دَ شباب وي

که زما همه مستي دا   یو حباب ستا دسرور وي

زه خو تښتیدلی یم په هر څه، چه کوم ځای مې پلنځانه   عجیبه زما جانانه، عجیبه زما ارمان ته

هله زه دَ ځان مالک شم   چه خپل ځان در کمه تاله

هله مست خوبونه راشي   چه کوټ وکړم ستا دخیاله

اې دَ کل جهان مالکه   جواب راستا دَ جماله

ولې جوړ صحرا کې باغ کړې   قصاب جوړ کړې دَ کلاله

ولې ولې ربه ولې؟   دَ دې ولې جواب څه دې

ښکلې ښکلې اې جانانه!   ازغې څه دې مضراب څه دې

اې دَ لوږې تندې ربه

دک جام څه دې، کباب څه دې

اې دَ مرګ او ژوندون مالکه

مرګې څه دې، شباب څه دې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اے د ژوند آخر جانانه ژوندون څه دے حساب څه دے

اے د تورو تیرو خانه څه معنی ستا درنا ده

اے دَ مرګ او کوره خاونده!

څه نګینه ستا خندا ده

## څه وُو چه هیڅ نه وُو

څه وُو چه هیڅ نه وُو نه سبا وُو نه ماښام وُو

نه رب دَ چا رب وُو نه بنده دَ چا غلام وُو

بس یو بے پایانه عاشق ورک په خپل خمار کښے

خوب دَ خپل وصال وُو

په خیشتنه شونډو دَ یار کښے



A .S.K B

# جزا

خلق وی (*) راته چه شته دے      زړه م هم وائی چه ئے!
خو جهان دِ داسے ښکاری      لکه بے مالکه کور
ستا دَ خپلے خُلے دښمن له      خوشحالی، مینه، آرام دے
ستا آشنا له تنهائی ده      تهمتونه او پیغور!

که دِ زړه کښے هم خوک یاد کړی، دړ په دړ خاورے پسے شی
ستا دښمن خانان دَ خانانو، ستا آشنا زیروزبر شی

---

ستا ربښتیا، ستا ښه، او مینه      په همه ؤ کښے تاوان دے
ستا تالاش یو لیونتوب دے      ستا یاری دَ غم طوفان دے
امتحان خو مرو سنګین دے      ډیر کمزورے ستا انسان دے
دَ لوګی په بنیادونو      جوړ دَ شنو ګتو مکان دے

ستا خلیل دَ خپو دَ لاندِ، دَ نمرود دَ غلام وینم
دَ خیام لاس کښے کچکول دے، دَ دله لاس کښے جام وینم

---

خانه مه م جنګوه نور      هسے نه چه بنګیلے شم
چه خمار او سرور درکړم      دَ اسرے طمعے مرے شم

---

(*) وی: وائی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا مُلا وائی په چغو، چه تش سخاوت (۱) او زکوٰت غواړي

خوښ د غټ غټ خیراتونه، پوخ او سپین شان جامات غواړي

وي قانون د د منات وي — ته تش نوم د منات غواړې

وائی نه غواړې جنون ته — تش د رکوع او آیات غواړې

خو ستا جانان بل ښکے ښائی . ستا د پتهو ستر ګر خیال

عجیبه د جرم ایښې — په خونونو د وصال

لَن تَنالُوا الْبِرَّ حَتّىٰ تُنفِقُوا مِمّا تُحِبُّونَ ؏

ته په دیګ م رضا نه کړې — نوم، ارمان، او عزت غواړې

د مالی نه زیږ کلونه — د قارون نه دولت غواړې

د مېین نه تو له مسینه — د مغرور نه غرور غواړې

او د رند نه بنا نکے نه — د مستی او سرور غواړې

د غنی نه هشتنګ کښې — او چت غرور د طور غواړې

د ګل ور کې نخیا ځان له — د حور تولو (۲) تنور غواړې

ستا وکیل وائی په چغو — چه خیرات او زکوٰة غواړې

زړې میښې د پنجاب — او نږ د سے روژ (۳) سوا غواړې

سپینه ګوړ د شا بګ ے — تمباکو د سپے غواړې

او مسربد کړ نت بیولے — ښکلي ښځې نو غواړې

---

(۱) سخاوت: [illegible] (۲) [illegible] (۳) [illegible]



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

سان، صابون، ګړه طالب له ‏ ‏ ‏ ‏ او مُلا له روپئ سپینې
په بدل کښې مسحلونه ‏ ‏ ‏ ‏ معشوقې نرمې مهینې
دک جامونه دَ شرابو ‏ ‏ ‏ ‏ په عوض کښې ږي پیینې
دَ زیلیخونې پالنګ کښې ‏ ‏ ‏ ‏ د کې لیچې نرمې سپینې
لیونی ته بس ارمان کښې ‏ ‏ ‏ ‏ شي رنځې ستړې مهینې
څومره ګران سړی دې جوړ کړو ‏ ‏ ‏ ‏ دعویدار له ستادُ مینې

ستا قسمت دې سوزول کړی
لکه بې مطلبه اور
ستا جهان دې ورانېږي
لکه بې مالکه کور

غني
غرسر
ډیره اسمعیل خان



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شهوت

ما دَ وینزے خپو کښے شهزاده په ژړا ولیده
ما دَ مرګی بُت ته ژوندون تهیت په دعا ولیده!

دوه نیانه بېنے سترګے دَ مستے دَ خندا دکے
او چه ترے مستي شوه شوے دَ ښېي دَ سترګو کلکے

لاس دَ سنګه مِ غزولے په سوال ولیده
پروت دَ منات خپو کښے مِ په ذکر بلال ولیده

ما دَ وینزے خپو کښے شهزاده په ژړه او لیده
داستانه زړه مِ دَ چا سپے په سودا ولیده



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خندا

ځان ته خو مه ډېر خو ډېر افسوس دے د خندا نه راځي
دے غریب ګڼي کره سایه د هما نه راځي

ده ته مینا پېرے ده پرې هله چه لیدے نه شي
غوړ په پسې حرام، د خره ډېران له ګیا نه راځي

خدا نیکو که مجنون د څه مجنون وُ چه صحرا له لاړ
پوځ شو چه به دے چه په محمل کښې لیلے نه راځي

لاړ و لیونے د ورک شو چه حکم ورکړلو
چه کور ته د رنګونو به څو کاله رڼا نه راځي

نن د سامرې سره تعیکه د جانونو ده
خکه لیونی له غمه پټکے او قبا نه راځي

خکه خو غني لږ په ګیله شان نصیب ته راځي
مه وایه نامرد چه نن تیر شو سبا نه راځي

ستا عجب جهان څه بے انداز څه بے امکانه دے
یو د خنا مړ شولو او بل له خندا نه راځي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو خوا دِ تیرو دَ مِنا پیرک خُله مړه نکړله
بل خوا دِ چرګ مړی په دے ارمان چه سبا نه راځي
یو سیلي اوچت که دَ دریاب په مینځ ئے ودیشته
دیخوا بل تر پیڅی چه یو کوټ دَ هوا نه راځی
لا زمه، بوډا شوم ژوندیو تیږه نه کښېنم
خان تخنو مه دیر، خو دیر افسوس دے خندا نه راځي

غني
پیښاور

# رُباعي

زړه مِ لګیا دے سر تِم کپ لګی
ورله دهوکه ورکنی په اُکربکو

وائی پاسته کلونه دی راروان
پروا ئے مه کوه که ازغی کلک وو

غني
خانپور



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سپېڅي

هغه ژوندون وايه — چه وي يو نور او رڼا
دک د خوبونو خندا — خندا او شرنګ شرنګ
هغه سرور وايه — چه وي د وخت بې پروا
خواره په سر د فقير — شالونه رنګ رنګ

هغه بهار وايا!
چه نه مستي او سخا!
په زيړو کلو باندې
ماليار کړي تنګ تنګ

خو دا نه شو پېښ او نه به وشي — چه دوږخ نرم او خيشته به ښه شي
جنت به نوم شي يو بې مطلبه — شي به پکه خواږه او وريکي تراخه شي
سروړ به ډوب شي او خندا ورکه — خکه چه غم او ژړا به نه وي
رنګ به لوګي شي او خواني خاورې — واره به سوده وي، سودا به نه وي

چه خيګر مو ړ شي، نو ارمان ورک شي
چه ارمان ورک شي، نو ژوندون ورک شي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه صحرا نه دی په سترګو ړپ کښې
لیلیٰ فنا شي، او مجنون ورک شي
په شپه او ورځ کښې - وخت او نظر دے
وار وليده د بنده - هم سپين هم تور
د ده تيارو کښې جړاے د نور دی
شنه ځکه تنکۍ او شړنګ چه شته د شوې
ياره دا ژوند سبه دے - پکښې خندا او ژړا
توره تياره او رڼا - ګلونه رنګ رنګ

خو بيا م زړه غواړمه     ژوند د ځوانۍ او رڼا؟
ډک د خوبونو خندا     خندا او شړنګ شرنګ؟
وې دا نه شي کولے     د خيښت او نوي آقا؟
چه دے سينے کښې کيږدي     لالونه رنګ رنګ؟

غني
پېښور



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کټ مالَه

د يو خط روښن ته

لاس به مې ورکړي وي، او خپې به مې ورکړې وي
خو مینه، مینه، مینه، ما درکړې بس یو تا له ده

دې باز به په ډېرو غرورونو کنډو پرواز کړې وي
خو جوړه بس ستا سترګو کښې دَ ده خمار جاله ده

مل خله که ورک شي ستا دَ کوڅې ورکیدې نه شي
واره رنګینې دَ ده چه جوړه ستا دَ خیاله ده

د ورکه میخانه ده جام ساقي دې که خمار دې
دا واره مستي خو تر تا وربلونه دَ مشاله ده

سرې شونډې او تورې توره شپه کښې دواړه تورې شي
خیشت دَ شال په ډې دې چه لیلې خیشته دَ شاله ده

ته که لاړې رنګ سُره او خواني به واړه خاورې شي
جام کښې دا مستي واره دَ مینې دَ کولاله ده



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چونګ خاوره کوزه شي یا دېوه شي او یا جام شي
ږوګے (*) غونډے سر کښله قارون کښله خیام شي
شوم نصیب کړي جوړ توره پنجره د رنګ محله
مینه او غرور کله ساقي کښله امام شي
حُسن او وصال یو ته ځمل شي او کالونه شي
یو ته سر د دار، بل ته را ښکلې د ګُل د دام شي

ستړے شونډے خاورے ، خاوره لوے د کماله ده
مینه مینه مینه ما در کړے بس یو تاله ده
ما خو ستا په خپو کښې خپل لالونه خواره کړے دي
ما خو فقیري قبوله کړے ستا د سیاله ده
ما خپلے مستۍ ستا په غمونو قربان کړي دي
ما رڼا د شمع قربان کړے د هلاله ده

خپے او لاس م خه دي دا خو خاوره د ویران دے
دا ستا غني نه دے دا د خلقو غني خان دے
دا ستا د ګلونو ښاخ مستي د بهار نه ده
دا شارے شود یارے سور سادین او ج بیابان دے
دا ترخه سایه ده د غضب ده ، د نفرت ده
دلته مړه شونډون د مړه امید او مړه ارمان دے

(*) ږوګے : د ږوګے .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه خاموشي ده دا، چه ورکه دَ بلا له ده
مينه مينه مينه مادر کړې بس يوتا له ده
ما کعبه دغولې ستا دَ مينې او جمال له ده
حوره زما ناسته، پته اخوا ستا دَ شال له ده
ستا شراب دَ خاورو دَ کنډوله جوړکړې جام
ستا ستړګې کړې جوړې دَ خرچوکي نه خيام
تا دَ خاورو کمتونه سينا او حرم جوړکه
مينه وه دا مينه دَ خنزيرنه ئې آدم جوړکه
ستا کټ ماله جوړه دَ غنيَ دَ کُل کماله ده
مينه مينه مينه، مادر کړې بس يوتا له ده

غني
پېښور



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مُسافِر

دَ ژوند مقصد دې يو کمال دَ مينې — دعقل خوږ جمال يو خيال دَ مينې
دا تورے لړے ما ښام کلال دَ مينې — دا ارمانونه تالاش يو جال دَ مينې
دا سره مستي دَ کفر چينه دَ ښادمانو — وږغ (*) کېنې دَ بحر نفرت دلال دَ مينې
اوه په ارمان کېنې دَ کمال دَ مينې — کل د انسان جمال جمال دَ مينې

مينه خوب دَ ډيوے زړه کېنې — دَ دنيا او سوزېدو دے
خوب دَ ژوند کړه ما ښام کېنې — دَ سبا دنيا راتلو دے
دَ خزان په مايوسۍ کېنې — خوب دَ ګل دَ ټوکېدو دے

دَ مرګي په تور وطن کېنې
ساز دَ نمر دَ ختيدو دے

ما دَ ستر ګو تپوس او کړه — حُسن څه دے مينه څه دے
ما دَ دنيا تپوس او کړه — عکس څه دے اينه څه دے
ما دَ ګور تو نه تپوس — دنر مے دَ تالاش او کړه
ما دَ اخري ستر ګو — دا خندا ارنګينه څه دے
ما وے اے زهرا رنګينے — دَ خپل نور بے خبرے

---

(*) وږغ : بج



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا مستي حسینه خُده
ستا خندا مهینه خُده
هغه بې پایانه حُسن
ماته دا په ارمان ورکړے

ژوندون خه د ځان سوتل دي — ژوندانه خه د ورکیدل دي
ژوندون خه د یو تالاش دے — د ارمان پوره کولو
د ارمان بې تابي واره — په ارمان قربانول دي

ژوندون خوب د یو بې توانه
د تیرے اودرنا
بنده هغه مسافر دے
کور نه باغ لاړ نه صحرا

غني
بهګنوتر



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بې غیرته پښتون

تور ښامار منجیله پروت دے د خار په خزانو
د پردون غلام، بادشاه دے، د سبا د لیونو
هر پښتون د ډیرے(٭) ږپی، ورک شو نوم د پښتنو
د سړو سترګو غیرت اوچ شو
همت ړوک شو د سینو

اے پښتونه ما کتلے د انسان د شان کمال
ستا بے سرو سر کښے نور وو، ستا په تورو کښے هلال
ستا په مستے حیوانیت کښے د دریاب د چپو زور وو
ستا په نهرو کښے زمزم وُ
ستا په قهر کښے جلال

ما به وے د زمرے ظلم، ظلم نه دے د زمرو شان دے
ما به وے عقاب به خیشته د چرګو باز ښکار ارمان دے
ما به وے چه کله کله، خکه ته بے حسه اوده شے

(٭) ډیرے، زړے.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه روان ستا په خیګر کښې
سوړ د ننګ غرور طوفان دے

اے پښتونه ستا هر بد، له ما ګڼه نه جوړه کړه ښکلې
که ته تور، د اور صحرا شوے، ما کتے ګڼې بلبلې
ما ستا سر اوچت غوښتلو، دا مې نه کوو تپوس
چه دا سر په څه اوچت دو
څنګه څنګه، ولے ولے؟

دا پښه کاله تیر کړه جهنم، زندان، اور کښې
نه ئې سر اوچت سباته ستا سر ښکته په پیغور کښې
شل شرمونه د ږیره تاو دی، په ګیږ ته داسے خاموشه
لکه پروت چه دله مړے وی
راغونډ غونډ په ګوټ کښې

یره یره په خیګر کښې د بچې د سکندر
په پنجره کښې ربې ربې د عقاب اوږده وزر
لاندې ناست دی سړه بازونه، اوږے سترګې او تشے
او د پاسه بے ګنجې ده، د هما تاج ئې په سر
اے جنونه د شرابو، اے بابا د لیونو
دا مغز په سر مې تیت که، بے غیرته پښتنو

غني . خانپوه

---



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دامکان او لامکان

چه آدم تنګ دَ قسمت شي ... په خپل لاس ئې نوي ستاروا خلي
چه لږ نور هم ليونے شي ... نو شمشير او آبشار وا خلي
چه حوا دَ مرګ ډيرے ... دَ سبا په تلاش وځي
دَ ګلو نو رنګ راغونډ کړي
دَ سهر نو شرنګار وا خلي

همه رنګ دے دَ آدم ... دَ آدم دَ زور امکان
څه دے کور، او لامکان ... ګل غلام، بادشاه خزان
که جانان، که بت که رب دے ... خاتمه، او ايمان
دامکان او لامکان ... دواړه وجود نه مادخان
سره ګلونه، سپين امام
ابتدا او اختتام
ګل بچے دے دَ ډيران
په سپرلي کښے پټ خزان



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تیښته یره او شکست — دَ دله دغه آواز دے
نو غازی له شکست نشته — همیش فتح تل پرواز دے
ګل چه خاورے شی هم ګل دی — ګل چه سور روی هم ګلاب دی

یو مهتاب او زر دوړے ځے
بیا هم سپین ځنګن مهتاب وی

او دَ مینے په مسیدان کښے — سر بیلل(*) جانان ته تلل دی
دا منځ هنی دَ لیونو ده — مَتول بیلل هم رخه ګټل دی
دلته دوب په ړوګی(۱) جام کښے — دَ کعبے او چت منار !
دلته سابیلل خمار — دلته ځان مونتل(۲) خمار

دا مکان او لا مکان
دواړه جوړ نهادَ ځان
دا جانان او بُت او رَب
زما تنده او ایمان

غنی
خانپور
۱۹۵۲ع

(*) بیبل = بابلل . (۱) بوګی = ورږوکی . (۲) مونتل = موندل .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قانون

زه خونه وایم چه نشته — زه خو وایمه چه شته دے

خو دنیائے ده عجبه — او قانون ئے عجیبه دے

ښکلي باغ د ګل د خوبونو د ګلونو د نورونو — دروازې ئے کله دار وي کله دي کله صلیب

او تخت برو په نا دے یو غلام د د غمونو — چاله تخت د چنګیز وو کېږے او خوبو د غریب

کله سپي له غله کېږي ورکړے د شاهین ښنه وزرونه

کله ګله کې په ویران کېږي د نرګس مهین خوبونه

یو ته سره شونډ وکېږي پټ شے — یو ته پټ شے په صحرا

چا ته خود چا ته بے خوده — چا ته مرګ شے چا ته ساه

کله سترګے د کمترے په سرو سترګو کېږي د باز

کله سور ظالم عقاب شے - په باز راولے شاه باز

زه خو نه وایم چه نشته

زه خو چغے وهم چه شته دے (*)

خو دنیائے ده عجبه

او قانون ئے عجیبه دے

غنی
خانپور - هزاره

(*) وم - وهم.



A .S.K B

# آسره

بنده څه دے ، بے هوښه ځناور دے
بنده څه کنی ، آرام خان له گوری
دے تالاش دَ ده - دَ ساقی خندا
دَ کعبے مناره - ښکلی ستوری

کل منطق دَ ده ، فلسفه د ده — یو امید یو ارمان یو اسره دَ ده
دَ دے لوئی دریاب نه چا پیرزو ده — کناره دَ ده . کناره دَ ده

که ئے سر دَ عرش پورے ولګی
څپے ئے روبے وی دَ غبار په مخ
دا خوږ دے ، دَ ځانه ورک شویدے
دَ جانان په مخ - دَ دلدار په مخ

کل مذهب دَ ده - کل ایمان دَ ده — دا دے رنګ او خندا او جانان دَ ده
دا مکان دَ ده - لامکان دَ ده — دا څه ورکه - څه تورا قصه ده

دَ سبا تالاش دَ پرون ارمان
یو امید - یو ارمان - یو اسره ده

غنی
خانپور - هزاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دَ بُوډۍ تال

تیارهٔ، تنده، روکیدلي          زه لټوم دَ بوډۍ تال
دَ امید نه جوړ وم          کله رنګ کله وصال
زه دَ خان کل مرضونه          خپل حکیم یم دَ کمال
اے نه ما مغرورو یاره          زه خالق ستا دجمال

داچه زه په تالاش لاړم
پوست په راو مقام م وُمنت (*)
داچه زه، تږے دَ نور شوم
سپین ساقي او جام م وُمنت

دایم نه وچه کله کل شم          کله نور کله وصال
کله اور ستا دَ سرو شونډو          کله ستا دَ زنے خال
اے زهادَ مینے جوړے          ستا کمال نه ما کمال
دَ منطق په تور جهان کښے          روک جنون او تور ملال

تیارهٔ، تنده، روکیدلي
نه بوډۍ شته نه نے تال          غني

خانپور - هزاره
۱۹۵۲ع

(*) ومنت : وموند .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دړ په دړ

دړ په دړه خاورے په سر ـ پهاړ پوړ او بهګنوتر
څه څه په سفر ـ کله ښکے کله غر

کله تاو، کله تیاره دي ـ کله سوز کله سقر
کړم تیر خان له یواز ے ـ دچوري په ښان انتر

چه امید له دهوکه ورکړم ـ ویم سبا به وي بل ښان
هر سبا چه رابنکاره شي، ستړے سو مازیګر

میاں بابا نه تپوس اوکړم ـ دَ عمل او دَ جزا
دَ الله دَ مینے رحم په بچورو دَ حوا

که فطرت دَ رب قانون وي، رحم نشته په فطرت کښے
دَ شهباز، زمري وحشت دے جس کړے دیر دهشت کښے

پښتانو کښے دکمال راز، زور دے، ظلم دے، طاقت دے
دا زمونږ رنګین خوبونه څه غرور څه حماقت دے

دا مونږ خان له جهان ګورو د دے خاورے بهر
خکه خکه دړ په دړ، کله ښکے کله غر



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دړد او غم که نور او سازوي ، نو ځيم اېرجن شته دے
خو پے تول خه اروے ، او انصاف نے عجيبه دے

دخزان په شا ولاړ دے ، د ګلونو نه خفه دے
دَ منصور نه بره ناست دے ، پاس په تخت باندې شمر

رندے سترګے دُبت نيے دي ، خاںبيل سترګے نظر
ستا دحُسن ليوني له ، نه شبقله ، نه اختر

ستا د نور وړے جهان کښ ، نه سپوږمۍ شته او نه نمر
ستا عاشق په دړد لړلے ، دَ ازغو تاج ئے په سر

پهار پور (۱) او بهګنوتر (۲) . دړ په دړ خاوړے په سر
کله تاو کله تيا ژده ، کله سوز ، کله سقر

---

(۱)-(۲) - دا خاد بند بهد او نظر بند ے دوه کلي دو ، نور په دے خايونو کښ بندي پاتے شوے يم :- پنبا د جيل ، هريپور جيل ، حيدر آباد سنګ جيل خانپور - هريپور جيل کلب ، غرسر ، تهنډ باے .



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګوډاګی!

زما ویره جنت او جنات زما — زما هوښ مې سرور، مناجات زما
منار د ګرجې(۱) کښې زما پستي — دا د مرګ نه چپېږم زه ژوندون هستي

او د شرابو جام، د زمزم چشمه
دا د خان د نیولو یو دام زما
دا جنون جانان، دا مرشد کعبه
د خپل هوښ نشه کولو یو جام زما

ګوډاګی ما جوړ کړی خپل ځان له دی — سرلبان د یار، عبادت، سرور
ما بند نه اچولی طوفان ته دی — د امید ګلزار او قلا د نور

ما د مرګ فاتح د زوال آقا
د شکست له پوښان مو نښتلي دے
ما غلام له سرو زرو تخت او تاج
مالوګي له مکان مو نښتلي دے

دې زما جنون د اخایشت او یار — دا سرور زما د دے تلو غبار
دا جنت زما د ارمان تصویر — او دوزخ زما د درد و نوخار

زما سترګو کښې رب او ایمان دے
زما د زړه کښې وصال د جانان دے

غني
خانپور

(۱) ګرجه = کلیسا.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مرګ

ساز داسې آواز دے ښکاره پټ کړی پټ ښکاره کړی
تورې خټې واخلي تر ېنه جوړه مناره کړي

قبر باندې شال یو دَ اطلس دَ مخمل واچوی
لا مرګ نې دَ انسان لمحے لمرګ او اجل واچوی

خو مرګ دپردو پوش کړی دَ آدم زوال دَ هوښه ورک
مرګ هغه خزان دے چه ګل کړي دَ ګل فروشه ورک

مرګ ګواه دَ رب دَ مینے رحم دَ انسان سره
مرګ یوه وعده دَ سپرلي شوے دَ خزان سره

ژوند یو ښاغلې مینه ده، دَ مینے ننداره کړی
تورے خټے واخلي ترے نه جوړه مناره کړي

ساز دَ خوانئ ښئے دے دَ مرګ سره دَ جنګ قصه
داده دَ انسان دَ زغرے توره او تفنګ قصه

داده دَ غلام دَ فخر، صبر او دَ ننګ قصه
شمع پتنګ نه دے، دا دَ ستوري او پتنګ قصه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند د آدم څه دے، مینه مینه ده د خان سره

خوارے دے آدم خوارے جنون سره جانان سره

مرګ لویه نیکي وه چه تا اوکړه د انسان سره

مرګ ستا کوله یوړه ګنې و به تل د خان سره

مرګ هغه نیته چه جانان کینوه د جانان سره

مرګ پټه نکاح ده د مکان د لامکان سره

مرګ کښې د ژوندون د دریاب پټه کناره ده

مرګ مجبوره خان له د خپل حُسن ننداره ده

مرګ بس یو ګواه زما د ژوند ستا د جلال

اے عجیبه خانه د تیرے او د هلال!

غني

خانپور



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مینه

مینه حُسن جوړ کړی بیا پې شي مینه مینه
مینه لیونۍ ده، لیونۍ ده مینه، مینه

چرته م داخیال ؤ چه خایشت، خوانی نیاز
پټ دي بس په دې کښې دشوق، عشق او طلب راز

ماد ؤ ایاز ښیشته، محمود ؤ د ښیشت وږې
ځکه داستان جوړ شو د محمود او د ایاز

اوس په دشوم پوی چه شهباز د سترګو نک دي دا
بل خان ته کمترو کړی او خان وته شهباز

لوړه لوړه ده، د خان سر ولوخوب دي د عشق
دا دي د آدم او د حوا د سترګو راز

مینه ځمات جوړ کړی په تیږو کښې د ښیل عمه
مینه په مستۍ، خایشت کړی جوړ د ښیل صنمه

بیا په سجده وتیته شي، د ډیر نه په کلو ونه
مینه حُسن جوړ کړی بیا پې شي مینه مینه

غني
خانپور



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جنت

ډوډۍ غوړې ملا، جنتي ملا
حلوا تب ملا ، ولایتي ملا
په پیسو قربان او سستي ملا
د پلاوو په شوق خوړي پېتي ملا

دا بې عشقه، بې جوشه او مړ آذان | دا چلي دماغ او لړزان ضمیر
د دې سپین دستار د توهین نه | په دې کور د خدای کښې د بت سفیر

ما ته وايي چې څه چې جنت ته ځو
ستا جنت ستا د لوړې ارمان دے
ستا جنت د خوراک او د ښځو دک
ستا جنت نیم پېرس نیم طهران دے

ستا جنت کښې دریاب د شودو روان | پیمانې د وینټي نه برپورې دي
ستا جنت کښې جنون او تالاش نشته | ستا جنت کښې خزې خرې حورې دي

ستا جنت کښې سوز نه ارمان نشته دے
غټې خېټې، لمدې، سپورې شوندې دي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا جنت کښې غوښتل اے بلبل نشته

وارہ حورې، رضا او بربنا هسې دي

ستا جنت د جنون بې خبره ژوندانه      ستا جنت یو او بنیادانو تصویر د خانان

ستا جنت د شهوت او د تندې دکې      ستا جنت ستا د لوړې د تا او امکان

دو دي غرېب مُلا، جنتي مُلا

په پیسو قربان، او ستي مُلا

راشه وا وره ته چه جنت څه دے

د غني جنت، د غني مُلا

ته په جنت کښې مزې د دنیا لټې      د حورو ستر کو کښې د موخندا لټې

ته په آسمان کښې وسپه د دیوان لټې      او په تیږو کښې سپوږمۍ امکان لټې

لیونی نه شوې ته خمار او مستي نه پېژنې

مستانه نه شوې دلربا پرستي نه پېژنې

تا د دنیا د پاره مینه د جانان ورکړه      مجنون په بیعه بېخودۍ د جانان ورکړه

لاس دې کړه او د بادشاه لاه فقیر شولې      یا زما خان و دنیا د لګه ونه پیر شولې

ته وله خیته خیته شوې مستي او جانان نه پېژنې

ته وله زیږه پیره شوې مردي او میدان نه پېژنې

زما امیده: تالي جنت او تکړې خوره شوې زما

زما سه دا ده: ته مرې وږی خپه خوره شوې زما



A .S.K B

قسم په هغه رب چه ته نے د خلقت دعوٰ کیږ

چه تے دَ حورو دَ غلمانو، دَ جنت دعوٰ کیږ

توره را واخله توره پوره که میدان ته ځه
لوګے لمبه شه په مستے کوږ جانان ته ځه

کنی دو بیږے په مستی او په حلوا کښے مُلا
جنت دِ بانلو دَ تیه په و سپوره اکښے مُلا

دعوے کړه ده دَ لوږے نه اے موږه مُلا

تپه هر شپه دِ دعر مرږے اے زوره ملا

دَ سامری دَ زور سبنکه وفقیری دِ موسیٰ

دَ زر پرست نه یار په پست بنده نا جوړه مُلا

---

قسم دَ حورو په مستی او په خندا دَ یار

قسم په شرنګ او په نسیم او مشغولا دَ یار

قسم په سترګو، په خاپشت او په نخوا د دلبر

قسم په ساز او په سرود او په ثنا دَ یار

ته مسجد کے زر دو ته کړے ماتوم دَ یار اخلے
شعر کا نه کړے په بدلکښے کلسانا اخلے

راځه چه زه درته جنون او مستی او بنایم
راځه چه زه درته محبوب پرستی او بنایم

سرداری نه کیږی ګی توره ګے مستے نه بغیر

الله لیدے نه شی دَ حسن پرستی نه بغیر

مسکنی قلندری دواړه سره غواری
دواړه مستی اخوانمردی خندا غرور غواړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته خو جنت کښې مزې د دنيا څوړې

بوربناڼه حورې او تر سکونه حلوا کوړې

نهر د شاتو او کناره وال د شرابو ړک ‌ ‌ ‌ ‌ غلمين غلمان او مينانک د کبابو ړک

ملا چه شوناړنی[1] نو خو ربه به څه شنکلوم ‌ ‌ ‌ ‌ چه قالمې[2] خادر نشي نو زړه مې ربه به څه مفهوم

---

جنت يو خيال دی د عشق د مستۍ يو رنګ

جنت يو شړنګ د ګنګرو د خواښتې غوړنګ

جنت نازک دی د ګل د ارمان هسې

جنت خيشته دی د زړه د جانان هسې

جنت د رباب يو د مينې او شان دې

مړه قطرو نه سپوږمۍ ښاغلې جهان دې

غني

خانپور



---

(۱) نئ : نوی . (۲) قلمي : کولي .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شمع

محفل له شو رڼا شمعې له سوز ورکړل شو
او چا له رنګ محمل کښې پټې ستر رڼا پایمال شو

شو یو له د ښکار مستي دلته د چل د دام
او بل ته د زړه زوی نصیب دام کښې ګیر شو

شو یو له سر ګلونه، ما ښانګو او جامونه
او بل ته غم د دار او لوږه تنده زړه بدل شو

او کوم انسان ته چې بادشاه د ښنا ورور دے
دے که ډیر زور وکړي تر ونه شي د خپل ځانه

دے د خپل وجود د فطرته لوئیدے نه شي
سل ځله که جمع کړي کلونه د ایرانه

دے د خپله ځانه د جهانه رو کیدے نه شي
کله د منبر تاو شي کله د جانانه

څه وکړي غږهیب دا په لاهور قلا کانو بند
دے که ډیر زور وکړي تر ونه شي د خپل ځانه

دا څنګه ستا حساب دي ته تلے په کومه تله
د رڼا نه د رنګ تول او د ګلاب تپوس د شعله

دا څه شو رنګ سپرلي . ګل له مرګ زړه بدل شو
محفل له شو رڼا . شمعې له سوز ورکیال شو

غني
پهار پور



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جانان زما

نه په تا څه احسان م د مینې شته

نه په تا څه احسان د وفا لرم

او بادشاه د خندا او ژړا ته نې :

خو دا ژیم چې خندا او ژړا لرم

ستا د سترګو ښایست د ارمان زما — ستا د رخ ملک، د حسن جهان زما

دا ستا شونډې چې ښکلې او نرمې دي — دا د مینې کمال او امکان زما

دا چې زه ستا د کوتو تصویر یمه — دا ستا ګوتې جوړې ماته ځان زما

دا چې ستا مرکرتیا[1] ته متاڼه[2] یم — پټ د دې کښې رحیم او رحمن زما

زه به پټ ستا د مینې د جاله شم

خو بهر د دې جاله تیار دی طوفان

زه به پټ د خپل سوز د کماله شم — خو به زده کور ژړا ارمان

بې پروا د جنون د وصاله شم — خو مستي چې نې نووي څه انسان

څه خلاص ستا د زلفو د جاله شم

چې م کور صحرا دې یا کور طوفان

که رقیب د تیاره روکیدي وې — ما به تا له رقیب کښلي وو

که بنا مارم علاج وې د زخم زما — ما بنا مار به طبیب نیولے وو

(۱) مرکرتیا = ملګرتیا. (۲) متاڼه = محتاج.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

که بل ګل کښې پیغام دَ بهار وے دا　　　دَ ازغو ډک به هم ما کړے وُو

ما له بس ستا نظر کښې آرام دے

ما ته پروت ستا تلاش کښې دوام دے

نه په تمام احسان خه دَ مینې شته　　　نه په تا خه احسان دَ وفا لرم

ستا دَ ژوند او هوس معجزه ده دا　　　چه ځواني او مستي او خندا لرم

دا دے ډیر بے پایانه احسان دَ رب

دَ ګوګل په پنجره کښې هم لرم

بادشاهي دَ دے لویه به کمه وي

چه ارمان دَ خپل ځان مینه ستا لرم

ستا دَ حسن جهان کل جهان زما　　　ستا ارمان کښې خندا کړي هر شان زما

ما نه تخم بشم، پانه شم، ګل شمه　　　نه پتے، نه بهار، نه خزان زما

کله شے محبوبا دَ خیام دَ رنګ

کله سوے شان هنګ د منصور دَ چنګ

کله خیښت او آرام، د صبا امید

کله توره شے تیغ شے غم او جنګ

کله مینه شے، رحم، بښنه شے　　　کله زور او زیاتے او غرور او ننګ

ستا هر رنګ یو بے خوده جهان زما

نه پتے، نه بهار، نه خزان زما

غني

بهګنوتر



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قیدی

څوک د زړه غُلَولو نشته
خان له زړه غُلوم په خپله
خان له ناست یمه خپل غم ته
د خپل غم وایم بدله

چرته لوے تیر محفل له
د مستئ او خندا ځمه
چرته مړه شمعه را اخلم
خپل مشال پے لګومه

دے تور تم غم او افسوس کښے
زه په یاد د مینے پایم
سوے زړه ته قیصے تیرے
خو ځوانئ رنګینئ وایم

غني
حیدرآباد جیل



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غیرتي

لا لهٔ مِ افلاطون دے د تقریر او د تکرار
لا لهٔ مِ پاس په مستۍ چې کوي د نهرې په شان غړار

چه وخت او بخت ئې خپل وي هم ئې خپل وي تعانیدار
بیا بس د ده یلغار دے هم په ښار هم په نوښار

خو چه وخت د غلبلے شي لا له مړاوي کړي غوږ نه
قُرقُرهٔ ئې ملام شیري په خوارهٔ وُلګي (*) د ستونه

مرز دے بے غیرتهٔ پټ په بله منه چغیږي
کُترے د کشمیري دے په کوته پاس منه غپیږي

وزیر چه کلیوال وي دده خپل حکم چلیږي
چه پوره شي ممبرته د نوچني هسے کډیږي

چه غم شي او تکلیف شي لا لهٔ ئې د بے بے ترخ له
وای راشه تحمل ئې منه اوس تیله وړه کوه وخ له

سرپټ کړي د بے بے د لمن لاندې په ژړا شي
وَئي الله د ښیږ غوټه: راروان دي اوس به راشي

بي بي دانۍ خاوند ته. که دا ستا بلا زما شي
دا لاس دِ ولے رَپي، په سالګو دِ ولے سا شي

(*) دلګئ = دلګرې.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا زیرړې به لینګو باندې دي بنګته څه روان
پرون دِ خواره دیرو جور خورلې شا توتان

لا له وائی بی بی ته دَ دے نوی وزیر تره
خو ستا دَ مور، دَ خور، دَ زوی تر بور دے دَ نیکه
ورځم چه رالہ وکړی دَ وزیر سره کهاته
زمانه خو زوریګی(۱) دیر زیات دیرے دواته

ورځم چه دَ وزیر سره اقرار او زبان وکړم
او ځان له دَ دے شرنه دَ توڅه سامان اوکړم

لا له غریب ربان شی مراوے ځت مراوی غوټونه
وزیر ته دیر په مینه تعظیم وکړی سلامونه
بیا وُ خوری لس طلاقه دوه دیرے سوه قمونه
دَ ئی جناب ماته معلوم شو هیله ستاسو صفتونه

زمانوم هم کړو لیک دَ تابعدار و رجسترکښې
داسرمِ شو قربان ستا دَ ملګرو په لښکرکښې

وزیر وته مسکے شی وئی سنه وُ لیکه بیان
چه اوسه پورے سپے ومه، خو اوس شومه انسان
لا له غریب په بلهٔ دُوئی(۲) دین غیرت ایمان
زر لاس په نامه کیږدی، وئی قربان شمه قربان

بیان؟ یو بیان څه دے لس به وکړم بیانونه
جناب ستا په صفت به اوکړنګومه آسمانونه

---

(۱) زوریګی = زګیږدی. (۲) دوی = دوحی.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما بنام ریاپه ووانی چه یو بل غریب د وس شو
یو بل د شهباز زوی د جنګه وتښتید تپوس شو
یو بل ګلزار ایرے شو . ورک شو خاورے شو بوس شو
یو بل پښتون شو سپک روبنے د پلار نیکه ناموس شو
یو بنګالی سر شو تیت یو ننګیالے پښیمان په ننګ شو
عجبه ناکرده شوه چه پښتون په پښتو تنګ شو

نامرده لاله واوره یو خبره د غني نه
پښتو غیرت او توره ، په پښتو او غیرت مینه
دا هیڅوک بیا له نه کړي ، دا هر څوک ځان له کوینه
دا ژوند د د روح ژوند دے . لکه ژوند د وجود وینه
دا ځکه فلسفه ده چه خلیل ته نے اور که نور
دا ځکه مست شراب دي چه څکلي و منصور

ارمان دے غیرتي چه عجیبه د سودا وکړه
د خپلے حیا غل شوے د خپل کور د غلا وکړه
چه شپه شوه د معراج تا د تهیزونو دعا وکړه
چه وخت د خندا راغے تا شروع په ژړا وکړه
یا خیال د بادشاهۍ یاد شروع کړے بنګړي واتے
لاله کني نه هر شی ، خوزاري نے شی تل پاتے

غني
حیدرآباد جیل



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشې

۱۳۶۴

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْم

# تسلي (۱)

د تهمت نه په جهان کښې څوک خلاص نه شي  
چه آسمان وُی کله کله وریځې

چه کلام صلوی په میخ مړ نه چلیږي  
چاغلي دي تښتو شکونه مزے

د قالین برابري به کله وکا  
که هزار رنګه شي رنګ بن او وربوزے

که د میچو په زیرې کښې ته یو لوند نے  
کمان مکو چه تمبه او نه سوځے

د مړدانو کار د پلنګ خواب په سوکړی  
هسې نه چکه ژړا لکه د ښځے

چه وخت راشي منبه زړه د آتش کړه غني خانه  
خوږ د قهر به لړمون کښې پټ پټ سوځے

آبي جهاز - بلهیرا

جولای - ۱۹۲۱ ع

---

(۱) دا زما اولنی شعر دی چه د څوارلس کلنۍ په عمر کښې لیکل شوی دی.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سوال

نه م ستا دانړۍ شونډې دي پکار — نه دا زلفې دې ول ول لکه ښامار
نه دې ښتې په شان د ګل غوړۍ غوارم — نه کسې سترګې نه دې د خمار
نه غاښونه دي لعلونه د عدن — نه ننګۍ دې نه غېږه ده لکه انار
نه پستې نه سرینې په شان خبرې — نه وجود لکه د سرو ونې وضعدار
خو یو شې راته وښیه دلبرې! — دا لاله په شان زړګې غواړم دلدار

یو ورو او ښکلې چه د غم او محبت وي
په پلکونو به لعلونه ترې کړم زار

آب حیات . ملمډا . جولائی ۱۹۲۹ع

# خانان

عجیبه دي دا خاني عجیبه دي دا خواني — اې پښتو! پوه د نه شوم په ورا به ورداني
دا دلاسې تو صنرد چه خېل سرور وسبې مغمه — پېرئ ته خوهنک نه چه کړلي پیزوانۍ

چه ټکې نې پرې پړ وي، په څېره کښې ئې زمري وي
ناست د مجبور په تخته، د خانانو نېي ثاني
واني پلار م بهادر او نیکه م سکندر و — چه خانان سره ترو کړې بس هغه شي اماني



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

په غریب همسایه نه وي، یا په منځه زورور دوي
د جنګ په وخت کښې پټ کونج ناست وي، خو د جنګ ګي ارماني

غني: نه د دوی دوا شته، نه طبیب ورله ورتلې شي
د خدای قهر پرې لګیا دې، چې ژر ژر یې کړي فاني

## افسوس

زما ستا سره یاري ! وه د مار سره خواري
ګلابي ننګي ستا جانه وې سکروټې انګاري
سوزوله مه زړه یې مه د ښتیا زړه وم آزاري
په زړه ما خندولې ستا سره سترګې خماري

آخر ګل م خزان یووړه
عبث ما وکړه خواري

## راک

په تکلیف کښې دیو دوست تلګو آواز د ټټو لوخو د غم بنګلی ساز
سوزوي زړه م یو ځل آسمان او ته وکړه فرښته تر نه چل زړه کړ پرواز
کوږه کوږه دا شراب زما او ښکو هر یو کوټ لړي سره هم لوی بیان

بې پروا زما د عشق په خندا
آ د خاورې کلمه: ته په څه کړې ناز



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کږدۍ

ستا کولۍ دې پېژنګیه: زموږ سینې
زموږ وار به یو ورځ ودینې وینې

داستا حال د کمال به زوال شي زوال
د به کړو د غیرت د جرأت نمونې

دا زموږ بچي چه نن هر زارۍ نن
د دې اوبنګو په ځای به څي ستاسو د مینې

او به رو روشي د ب بیا لاهو کړي وطن
داسیلاب به یو ورځ لاهو کړي ستا چمنې

د قسمت د غونډ لاندې نن زه سبلته
نن زموږ جګر سبا ستاسو سینې

# حال زما

خدایه زه یم بد نصیبه، که جهان کښې وفا نشته
غم م تا ودزه ما غریبه، یو ذره پکښې سا نشته

د کجهان راته صحرا شو، آباد ملک راته بیدیا شو
خدایه داکوم رنځ زما شو، زه مجنون او لیلا نشته

چه جوړې جوړې یاران، ما بنام سیل له شي روان
زما ملګري بس ارمان، بې دد خوږ زما نشته

نه معشوق خوږ زړه لرمه، نه معشوق زه د چا یمه
هر یو دم یم بې همه، زما زړه کښې خندا نشته



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پېژنوم زه نوي دوستانو، هېرکړم زه زړو یارانو
زه زخمي کړم ظالمانو، دے پرهر له دوا نشته
خدایه: تا ته کوم سوال، تا ته وایم د زړه حال
روغ مې کړے زړه کې جلیل، بے د دے مې دعا نشته

## که

که مې سر د زړه صلاح وي او دیلي — زه به ناست وم په پېرس امریکن نه!
که زما خپل پیدایښت کښې څه اختیار وے — زه به وم آزاد چرې، خان پښتون نه!
....، که قبول الله ماته سپاره (۱) کړل — زه به ځاے کړمه دوزخ خپل وطن نه!

دغني د زړه که یو رګ مې ژوندے
ده به کړل ویروونه شعر او سخن نه!

## د وصال مزه

د وصال مزه که مانه وے څکلے — په فراق به تر ازله وم خوشحاله
اول ړوند وم تا بینا کړم بیا دې ړوند کړم — څکه نه کوي ژوند مزه اوس ماله
چې په شا تو باندے وپائي عمرونه — شمکي به مزه ور کاندي بیا چاله
شه بخولا د خدای د پاره زما کله! — خوږ زړګی مې د ملائے را وړے تا له

(۱) یعني ماته د سپارل.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

گلستان د خوشحالۍ کښې تل تا خاندې — ته خبر نې د غریب بورا د حاله
یار م را خیست رقیبانو، لیونی شوم — عبث خلک را ولي طبیبان ماله
دا مرض نه ماله زړه کله وینځې شي — ما په ویښو دې لوې کړې څو څو کاله
دا تل دی چه دا ور علاج په اور شي — نه جوړیږم نه جوړیږم بې وصاله
چه آخر په ژړا خوار غني رخصت شي
ورله وشلوئ کفن د یار د شاله

## ثنا

چا ته غر کړې او دی چا ته پوله کړې غر — هر ذره تا ته معلوم هر راز تا ته ظاهر
د کافر ته آقا، د مومن ته مولا — ته جیزس برهما، ته یزدان ته الله
لارې ستا د محل نږدې خو اوږدې د خوک ورې — مسافر ستا دي، هر امت هر سرې
هر هوائي لا ترنه ما نیغه، ستا ده خطا — خوک دې د لرې خوک دې د دیرې خو د ټولو مجمه بنستیا
که انسان دې پیدا، بیا پادشاه د دنیا
مرحبا، مرحبا، مرحبا، مرحبا

## مورې

چه غم نه م د زړه نه شي چاپیره — او د خلکو بدخوئي د حده تیره
ستا موسکئ ستر ګې م تل وي مدد کار — ستا یاد یاد د هر بیلې د کړې ما نه هیره



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بانبیرے

بیا شروع شولې په ما د غم چپې | بیا به خوب بې آرامه زما شوې شپې

یو خوا رند یو خوا ساقي یو خوا شراب | بل خوا کوټ کښې زاهد اړوي تسپې

په لوګي د هغه اور وارو تو دېږي | چه عالم ئې کړو جلیا تپې تپې

غني: څو به د ارمان په لمبو سوځې | څو به وي دا د فراق سرې تپې

د ځوانۍ اختر دې لا نکړې خه کړې

ښه به وي چه په دیوال ئې وتپې

# بهار

کړ شروع بلبل چغار | او، بوډا فقیر ستار

وئ (*) غږ لړې یو تار | شو موسم د نو بهار

ښکلې ښکالې سبزه زار

شو موسم د نو بهار

غوټۍ ښېغلې کړې خندا | عاشقان کړې مشغولا

بې خبره د دنیا | څنګ په څنګ سره دیار

شو موسم د نو بهار

ګل چمن نه نار زار

(*) وئ: وئیل.



A .S.K B

معشوقې شولې مغروره ... سترګې دې کې تل د نوره

داشنا سره مخموره ... په مستۍ کوي رفتار

ګل چمن ترې نه زار زار

شو موسم د نوبهار

شو بدل جهان د رنګ ... رنګ شو تول جهان په رنګ

پښې دیار نې چنګ په چنګ ... زړه زما د ګلزار

ښکلې ښکلې سبزه زار

شو موسم د نوبهار

سره ګلونه شین آسمان ... پاک ښیسته(*) ځمین آسمان

لږ شانتې رنګین آسمان ... یا سپوږمۍ باغ دیار

ګل چمن ترې نه زار زار

تول وطن ترې نه زار زار

کوره سترګې دې ستورې ... یاره! راشه په دې لورې

واره غلې غلې ګورې ... شو موسم د نوبهار

ښکلې ښکلې سبزه زار

ګل چمن نه زار زار

سپوږمۍ تول دې ګډیږي ... او دستور دلاس پرقیږي

اوس ښکاره شي اوس پټیږي ... دوړه څخو په ګلزار

---

(*) ښیسته : ښایسته



(c) ketabton.com: The Digital Library

A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلې ښکلې سبزه زار
شو موسم د نوبهار
غنې ناست د سینه په غاړه — د غمونو ترې تاو جاړه
څه په کړې سپوږمۍ واره — څه فقیر څه نې ستار
ښکلې ښکلې سبزه زار
ګل چمن نه زار زار

# بې دم چا دلبره

مخ دې تابانه ستا — ستر ګې روښانه ستا
حسن بې شانه ستا — زړه دې دلګیر کړمه
مابام د سینه په غاړه — چهره دنیا وي چاړه
ته وسنبیسته ولاړه — ګل دې په زیر کړمه

* * *

اې دم چا دلبره! — اې بې وفا دلبره!
شه بس زما دلبره! — ظلم کول وران دې
غم نې نږدې غم لرې — ستا سترګې کړې خبرې
خوموږ سنبیسته بشرنې — تا ته کتل ګران دې

* * *

ګران دې زړونه دې شو — دزړه مارغه ګیر شو
لاړو بهار تیر شو — عبث فریاد کومه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نورو یار شو لے ته　　په بله لار شو لے ته
منګار د دیبار شو لے ته　　خو به دے یاد کومه

* * *

زړه دے صفا د غنی　　قصه ربنتیا د غنی
مینه بل ما (۱) د غنی　　جانه! اتبار وکړه
راشه جانان شه ده ده　　ور وکے خان شه ده ده
یو ورځ میزبان شه ده ده　　دیر نے ملا ور وکړه

# غزا

مسلمان به نن غازی وُ　　که هندو باندے غزا وُ
وئی (۲) کښے ته ډېنګ نه یم　　خو مولے تیر ته واوه

# خان

خان راخیستی دی ملا پسے خوبا رے　　خپل کور یم کړه خه پردی غونه زارے
بل ته وائی دحرص وباسه غا منبو نه　　او پخپله سوا به لاس تیر وی دارے
ملک وطن پخپله وران کړے بل بدنام کړے　　ملایان دے کړله فاغان خوار خرارے
چه پخپله به بیه قام خرخوے ته　　بیا به کوم مخ به ملا کوے پیشارے
چه پخپله دے مخ کال کښے نی (۳) ونخلی　　بل ته صه وایه زړګیه! چه پوارے

---

(۱) ویره.　(۲) وائی.　(۳) نه وی.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته اول د صاحب پرېږده سلامونه بيا په ده سره سايه پرېږده په ولاړے

د غني نصيحت واوره اوس خان سم کړه

خو لے لمنه راخې بيا بيا تو کلې لاړے

# اتفاق

ملا وائي مغربي تهذيب کړي لګی وکيلان ئې مونږ ته غواړوا اصلاحات

د مفکران وائي ها ئ افسوس بار لا موکړو سرکاران وائي چه لېن تيکس به کړو مونږ زيات

بوډا پلار وائي فيشن د ځوي کار دے کالجي زوي وائي په کار دے د مساوات

دنيا وائي علم لار د ترقي ده منکل وائي د ستا ولپاره نوبقراط

باچا خان وائي آزاد داخيل وطن کړي ملکان وائي اول ورا کړه حوالات

غني وے که ما د زړه خبرے وړے

پښتانه به م په سر لرګی کړي مات

# انسان او فطرت

زمانه زړه د خوشحالي تازه چمنو چار چاپېره ترې باغچه د ياسمنو

دلته زړه که ملته سوي بورا کان دو يو خوا کوت کښې په خندا شنيکي لوليان دو

وے په منځ کښې فوارے د اميدونو ديارانو د دوستانو نبيسته جنو

خوک به ترترے ترلا په د تيزي نه خوک به پوته تله شو د خپلخانے



A .S.K B

عزیز دا چه م طرف ته خوشحالي وه
خوشحالي که خوشحالي وه د مالي (*) وه

خو خبر وم چه خزان به م برباد کړي
دا زما همیش خندان زړه به ناښاد کړي

اې ظالمه! کمبخته! آبې داده!
اې زما د خوشحالۍ د سر جلاده!

دا بنیسته بنیسته ګلونه لا غوټۍ دي
په دوی مه خاورے کوه دنیا آباده

خدایه! د پاره خدایه د پاره رحم وکړه
دا بنیسته بنګلے وړه باغچه زما ده

# غم

که زه نه یم خوشحالي بچیرته وي
که خزان نه وے مالي به چیرته نه وي

که بلا نه وه لا اخوښ نه بسوانه وي شي
کمتیا کې نه وي کالي به چیرته نه وي

دا الله مهربانه قدرت د حکمت رنګ دے
دا انسان عقل لا نه پوهیږي ملک دے

# داروش دے د دنیا

لندن

چه تر مخ شي د چا لړے
شي د زړه نه هم فنا

ګیله مه کوه د چا نه
داروش دے د دنیا

د دوی لاړے م دي یاد دے
ما بنام تیر شو اوس سبا

بس ما نور غولولے نه شي
د زاغانو مشغولا

(*) مالي = مالیار، باغوان.

ورورہ : کلک خټک شوم
چہ راپورے داټک شوم

دقسمت پہ تمال تالئ خورم
کلہ خہ کلہ راخہ :

ھم پښتون یم پہ نسب
بدل اخلم دھر دب

چہ زړے (۱) میر شوم زہ بے میر کړم
دا روش دے د دنیا

لنډۍ

## ازبیلتہ

زما میر بہ نہ شی ستالبان مبنیستہ
ندسہ زرد و پہ شان زلفان بنیستہ

نہ خند ستا غلے غلے زما خوا کښے
ستاشنو سترگو بہ کہ تہ لجان بنیستہ

فرښتہ بہ وگدورے ، د شپے حورے
چہ دیدن لہ بہ دے جور مرخان بنیستہ

ھغہ لاس بہ لاس زمونږ د باغ سیلونہ
ھغہ شین دے ستوری د آسمان بنیستہ

دا تل دی چہ ختہ تیر شی ھغہ میر شی
خو ما میر نہ کړے شو ستالبان بنیستہ

خدایہ ! بو خے دا خزان چہ بہار راشی
بیا زمونږہ د مینے شی جہان بنیستہ

لنډۍ

## زوراور

اوہ دغہ م شو سپین دستر گو تور
وسوم خادر شوے ایر شوم لکہ سکور

---

(۱) زہ ئی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

اے بلبله! که ژړا کړے ماله راشه — گڼے خه که خاندے وخندوه نور

ستړے لوږے پتنگان وے خلکه! — راشئ ژکورئ زه نیم سوے په اور

لا لمو شهید ستړے کړے ننکته — بورا ولیده را پرېوا ته نسکور

غټے سترگے د نرگس او نبکولا هو کړے

په لمبو شو د مور دو مړ شوے اور

لنډن

## د توبے فریاد

چاکړو خرڅ خپل دین ایمان په جینکو — چا په مال چلتئ په تمه د روپو

چا بدلکړ په هلک چا په شرابو — څوک ناسے د مولخلی په تسپو

مونږ عاشقانه کړل په نومونو لقبونو — د صاحب د پنبو په ځای مو وتپو

اوس نو مونږ نه شو خړے نه بکلولے

تش شپیلۍ ته لگوو دا (۱) لکه د سپو

## جته

بے تعلیمه بنځه غوا ده — سخر کتوله بے بها ده

نه ورانیږي نه سمیږي — بس پړشي یوه بلا ده

خولے ئے ژرنگ نه ودرېږي — د چڼو مشغولا ده

---

(۱) دهو.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړی ئی وران لوړ ئی نارے — خود غواړے څه پروا ده
یو وا ده د خدای رحمت دی — یو طاعون دی یو وبا ده
په کالونه ښکلے کیږی — دا بد خویه دلبر باده
په کیلونه سترے کیږی — تل ویرونه دی غوغا ده
فلانے دا سے فلانے دا سے — دا ئے کار دائے سودا ده

وائی غنی مین په غوا
چه دروغ دے که رښتیا

## خرمستی

ماسام شو له ما نه نیمه لاره کښے شوم پاتے — خوانی م شوله مراد د بیو یاره پرے شوم پاتے
یلما به خندے وجونے ښکلے سرے بلبلے — بیا شاخیل شومیم (*) شلیګی تبل ته غږے
ستار شو تا ته په رډ لوړے دریاره پرے شوم پاتے — ماسام شوله ما تینه لاره کښے شوم پاتے

وه لویه م سینه م اینه سکه چلبانے
اوس ستړی مسافر په لوی سفر څه یوازے
ستی شه دا مستی کړه کاره پرے شوم پاتے — ماسام شوله ما تینه لاره کښے شوم پاتے

یا الله الوتمه پر قید مه او ورم اور
سپیره پاتے ابرے شوم په زړه سوے په یخ تور
شه درک دا بود اتو دیغ د پاره پرے شوم پاتے — ماسام شوله ما تینه لاره کښے شوم پاتے

---
(*) دیم ، دام



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ترانه

کړم به خپل وطن د ټول جهان د ننداره رو　　　ملک به کړم آزاد
نه جوړیږي بې نما د وینې دا دارو　　　تل به وي ناښاد

یا چې ځان قربان کړو　　　په وینو ئې سم ودان کړو
یا چې ئې سم جوړ کړو　　　یا چې ئې سم وران کړو
څو چې بیائې وینش د انقلاب کړو په نارو رو　　　هسې شو برباد
کړم به خپل وطن د ټول جهان د ننداره رو　　　هسې شو برباد

واچوئ نه یستمورد ئې (۱)　　　سره په وینو سره ورد ئې
کوری مونږ ته خپل پردي　　　نن به ښئ ښکاره مردي
ځان د خند انګرانئ ئې تورو لا رو رو (۲)　　　دا وخت دی د مراد
کړم به خپل وطن د ټول جهان د ننداره رو　　　ملک به کړم آزاد

څه به کړم بې ننګه قام　　　څه بکړم بې ځنګه قام
وینو ګنې ننګ بنګه قام　　　څه دی د بې ننګه قام
یا به پړې لوګې شم یا به ئې جوړ کړم بې دار و رو　　　دا وطن برباد
کړم به خپل وطن د ټول جهان د ننداره رو　　　ملک به کړم آزاد

---

(۱) لباس، دریشي. (۲) مخفف د ډلاور.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دعا

خدایه ستا دغه دنیام نه ده خوښه — مال دې راکړه بخیل لوی جهان کښې برخه
چه کوم ځای کښې بې ګناه ګناهګار نه وي — چه کوم ځای کښې زنځیر د اغیار نه وي
چه کوم ځای کښې وي بې حس نه احساس — چه کوم ځای صبر زړګی وي لوټ لاس
چه کوم ځای کښې فریاد نه اورم د کونډو — ماشومان یا په ټوکړو پسې په منډو
چه کوم ځای کښې نه مزه شته نه قانون — نه عشق شته نه وصلونه نه بیلتون
چه کوم ځای کښې واړه ستر نابینا وي — چه کوم ځای کښې یوشان نن پرون سبا وي
چه کوم ځای کښې که بادشاه وي که ملنګ — یو ئې تخت او یو ئې تاج یو ئې پالنګ
چه کوم ځای کښې مال اولاد دوستي بیا وي — چه کوم ځای کښې نه کاروان شته او نه لارې

ستر سترګې مې کړې پټې یا الله
زما خوښه نه ده ستا دره دنیا

# زړه او سر

نن بادشاه سر په جنګ شو لوړ وزیر — غصه عقل شو په لار د ضمیر
ورته عشق مه کوه دا پیغام دے د مرګي — زړګی وې نه! عشق آرام دے د زړګي
دا د پاک الله صفت دے — د ده نور د ده رحمت دے
دا په دے محکمه جنت دے — د هغې جنت نعمت دے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

داله تولولوی دولت دی　　　دابانی د شجاعت دی

بې له دې به جهان سپوږ وي

بې نمکه لکه کور وي

سړی:

چوپ شه چوپ شه اې نوکره د بتانو!　　　اې غلامه د تورو زلفو سرو لبانو

تورې زلفې دې د یار د غم تیارې کړې　　　سرې لبانې د دوزخ کوره د شیطانانو

د ګنا مار بت په دې کلو کښې ناست دی　　　له جنته غورځولې دې انسانو (۱)

لیونی دې کړ مجنون فرهاد دې ورک کړ　　　بنارونه دې کړې تباه د بادشاهانو

دې بدنامه زلیخا په ټول جهان کړه　　　د مغولو کور د دې د لاسه وران و

چه زما سره څوک مل وي تل یادیږي　　　څوک سقراط دی څوک بقراط دی څوک لقمانو

عمر څوک دی هارون څوک دی مامون څوک دی　　　له هر چا ولې باشاه (۲) لوی سلیمانو؟

عالمان پیغمبران زما دوستان دي

عشق دې کار د لیونو یا ملنګانو

زړه:

مکره لا یې د ځان نه دي په کار　　　عطر وایي خپل قیمت چوپ دي عطار

راته ښکاري ته ړوند په بینا سترګو　　　پوهیږې خو کړې مکر ته مکار

ته انسان ته ښیې لاره په جهان کښې؟　　　د جنت انسان ته مینه ښیې لار

---

(۱) د قافیې په لحاظ جمع او مفرد املا په یو شکل ولیکل شوه. (۲) باشا: پاچا، بادشاه.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د آدم نه دې راز پوښتنه وکړه — تول جنت یې کړ په ده باندې نثار
یا تپوس ده ارني موسی نه وکړه — لا یې هېڅ وه پوښتنه یو ورځ د حرا غار
د مجنون یا د فرهاد نه سلا واخله — یا منصور ته وایه ولې شوې په دار
منصور ځان کښې موسی طور کښې نور لیدلو — پښه کوم لیلی مجنون کړ بې اختیار
یو معشوق په بل بل رنګ په بل بل باس کښې — خندوي او ژړوي هزار هزار
جلال یو د جمال یو دې کمال یو دې — هر عاشق یې وینی څوک کښې د خپل یار
لکه څنګ د نور په زور سپوږمۍ بلیږي — دا ښکېږي معشوق نور د رب غفار

څه که خلک لیوني غني ته وائي
ویرنه پیر غني خپل یار م نور دیار

(اتمانزی)

# کونډه

کونډه ناسته په ژړا سر ټکوي — چه زامن یې په ګولو شو شهیدان
کور یې کور شو تیاره دیوې یې سرې شوې — کور کانو کړل فنا بنیسته ځوانان
د ژړې ډېرې بچي سر ته ده ناسته — په ویرو نو لړزوي ځمکه آسمان

اې زما د کونډې مله لوی خدایه!
اې منصفه ازما د انصاف خدایه!

رحم وکړه په سپین سر تا نه ژړېږم — دا زما روستي ګلاب رانه مه بیایه
دا یو څانګه زما د تالا باغ ده — دا لالې زما مه بیایه له دې ځایه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور دې ورک کړل په کولو د کونګانو | دا زما ورو ستي بچي پرېږده اې خدایه

دا زما د سوي زړه یو قرار دې دې

که نه اخلي نوجوان خان ته مه وایه

دا زما د کور سره ملایوه مسا ده | که نه بیا ماتم لاړ د کوروبنا یه

الله رحم په سپین سر د بوډۍ وکړه | مرګ راغې خلاص ئې کړو له ګریان

دبچي په سینه ساړه کړه عاجزې | بوي تر لاړ تش ګل شو پاتې په میدان

په آسمان کښې فرښتې په ژړا سره شوې | په سجده پرېواته ټول پیغمبران

## دعشق نور

دآسمان د سوري لاندې | او د ستورو مشغولا کښې

دیخ سینې په غاړه نلست ژو | دوه یاران مشغول سلا کښې

د سپوږمۍ زړه شو خوشحاله | په خندا ئې لاس کړ پورې

دعشق نور ئې مرخوا خود کړه | په بلبل کښې په لالا کښې

خوشحالي وزرې وکړې | چه ذره د باغ سیل وکړي

او دا دواړه یاران بنګل کړي

د سرو ستورو مشغولا کښې

( اتمانزی )



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اې زړه

اې زما د زړه بلبله ولې ژاړې؟!
ولې خفه یې خپه خپه شې غواړې:؟

څه دې پلړه د بوستان د عشرت پرې بندو
څه دې پاڼه د غمونو لتې (۱) جاړې

دا ته ښکاري جوړې بیا نه شیل شوې
خفه نه وې نغمې کوټ کښې ولاړې

دا ته څه وې؟ چه یورپ کښې دلبرې
د رقیب یارې کړه جوړې چې ته لاړې

دا یورپ دې جینکو کښې وفا شته
بې وقوفه! ته د مړو مستي غواړې؟

(اتمانزی)

# ته او زه

ته د مېنې د خوبونو کشره نې
او زه د خپلو مشرورو ډېر یمه

خو په ښایست د ټولو مشره نې
ځکه همیش زه پروت نسکور یمه

ته نې ګلاب په شکل او فطرت
او بلا زه یک کیکر ازغې یمه زه

خوږ د ګبین نه خوږ دې ستا لذت
هسې بې خونده مزې یمه زه

لکه د ستوري ته نې کل د آسمان
د جهان ډنډ کښې د زړه عکس نه یم

د شپېلۍ ساز پسې یم کلروان
کله په زړکو کښې ستا رقص نه یم

ته د سحر په شان ښېسته او ځنه
زه د ماښام په شان غمګین او ستړې

---

(۱) لتوې.



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نشه په ژوند د شراب ستا ډ برخه — زه په وسواس خوړلے شوے مزے
ته د سپوږمۍ په شان موسکۍ هوښیاره — او زه د لمر په شان سوزېږم مه تل
ته د لولۍ په شان د ګلو یاره — زه د بلبل په شان ژړېږم مه تل
ته ئې نسیم رازدار د ښکلو ګلو — زه ګونګټ یار د رژېدلو ګلو
ته ئې شبنم بې بې د نوو ګلو — او زه زوړ ګلشن وطن د سوو ګلو
ستا په خوږ وږمه یو غزل دے ښکلے — او مړه یو ویر زما د زړه وتلے
سهیلے تا نه ده خندا زده کړے — شپېلۍ زما سلګۍ دي اورېدلے
زه مقتدي یمه او ته یم امام — ته ئې مالک زما او زه دې غلام
ستا د پښو خاپے زما د سر دے مقام — ستا ښکلے تن دے ما ته بیت الحرام
زما جونګړه یوه ده ویجاړه — ګلے ! راځه چه ورله ورشو د داره
ستا په ښو پت به زما بد شي واره — ازغي هم ښه ښکاري د ګل په چاره

(اتمانزی)

## بابا ته (۱)

ستا خط نه تول زما ته پرانته دی — زه ئې لولم هم شپه دوبار دوباره
کله خاندم کله ژاړم لیونے یم — اے زما په بند کښې پروت غریبه پلاره
نه ته نه ئې غریب ته دیر لوے اوچت ئې — مصیبت دے ستا غیرت ته غیرت داره

---

(۱) دا یو منظوم خط دی چه غني باچا خان ته د لندن نه د هغوی د یو شکایت آمیز مکتوب په جواب کښې لیکلے دی ، باچا خان د غه وخت په جیل کښې ؤ .



A .S.K B

خدای به رحم و نه پته بانده لړ کړے
بل به نه زوے به وکتلی ستا دیاره

چه به پتا کښے کوم جوهر د ماکښے نشته
ستا نیکئ زما بدئ دواړه بے شماره

ته سالار ئے د کاروان په نیغلاره ځے
نه کوم خغلم لکه اوښ نه بے مهاره

ستا د زړه نوار د کے دی د مینے
زما زړه وچ کومے نه لری یو داره

وهم منله مے تا پسے خو ته هم لرے
وینم ستا ایله ایله د پښو غباره

پروا نشته که په منډو منډو مړ شم
فقط ستا او د خپل تام د نوم د پاره

(لنډن)

## خانصاحب

پیسه تمکه خان زما لوے یار دے زما خوښ ډیر دے
کوی لمونځونه په روژو کښے له هر چا تیر دے

ابله وریځ م په یو ځاے کښے ډیر دلګیر ولیده
ما وے کاکا ولے خفه ئے جومات دے م هیر دے

وئے وے بچیه! بیکا وړا کړه غله را غلے
اوس دانه مسے د خفګانه ړوګو د هیر دی

خوشحاله زړه کښے شوم خو مخ م له خپګانه کړه دک
په یو کوټ میخ نه کیږی کور د بود الوے نیر(۱) دی

---

(۱) نیره ویاله، نهر.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا مې تپوس په عمله ددې ترینه د نقصان وکړو
بودا په سر د سترګو په خوږ زړه دا بیان وکړو

وې بچیه! ما ته هر څوک مالدار وائی — تول پولیسان را ته غاصب یا نمبردار وائی
او ما مارانو تپوس د زکات تو نو کوی — زما پښتانه کې بل نشته څوک ید ار وائی
مولی وائی په چانانو کښې یو خان یمه زه — عبث زما لخ کښې ظلم بغرا ته څوک هو بسیار وائی
غلۍ په تمه د روپو نه ماکوره راغلی — ما ته خپله ستهنت صیب د سرکار وائی
خوږیم خپه چې په تنښ لاس شولو خت موزدان — اوس په قصه زما د کوره په هر بازار وائی

چې منز کان یکښې د شپې نیزه بازی کوینه
دیو جوار په دانه هم چرته تیندک نه خورینه

مادې کاکا: نن ورځ هر څوک د غه کار کوی — خپله مړی د لوړې بل نخیرا تو نه کوی
معکله کانه کړی یا په مسو مال د بنیانه غلی — بیا په مرې لا له د صابو کو بې خطا تو نه کوی
بریتو نه مو رکړی چې تهمه م اوس توده خوړه — یا تمانچه په ترخ کښې ولاچیږی(۱) فساد نه کوی
دا ځمته بربره پیسه کتلی نشی — کو به نمر دی جمعه ادا ته په بیتو نه کوی
نه دده دا نلانو خرځی(۵) د پلار هلک — مرې نې هم د کوره تبنتی ځه تو نه کوی

خدای دې خپله د ته وکړی هدایت دلاړې
غوک وائی څه د ته وائی تم(۲) د کومه پلار دې؟

(۱) واچوی. (۲) تم = تمو. (۵) خرځی، خرخوی.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مورې

که څه خاورو ډکې دي پټ وجود ستا مورې! | ما ته یادې د هغه شان ستا سترګې تورې
مورې: ستا لاسونه ما نه نه دي هېر | چه تکلیف کښې به زما نه وُ چاپېر
ستا د خولې تسلې یاد دي مه هر ما ښام | د ګنجې د مړا مونې د بهرام
ستا وهل د بل د مینې نه خواږه وو | ستا کنځل زه ته د بل نه دعا نه ښه وو
یا چه ما به ډېر خراب وکړل کارونه | او بابا به لړزول ځکې آسمانونه
ته به وې زما ملګرې زما مل | او زما سلګو سره به تا ژړل
مورې یاد دې ما ته اوروکې تال | چه تا زه به زنګولم کال په کال
ستا جوتې سندرې د ارخندا | چه به سپک لکه د باد کړو زړه زما
یا چه ما ته به له قسمه شوے په قار | زما اوښکې به دې بوتلې په زار زار
مورې یاد دې ما ته وارې اخترونه | چه به تا په ښکلي مخ کېښول خالونه
په جګړو به دې زه کړمه پاک ښیسته | ما به ځان کړلو په خښوابته
تا به وو ځلم بیا به دے کړم ښکل | په خندا به دې زما کنځل زغمل
ما ته یاد دغه شان ستا موسکې شونډې | ما ته یاد دغه شان میلو ته منډې
چه ما ښام به سترې کور ته راغلم زه | ستا په غېږ به الله هو به شوم ویده
مورې: ما ته یاده شپه ده یوه توره | چه زما وجود وُ کړم له سره اوره
زما سره کښې وُ شغار د جهازونو | او غوږونه مې کانه په آوازونو



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زماځ مورې! ته تا به وسې قربان، — زماځ وئي: ته به تا کاوه ګریان

مورې! ما ته یوه بله ورځ ده یاده — چه زموږ کور لړزیدلو له فریاده

وه دیریغ شان ستا تاوده لاس نازنین — ګلابي رنګي ستا وه بې رنګه سپین

ته موسکۍ په خوب ویده وې پاخیدې نه — ما ژړل درته او ته راویښیدې نه

ما وې مورې! مورې! تا ته قربان، وندوې — وې پرته خاموشه ګل په خزان سوې

ما ژړل او ته ویده وې خندیدلې — ما ژړل او تا پوښتنه نکړه چه ولې ؟

ګر چه خلو روکښې دي پټ وجود ستا مورې!
ما ته یاد دي هغه شان ستا سترګې تورې؟

# ګل که یار

اې زما د سترګو توره! — اې زما د زړه قراره!

اې زما د سر ګلابه! — اې زما ښایسته یاره!

په زارۍ درته ولاړ یم — یو نظر را باندې وکړه

ستا زیارت له یم راغلې — مسافر یمه په لاره

مال دې حسن ته امیره — او زه خوار او زار فقیر

د ښایست زکات دې راکړه — اې زما مهر نګاره

ته بلبل ته منبسته ګل یې — او پتنګ ته رڼا وې

خوله دې وسپړه اې ګله! — ټول پراته دي بیقراره



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا په پانو دا شبنم — دی زما په سترګو نم
ژړوي مام هر دم — ستا ازغي تېره بېشماره
دړکوم زه د زړه وینې — چه ستا پانې شي رنګینې

دا ستا سرې شونډې ښکېنې
شوګړدې وینو په داره

# لیلیٰ

په پالنګ ناسته لیلې په لاس کښې او په غېږ کښې ستار
سترګې ئې دکې د پرسان او انتظار نه د یار
د مړاوي ګل په شان ئې مخ زېړے زېړے شان دے
ول ول ئې زلفې ترې چاپېر لکه تور ښامار
واره واره ښېسته لاسونه د خفګان نه مړه دي
په چوپه خوله د عشق سازونه وهي هر یو تار
لیونۍ نمر په زېړو سترګو د دے سترګې لټي
ورو ستو سلګۍ کړي ورو ورو مري لکه د غم بیمار
خو د دے سترګې د بل چا د سترګو نور غواړي
نه زېړے لمر وینې او نه د ده د سترګو خمار
سر زړګي غوږ کړو خان ئې غرق په خپلو وینو کښې کړ
سپوږمۍ سر تور کړو ورپسې ژاړي په زار زار زار



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پالنګ ناسته لیلی هغه شان سته تار غږوي

او خان ئې خبر عشق به کله بیا زړه کې دیار خوږوي

## سوال

خدایه! وګرځم د غنچې سره خندا؟ | که د خوار غریب بلبل سره ګریان

خدایه! ولوېږم د خپل یار بنګلي غم ته | که د خپل سوي زړګي شم تماشان

خدایه! ورېږم سنا د لوټ د دوزخ ته | یا که تمه کړم شروع د حور غلمان

ته مې پوه کړه ته مې پوه کړه نه پوهېږم

چې زه تا کړمه خوشحاله او که خان ؟

## لیونتوب

یا زه جیږم دا کل خلق لیوني دي | یا دوي جوړ دي بس یو زه یم لیونے

ما امتحان وو ستا دوزخ جنت | څه به په بل د بلو نو ځان د رسے (۱)

وړک دا ستا بد بخت جهان وړنے نام شته | وړک دا ستا سا کړي عشق زړو په ګوانے (۲)

دا شمو لوړ به دا د خیال جهان ته | چې خپل جهان شي وړک پښیمانے

نه نیته لري نه غم نه وریځ نه لوږه | تل سپوږمۍ شباب یار جانا جانانے

د سیناګر د چپو په شانے دانګے | خوشحالي ئې بې پروا جاړ دانے

---

(۱) د منزي. (۲) ګوانې. مګر دلته د ښکر ضرورت د ګبلابه پلیته (یا) واسترش ود پښېنو امضایې هم رغښې دا.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما لمر هم ستا د لمر په شان ځلیږي  خو دښمن دې نه ډکال نه د خواسے
زما خلک هم ستا د خلکو په شان سوځي  خو په عشق کښې نه د خیټے په خاطرے
زه هم کړمه زلزلے عالم تباه کړم  چه مو سکی کړم خوږ لیني به بخښانے
زه هم وژنم عالم خاسے تو لجهد کړم  چه بیتوانه شي د مینے د توانے
زم[5] دوزخ جنت لوم ورو کے نه یم  دوزخیان کړم ستا د ملک په کامرانے
جنتیان کړم بوراکان په باغچو کرځي  یا الولي چه د کلو نو ښتني خوانے
زما ملک کښے دولت نشته خوشحالي ده  دي زمزم زما شراب سره فغانے
وي باران زما په ملک زما په اوښکو  په خندا شنه تازه کړمه زنده خوانے

مست رنګین شیرین جهان دلیوني دے
ورته خاندي ډک د مینے لیونے

# توبه

په نیټي د خیال اوچت شوم له جهانه  او د عقل فانوس لاس کښے مے روښانه
له ورځے چه شوم تیر فانوس مے مړ شو  په تیاره کښې هم نیلے لاړ تر نیم آسمانه
د فلک شهزادګی ناسته و باغچه کښے  ما له نے راکړ یو فانوس شنګلے روښانه
د سپوږمۍ په رڼا آلم مخمور عاشق شوم  خو تیاره راغلے شو بیا مشال زمانه
چه دستور و د زمانه هم اوچت شوم  ما کړو قرض په رڼا له خپل ایمانه

ما د دے په رڼا خپل غلیظ خان ولید
په ژړا مے سر کړو پورته له ګریوانه

---

(۵) زم: زه هم.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سیل

ما لیدلي د فرنګ ښکلي جهازونه (۱)
چه دالاندې ئې تر غوږونګ وهي سینه

ما لیدلي محلونه د لندن
جینکۍ مستې ازادې ګل بدن

ما لیدلي د اټلي ښیسته ښارونه
سره ئې انګور سره ئې شراب او سره ګلونه

ما لیدلي د پیرس ښار پېغلې ښکلې
په کردار ګفتار خوږې لکه بلبلې

ما لیدلي امریکه کښې دې ښارونه
چه ورته غوټه نه رسي مکانونه

ما لیدلي تاج محل غونډې د کلو
د دهلي ښکلي ښارونه د مغلو

خو چه ووینم زه خپل د ختو کور
رانه هیر شي محلونه ښیسته نور

دا نږدې تنګې کوڅې زما د کلي
ورته څه دي د دنیا ښارونه ښکلي

چه خرڅي ورور د پښتانو سینې لمدې شي
دره هیر به قول بیعت د مجبور به شي

خدایه شکر چه پیدا دې له دې قام کړم
د پښتانو د نر وجود دې یو اندام کړم

څه به کړمه د لندن لوړې محلونه
د پیرس جوړ ښیسته ئې رهمي ګلونه

په والله چه له جنته به شم ستون
که کنغل پکښې وانوړم د پښتون

---

(۱) جهازونه.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګلې

ته چه ښکلې بې بهانې!     زما دين زما دنيا
ګلې! ته ګل لالانې     زما ستورې د سبا
ګلې! ګل دې کړ ګلزار     ستا د مخه پرې بهار
که چينه ده که ابشار     ستا خبره ستا خندا
شو حيران نخچل کردار     چه ستا بت يې کړ تيار
هغه لوی پروردګار     ستا په سترګو شو شيدا
ته يې جوړه کړې حسينه     ګل بدنه ګل رنګينه
بيا يې کړه ستا په جبينه
د سپوږمۍ سپينه رڼا

# بهانه

چه يې عمر په صحرا وي له خزانه ګيله نه کړه
دومره وسوسه غوټه نه چه اوس مې هوسينه نه کړه
تا وې ماله ډالۍ راکړه ما غريب سره څه وو نه
چونګانه غوټې دي ټولې کړې په ډالۍ ستا په مخکه
زما وينځې شګوړ چيني ګل لاله تر وږمې غوړين نه شو
په ما دې دام چېرزو شو بيا له خواره نه ګيله کړه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه به څه ستا مال درکړم په څه ستا سترګې رڼې کړم
زه ولاړ کچکول په لاس کښې پکښې بوسه زړه اوبه که

چه ځواني نه ورځیږي او دنیا غوټۍ شي مړاوې
د تاتار کوه قاف حورې بخوا څه که او څوک څه که

لیوني ورو ورو ورکیږي خان پخپلو څکرتو وژني
ستا فراق عشق نه بهانه کړم او هر څه کا اوس هر څه که

## پلوشه

چه ځواني وو څه وزیران　　وے به بزیږے لوی لوی پهلوان (۱)
ته راته لوے دادخدای شان　　چه نیم لغر دی او نیم کنجیان

## غرور

که نه وبلیم نبه دی څوک ؟　　چه نه وبه شم څه دی څوک ؟
که هر ګل باغچه کښت خاندی　　به دېران پراته دی څوک ؟
دا چه سے لوګی ته زارے　　به دی او ورو راته دی څوک ؟
هم ګوره عشق هم لوبے دیره وینه　　د بونیر داخره دی څوک ؟
غني او به سره ګړي لوبے　　خو خبر تر سے نه دی څوک

---

(۱) لنډی بریت.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشه

وو تو نه راغله پېسه سېر پښتو ایمان خرڅېږي
پخوا به جونې خرڅېدلې اوس خوانان خرڅېږي
ژړا به نه کړم چه غنم جوار ارزان خرڅېږي
پروسکال کوږې خرڅېدې سږ بېوپاریان خرڅېږي

# اې د خاورو کله

په تکلیف کښې دي دوه دوست تکړه آواز
دې لغړلو غرونو لمدا ورو ښکلې ساز
سوې زړه مې یو ځل اوه آسمان تېر کړه
فرښتو ترې نیوله ځه کړ د پرواز
بې پروا زما لعشقه په خندل شې
آ د خاورې کله ته په څه کړې ناز

# کږې وږې

چه بې ننګه شي پښتون په سر نې دانګه
تښتېږه د سغاتي ملا د بانګه
چه په طمع د دنیا کوي وعظونه
خدای دې د وچه کړي د د خبیث غرانګه
په والله که وصال پوره دې پرېږدي
که وېرېږي په دښمن د پیشو پر انګه
کله کله د غني هم قصه اوره
دا هم د ور ورو دلونې ونې شانګه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشه

دجهان خبرے کوره — بیل به نکړی سپین له توره
اے غنی! کیله ترے مه کړه — شو ړند دنیا شبکوره

# لوبه

دلرے لرے خلک راغلل تمام — دیدن له ستا دلرے لرے
زما یاد یږی ستا ویړو خبرے — دلبرے دلرے لرے

***

خوله دمسکی ستر کے غمازے — په لچک لچک په هوا ځے
باغ کښے بلبلے ستر کے نے وازے — ستا دیدن شولے موتازے (*)
خدایږو که حورے ستا دنوک وی برابرے
جانان دلبرے دلرے لرے

زما په خوا کښے هم نخرے کړے — چه دنه تبسم هم نعرے کړے
کله خندا کله سنیرے کړے — زما نخوان زړه دړے دړے کړے
فرښتے ماتے دشیطان کړلے وزرے
ارمان دلبرے دلرے لرے

کله دګهو! کله دے نا وړی — کله دشنن کله سبا وی
په ژړا سرے ستر کے زماوی — موسکی رنګینے شونډے ستاری
کله سوے هماشے کله شے داوږ نخرے
جانان دلبرے دلرے لرے

(*) موتازے : محتاج



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګډې وډې

د سپينو تار کښې لعلونه زه پېيمه
په پښتو کښې کوم خبرې عجيبه

د آسمان سيل کوم په ماتو وزرونو
بې جانانه يو وزر نه عجيبه

تل مالام په زړګي کښې جانانان ستوی
خوشحال زنده له مانه لوړ نه عجيبه

چه م يو ټکي تږي لوړې کړ حيران شوم
خنزې (۱) خړ شوې برابر عجيبه

نه خوشحال د ناز ورځې نه د نياز
دغني حيثيت دلبرې عجيبه

ليونى دختو لوتو په ډيرۍ کښې
اکثر تورې کړې ملغلرې نه عجيبه

# پلوشې

جو مات ته لاړ په ميخانه کوره
په زيان کښې سود د شاهانو جانانه کوره

نيته د ولناؤ او کار ونه ډير دي
پوره م بې نکړې خان له بانه کوره

# انصاف

توري زلفې نې خوره شوې وې په غوږونو لو
عباد م لولا هو جوماتو او خالم بلودو (۲)

د تقسيم په لوښو کښې هغه لوی ويشونکي
ماله عشق د ملو اکو باله بنايت دلو

---

(۱) ښنخې . (۲) بلو .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په کار دی

لوئی ذړه کے لری چه اسرے لوئے لری | چه خوک مانتیا ساتی د رواز لوئے لری
مه شاړه مه ژاړه دا به هم تیر شی | هر خوک کړے عمل شو کوی کوتے به مخے لری

## زور

خدائے چه پیدا کړو خان نه زور | کړل نے ترے لاندے خیزو نه نور
مخے اوچت کړو تر نیم آسمانه | بادشاه د هر څه وو بے مخه زور
الله مو یکے شو حسن پیدا شو
طاقت په ځمکه پریوت نسکور

## بادشاه خان ته خط

زما گریوان شلیدلے | ستا شنه قبا مزه کا
زما دک جام د میو | او ستا همسا مزه کا
چه شپه خلاصیږی توره | دنیا ویده وی نوره
ستا په هوهو کښے کوره | خندا زما مزه کا
په منګلے خت د سحر | لړے د ملکه بهر
د سوی لوی خیګر | ورو ورو ژړا مزه کا



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه ورږوان شي نسیم — ته په سجده په تعظیم
ستا بندګي او تسلیم — مستي زما مزه کا
ته د سبا په تمه — زه د دنیا بې غمه

سترګې مې سرې پر نمه
لیونتوب دا مزه کا

## نیمې مې سترګې حیرانه وازې

پر ډک جهان کښې ګرځمه یوازې — نیمې مې سترګې حیرانه وازې
چه ورځ شي خلاصه ماښام را شي — تورې دغم ماله ماجامې را شي
دالړګې ستورې سپوږمۍ بې مهره — اوږه که د تش زړونه تمامي راشي

کله په بس شي دا را تلل یوازې
نیمې مې سترګې حیرانې وازې

ما وې سپوږمۍ ته د نور میرمنې ؛ — دیار لیدلې دې تا، سترګې خوب جنې
موسکۍ شوه پته شوه په وریځو — هیڅ حال یې ونه وې د خپل بدنې

او زه یې پرېښوم غمګین یوازې
نیمې مې سترګې حیرانې وازې

ما وې لاله ته د حسن لورې ! — شونډې لیدلې دې تا، هم د دلبرې
شرمنده سرېې ورو ورو کړ ښکته — ما ته یې ونه کړې د یار خبرې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

او زه نې پرېښودم غمګین یواځې
نیمې مړې سترګې حیرانې ولاړې

بوړا مې ولید د غمه توره ډېر پرېشانه دې ګېر کړو کوره
ماوړ د یار زلفې د نه تالیدلې څه لټوې روره! دالوړ په لوړه

لیونۍ لاړه او زه نې پرېښودمه یواځې
نیمې مړې سترګې حیرانه ولاړې

لړې مې واورید د مجنون شور لړې مې ولید فرهاد نسکور
د شیرین آه راوړ نسیم غیب کښې د لیلی روح سوې د غم په اور

پوه شوم روان شوم یواځې
نیمې مړې سترګې حیرانې ولاړې

## د فقیرانو غزل

وروره! دی دا جهان یو مکان د فنا
ورته مکړه ژړا ورته مکړه ژړا

ما نن شام خاورې شي ګل چې سحر شي پیدا
ورته مکړه ژړا ورته مکړه ژړا

دا چې لا نه یې د پښو دې دا خاورې ته کورې
وې د چا شونډې، سر نه او د چا سترګې تورې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا یرے معشوقے وی چه تـلے په خندا
ورنه مکره ژړا ورنه مکره ژړا

دا ستې یو ساعت دا پستې یو کړئ
دا سور شال دا امیر د فقیر دا شړئ

دی دا واړه خیالې بې بنیاده دوکا (۱)
ورنه مکره ژړا ورنه مکره ژړا

مر ذره کړی صلچه دنیاده فانی
د پرون بنار یو کنبے نن ده ویرانی

دې یو خوب دا ژوندون دا ځوانی یو نشا (۲)
وے ځے په ژړا وے ځے په ژړا

# خوشحال خان خټک ته

دختکو لویه خانه (۳)! دمه پښتون سرداره
اے ګمګیره دغـمجنو د پریوتو مل دکاره!
آنجا چه ته یے خان وے، آکاروا چه ته امیر وے
آنجو په وړانیدو ده، آکاروان دے بے مهاره

(۱) خدعه، فریب. (۲) نشه (۳) خوشحال خان خټک (۱۰۲۲ — ۱۱۰۰ هـ ق): — تهرمان، مبارز، شاعر او لیکوال دهیرو مؤلفاتو خښتن.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا په اوښکو زرغون شوے ستا په وینو پائیږے

دغه باغ او غوړان پروت دے بے بلبله بے بهاره

بیا د ننګ توره تېره کړه بیا ننګیاله دا دیره کړه

شه ځنا مړو ړخانه شه خوږ لا د ګلیو سالاره

# پلوشه

لکه مور چه په بچی زخوړے کا — دا پروت دے په غېږ کښې کل جهان
د غنچه سینه ناکه د مور ستر که — که سپوږمۍ ده ولاړه په آسمان

# لږ شو خمار پیدا

داسه شراب داسه ګلاب خټ و د شباب — ساز د رباب ما شوم دلبر ام بے حجاب

لږ شو خمار پیدا پېغ دیار پیدا

دلبر ګلے خط داسه بیسته خال کښې جمال — لکه ملال جانانه کړمې د حلال حلال

چه شو خمار پیدا ستا په خیال پیدا

وخت دے ملنګ د کل وجود ما تمام او ژړنم دی — ماته نے زیان هم کړو لکه سود

چه شو خمار پیدا پېغ دیار پیدا

د ژوند کاروان ورے جانان — دغه مے دے دغه ارمان

چه شو خمار پیدا ستا په خیال پیدا



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشه

دومره ښکلې دې زما بانان ښیسته | چه دیدن کړي بیا یامان ښیسته
نور یار م تش په تن باندې ښیسته و | د ده حسن کړه همه جهان ښیسته
د دې جادو د دوه سترګو مینه ناکو | لیونی ته هم بکاره شو خان ښیسته

# میا جعفرشاه ته خط

بیا را یاد شوې د ملک خوږې خبرې | په پنجره کښې کړم فریاد لکه تنځرې
چرته نوم د بنتیین تار چرته میزرې | چرته ته د چنډ کوله (۱) چرته شکرې
چې دیخ خولې ماته نن د زمانه لر | څه که ما یه پکوم د خیال وزرې

د کوټې ساده خراب د چنو دال کړه
په پولو د پېښې ستر شوې چغرې

# کلي وړې

زړه م پسې د چاو د خوشنام نکولا نه | هغه په موټر کښې زه په ستر پټو باند
کور و نرا چاره په ایشولو تر سکه نیري | ښځه مړه د څپه د وی مړه د کاند
مالی د وصال په سبا رکو تانب کړې بل | دوره هغه له بنایسته زما جانان دی

---

(۱) ولړه: ګوګرنا تحصیل دهندوستان په (یو. پي) ولایت یو علاقه ده. بغني د ناسته دیوې په کلا کښې افسانې
(۲) میا جعفرشاه د (۱۹۰۲ م) زیږیدلی کاکا صاحب د صوبې سرحد لمشهور سیاسي مبر او د تحریر په ... عام
صاحب ... دی. دی لسیاسي سیره پرته ادبي سیرت هم لري.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نن چه د مسکوتې (۱) د بابا په کوږ داخل شوم
لستوڼې تا یخ وکړې، د وار د غني خان دی

## پلوشه

پیاله د جانان سکه کړې دنیا هېڅ او بنکلې کړې
له رنګه نې ګلابي شو په وږمه دې ولو کړې

فاداشیخه! وکړه شه شراب دی شراب نه
دا دنیا هیڅ او بنکلې چه کړې کالکې نرم سینې

## پلوشه

ګڼتار د لیونو کښې د ګلو نه هم ماران
قطار د لیونو کښې دیر ولاړ پیغمبران

پروانې غني نکړې کښې سپک تلی که د ړنده
تف! خه به د اجهان وی خه بو د دجهان

## پلوشه

د حسن په بازار کښې مولانا یو د رخ روان و
پوشاک نې مقدس د مانځه (۲) د ملا سپین ساو

ناګاه چړه آوازیو د قبلې دد د کوشو
خه سبحان الله ملا، دا د کو خه د لیونو

## پلوشه

بیکاره خوب کښې خانان جنت کښې ولیده
پلاس ودونیو دیر پل ونه دړو پو

د بان چه لته وکړه د دوزخ تا ترین ګورته
خانان خپله کته او نه خه خیږی په پردو

## پلوشه

چاته نې بنایست ورکړ غمګین
چاته نې غم ورکړ بنایسته

ځانې هم مست او هم هوښیار کړم
هم نې په تخت کړم هم په تخته

---

(۱) پیغلو کې (۲) دا نظم د وزن د مراعت نه آزاد دی.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کارغه او بلبل (۱)

د خزان دوران وُ نو سے — وو یو دوه ګلونه سوے

یو بلبل په مراوے شانګه — نغمے کړلے سوے سوے

خدایه! شوکور د غم ړوګی زړګے زما — سوے شمکوړے په غم سترګے خوږے زما

تازه عشق نوے دلبر نوے شباب — د لاله پیاله کښے سره ګلرنګ شراب

د دنیا د وږو سترګو نه په دده — یو باغچه کښے پټ په غاړه د رباب

د نبیسته ستورو په باغ کښے سپوږمۍ سینه — کله خاندے کله پټه په نقاب

زه ملشوم وکړه شوی یار پسے ژړیږم — په جنت کښے د دوزخ غم عذاب

های شوکور د غم ړوګی زړګے زما
شولے شمکوړے په غم سترګے خوږے زما

یو کارغه چرته راوتی وُ له کوره — په ځنګلو کښے ګنده مښوکه توره

د بلبل ژړا ئے تیره شوه تر غوږه — ورو وران شو ورته وے کم عقله ږه

ولے صنم صنم وے نعرے د غم
مکړه کیله دستم له دروزی دک دے عالم

کوره خیته چه دی ورته نو صنم مړه نه کا — خوږے سترګے به د یار دے چرما تنده نه کا

ما به هم داستا په شان خانی نهایت شلیدم — زه خو دیو الله کرم خوږم سره نه کا

(۱) دا نظم د وزن د مراعت نه آزاد دی.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوږ د توتان خاندي بلبله د دنیا د و نشه لمبه ... نن نصیب د کوی غوټی شیله (۱) سبا خوږه نه کا

پریږده داغم لوړنی لکه ما شوم نادان

نه د آسمان د غمه پخلکه یېږی (۲) توتان

## پلوشه

یار ی مغنه مزه کا ... چه دوا ړه سیال وي

ډېر ځه ام دو مره وي ... چه خوږ ماني خیال وي

شپه به د جنت خدایا ... چه دواړه وال وي

خوږه چه زړه وي د مینکلي ... دومره جمال وي

د قام به مینه مسته ... کو غنچه که لال وي

دا لیونی به هسله ... خدایه خوشحال وي

چه لاس او زړه وي ددد

تاروڼ مال وي

## پلوشه

شین زری شه مدام خوږه د هوسو غوټی ... که تباه به شه همیش خوږه د سیسو غوټی

یا کوهتن اسانی دغنی باغ شه ... خوږه کله بازاری د پیسو غوټی

## پلوشه

لکه بت بینا نه کا یمه ږونه شمکوړیم ... عشق دا زنله کا وکړي په ما باندي

---

(۱) شنا یاب . (۲) نه دیږی .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

غني جام د جهل نې مخمور پاګل کړے     که اپه پوتے د عبثه سر داړلے

پانوشه

دعاشق مخمورے سترګے     که د یار هښکارے شونډے

که غوټۍ دی د نرګس و     په سرو ګوتو کښے راغونډے

# رشته

یا بے جرو ونه زه وے     او یا بے پرو مارغه وے

یا د نیم آسمان وے ستورے     یا د سیند د منځ اوبه وے

یا تناده وے د شبنم زه     نه م پلار نه م نیکه وے

نه م دوست نه م دښمن وے     نه م بلد وے نه م سنبه وے

داجهان به لوټ جنت و     که رشته نه وے سرخه وے

خدایه زه به ستا عاشق وم     که ته وے ستا تپه نه وے

عاشقي به بزرګي وه     که عشق وے معشوقه نه وے

ربښتیا زه که خپل مالک وم     یا به زه وم یا به ته وے

ځي دغه د سردا وایه

که غني وے څه به نه وے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پلوشه

ستا فراق په ما قیامت کړ — یاره څه به وي قیامت اوس
ستا په عشق کښې رسوا خو بس یم — یاره څه به وي عزت اوس
د همه جهان بلبلې — ستا یو خال نه دي ستایلې
خو د ګل صفت پوره کړي — د ګل څه به وي صفت اوس
ستا یو خوږ نظر دلبرې — ستا یو دوه پستې خبرې
مانه ملک جنت جنت کړ — کوره څه به وي جنت اوس
بار (۱) درون جلبل منسې — ستا د دوو سترګو په تمې
خوار غني لوغړن پروت دے
ستا به څوک کوي صفت اوس

## پلوشه

یو ارمان م په زړه راشي کله کله — شنې لنبې دا دردم خیژي له کو کله
ناګمان م د مستۍ چپې لاموکړي — ناګهانه م سر عقل شي بے کله (۲)
زړه م ونیسي یو پنجه د فراق دو — کړي نچوړ تر دخودۍ عرق یو ځله
زه بې خوده لیونے زړه م آموشي
نه پوهیږي که نے پوه کړے هزار ځله

(۱) بلهر، یعنې دننه بیرون.
(۲) سکل هندي کلمه ده، یعنې عقل م بے انتظامه او بے اداره شي.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پلوشه

مراوې ستړې کړه راپورته ستړګو ته زما دلبرې

خاندې وخاندې مسکۍ شه په رښتیا زما دلبرې

راشه خوا کښېنه زما کښېنه سر زما په سینه کېږده

دمستۍ په خوب ویده شه پرېږده دا دنیا دلبرې

داغمونه نه خلاصېږي چې څو ژوند نه وي خلاص شوې

څه چې پټ ترې یوساعت شو دې وېل په خوا دلبرې

## زه

نه زه فلسفي یم خلکه نه زه لیونی یم

یو غریب بچی زه د پښتون د پلار ګڼلی یم

واړه مې یاران دي یو دښمن مې چرته نشته دې

زه د خان دښمن یم پخپل خان ډېر ترني یم

بعضې ځای کښېنم بعضې کښې ډېر یم خلکه لوی کړې

خیال مې د سبا دې پېدا شوې پروني یم

خوښ مې دي ګلونه هم ښکارونه هم اسونه

خوښ مې نر پښتون دي زه د داوودي پښتنې یم

نیت مې دې طواف ته د وطن د تورو ختو

ستړې د طواف مې د مکې د مدينې یم



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه وم په وطن مین خو تن جلا وطن کړم
زه د مه ګل نه شوم هسې زه تورې سپېلنې یم
زړه هسې ښیښه او ایمان په تیږو نه خوږوم
ځکه لیونۍ یم خلک ځکه لیونی یم

## پلوشه

په توره شپه د غم کښې یو څرک د رڼا
زړغون په دیوا کښې نه بیسته بو د لالا
د وېرې تور ځنګل کښې یوه زړګه په خندا
یو څاڅکی د امید د ناامید په دنیا

رنګین د بوډۍ تال د تورو شګو په صحرا
مستي د ځوانۍ ډکه دلبره دې که الله

## معمی

هم زما خوراک دې هم خوږې بنا پکړ دې
هم د زړه هم د ښوټ هم د منزل دې
او سی په خرمنه کښې راځي په تکلیف
خو بس د پښه تانو د صاحب پروړ دې

## پلوشه

ته زما د مات زړګي دارو د غم تعویذ نې
ستا په مینه مستې سم خوږه دی عزیز
ستا بنګلو پا بولې اې زما د کلي ښتې !
پټې به د حوړ د جنت نه یم نکریزې

ستا د انځور زه به د نرګس غوټه ایږې کړم
ښکلی شهزادګی به وار پر کوم ستا کنیزې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لنډۍ چرګ

نن چرګ د انقلاب دی نعرے ، قوقو ، — جوړه حت شود سبا
خو نه ئي د جومات نه انګازه ده د الله هو — ویده پروت دی ملا
بیګا د جمعے شپه وه دیر تالی راغلی وو — خو به پکښے حلوا
خو څه شول طالبان ئے ما پرون لیدلی وو — که ویښ نه دے ملا
پرون ئے طالبانو دیر باد رنګ خوړلی وو — تو اناست دی په بیدیا
ورو وکے چینی څه شو چه هم به کړی داړه — را ویښ به کړی ملا
هغه بیګا تیاره کښے دیر تیپر خوړلی وو — د موکه کښے د حلوا
الله به نس ئے د زړه دو تول پښیمه کړل ، اولوه — وه پروت به مصلا
اوس څوک ورکړی جومات کښے انګازی د الله هو — جهان کښے شور نا
لنډه په چرګه زور کړه وا نعره (٭) د قوقو — را ویښ به شی ملا

# د مالۍ وزیر ته خط

لو یه او بنده وزیره ورورو ! او رد آمدن لری

صیب ولکاه وه دم وکیل په خوله میتر

دام یو مشین دے تیز رفتار لکه موټر

---

(٭) یا ، وهه .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

صیب تپکس (۱) به اخلي د بګواښ (*) او د تپو    زیات به پېغوري چه د ګړي (+) غوک د لندن لري

لویه اوبه ده بېړه وروړه : اوبه د آمدن لري

صیبه: مالیه کېږه ده د چاپو به چاپېنګ    لږ به آمدنې وي د تپکس نه د بنانګ

دا تپوس د نه وي چه خاصیب د ګډ ملک    اخله تر تنه تپکس آزو د صیب (۲) لوک، د دیدن لري

لویه اوبه ډېره وروړه : او د آمدن لري

کیږه ډېر تپکس صیبه: په لویو لویو بېرو    و نه کړې معافي کڅو د سو آزو یا د دیرو

تول عالم به ولې وي ډېر هو بنیا روزیر و .    خیال د خپل ډیر دې د غریب وطن لري

لویه اوبه ډېره وروړه : او د آمدن لري

ماته تحصیلدار کړه صیبه وادره سفارش    ستا به ډېر تولب کېږي زما به لږ د روزش

دک بله روپو کړم د سرکار خزانه تش    صیبه: تحصیلدار هر چا پولا پالنګ بړستن لري

لویه او وډ ډېره وروړه : او د آمدن لري

## خرو

یوم خان لالا دے چه ده ټز په سرخپو شانو
یو ملخرو دے چه تا کوده د چور یانو

یو معتبر خان د حجرے قارو باسی کود
ده نه ځناور ده د ده د بچو مور

---

(۱) مالیه - محصول . (۲) خلک . (*) بګواښ: چیچرے . قسمه حبرے .
(+) ګړي: شهادتنامه ، د تحصیل سند



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاس ئې ربه: مات کړې چه مې د پښتون خوږ
کاشکې ددۀ پوهه کښې ددۀ د خوږ پېژوان وُ
منه زما خوږ دې چه تا کوې د چوړیانو
یو مستانه خان دې تېز روډي کښې لته خیرات کښې
زمی بزیام (۱) ته کړوی دیر کښې که دی سوات کښې
هلړ او پښکال د مالیې په حوالات کښې
یله د تمیز کوم د کارد بد ماشانو (۲)
منه زما خوږ دې چه تا کوې د چوړیانو
پو پیسه تک خان دې خبر له چنګ رباب
مړ نوکر به قبض کړي دوده ئ ورکمئي (۳) خرابه
نه خه دي خوړ شي نه ویسته شي بې جولابه
ورو ورو به زمانه شي دا ورورګي د ملړ اریانو (۴)
منه زما خوږ دې چه تا کوې د چوړیانو
یو زور د پښتون خان دې خونبوي نیزه بازي
خونږي دي ښکاره نه د لغړ او د تازي

---

(۱) بزیام پاکستان کښې یو زیارت دی چه کالنی ګرمه په کښې لګي.

(۲) بدمعاشانو. (۳) ورکوي.

(۴) مارواړه د هندوستان د سوراشتر په صوبه کښې د یو ځای نوم دی چه خلک په کرور پتیانو مشهور دي.



A .S.K B

نو زړور ئې دی یوسفزي د محمدزي

هم په قام مئین دي هم مئین دي په خپلوانو

خو ښځې ډېر خوږ دي چه تا کوري د چوړیانو

یو لیونی خان دی نه په خان دی نه په بل

نه د ورځې بو نه پروا ورله نه د رخې دا چل

نه خلقي ته نږوانۍ او غل ته وائي غل

خدای بې پروا جوړ که پروا نه کړي د خانانو

خو ښځې ډېر خوږ دي چه تا کوي د چوړیانو

## درې ژوړې

| | |
|---|---|
| سوال: خوک ئې ته جناب ! | خان ئې که نواب ! |
| ښکارې چه سړه د ډېرتو کڼې د وضعدار دې | دا مزې د ښار دې |
| بنه انګریزي بوټ (۱) | ښکارې نوې سوټ |
| هیټ(۲) دې د قره ناک خو جرابه کڼې دې سوړې وینم | خټې دې لږ نرې وینم |
| ځواب: چوپ شه بې وقوفه ! | زه یمه مصروفه |
| زه ټیکه کوم او ږده بخښونه د چل ول | فیس را ورده اول |
| مشکر د توپک | تل م جیب وي ډک |

---

(۱) وکیل دعوا، ډاکټر، بقیا (۲) انګریزي خولۍ.

ښه م دلاله سم دی دخبرو چنچنک شکر د توپک

سوال: ته څوک یې حضور؟ سوی لکه تنور

لاس کښې دې انبوه د ځیبه ته یې جوړو هار؟ دا مزی دې د ښار

رنګ دې مرخن غوپ دې بدن

پادې چیمې د بخوتوبی کښې دې داغونه دی زیږشان د غابنونه دی

خواب: زه کړم انګلشن تشخیص او اپریشن

لاس کښې م شفاده په تندی کښې م اجل فیس را وړه اول

پاس که دلندن وی یا د امریکن وی

وار و ماپړه کوی زه ډاکتر پیدا شی یمه شی پو سودیشی (۱) یمه

سوال: ته څوک یې چاتا ! ؟ دلې که کوا تا !

چچی د پاپې دی نور زکین نې بې مقدار دا مزی دې د ښار

* *

خوږ مهین کلام غوړ دی هر مقام

(خوږ)

سترګې دمار دی پلانه خیبر دلبرم شان شوکت دی کم

خواب: ډیر کوڅې دی خان کوره کښې تاوان

لسو بانډ واخیستلو خرڅ نې کړم په شل خپل کور ولوتل

دلته چه بیوپار وُ یار زمونږ ستا پلار وُ

مونږ یو دوه کالی هم نه وی نه واخیستل خپل کور ولوتل

---

(۱) وطنی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشه

دلبر دوارو دلبرانو دے دلدار زما
سردار دوارو سردارانو دے سردار زما

زما پټ کله شغله کښے د سپوږمۍ شی جانان
کله لاله شی کله بیا بنفشه لولۍ شی جانان
کله رابیل کله د سور ګلاب غوټۍ شی جانان
ورته به وایم چه بیا ما سره یو ځای شی جانان
دلبر دوارو دلبرانو دے دلدار زما
یا لمر خانه کښے خمارے سترګے را پورته کړی
سپینه سپوږمۍ شی موسکۍ خوله د جانان لوټه کړی
ما په خندا خندا د غم له کنده پورته کړی
دلبر دوارو دلبرانو دے دلدار زما
سردار دوارو سردارانو دی سردار زما



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشه

لاړه که ځواني شي ده ځواني جانه د تللو شي
لاړه که ښکلی ټک شي ښکلی ټک ته دې د بايللو شي
خلکه ژوندون د خلاص شي دي ژوندون د خلاصيدو شي
واړه دا فاني دي فنا دې د عشق سازونه دي
عشق به تل ژوندی وي څو چې ځمکه آسمانونه دي

# دلربا

نه مې پلار شته نه مې مور
واړه خونه مې تالا

نه زما په غم خوږ پوه شو
نه زما په واویلا

دا چه ما ده کومه کړې
خوک دې بچ له دې ګناه !

دا ګناه ده د فطرت
دا ګناه نه ده زما

خو یو کس هم په دنیا کښې
دی مې پلار دے هم مور زما

تل زما د غمه ژاړي
سودائي مې ده سودا

نصیحت په پسته ژبه
شکایت هم په خندا

وار خطا لکه د مور شي
په پوهې سختئ زما



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاکیزه لکه سپوږمۍ ده — دمه خوږه و خوږا (۱)
په ښایست دجنت حوره — په خویونو فرښتا (۲)
ماپخپله مینه پېټ کړی — له غمونو د دنیا
دجنت د رنګه زیات — دی رنګین دلبر زما
که دنیا کښې وحدت نه وی — ما لیدلی ده چینا (۳)

دالله د نقش کمال دی
مخ زما د دلربا

# هی هی زما لیلی

ما وې زما لیلی به ښکلې مسته مسته ګرځي — پر باغ کښې په چنا
ما وې زما لیلی به لکه ګل ترو تازه (۴) — د ګلونه ښیستا
ما وې لیلی شونډانې به غوټۍ وی د ګلاب
ښیسته به پرې سازونه ټنګوی لکه رباب
په سور او رد مستې به نګی وی سره کباب
بې تاجه ملکه به وی د حسن د دنیا

د ګلونه ښیستا (۵) هی هی زما لیلی

ما وې د لیلی سترګې به سرې مستې په خمار وی

---

(۱-۲-۳-) د ضرورت شعری له کبله ( په الف لیکل شوې.
(۱) خوږه ، (۲) زړه ، (۳) چینه . (۴) تازه . (۵) ښایسته



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماوے په سپینه غاړه بے (۱) دسرو کلو نو هاروی
په لاس به ئے کوتخه چه به د نرګس بمبل قطاروی
وړه نجینه دوپټه کښے ښیست پټ او څه ښکاره
دګلو نه ښیستا          مې مې زمالیلیٰ

ماوے زمالیلیٰ ده دلا لا د ستر کوتوره
بابا ته دیره څکرانه ده نیازبینه ده دمور
زما دزړه بی بی لیلیٰ بی بی ده دخپل کور
موسکۍ ما ښام ویده شی سحر پاڅی په خندا
دګلو نه ښیستا          مې مې زمالیلیٰ

نشته په دے خیالاتو خوبونه په جهان کښے
محل ته دلیلیٰ مجنون روان شو بیابان کښے
نه باغ و نه بنګله وه لیلیٰ ناسته وه دالان کښے
ښیسته سرے تور وو ده غوجل کښے لوپتها
مې مې زمالیلیٰ          دګلو نه ښیستا

بمبل دنرګس کوتے دښیاکے نه چاپیره
په صفا، رېمن (۲) کمیس ئے وه هم کیاږه باره تیره
لیلیٰ مینځ کښے لوغیږ ی ښین لوکے تر ینه چاپیره

---

(۱) به ئے . (۲) خیرن غوندې.



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلوېښت خوارۀ دوستان نه ئو راغلي د لالا

مئي مئي زما ليلئ    د ګلونو ښيسـتا

لښـتـي نه د ځولو د ملا په تير ښکته روان

په زلفو کښې څو قسمه غوټي وې د ډيران

سرې شونډې د سپيرو چپې د خندلو په ارمان    (*)

مئي مئي زما ليلئ    د ګلونو ښيستا

## پلوشه

داد دې وينم دلربا! په مخ کښې ستر ګې    که د حسن په ځمکه کښې د نور کو رګې

داد دې وينم دلربا! په خوله کښې شونډې    که د حورو د جنت د باغ کښې بربنډې

داد دې وينم دلربا! سترګو کښې نم

په ننګو که د نرګسو دې شبنم

## بهار

بلبل ګلزار ته نن په ډير سينګار راغې    په خمارو سترګو کښې نوې خمار راغې

جوړې بهار راغې جوړې بهار راغې    غوټۍ شوې پيغلې وخت د بهار راغې

بلبل را پرېږدئ نن نه دلدار راغې    خو نه خبر راغلو د غاونه م يار راغې

غوټۍ شوې پيغلې وخت د بهار راغې

---

(*) نامکمل.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپوږمۍ شراب لوني د نبيست په جام باندې     ورته مرې مرې کړم پورته ستر با دامبارې
چه دېته روانۍ بيا زما سلفام باندې     سپوږمۍ م ورنه ليډۍ د ستا په بام باندې
دا څوک شراب لوني د نبيست په جام باندې

کله د ستړي شراب کښېنې کړم سپوږمۍ سوران زما     ورو به بهوولېنه داد جانان زما
وايه چه ښکته شي اوس دا د لي آسمان زما     چه خوب کښېنې ودينې تول رنګين جهان زما
کله دي په شراب کښېنې سپوږمۍ سوران زما

خوانۍ له ما نه واخله مستي له ما نه واخله     دا رده کلونه سپوږمۍ لمبا بانه واخله
په پښو ولونوه وايه جانانه واخله     صدقه دستي شونډې د خپل اشنا نه واخله
خوانۍ له ما نه واخله مستي له ما نه واخله     بلبل ګلزار ته نن په ډېر سينګار راغې
جوړې بهار راغې جوړې بهار راغی     چاته سلام راغې چاته د الله راغې
خو نه خبر راغې او نه م يار راغې
په خمارې سترګو کښېنې نوي خمار راغې

## ولې (۱)

څوک دې ماته روانۍ     څوک نکړې شيدا شي څوک ؟
څوک چه چاته وخاندي     ولې په خندا شي څوک ؟
سترې د غره څوک ته     غلې شان بيکار وې

(۱) دا شعر غني د خپل واده په شپه ليکلې دے .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

مینے په ژړا وو ے — حسن په خندا وو ے
مانه موسکو سترګو کښے — ښکلی دلربا وو ے
ولے څوک زړه وبایلے؟ — څرنګه شیدا شی څوک؟

څوک چه چاته وخاندی
ولے په خندا شی څوک؟

سترګو د مجنون وو ے — او ښکو د لیلیٰ وو ے
وو ے په نشه خوائی — غم ورو په سودا وو ے
مانه موسکو سترګو کښے — ښکلے دلربا وو ے
ولے څوک زړه وبایلی؟ — څرنګه شیدا شی څوک؟

څوک چه چاته وخاندی
ولے په خندا شی څوک؟

## ورو ورو

ورو رو ظالمه داچغے ناوړے
ورو رو پرے پښے زړه دانه دی خاورے
داخوستئ دی داخوخوائ دی
سپینے دے کوکے لکه دواوړے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ولې ته

سر په مخکه باندې کېږده — چه په راز پوه د آسمان شې
ستر کې ستورې ته کړه پورته — چه په شان پوه د جهان شې
لږ سر ښکته په ژړا کړه — چه مزه د خندا واخلې
د دنیا نه خان راغونډ کړه — چه مزه د دنیا واخلې
د چیلې په کوتګۍ کښې — یو پیاله د شراب واخله
خوله دې وچه په ژوره کړه — بیا مزه د کباب واخله
لیونی زما په شان شه — چه په راز د خودۍ پوه شې (۱)
سر او زړه دې ماشوم کړه — لیونیه چه سړی شې (۲)

## مینه او حسن

ستورې ته آسمان کښې یوه ورځ ووې هلال
خدای آدم له مینه ورکړه مونږ له تش جمال
زه به په خندا ورکړم داخل نیست د کمال.
ما له که یو څاڅکی مینه راکړي څوک په سوال
مینه حقیقت حسن سایه د حقیقت ده — حسن له زوال شته مینه نه لري زوال

---

(۱-۲) چه د پوه (ه) او د سړی (ی) په مجهول د تلفظ شي نو قافیه به برخته شي.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زما د کلو لښتې

خدایه زه به وم خوشحاله د جانا خبر به زده کښې
ستا وفا لا لوغږان کړم بے وفا به وے لا نبه

موسکئ شونډے د لښتے د عماد روڼ بیرون ستی کړے
ستا خندا د شتے کوزار دے په ژړا به وے لا نبه

تحچه ژاړے زما غم کښے بل غم هم په ما انبار کړے
ستا سودا زه سودائی کړم بے سودا به وے لا نبه

خان م هم خاوره ایرے کړ ته م هم په اودستی کړے
اے زما د کلو لښتے بے زما به وے لا نبه

## ځواني

دا بسم الله خدایه: دا لیونی دہ
چه ځواني نیست دے او نیست ځواني دہ
بوډا خوشحال بابا سپین سر کړے پور ته
وے خانی توره دہ او توره خاني دہ
د منان خان همسا د منانی دا ملا
دا هم فاني دہ
دا هم فاني دہ



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

مستهٔ رندي زما　　روغه مستي زما

خانداني ده

خانداني ده

## پلوشه

د مستې جینۍ نښه ده بنګړي ډیر ماتوي

چه لږه نوره مسته شي زر کي ډیر ماتوي

## ګډے وډے

شوق کښے د وصال　　چه مسخوټه ورته شومے

خوله کښے نے سګرټ دے　　زما خوله وسوځیدله

اغے د تهذیب باران　　په ملک دخوار پښتون

ټګ جومات لا هوشو　　هم کوټه نے تخشیدله

نوے زمانه ده　　که د کلو وصل غواړے

اوس په انګریزۍ کښے　　واویلا کوه ببلبله

ما سر دیوے نه ټکاوه　　پیدا شوه بلا

بند دلاس نکریزے شوے　　ګرځي وچلیدله

تلے دے لندن ته مجنون　　اوس ئے رایورزده کي (۱)

او ښه لیلی خرڅه کړه　　موټر کښے ګرځیدله

---

(۱) کي، کړي.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوناست شاعر په کوټ کښې　　　　هغه شان قصې د ګل کوي

شمع سره خاندي　　　　ساقي سره محفل کوي

راشه زما ورور ده　　　　د یار سترګو ته بیتري وايه

ګل و بلبل پرېږده　　　　الجبرا او جومیټري[1] وایه

وایه ستا وجود دی　　　　د دوې ایټ د زاوېو په شان

ښکلې د آواز　　　　زما د رېلېو په شان

د "ستره" کاربوهلی[2]　　　　او شوېلې د "کترین"

او ښه رنګین د کریم ممین　　　　ستا ښکلې جبین

هېر دې کړه رحمان[3] سعدي[4]　　　　غزلې د "بایرن" وایه

"کیټس" او "شکسپیر" ولې　　　　"شیلي" او "ټینی سن" وایه

او زه لېونی خدایه!　　　　کله خاندم کله ژاړمه

لا هم پښتو لا هو شوله

نه په ژړ وته ولاړ یمه

## پلوشه

په غمونو کښې خندا کړه　　　　په خندا کښې غم هېر نه کړې

او د دېږ په سودا کښې　　　　په قیمت د کم هېر نه کړې

د وصال په لمغرو کښې　　　　د فراق ستم هېر نه کړې

(۱) هندسه. (۲) وایه. (۳) صوفي عبد الرحمن مومند (۱۰۴۲-۱۱۲۸ ه ق) (۴) د پارسي ژبې مشهور شاعر او لیکوال شیخ مصلح الدین مصلح بن عبد الله سعدي شیرازي (۶۰۶-۶۹۱ یا ۶۹۴ ه ق)



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

داچه ته نے سترګو ته خاټکے ددے سترګو غم ميړکړے

د الله الله په شور کښے

چه صنم صنم ميړکړے

## پلوشه

نه خوشحاله دے وفا کړم نه خفه دے کړم ستم

ژوندیو تال دے چه عزيزی کله زيرا و کله بم

دایو دوه ګړی ژوندون دے په خندا خندا ئے تیر کړه

دا جهان خدائی جنجال دے

کله وران او کله سم

## پلوشه

ژوند او ساز واړه د باد دے ژوند هغه بويه چه ساز وی

ساز هغه چه سا پکښے وی سا هغه چه نیاز وی

## کړے وړے

خوند وروروجانه دیر کوی خبرے بنوسئی(۱)

دوی وائی . لکه شوی دی . مونږ وایو دوه هوسئ

نوم ئے په کورکوړه دی . ببوغیه بی بی . ايغئ (۲)

زبه خوږه وګران دے راله ئے وکړاوه تریخئ

---

(۱) بنوخئ . (۲) ايغئ : د شعری ضرورت له کبله په د خ ليکل شو :



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مینا، سکروسه، شمشتی خواره، شکرتاتی.
ته سره شوق دې نه ئې لګي بنګړیوالی
وانۍ، وړکیه، کیږدنکیه میدونو ته بېزه بېزه
سه کښې لوړ دے دړ شخومه په دے پېزه

## خاړ دړ نشمه

اے خدایه! عقل راکړه — اے خدایه! پوهه را!
زړه کې مضبوط راکړه — او سینه لویه را
سترګې دلمر راکړه — رحم دخان را
بیا تول غمونه دی — د دې جهان را
ماته نې په سر کړه — خاړ در نشمه

زه به نې ورمه
زه به نې ورمه

یار بها دړا کړه — که همت نه راکوی
غیرتي ورور راکړه — که غیرت نه راکوی
د سکندر بخت را — د دارا خیال را
مت د خالد کښې — توره هلال را
اسلام دې پریږد ماته — خاړ دړ نشمه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه به نه ګټمه

زه به نه ګټمه

د شپې خیمه کښې     د عشق شراب را

پاک مل دلارې     لکه ګلاب را

د سپوږمۍ نور راکړه     لوبو کولوله

د بودۍ تال راکړه     جوتو هلوله

جهان دې پریږده     خمار دې نشمه

جنت به نه کړمه

جنت به نه کړمه

## پلوشه

مخ نه و قبلې ته لیونه ترسې خبر نه وُ
سترګې نه وې وازې د انسان په تماشا

عکس د سپوږمۍ نه د شبنم څاڅکي کښې ولید
خکه په سجده شو د جانان په تماشا

نشته دې د ژوند د خوب تعبیر کتاب کښې نشته دې
سترګې دې کړه پورته د آسمان په تماشا

خدای مکه کښې نشته د منصور د خولې دم واوریده
لاړ شه لیونیه! مشه د خان په تماشا



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بې پروا لکه لولۍ وای

بې پروا لکه لولۍ وې — په کلونو کړ خیدلې
اوچه تول عمر ما شوم وې — په بلا نه اوریدلې
د دنیا د وږ وستو کو — بې خبره کړ خیدلې
چه په خوله د جانان نه وې — د فراق ورېتي غزلې

بې پروا لکه لولۍ وې
په کلونو کړ خیدلې

بې خبره چه آدم وې — د رازونو د حوانه
نا اشنا مجنون وېده وې — د غمونو د ليلی نه
اووچه حسن خبر نه وې — د خپل حسن د غوړ ژنګه

داز مازړه نا اشنا وې
د دې منو بدو د جنګه

# بناړی

سمړې سمړې خا: خیرې په ړا غلې — "دوړ: دوپیسي د کلپې[1]: دوپیسې دي چاه"
سه ګړمي کبې چانسکې خانو به بنار سه دي؟ — غځ سپرت نا جوړه نیبوا[2] ما لکنې منبه نه دي

---

(۱) په هند کو خپل مزدور ته وائي: منډه کړه د دوه پیسه کلپې او دوه پیسه چای خان له راوړه. (۲) نیبو: لیمو



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا قسم دی خان : دو دی نموني سره به نوش کوی

(نا، ونه وی خان موني دغم نه به بې هوش کوی

دا شه لاړ و د بنيم تاله زوم (۱) نه و انتظام کوم

خدايه ونن د بنار کړ يلا مول په تا تمام کوم

شوره هغه کوټ باند ی دی پرون دسیټ د دکان

هغه سیټ د دکان پیسی دی بل د سیټ د دکان

هغه سیټ د کان پیسی یو ورو کی شان مسیت (۲) دی

خوا کښی یو پیل دی یونانی (۳) لیسی شان پلیت دی

اخوا دوه کوټې دی یو راڅی او یو ورخی

هلته ناست دی کوټ بانا، ی دکان یو درزی (۴)

شانته زمونږ کور دی موږ وږ خو په بله لاړی

اسی اونی بیتهی او سان دینی دکار ی

لاړ و که غلطی کوو د غه خی دکان دی

دلته بنه تیکه جوړ یږی الله مهربان دی

---

(۱) خم . (۲) مسجد . (۳) نالی : لښتې (۴) خیاط .



A .S.K B

# حوره

خلاص شراب جنت کښې تکي شو نو راغې جوړه ګل دې په خندا شو یو باغچه کښې د انګوره
ته تري چې تره پته شوې د ګل د بوټي خوا کښې څه مجبور تا شو د بلبل په واویلا کښې

راغې د شبنم اشنا مالیار د باغ غمګین
وې لیدو په ګلو کښې دیوبل ګلاب رنګین

وې شو کاوه په شونډو د سرو کښې دیر په مینه کېښوده
راغله لیلی سرې ئې د مجنون په سینه کېښوده

خوب کښې دے جوړ یا چتر د خپلو خوږو ساز واوریده
چتره د باغ کوټ کښې دے د زوړ وطن آواز واوریده

وې لوړو ستورو ته په مراوو سترګو ګورے
د باغ در ته یاد ګړلے حورې! باغچې نورے

زوړند د دره ستورو نه چې ستا د زړو تمالو
پروت چې په د زلفو کښې د منګ په ځای هلالو

هغه چې به لړو کښې د ستورو ګرځیدلے
یا به د سپوږمۍ شغلو کښې پټه ګلهیدلے

حورې: ما هم بو څه درنا دغه جهان له
تا سره به زه هم خوا کښې تالډاچوم خالان له

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غمگینو سترګو

خوب کښې بابا ولیدم　　مور م پیدا کړم
د سپوږمۍ عکس دې　　زه هم رڼا کړم
قسمت خلق کړې　　کله په دنیا
ځوانۍ ویده کړم　　راویښ لیلی کړم
غمگینو سترګو
دغم اشنا کړم
مینې شاعر کړم　　او غم دانا کړم
یار لیونی کړم　　بیا نې اشنا کړم
مرګی ته خاندم　　ژوند ته ژړا کړم
کله موسکی شم　　کله ژړا کړم
غمگینو سترګو
دغم اشنا کړم



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عدم تشدد

د غضب په نیلی سور شو — د شیرشاه⁽⁵⁾ لمسی باتور
ستر کی یې د پښتنو سرې شوې — چه نیم اور دې او نیم نور
خوان کړل شنه برېتونه تاو بیا — په مستۍ چتر روان دې
د یاړ مستې سترګې وینې — بې خبره د جهان دې
مورینې د په سر قرآن بیا — خور ستر ګې کړه لې توره
د بابا پښتنو سترګو — ور ته وکړه نې قصې نورې
اې زما د نیکه خوږیه! — اې زما د مینې وروره!
اې د نن بابا بچیه! — اې پیاله د نن مورډ!
سترګې د کې در نا ستا — لاس د تش تیږ دې څه شو؟
د غضب په نیلی سور شوې — فولادي زغره دې څه شوه؟
وې په نوې مستۍ مسته — پاکه وینه د پښتون شوه
وې ګوره که لیلی بیا
تش په مینه د مجنون شو

(۵) مزار د شیرشاه (۱۵۴۵ ع م) د هند د بهار د ایالت په سهسرام کې منځ دی.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جدائي

جدائي راغله بیا تکه توره

که لوګی وخوت د عشق له اوره — جدائي راغله بیا تکه توره

---

بې خودي لاړه زړه مستي شو — وریته څپل اور وریته مستي شوه

بلبل ورور راغی د بوټي خواله — ویل جدائي دې مل شه د خاورو لاله

جدائي راغله بیا تکه توره

تازه په سرلي کښې په ما خزان راغی — ساقي کړه خلاص پیوند د بلبل د ورانغي

سرې نې کړه ښکلته بوی د بوستان شو — مجنون شو خاورې روح د جانان شو

جدائي راغله بیا تکه توره

که لوګی وخوت د عشق له اوره

# فلسفه

واوره فلسفه د لیونتوب د لیوني نه — دا آیت خو نه دې خو قرآن کښې ما ویلې دې

مرګ او ژوندګي یو د غم او خوشحالي یو وړ — ژوند چې تر نه وي مرګ ته هم چا لیدلې دے

زړه لګه چا د خوشحالي غم نه شراب دے — تر نه رخصت نشي تا خو غم ته نسکور کړه نصه دے

خوند نه جدا دے د ده نشه یو د دواړو — دواړه کښې خمار د ساقي د سترګو تلي دے

مرګ کښې پټ دے راز د مرګ ژوند نه پرته پوهیږي

دا آیات خو نه دي خو قرآن کښې ما ویلي دي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د فقیرانو سوال

ستر ګو د جانان کښې زما     ښکلي جهانونه دي
وا دے خله دنیا     زه وږے ستا د دنیا نه یم

* * *

کوره د فقیر کچکول کښې     تاج د سکندر دے پروت
زه یم د سخیانو     د شومانو ګدا نه یم

* * *

زه ئي په غرور د رنه     د مینې په نوم غوارم
زه ملنګ بے نیازه     ستا د ویر واویلا نه یم

* * *

هغه مستي غوارم     چه لے مرګ نه شي وژلے
زه د ے دغمونو     د بیګا او سبا نه یم

* * *

یو د سپوږمۍ څاڅکی     ماله تمیک له د جانان را
زه یم د خوبونو     د لالونو ګدا نه یم

* * *

تښتمه دنیاګۍ که دے بښے     نو اے امیره!

ستا شوه ستا دنیا
زه وږے د دنیا نه یم

۱۴ جنوري ۱۹۳۱ع



A .S.K B

# جانان

دوه مینو ستر ګو کښې ړنګونه په سوونه

ماته ئې جهان د ک ړ د کلونو د نورونو

ګوټ ئې د ښار ابود جنت په جهان داکړ

خوب کښې ژوندون داغې شو ږوندو د دکان خونو

سینې د سپوږمۍ د رڼا لپې ډکې ډکې

ونوستی(*) تا خاورو کښې زما په قدمونو

رب دے راته وښود پټ د مینې په رازونو کښې

وا دے چوڼ غوږلی کښې زما ستورے په پلوونو

ساز د حورو او د رمستا د حسن په سازونو کښې

ماته دے د رب وښودو پټ د مینې په رازونو کښې

## رباعي

که تش په عقل وے په لیاقت وے

نه په نصیب وے نه په قسمت وے

شیطان به نن ولوے له جبریله

غني به هم لایق د ولایت وے

---

(*) نوستل: شیندل.



(c) ketabton.com: The Digital Library

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پلوشه

نه په لیونتوب کې فلسفې کړله څه جوړه — نه په فلسفه کې تر څه کړه جوړه لیونی
داکړه وړه دنیا کړه وړه روانه ده — بویه ده ما بویه بویه بخت دے خوار غنی

دا دستور د ښار د وخت تلل د ساز لیدل
سبه خونیتو لاړې چه دیر وشو کنی

## پلوشه

مرتبه تو براق دی که سورے د محمد په شان — مرتبه چې د کعبه که او سیرې د ابراهیم پکښې
مرولار ملکے نه تخی چه نیت دے د ملکې وی — مرتبه ګلشن دکے وته ورته اګی نیم پکښې

## لیونی

یو بنار روانے کړے د نورو نورو کو خودی — یو خیال روان کوے نړې د تلوسو دے
یو سر روانے کړے د ملکے سوز او ملکی ساز — یو عشق د حقیقت د جوړه د عشقونو د مجاز
یو کورے روانے کړے د خوبونو د رنګونو — د تورو تمترینو کړه بلبل وکو سره نکونو
او خاندلی لیونی سترنے د کے د مستونه — وحدت روانے کړی د لکها بت پرستونه

او کله لیونتوب فلسفه کل او صنم وانی
او کله د مستی خبرے دیرے په غم وانی
سرے پا کل غورنی خ د شبنم په پیتوی
او د بل مست خوروی د سترګو غم پرے پتوی



A .S.K B

# سوال ځواب د لیونی او ملا

لیونیه: مینه څه ده؟ — ملا: کور دیو عاشق دی
کوټنۍ دې ګڼې دیرې — د همو رب خالق دی
لیونیه: ایمان څه دی؟ — ملا: دا دې پوخ ګمان
دیو خوب په زړه لیدلی دی — د وصلونو د جانان
لیونیه: جنت څه دې؟ — ملا: ستا جنت پیتی ده
او زما جنت وصال دې — یو خمار یوه مستي ده
لیونیه: حوره څه ده؟ — ملا: لهر(۱)، د خمار دې
یوه کرښه ده شفق ده — د خندا بربرکی ده
لیونیه: نشه څه ده؟ — ملا: دا په سیل واته دی
د مستۍ رنګین محل کښې — دا واته ننواته دی
لیونیه: چه لمونځ څه دې؟ — ملا: خاورې ښکلول دی
د جانان کوڅې ته تلل دی — د امید ارمان کیدل دی
لیونیه: سجده څه ده؟ — ملا: خان خاورې کول دی
د مستۍ د ککلو هار — د یار پښو کښې اچول دی
لیونیه: ژوندون څه دی؟ — ملا: زه یمه ژوندون

---

(۱) چپه - موج.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا زما د خوب لیده دی		د سبا او د پرون
لیونیه! وصال څه دے؟		ملا! بنیست کښے د وبیده دی
دا په ستورو کدیده دی		په سپوږمۍ کښے خوبیده دی
لیونیه! حسن څه دی؟		ملا! لهر د خمار دے
یو موسکی موسکے ښاخیالان دے		یو نرے د رباتار دے
لیونیه! ته نے څوک؟		ملا! زه د چا ارمان

زه یو ګل د چا د ګوتو
پروت په پښو کښے د جانان

دارالامان ۲۵ فروری ۱۹۴۴ ع

## پلوشه

چه بےخودی دیروشی دخودئ رنګ ورکوی
یا بود اتوب لههم دخوانئ رنګ ورکوی

غم چه دیر زور وکړی دخوشحالئ په شان
د ژوندون تار له رقصانه شرنګ ورکوی

ستر کے چه تشے شی خوبونه دک وینی
په تش کاغذ مصور مستانه رنګ ورکوی

سحر له شپه ورکوی شپی له سبا ورکوی
د فلسفیانو سلسله ارنګ دورنګ ورکوی



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کډې وړې

مچ د زمرے سترګے شکوي ماشي د اوښ وینه
خدایه! ستا عجیبه دنیا توره ده که سپینه
مړ لسو ګیدړو ببر شیر په بونډۍ چړګه کړ
سپور شغال په پړانګ دے د غږ خوږ ښکاله ځینه
پریوځي چوارۍ ته خان کانه په دتۍ زړو کړي
ښکلے ستا د کوتو جوړه ځوانه نازنینه
ناسته ده د ډم دلندان لوړ په سرو وړېښمو کښے
لوړ د لوے شیر شاه لوړۍ په لاس دے لوله ځینه
مست مغرور سر د پښتون تیټ سترګے نے ښکته دي
شرم داسي شرم چه شرمونه شرموینه

## پلوشه

که شرنګ دے که ترنګ دے　　ټول راز و نیاز دے
که ښایست که مستي دے　　یو ناز یو انداز دے
که حسن که نور دي　　یو سپین سپین بګړے
که ګل که یسین دے
یو سوز او یو ساز دے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشه

روند به څه قصه د دې رنګین جهان د رنګ وکړي
دا نیمې مړګوټې به څه ستا د طبعې شرنګ وکړي
وچې سپېرې شونډې به په څه ناز او نیاز وکړي
دا غمګینې سترګې به په کومه نشه رنګ وکړي

# دپسرلي شپه

دپسرلي شپه وه مسته مستانه — ستوري ځلېدل د پېرو ښاپېرو ښانه
سپوږمۍ ولاړه وه ښکلې حیرانه — لیونی سوال کړه د خپل جانانه
رڼا م پوهې له د لامکانه را — مستي م سترګو له د خپله ځانه را
د خپله ځانه یاره! د خپله خپله ځانه — لیونی سوال کړه د خپل جانانه
ناګاهه برق شو د رباب د نوره راغې — څه په مستۍ راغې څه په غږو وراغې
مستي شوه ګونګه مستي ګویانه — لیوني سوال وکړه د خپل جانانه
او لیوني چه د رته زړګی کړ لړے — دیر بېخوارګي به پکښې ځای شو یو بڅرے
نوره ډک د ځانه شو ډک د جهانه — لیوني سوال وکړه د خپل جانانه
رباب د نوره لاړه بنیست او رڼا لاړه — او د جانان مستي جانان له بیا لاړه
لیوني پاتې شو خیرے کړیوانه
دپسرلي شپه وه مسته مستانه

شمله. هندوستان - ۷ ستمبر ۱۹۲۴ع



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دعا

دے بے انصافه د زور جهان کښے
دے بے کینې د پېغور جهان کښے

دے په غریبو نسکوره جهان کښے
سترګے لیدونکے را عقل روښان را

زړهٔ م مین را ربه! زړهٔ م جهان را

دے د مطلب اوتکو په دنیا کښے
دے د ړانبکو غونډلو سودا کښے

دے خوږ زهر و ښکلے بلا کښے
مینه بے طمعے را زړه بے ارمان را

سترګے لیدونکی را عقل روښان را

دے د دروغو او تور جهان کښے
دے بے کینې د پېغور جهان کښے

دے د بدنیتو داور جهان کښے
پاک دامنے په شان نیت او ایمان را

سترګے لیدونکی را عقل روښان را

دے بے همته کمزورے دنیا کښے
دے په نفرت توره توره دنیا کښے

. . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . .

مرګ چه ترے ویرېږي داسے ایمان را
سترګے لیدونکے را عقل روښان را

سر بے پروا مستانه د منصور را
سترګے خاکسارے مینے د نور را

ښکلے هر خیال ایمان د سرور را
زړه د ملنګ را او شان د سلطان را

سترګے لیدونکے را عقل روښان را



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شاعري

لږ خیال کړه لږ تال کړه لږ شان دجانان
لږ ننګ کړه غوږ څنګ کړه بیا د ارمان

لږ نور کړه لږ نار کړه لږ سوز کړه لږ ساز
لږ یار د سپوږمۍ شه د ستورو همراز

لږ کوټ د کعبې کښې لږ جل د شیراز
لږ باغ لږ باغچه شه لږ توره بیابان

لږ خیال کړه لږ تال کړه لږ شان دجانان

# جنازه

سر م لوګی شه له تا ستر ګې م
شونډې م خاورې ستا د دیار شه

قربان خلمي لتا نه قطار قطار شه

ته د خزان کښې یو ګل د بهار نې
د توره شپه کښې ته یو زیر د سار نې (*)

ته د بهار خوب د ګلي وران نې
ته یو تصویر د پښتون د ارمان نې

ته د پښتون ناموس او د ننګ نښه
ته د پښتون د سپین ږیری ملنګ نښه

ته زمونږ د صبر د جنګ نښه
ته یو ګواه د پښتون د مړانې

ته یو تصویر د پښتون د ارمان نې

ته ئې د مینې او د زور او طاقت قصه
ته د شهید د مستئ او د شوکت قصه

ته د پښتون د یو خیال او د نیت قصه
ته یو آواز د مظلوم په آسمان نې

ته د بهار خوب د ګلي وران نې

---

(*) سار: سهار.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاس به دې وي پر قوم زه په حصار ښئي — یا به ته په خیبر یا زه په دار ښئي
سر م لوګي شه له تا سترګې م خاړ ښئي — ته د بهار خوب د ګلې وران ئې
ته یو تصویر د پښتون د ارمان ئې

## مور

دا په سترګو د مریم ګښې — چه ژړا وه که خندا وه
چه ئې سوړ په صلیب ولیدا — د عیسی د زلفو ول
داخه ووایمه تاته ؟ — چه رحیم ئې که رحمن ئې
چه په خاوره ګښې کړې خاړه — د ګلاب ښکلې اوربل
دا مستي وه که معراج و ؟ — دا جهان ئې چه روښان کړ
که د نور د یار د سترګو — دریابونه بهیدل
چه دا کفر که ایمان و — چه دا زه ئې لیونۍ کړم
چه دا غم م په خندا شو ! — که مستي م وژړل

## د ښاپیرۍ شهزادګۍ

د سرو زرو محلونه ګښې پرتخت و د لالونو
اوچت د غره په سر و یو کمال د کمالونو
چا پیژ تر خندا وه او مستي مشغولا وه — کاڅونه وو سره نه وو رنګونه وو رڼا وه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ناسته دې د محل کښې شهزادګۍ د بنا پېروده

چه جوړه له خوبونو بنا يسته نوې نزې وه

ما وې اې بي د جنت ! زه ستا د ره ملنګ يمه

دې تنګ دې د جهان د غمونو نه تنګ يمه

لږ پټ مې کړه د غم د توږې سترګو نه محل کښې

زر ورکه دا ذره به شي د ستوري په غوبل کښې

او سترګې ئې راپورته کړې پسته د رنا سپينې

نازکې نازنينې په رنګونو کښې رنګينې

ورو غم پکښې راوخوت لکه لوږه د ماښام

چا ډک کړه له شرابو د سپوږمۍ د رڼا جام

وې واخله دا محل دا تخت دا ټول ساز و سامانه

د غمه پټيږه نشته څوک پټ به شي له ځانه

خه ! پښبوله د جانان دې دا نغمه د جهان يوسه

خه ځا ځکيه : دا دريا ب له يو قطره د ارمان يوسه

ته غم ئې ته خندا ته بهار ئې ته خزان

خو ما ليدلي خوب کښې دي د حسن يو جهان

چه ډوب به په مستۍ کا نادې ستا غم او ستا ارمان

ما وې سر مې لوګې شه له تا سترګې مې قربان



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

راځه چه دې دنو جهان له دواړه شور روان

اې ستړنګه دکونګرو! درباب تال او شرنګ کښې ډوب شه

او اې اوراورکیه! دلمبه رنګ کښې ډوب شه!

دې رنګ رنګ ژوند نیولی یم ماد، تلو ته نه پریږدی (۱)

او ماخپلی وزرې الوتو ته نه پریږدی

# زه

اې دمنطق فلسفو ملا!

اې دجنت دقصو ملا!

اې دجزا او قسمت ملا!

اې ددوزخ او جنت ملا!

مکره ماته قصې دژوند

نا ورم ته خپله ستا قصې دژوند

زه نه مالي یم نه خان د باغ

ماته ته خله کړې داستان د باغ

زه خود شاتو مچۍ یمه

شاتې پیژنم او ګل پیژنم

زه یو وړوکی لوګی یمه

ستا ته رتلل او تلل پیژنم

زه یو څپه دنسیم یمه

بس یو لمحه دما نام پیژنم

زه یو قطره دشرابو یم

شونډې پیژنم او جام پیژنم

نو ماته خپله کړې داستان د باغ

زه نه مالي یم نه خان د باغ

زه خود شاتو یوه مچۍ یمه

شاتې پیژنم او ګل پیژنم

---

(۱) دا شعر نامکمل غوندې دی.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه یوه وره لولکـــۍ یمه         ساتـ له را تلل او تلل پېژنم
زه خوږ شړنګ د کونګرو یمه         پښې د رقاصې کښېټ تال پېژنم
زه یو څړیکه د سوز یمه
غم پېژنم او وصال پېژنم

## تول او تال

په سترګه د پردې دلیونتوب دی لیونیه:
ته نه پېژنې تول، ته تش تال پېژنې

ته سترګې دلیلی وینې لیلی نه وینې
ته زړه د سیپۍ نه پېژنې لال پېژنې

ته وینې د ګلاب سترګو کښې سور د ژوند خمار
نه ئې جال لجرې د وینې نه ئې جنجال پېژنې

او د آدم زویه اې ناز بینه د الله:
د زړو کالو باب کښې ته یو کال پېژنې

زما او ستا خبرې د ماتې ماشي واده دې
زه تول لیلی وینم ته ئې یو خال پېژنې
نه ترک د لوګي ترک یمه د تول د آدم
ته نه پېژنې تول ته تش تال پېژنې

خو خاص د دې د دو لیونو سترګو د پاره
زه جوړ به خپل تصویر کړمه د تګو د غباره



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خرو

تو تو توخرو: ووه تته تته

ارمان زمالنه ئي له فرنګ شنه جامه کړه کته
خبرے اوس پیښتے کوی شمله نے ده بے بته

یو نوے اسلام راغی دخانانو د محلته
چه خوښ ئې دی موټر داکوی هجرت د جماعته

تیز کرځی په پټرولو کله بره کله ښکته
په بله تماخچه کرخیی (*) ویریږی د پنډه ته

ووه تته خرو! ووه تته تته

ارمان زمالنه ی نن په اسلام کښے دے ننګ
ارمان زمالنه ی سبز کال کړلی دی بادرنګ
ارمان زمالنه ی کښے دی چالونه رنګ په رنګ
ارمان زمالنه یه: کله پلن شے کله تنګ
ارمان زمالنه وی کله بره کله ښکته

ووه تته خرو! ووه تته تته

---

(*) کرچی کرځوی۔



A .S.K B

ارمان زمالنه یه : لوړے خیته د هاتی

په نسل فتح خان او په خویونو جلاتی (*)

ارمان زمالنه ے زړه کښې زړه کینه ساتی

ارمان زمالنه ے نن کړی کاروبه خیراتی

زمالنه ے حاجی شونه مکان ئی ډیر ژندلته

ووه تته تته خرو : ووه تته تته

زمالنه ے غصه دے نن غیرت د مسلمان کتهی

مړو له جنت کتی ژوندوله دا جهان کتهی

زوے له نوکری کتی او خان له پاکستان کتهی

داستا د رقیب دلال به نن تا له جانان کتهی

په بلبله تمانچه ساتی وی ویږې دپلته

ووه تته تته خرو ! ووه تته تته

ارمان زمالنه ے چه پخور لکه زمرے دے

په لنه کښې سنه د ډیر نازه دے خوکو بورو کښې نرے دے

په فکر افلاطون دے په اخلاقو بنا پیرے دے

په عقل لوبه ښخین دی خو په ژبه چرچرے دے

ارمان زمالنه ے د ډک د چل او د حکمته

ووه تته تته خرو ! ووه تته تته

---

(*) فتح خان بړیڅ او د جلات مخبر بادغي جلات ته اشاره ده .



(c) ketabton.com: The Digital Library

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله: زما لنډے نن د فرنګ نه ګټي خان

الله: زما لنډے هم ګټي مصر هم ایران

وے نیت م د کعبې دي خو لندن ته دے روان

هند د فیرنګي ته خوړے نه لګي هندوان

ارمان زما لنډے نن نه کوکړے داونه بته

ووه تته تته خره! ووه تته تته

پرون زما لنډے چیرته ولاړو په ډیران ؟

پرون زما لنډے چیرته خوړل پردي توتان

پرون چه جهان وران و، و زما لنډه وودان

پرون د چا په دین و چه دا نن شو مسلمان؟

زما د ښادي مشره! ستا وي غم کښے کومه پته ؟

ووه تته تته خره! ووه تته تته

زما لنډه: واوره د بونډ کے لګي د خار شم

دښمن ته م دښمن شه نو زه یار به ستا د یار شم

کمښے د جانان کوړته زه به ستا د پښو غبار شم

ته خار شه په وطن نو زه به ستا د سترګو خار شم

که سم نه شو روان چه کړه به زه درو هم بنګته

ووه تته تته خره! ووه تته تته



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اسلام

اے په اسلام مینه! اے سپاسی مؤمنه!
نن چه اسلام ستائے ستا په دے غوږ پروت!
دا هغه مخ د تپوس خونړی ښنه پرونه
دا د عقاب پنجے د بنا پیرک دړونه
نن د جنت وعدے پرونی دوزخونه
چار بیته هغه زړه خونړی دی سرونه

اے په اسلام شیدا!
اے سپاسی مؤمنه!

سترگے دے برگے بهر برگ دے ایمان دښنه
پروں ئے خان نه گاته نن دے اسلام گڼی
په خرڅ د ننګ د پښتون خپل ننګ او نام گڼی
زما په وینو چا له ایران او شام گڼی
او د شرابو تاجر ساقی او جام گڼی

اے په اسلام مینه!
اے سپاسی مؤمنه!



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خه به وي رب ته خپل — چه ئې دکوي د ننه
تا د پښتون ستر گوته — د تیاره جال جوړ کړ
او د جناح د خره — دے خرد جال جوړ کړ
غلاف کعبې له دے — دروایت هال جوړ کړ
ماله لندن کښې تا — نوے هلال جوړ کړ
او د بلا نه دے — ما ته بلال جوړ کړ

اے په اسلام شیدا!
اے سیاسي مؤمنه!
گلاب نیوے نه شي
چرے د زور زونه

او د رقیب نوکر — نن ماله یار گڼي
زاغ نن بلبل گڼي — خزان گلزار گڼي
منا پیرک جنگ له روخي — د شهباز پلار گڼي
نن په بورا له گونکت — د گلو هار گڼي
او د کافر نوکر — کړي د اسلام پالنه
اے د کنو وطنه! — اے د رندو وطنه!
او کوږ! شرمنښ ته — کوي د شپون آواز
نن چه بانگو نه کوي — خه ئې کړ پرون آواز



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نفرت کړیکو کښې		د مینې سوز او ساز
پروړن عمل د یزید		او نن نامه د ایاز
لږ خو پام ئې سوچ وکړه		زما ساده پښتونه !

اصلي مومن کړه بیل
له سیاسي مؤمنه !

څوک د عیسی په شان ؟		مستي د دار اخلي ؟
څوک د نمرود کاله کښې ؟		د موسی لار اخلي ؟
څوک د رقیب په محل ؟		نوم د دلدار اخلي ؟
څوک تول جهان غورځوي ؟		ستړگې د یار اخلي ؟
غماز لږ وپیژنه !		ایاز لږ وپیژنه !

اې دکنړو وطنه !
اې درند وطنه !

# سیل

څه چه لږ سیل وکړو		بره آسمان ته څو
ددې تیاره له کوره		د نور جهان ته څو
څه چه مستئ له ور کړو		د بې خودئ وزرې
څه چه جنت ته څو		څه چه رضوان ته څو



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

داد خزان تیار ے — کړو په تیارو کښې دی
خه چه بهار له خو — خه چه بوستان له خو
داد جهان خبرے — داد ملنګ تکورے
تخت تاؤس ته خو — ماه تابان له خو
او د رقیب دکو څے — د ربانی نه کوو
مونږ مستانه لیونی — کور د جانان ته خو
مونږ د جانان د شونډو — شراب څکلی دی
څکه مست مست مجنونان — نن بیابان ته خو
مونږ یو بخرے د نور — لرے لیدلی دی
دګل په شان په خندا — غیږ دخزان ته خو
راځه چه هیرے کړو — د دنیاګۍ قصے

خه چه لږ سیل وکړو
بره آسمان ته خو

۹ جنوري ۱۹۴۶ ع

## ګلے وړے

د محمود غمګینے سترګے — خان له خپل ایاز لټی (*)
که زما بیګانګی نن — ستا د زړه نیاز لټی
د لیلی سترګے ژړیږی — د مجنون د سترګو غم کښې

(*) لټی: لټوي.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نرګس مړاوې مړاوې ګوري — د بلبل آواز لټوي
را څه وجد څه مستي ده! — چې الله ته يې آدم جوړ کړ
که معشوق د مينې ساز لره — د عاشق آواز لټوي
نه دا غم د فلسفي دے — نه دا رنګ د ليوني دے

د کونګړو شهکار روان دے
حقيقت د ساز لټوي

# مسلمان

مسلمان هغه بنده دے — چې شونډې يې تل موسکۍ وي
سترګې يې د رڼا سرے — لکه غوټۍ يو په پسرل موسکۍ وي
سپين ايمان يې لکه تنده — بې د ځانه هر څه سپيڅي
د جانان د دربار وته يې — زلفې ول په ول موسکۍ کي
چې يې زړه ډک د آرام وي — لکه بيخ د سنبله وي
خوله يې ډکه د ګلونو — لکه باغ د صنوبر
داسې مست داسې سرشار — لکه مينه د کافر
اراده کلکه يې کړې — لکه څوکه د خنجر
د وجود هر ځا ښکلي ښيه — سره په مينه د دلبر
په سينه کښې يې رڼا وي — لکه څرکيه د جوهر



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ژړا کښې ئې تاثیر وي — په خندا کښې ئې اثر
مست ئې بر په هر څه بروي — لکه مست د سکندر
د ذرې نور ئې لکه شمع — پرې اورونه بل موسکي دي
د بلبل د خولې آواز ته
راغوږ ئې د ګل موسکي دي

## رڼا د شمع کښې د سحر نور راغی

تاو د غرمې لاړ ماسپښیني شو — لکه د مني یخ باد د سیني شو
سرور د ستړګو د یر خود ذرې کم شو — او د فراق استاځی یخ د صنم شو
ساز کښې سرور نه نن د خاموشۍ خېزي — د هوش جنډه په کور د بیهوشۍ خېزي
بادشاه شرونکی شو د خپله کوره — د شفق سره رنګونه شولره توره
او: ستارې کښې شنګ هغه د مابنام نشته — سرور په ستړګو کښې د خیام نشته
پښې د رقاصې خوبانې هغه نه دې — بانګ د بلال هغه بلال ئې نه دې
په جام کښې کوچ کوچ شراب کمیږي — سپر خلاصیږي ګلاب کمیږي
او: رڼا د شمع کښې د سحر نور راغی — باغ د بلبلو ته نوم د باتور راغی
د غوټو ستړګو له خیال د خزان راغی — لږ مستي لاړه او لږ ارمان راغی

او د فراق سوړې په وصال پرېوت
ستورې راختل او هلال پرېوت

۴ مارچ ۱۹۲۹ ع



A .S.K B

# پلوشه

زما بخت د شمع بخت دے یا به مړ یا به سوځم — یا به بیخ له د دنیا ځم یا به یا سره چیرو ځم
عجبه عجیبه لاره عجیبه کاروان روان دے — ما وې مستي په اوله بیائي که ځمه او که نه ځم

# اګست ۱۹۴۷ع

نن انسان شو د انسان د وینو تږے — نن مجنون شو د جانان د وینو تږے
دا سړے روند په سترګو روند شو لوږے د تندے — چه ترې پورته شو حیوان د وینو تږے
دا محل د چا باچا د شان او شهرنګ دے — که دا پرون دے د بیابان د وینو تږے
دا قصه د یار د کوڅے او استانے ده — که د ظلم یو داستان د وینو تږے
دا سړے نهر چه بنا مار د ته پسخینږی — دا سړے تا وچه کړی جانان د وینو تږے
دا سړے تهر چه لمبه کړی خپلے سترګے — دا سړے خان چه وی د خان د وینو تږے
دا سړے رند چه د آدم په وینو مست کی — دا سړے شه چه کړی آسمان د وینو تږے

لیونیه! د مستۍ باغ ته تر تنبسته
نن د تندے مرے جهان د وینو تږے

# تول (۱)

جال نه دے د دام نه د تول بلکے: تول! — یا به په دوه خانه یاره یا به شی پردول
یا به قلمه یو سے یا تق به دلت (۲) واورے — جال نه دے د دام نه د تول بلکے: تول!

---

(۱) د منګے په شان منزل. (۲) هغه آلے چه غنم پکښے نیولے شی، او که مړ وته دیل کیږی.

# ارمان

ما د ګلو باغ ګړلې د خزان کښې
د جنت خوب مې لیدلې د هجران کښې

ما د ځمکې په مخ هغه لال کتلو
چه موندلې شي په برج د آسمان کښې

او زما په ځواني مست په عشق خوږ زړه
فرق ونه کړه په تصویر او په جانان کښې

زه په خپل ارمان مین دم په تا نه دم
ځکه ئې ډېر ومه په ارمان کښې

ته چه راغلې ستا د زلفو ارمان لاړو
هغه مستي د مجنون پاتې بیابان کښې

ماله سود د وصال نه پاتې شو پکښې دک شو
هغه یار چه مې موندلې و په زیان کښې

زه په غم مست په فراق باندې مل هوښه
مرم د تندې د ګلو نو په باران کښې

پتنګ ړوند شو د لمر سپینې رڼا ړوند کړ
لولګې ګل په سپې ژاړي ګلستان کښې

د ځوانۍ مستي مې شوله ځوانیمرګه
د جنت خوب مې لیدلې د هجران کښې

# بکواس

راځه زما زړګیه یو به ته شې یو به زه
یوه ورځ لولکه او یو ګل د لالا

یو شو ښکنګ د غوړ څنګ ګکا ژنګ دستې
شو سور په ملغ په خندا خندا

روان شو جانان له یو سر او سر د
په نیاز په خرام په مزا مزا (*)

یا خوب به لګې په کټ د لولکۍ کاوه
یا ته به دا ور او ر کوې په رڼا

خو دوب په قطرې د شبنم شو کښې
او چت په ملغ په خندا خندا

(*) مزه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشه

او د بنده مثال لکه خس دے — تو د شي لوګي وګړي رنا کړي جوره
لمبه شي وسوځي خادے ایرشي — بوره ابي پر ژړا کړي جوره

# دوه خبرے

نن م ما ته جانان وکړے دوه خبرے د مستئ
د فقیر کچکول کښے کوره ملغلرے د مستئ
چه زور ؤ که جمال ؤ ما سره په پنبو کښے کینبود
چه به زه ترے کرځیدمه لرے لرے د مستئ
د فراق سلو صلدلربوه لمحه د دیدن بس دے
د غم زد کاله ایرے کړے یو بخرے د مستئ

# کږے وږے

څه که نه وینمه سے ستر کے خارے — زړه پیژنم د سرو ستر کو خمار
نه کعبه م دہ لیدلے نه پرے پیږنم (۱) — نه خرېژنم لولي او لاله زار
نه م حوره دہ لیدلے نه ئے غوارم — زه لیدلے شم سپوږمۍ درنا تار

---

(۱) پوهیږم.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

غریب خضر شوند لیواله د چینې کړ — ماله کوچ راکوي ښه رنګ دستار

لکه ېږ د سمندر ډوب او خاموش دی — دا پروت دی د مستۍ پېغ کښې قرار

او پر ته د قرار جرو کښې مستي ده — عجیبه مرګي ته ده عجیبه لار

په نصیب او په تقدیر یم بړې وکړ — توکل یم شو قسمت یم د اختیار

په جنت او په دوزخ یم څه کار نشته — د دې دواړو بره ماله ده لار

له جزا او د سزا نه بې پروا یم — خو پوهېږم په فراق او په دیدار

که غمونه که فراق وي که دیدار وي — مستول کوي کنځل هم د دلدار

په خندا به شي غني په لمبو سور
په دې شنو سترګو که ستا پېرزو شو اور

# دنیا کې

دنیا کې څه ده غم او غوغا څه ده — سوګ دا او د سوز او سودا ده

لیونتوب یا رخه دا ده — چا چې ورکړې ځان ...منه مشغولا ده

# دا لې

سترګې دې رنګینې دي نیازبینې دي مهینې
شونډې دې تر سکونې او خبرې دې حسینې

ستا سینه د ساز او د ارام پوځ زانه ده
څې دم چا شونډ وله ستا کوتې سپینې سپینې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اے دحاتم لورے! خزانه دعشق دے لوټ کړله

چاله لیپے دکے دکے چاله پیښے پیښے

دا خود جانان د سترګو رنګ د زړه مستي ده

دے نه جوړ جنت دے او د حورو خولے ډیر ښیښے

تا چه باغ تالاکړ د مالیار کوړله به څه یوسے؟

ته چه زړګی تش کړے نو دیار کوړله به څه یوسے؟

۲۹ جولائی ۱۹۴۶ع

# ګلے وړے

پښتو! تکی جنه، تا ملا بابا دهوکه کړ — راضي شوې په پیتی د ګل ګلونه خبر نه شو

او سړغ یې چیرا د ګلے غیب کړی کله کاون — به یې لالا هالا ها دا دتلونه خبر نه شو

منمه د جناح کاکا چه پوخ بنانک له راغی — دو یه دکو تکه د ګولونه خبر نه شو

کوړلیونی ته په مره خیته بودا شو

دخولے او دکولمو د سلسلونه خبر نه شو

# قصه

توره توره شپه د هجری — توده توده دغم قصه

مصـ... صبینه نشه دخوانی — سپینه نبسته د شبنم قصه

ښکلے بنیسته د امید دنیا — سپوره زړه دستم قصه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوږ او مهين دي نوم دي يار — ښکلي پسته د صنم قصه
ما ته قصه د پسرلي وکړه — ناورم د ډير او کرم قصه
ما ته قصه د جانان وکړه — نا ورم د ډير او حرم قصه
ما ته موسکے مخ را واړوه — پرېږده د فضل او کرم قصه
وايه د رحم او نوې خپل — مکړه د دوران او ستم قصه
زور او اور او شور را — دا ده ستا د کرم قصه
شرنګ ستا غوږ پهنګ د زړه — دا ده زما او صنم قصه
اور او خوږے سوز او ساز — څه د مستۍ څه د غم قصه

ما له خندا خندا راځي
مه کړه د دوران او ستم قصه

## ګډے وډے

د يرنېز زما لا لاو خو چيني (۱) رانه خراب کړه
ملا پيتي ته تينګ و خو فيرني رانه خراب کړه
صاحب مټلر کړ فتح خو نه خپته فتح نه کړه
دے ترښے مسالے هندوستاني رانه خراب کړه

---

(۱) صوبه سرحد کښے بورې ته چيني وائي. يو وخت چه بوره ډيره قيمتي شوه د بوره خور پوړه پرمټ لري رشوت او لالچ وُچه د انګريز او د هغه وخت دارو له خوا به د قوي تحريک منکرينو د وړانده کيده. غني دے خبرے ته اشاره کوي.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

او خان لا لا م ورک ؤ په اسلام او په ملت
مرید بنه د جناح ؤ خوجینئ رانه خراب کړ
کوږ لیونی په دیر ځښې او لوے قاضی ؤ
قصے دآدم خان او د ښځانئ رانه خراب کړ

## څوانه

وران د گلستان دے آبلبله: د پښتون د باغ
نوم د رقیب لیک دی په هر بوټی د مجنون د باغ
خوار و زار ځیے د بے هنره بے کماله دے
غوټۍ ئے دی کانه لا سونه شل سترگے پرکاله دی
لال د دوب دے ایرو کښے او مرجان پرټ دے په خاورو کښے
زوے د شهباز کښې چرگۍ خوری په سیل د داوو کښے
پاڅه اخلیه: مستی تورو او ایمان واخله
مشرقی مشه او هشه تنها مشه او نور شه ځيل جانان واخله
خار د دشنو بریتو شم غلام د غلام زوئے ته
پرورت په دوسئ کښے ئے که زر خله ځلمے ئے ته
توره دے راواخله ننگ پښتو او اسلام پوره کړه
لاخپلو مستو سترگو دے نامه د غلام بوره کړه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاځه ننګیالیه ! نن دلبر د جانان وګته

نوم د پښتون وګته ناموس د افغان وګته

ټول جهان حیران کړه د چل شان په تماشا

اے دا احمد (*) زویه ! بچیه د شیر شاه !

# سلام

نه ساز شو نه سوز شو بس مسے ژوند تمام شو

نه خوب شو نه شرنګ شو نه یاد ګل اندام شو

دا توره توره شپه راغله نه ستوری نه سپوږمۍ لري

ځواني وه لاړه لاړله یو کوټ او خالي جام شو

یو ستوری دسبا لاړ سور ګل یو لاله لاړ

سور لمر زیړے زیړے شو لو نرے نرے ما بنام شو

قصه د حسن هیره شوه مزه د مینے تیره شوه

ملا بانګ د سبا وے آخر په سول خیام شو

مستي بے پروائے وګړه په خود ګښے بے خودي دړه

(او)؛ ګوره لیونے هم نن

بادشاه ته په سلام شو

---

(*) لوی احمد شاه بابا (۱۱۶۰ - ۱۱۸۶ ق) چه لیے سپیڅلي سیرته سرسیره د پښتو صاحب دیوان شاعر



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ژمي ماښام

اونن د ژمي ماښام　　د جرړۍ شپه ده
پوست شبنمي باران　　بهر وریږي
غاړه د اور او خیام　　شروع قصه ده
د شاعر سر او ستار　　مهین غږیږي
ټنګ او ټکور د ډرونډ　　ناز او مستي د جانان
شړنګ د ځوانۍ کښې پټ　　شاتار د غم وهي
خندا مستي د ساقي　　بت پرستي د ساقي
ستینې دي (۱) د مرګ سره　　د کونګرو شړنګ وهي
اونن د ژمي ماښام　　د جرړۍ شپه ده
پوست شبنمي باران　　بهر وریږي
یاره شروع کړه ماته　　د غم قصه ده
کله موسکې شي
کله ژړېږي

---

(۱) ستینې: ستاینې هغه ساند چه د مرګ په سر ښځې وائي.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژوند

هر څه د رب او هم د رب — زه یو ما بنام له راغلی یم
باغ او انګور میخانه دیار — زه خو یو جام له راغلی یم
مینه مستۍ او خمار د بل — رقص او خندا او سینګار د بل
ګل او نرګس او ګلزار د بل — زه خو تش دیدار له راغلی یم
زه د لوګي وړمه په شان — ګل او غوټۍ او بهار کومه
زه لکه شمع بلیږمه — ښیست او مستي د دلګي کومه
لوی سمندر د مستۍ لره ما — څاڅکي د رنګ را وړي دي
زه پرې دلمر رڼا لټوم — ما هم مشال بل کړی دی
هر څه د رب او هم د رب — زه یو ما بنام راغلی یم

باغ او انګور میخانه دیار
زه خو یو جام له راغلی یم



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ربّه

اے په بنیست مینه جوړونکی دګلاب ربّه!
ستا ښکلے دنیا شوه دځاروی او دقصاب ربّه!

اے چه دما شوم سترګے جوړے کړے ګل په شان
ووکی او خوږے خبرے د بلبل په شان

زړۀ ئے پاک د بلبل د سر خیال او د ازاره پاک
پاک لکه شبنم ؤ دګناه او د ازاره پاک

تا چه تا ته تهیت د فرښتو ښکلی سره نه کړل
جوړ چه د چا سترګو له تا ستوري او ګلونه کړل

تا چه د چا حسن له د خپلو سترګو نور ورکړ
تا چه د خپل خانه چاله مینه او سرور ورکړ

هغه محبوبه ستا آدم نه دے آدم خوړ کړے
آ بنیسته ګلاب ستا ګلاب نه دے اوړدے اور دے

هغه ستا د لاس ګل پروت په دینو کښے سمسور دے
ستا خلیفه ربّه! آدم نه دے آدم خور دے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تا چه چاله جوړ کړه د حسن او ګلزار قصه
د کړه مشغول لاله د ے د مينے او دلدار قصه

تا چه چاله ستورے او سپوږمۍ او ماښام جوړ کړل
تا چه چاله مينه او مستي او خرام جوړ کړلو

سترګے نۀ دی چې هغه نن د زهرو پيښے ښبني
ستا په نامه ربه! نن سترګے د سړو وينے ښبني

## اول سترګے ستا د ليدو خورا!

زه خو ساز او سرور او خمار پېژنم
زه ليلىٰ پېژنم يا اياز
زه خو غم او غرور او ژړا پېژنم
زۀ نه جانان پېژنم او نه نياز
دے نسکور شکور ته د نور قصے؟
د جنت قصے د جلال قصے؟
منږ کوږے ته د زړه قصے؟
د ماښام قصے د ملال قصے؟

زه خو ګل او چمن او شراب پېژنم
زه بهار پېژنم او خزان
زه خو شرنګ او رنګ او کباب پېژنم
نه ګناه پېژنم نه شيطان
دے شکور نه ستا د ليد د طمع؟
دے نسکور نه تا ته د تلو طمع؟
اول سترګے ستا د ليد و خورا
بيا کړه د مينے د طمع

زه خو ساز او سرور او خمار پېژنم
هغه خوږم ربه! چې خکلے شم
زۀ خو شرنګ او غور خنګ او ستا پېژنم
او جانان هغه چې ليدلے شم



A .S.K B

زه خوناز او مکیز سخا پېژنم — نه بنکلے خط پېژنم بنکلے خال
زه خو سترګې پستے او خوله سره پېژنم — او نه نګینه خندا د وصال
دے نسکورو شمکو ته د نور قصے! — د جنت قصے جلال قصے!
دے کونګو توته د باتور قصے!
د پرواز د بنیست او کمال قصے!

زه سترګے خوږې په ارمان پېژنم — او نوي ترورې مې د مابنام
د سره شونډو خندا د جانان پېژنم — د ساقي په سره ګوتو کښے جام
زه خو یست او منت او خندل پېژنم — نه ګناه پېژنم نه شیطان
زه خو غم او صنم او ژړا پېژنم
نه دعا پېژنم نه اذان

# رباعي

که پتنګ د لمر رڼا نه شي لیدلے — ګنهګار شو که په شمع شو شیدا!
زره کښې چونګ په ایله د خداؤ دېدن شي خلے — په څاڅکي کښې نم پکښې دا د نور دریا
خټک خټک په یو کوټ کښې دا جهان او آسمان راچوم
وو شبنم څاڅکو کښې بحر و سیند که نعوذ رحیم

بیا لا داد د دنیا سره په حساب او کتاب کړي — د رندو سترګو بادشاله په سزا او عذاب کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژبه زما ژبه د مستۍ او د خزان ژبه! اې د تنګو د کوډ کړو د جانانو ژبه!

اې د ښکلو سترګو د خمار او د ارمان ژبه! اې د کشمالې او خیبر او د ریحان ژبه!

ښکله ښکلې به یو کوټ کښې د جهان او آسمان واچاو؟

د شبنم څاڅکي کښې ښکله د سیند د نو دوران واچاو؟

۱۳ نومبر ۱۹۴۲ع

# یاد دې دی

اې د پښتو سترګو بنا پېرۍ! چه ستا دی یاد که هېر؟

هغه دوزخونه تېر او هغه جنتونه تېر

یو غشي نو چه به کړ کل جهان د نوره ډک

یو رنګین نظر به غمګین زړه کړ د سروره ډک

ما ته به سپوږمۍ کړلې د صبر تسلۍ قصې

کل به راته کړلې ما بنا مې کښې د لولۍ قصې

حسن د ځوانۍ او سپېلۍ مینه، سپوږمۍ، زه او ته ودیو

وصل او مستۍ جنت جهان او زه او ته ودیو

اور د جهنم د خوشحال پاسته د ساز مې

لاس ئې د جلات د خوږ ساتنې د ایاز مې

وې به هر نظر کښې د سازونو خزانې پرتې

هره اشاره کښې د عمر د نو ترانې پرتې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړونه ښت په نور نکليده وي په کاکو کښې پټ
مرګ ؤ په خندا بانګ د زړکو په نارو کښې پټ

ساز ؤ بېخودي ده سوځېدو د جهان د ړنګ ؤ د رنګ
زه د وومه او ته وې ځلکه ستوري اسمان د ړنګ ؤ د رنګ

وخت ؤ بې حسابه بې پايانه سمندر ؤ ژوند
پښو کښې جهان پروت ؤ بېنيازه قلندر ؤ ژوند

خيال به د نسيم په شان ګلونو له ما بنام له ته
عقل مرور د حورو سازله او خيام له ته

تن کښې م زړګے نه ؤ يو لال و د شغلونه ډک
سترګے د هر رنګه، هر اندام د ولولونه ډک

واره دنيا وه ماته باغچه د دلربا د کور
هر ستوري به لار ماته ښود له د اشناد کور

اے د پښتو سترګو بنا پېرۍ: چه ستا دي ياد که مير
هغه دوزخونه تېر او هغه جنتونه هېر

۲۷ اکتوبر ۱۹۴۶ ع



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دنیا

ما د نجونې پښو کښې شهزاده په ژړا ولید　　ما په تربت کې ژوندون و میت په دعا ولید

د بې نیازه سترګې د مستۍ د بېخودۍ ډکې　　وچه تر مستۍ شوې شور د سپي په ټکي کې

ما سکندر هم غځولی په سوال ولید

پرون د منات پښو کښې م په ذکر بلال ولید

ما د نجونې پښو کښې شهزاده په ژړا ولید

دا مستانه زړه م د دنیا په سودا ولید

۲۵ - اکتوبر - ۱۹۴۶ء

# ژوندون

دا ژوندون دے دوه ورځې

خلاص به شي او تېر به شي

دا غنې به خاورې شي

ورک به شي او هېر به شي

دا شوندې تو دے خوږے　　دا د غم صنم قصے

دا کاروان روان روان

څې به په مخ تېر به شي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جنتي ته

ته چې جنت کښې مزې د دنیا لټې
د حورو سترګو کښې ده مو خندا لټې

ته په اسمان وریځې کښې د ویران لټې
ته په سپوږمۍ کښې تیارو له مکان لټې

ته د عاشق عاشقۍ او مستۍ نه پېژنې
لیونی نه یې دلربا پرستي نه پېژنې

تا د دنیا د پاره، مینه د جانان ورکړه
مجنون حلوا کښې، بېخودي د بیابان ورکړه

لاس دې ګدا او بند، بادشاهي لا نه فقیر شوې
یا زما خان، دې یاد کونده ورنه د پیر شوې

تول خیته خیته شوې مستي او جانان نه پېژنې
تول بډ بډ بیر شوې، مرګ او میدان نه پېژنې

زما امیر وې، تالې ختنه اتو که خوږ شو زما
زما سرداره: ته مړ وظیفه خور شوې زما



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

قسم په هغه رب، چې نه یې د خلوت دعوه ګیر
چې یې د حورو غلمانو، د جنت دعوه ګیر

تو ږم راواخله، خیته هیره کړه میا، ن ته څه،
ستی پتی شه، په مستی، کوږ د جانان ته څه

لمنې دې وبیږې، په پیتی کښې به حلوا کښې یاره؟
جنت دې بابلو، د تیږو به سودا کښې یاره؟

د دې سی کړانه ده، د لوږې نه کا کا جنتي؛
تپ زمرې بنه دې، له څرې مرې زما جنتي؛

د سامري له زړه بنه ده، ملنګې د موسی
د زر پرست نه، یار پرست بنه دی زما جنتي؛

قسم د حورو په مستي، او په خنداد یار
قسم په شرنګ او په نسیم، او مشغولا د یار

قسم په سترګو په بنایست، او په ځواني د دلبر
قسم په ساز او په سرود، او په ثنا د یار

ته مسجد ته زړو ته کړې، ما ته نوم د یار راخلې
شفق کله کړې، په بدل کښې د ګل خار راخلې

راځه چه زه د ته، جنون او مستي د ښیمه
راځه چه زه د ته، محبوب پرستي د ښیمه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرداري نه کېږي د توهې د مستۍ نه بغیر
الله لیدے نه شي، د حسن پرستۍ نه بغیر

سکندري قلندري، د واړه سره د غوارې
د واړه مستي او خوانمرګي، خندا غرېږ غوارې

ته خو جنت کښې مزے د دنیا کوره
بربنا حوره، او تر سکونه حلوا کوره

د شا تو نهر او کنار ول د شرابو ډک
نمکین غلیمان او بنانګ د کبابو ډک

یاره چه شونډې نیني (*) نو حورې به په څه بنکلوم؟
چه کولمے خاږې شي، کور کوډې به په څه ضغموم

## واوره جنتي!

جنت یو حال دے، د عشق د مستۍ یو رنګ
جنت یو شرنګ د ګلګرو، د ځوانۍ غورځنګ

جنت نازک دے، د ګل د ارمان سے
جنت ښیسته دے، زما د جانان سے

جنت دریابیږ، د مینے او شان دے
هر قطره ئے سپوږمۍ، هر ځاځکي جهان دے

(*) نیني : نه دي.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شان او شرنګ

فلسفي:

داسوز او ساز — داشان او شرنګ
یو سوړے دوخت — داخیال او رنګ

داالم بې کاروان — دا سحر ما بنام
داکوتے او شونډے — اوړے او جام
امید او خندا — اوژړا او خیام

داګل داساز — داشان داشرنګ
یو سوړے دوخت — داخیال او رنګ

دازور دا زر — دتورو پرق
دعا او ژړا — او دحورو پرق
دابرق دسرو شونډو — مغرورو پرق

داچال اوجال — داخیال او رنګ
اهنګ دورنګ — سپاړی تهنګ

دا بنګلی کاته — په نیاز کاته
داورو نازک — په انداز کاته



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دالړو کښې تا    دسپوږمۍ دمخ
نرګس کښې پټ پټ    د اياز کاته

دامينه رنګينه    داشان اوشرنګ
يوسوري دوخت    دخيال اورنګ

داناچ دلولکو    بهار اوګل
ماښام اوخيام    اوستار اوګل
ګلزار اوچغار    اوخمار اوګل

داسر اوسرور    اوشان اوشرنګ
يوسوري درخت    دخيال اورنګ

## شاعر:

نامرد: ته سترګې ديارنه وينې
دسترګو سره وينې خمارنه وينې

ته تهنګ او تکور    اوسرود وينې
مستي اوجنون    ددلدارنه وينې

داسوز اوساز    داشان اوشرنګ
يوتار ددلدار    دخمار اورنګ

دانبکلې کاته    په نياز کاته
داورو نازک    په انداز کاته



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دالړو کښې تا د سپوږمۍ د مخ
نرګس کښې پټ پټ د اياز کاته

دامينه رنګينه داشان او شرنګ
يو تار د دلدار داخمار او رنګ

دا ښکلې کاته په نياز کاته
دا ورو نازک په انداز کاته

دا ناچ د لولکو بهار او ګل
ګلزار او نسيم او ستار او ګل

سرې شونډې د يار د سپرلي په شان
ژوندې کړي مستي او بهار او ګل

دا سر او سرور او شان او شرنګ
يو تار د دلدار دخمار او رنګ

سپره دل د ګلاب او خندا د يار
ګلابه کاته په رضا د يار

انداز د مستۍ او تول د غم
سرې سترګې او شونډې زما د يار

دا مست ماښام کښې د ژوند غورځنګ
يو تار د دلدار او خمار او رنګ



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا اوښ کاروان      دا سحر ماښام
داکوټې اوشونډې      او مے او جام

داتله په امید      په ایمان او زور
داتله په مستئ      پرېوانه دخیام

داګل او ساز      اوشان اوشرنګ
یو تار د دلدار      دخمار او رنګ

## ترانه

نه ما سره زر نه مرجان شته دے
نه ما سره شته دلالونو ډېر (۱)
جانانه: جانان د ملنګ ئې ته
ملنګ سره وی د سوالونو ډېر

ما تاله دا لئ،(۲) راوړے ده
وطنه: مستی او ځوانی نها
سره وینه توده او زړے نر
نر توب او پښتو او خانی زما

زه خان او جهان په دلبر دمه
زه پښو کښے جانان ته خیګر دمه

(۱) ډیری . (۲) دالئ: تحفه، سوغات .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه مست داسې مست ننګیالی یمه
فقیر ته کچکول کښې خپل سر ږدمه

زه مست او سرشار او مجنون یم      زه زړور ننګیالی د پښتون یم
لوګې شه له تا دا خواني زما      مړتوب او پښتو او خاني زما

زه سر او سرې صدقه ور کوم
دسترکو د نړۍ صدقه ور کوم
زه ژوند او خواني تالا کومه نن
مستي او غـرور صدقه ورکوم

ماسره خپل جانان ته بښلې دی      خمار مې رحمان ته بښلې دی
خدا په دلبر لوګې کومه زه      ما هوښ بیابان ته بښلې دی
زه جوش او جنون لوګې کومه له یار      زه تمنګ او تکور صدقه ورکوم
زه نیست او مستي ستا په پښو ږدمه      زه مینه او زور صدقه ورکوم

زه ورک لیونې د منصور په شان
لیلی له په ټمیک کښې قمر ږدم
زه مست داسې مست ننګیالې
فقیر ته کچکول کښې خپل سر ږدم

خو نه ماسره زړ نه مې جانان شته دې      نه ماسره شته دلالونو ډیر
جانانه! جانان د ملنګ نې ته      ملنګ سره وي د سوالونو ډیر



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شاعر او لیلی

## شاعر:

دا ژړونه، ون او مستي او خندا زما
دا ځواني او تازه دے یو دوه ورځے
دا مے سترګو کښے ستا د شونډو رنګ
زور د تور پلو دے یو دوه ورځے

اخر تلونکے هغو تیارو ته یم
چه د کومو تیارو نه راغلے یم
اخر ځم به بیا هغو کے توله
کومو کے تو چه زه غځولے یم

دا ځواني لکه د سپېلي ماښام
یو لمحه د ساز یو قطره د نور
دا خندا مستانه ځوانه ستا
یو جهان د رنګ یو ذره د نور

ستا د سترګو جانان مستي وخوند
ستا د شونډو خمیر او مغرور وخوند
ستا د ګوتو پسته او نخسه وخوند
کریکه د شتے او حور وخوند



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

داد ستر کو بنایست او د شونډو خوند
او دا سوز او ساز او ارمان زما
د نسیم چپه او د ګل غوټۍ
او مستانه حیرانه جانان زما

دا یو تلونکی تلونکی کاروان دی
یوه قصه ده چه وشوه او تیره شوه
دا یو بنکلی بنکلی تصویر د خیال
یوه تپه وه چه وشوه او هیره شوه

باقي یو مغنه د تیاره جهان
باقي یو مغنه، د ډنیا وطن
باقي یو مغنه، خواني داشان
د خوبونو او د خندا وطن

## لیلیٰ :

یوه لپه تو ښه واخله ډک د دریاب د مینې بهیږي(۱)
دا ته ولې په ژړا وې، چه پیاله یم دریاب نه یم؛
تو د جهان د نوره ډک دی، کله: خان د نوره ډک کړه
دا ته ولې په سلګو وې چه سپوږمۍ او آفتاب نه یم

---

(۱) بهیږي.



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اے نایکه! (۱)

اے مالیاره د دې چمن!     اے نایکه د دې جهان!
اے د نرګس او نسیم ربه!     اے سرداره د دې مکان
دا خلیفه او مجنون ستا     ستا د شرابو او حورو خان
دا ستا د کوتو جوړ ګلاب     ستا د چښمانو مخمورو شان

تا خو جوړ کړې د مینې له     ګل دې کاته بیابان له
ته خود مینې لیواله وې     تا خو عاشق کاته ځان له
تا خو بښلو او رحم له     سترګې بنیسته د لیدو کتې
تا خو خمار او خوږ والي له     شونډې دې پېژندو کتې
تا خو خپل شان او کمال له     ورکړه موقع د کمال او شان
ځکه دې سترګو دیارلو     ورکړه رڼا د هلال په شان
تا خو په لې دلربا کړه جوړ     ستوري سپوږمۍ او سبا کړه جوړ
تا خوانی مستي ورکړه     تا خو شیرین او لیلی کړه جوړ
خوږ روند او کوڼ شمکوړ همه     ګل او بهار او جانان نه دیم

---

(۱) بادار، څښتن.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه د غضب او سره اور ډک  د ننګ او مستۍ او خمار نه ونیم
تا کړ جهان د خندا نه ډک  ما کړ د شور او غوغا نه ډک
تا کړ سرور او مستۍ له جوړ  ما کړ د غم او ژړا نه ډک
ما کړ د ورونو په وینو رنګ  ما کړ د خوار د آزاره ډک
ما کړ د ظلم او زور وطن  ما کړ د مرګ د غاړه ډک
تا کړ خوانۍ او دلدار له جوړ  تا کړ خندا او خمار له جوړ
تا کړ سپوږمۍ او ستورو له  ما له پسرلی او یار له جوړ
خو ما کړ د وینو او چغو ډک  ما کړ د سوز او ارمانه ډک
تا کړ سرور او مستۍ له جوړ  ما کړ د غم او ژړا نه ډک
اے مالیاره د دے چمن!  اے نایکه د دے جهان!
دا دنیاګۍ دے سمباله کړه  دا دنیاګۍ دے په تلوده خان!
ګوره! علم او زور دے خوری  ګوره! هنر او شعور دے خوری

نور دے د آدم خور شولو
وګوره! ورور ته ورور دے خوری



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژوند

چه خمار مستي ترې وځي — شراب نه ترخې او به وي
چه سرور د غم ور نه نه وي — دا ژوندون ژوندون د څه وي

چه د مینې زړه شي پاتې — لکه ګل وي رژیدلې
یا شغله یوه د نور وه — یا یو موتې د خزلې

چه په ژوند کښې سخته نه وي — لکه بې مالګې طعام
چه په خوله کښې خندا نه وي — لکه ډک د خاورو جام

چه خواني کښې تکلیف نه وي — لکه پټه میان کښې توره
نه نې برق شي نه شرنګ شي — په زنګونو شي ښخوره

چه آرام وي او سمام وي — او یارې په جایداد وي
خوږ یا نوم شیرینۍ وي — مرهم وپرو فرهاد وي

چه نې سر په خندا وشي — هله خوږ راز و نیاز شي
چه د سپینو تورو جنګ شي — ښکاره هله کښې ایاز شي

ژوند که تش میرني تحمل وي — دا خو به هم شي ختلې
که تش نسل زیاتول وي — دا غونډې هم شي کولې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند نه خېته نه ماڼۍ دی    نه ډېرئ د سرو لالونو
نه یاران نه معشوقې دی    نه باغونه نه ګلونه

ژوند خو تله دی په یو مخه
غورځېدل او پاڅېدل دی
تکې سوز او تکې ساز دې
څه خندل دی څه ژړل دی
ژوند په سترګو د عاشق کښې
پلوشه ده د خمار
په صحرا کښې لټول دی
د آشنا د کوڅې لار



حیدرآباد جیل
۱۱/۹/۱۹۴۷ ع



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غزل

مینه مینه مې کوله خبر نه وم
چې د ورځې مازیګر او ماښام مې شته

لکه زرکه د سپرلي وم په چړچقو
خبر نه وم د ښکاري سره دام مې شته

دنیا ښیښې بناپیرۍ په بستر پروت وم
خبر نه وم چې رقیب مې په بام مې شته

د ساقي په سخاوت باندې مدهوش وم
خبر نه وم تشنه ئې د جام مې شته

سپینه شمع د محل په خندا وائي
د رڼا سره د سولو سلام مې شته

دا ویل لیونې ډک د رباب له لاره
آ ورو بل چیرته یو ښکلې مقام مې شته

خوږ خوږ چې د ملا دروغ معلوم کړو
دی وئ هلته مستۍ انتظام مې شته

حیدرآباد جیل سند



A.S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عبادت

د ملا عبادت کسب ... پاڅېدل او کېناستل
د حلوا په ارمانونو ... تل الله الله کول

د ملا مینه عجیبه ... په پیټی مینېدل
او د حورو لمغرو ته ... د خر چو کو ځنېدل

د صوفي عبادت ویرد ے ... سو ځېدل او ژړېدل
د رحمن رحیم د نوم نه ... رپېدل او وېرېدل

د صوفي مینه عجبه ... د زړه ګل مړاوے کول
بے کنار دریاب د حسن ... په کوزه کښے بندول

د زاهد عبادت چړے ... سوال منت ژړا کول
په جنت او د دنیا کښے ... د فاېدے سودا کول

د زاهد مینه عجبه ... په خپل ځان مینېدل
د دریا سپی جوته کړے ... د لړ باله ورکول

د غني عبادت مینه ... ځان جانان کښے ورکول
د مهینو سترګو شړنګ ته ... ګډېدل او خندېدل

د غني مینه عجبه ... تول بېلات (*) هیڅ نه ګڼل
د اخپل ځان او جهان وار ه ... یو خمار کښے ډوبول

(*) بېلات ، باېزل .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دایلم توتیان

چا بند کړي دي پنجرو کښې — دا ایلم[1] دسر توتیان

چا عقاب په لاس کېنولې — د مرز هسې چغولې
چا منصور په سر او سپینو — او خوږ وباند ے غلولې
چا قسمت په زور ترلې — د کوډۍ هسې لوبولې
نن د کومې بادشاهان دي — سکندر او شاه جهان
خوک خپولې[2] شي کوڅه کښې — سمندر بې پایان
سیلاب چا د ے منع کړ ے — په بند ونو د شنو شګو
د قسمت په کور کښې نشته — شمیر د ډېرو او د لږو
بادشاهي لښکرے اړے — تل د وږو او د تږو
فقیري چه فقیري وي — بادشاهي ترے شه قربان
چا بند کړے دے پنجرو کښې — دا ایلم د سر توتیان
چا سرود په لاس کېنولې — خوک مستي شي سوځولې ؟

(۱) ایلم : د سوات په سیمو کې یو هسک غر دی . (۲) خپولے : ځپلی .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بهار ولولې څوک شي — څوک د پښو لاندې کولې ؟
که ګلکونه ژوندي مړه کړي — ژوند څوک نه شي مړ کولې
چا د بوټين منع کړې — شنه ګلونه د ريحان ؟
چا بند کړي دي پنجره کښې — دا ايلم د سر توتيان
بلبل ناست بندي پنجره کښې — د سپرلي خوبونه ويني
په شبنم زير ميدانونه — د نرګس ګلونه ويني
سره ګلاب مست او خندان دي — د لولو پرونه ويني
ولې (۱) ريبار ته راشه نو — دا پيغام د غني خان
څوک اچولې شي کوزه کښې — سمندر بې پايان ؟

# سزا او جزا

هيڅ په پته دې پوه نه شو — د سزا او د جزا
تا ته يو دې لويه خدايه! — هم خندا او ژړا
څوک بېستخوانې کړې خارې — په يو خيال باندې مين شي
څوک غمونه ويني وخپې — چه په مال باندې مين شي
څوک غوټه په رنګ او تال کښې — په يو خال باندې مين شي
څوک مدهوش په حق او نور — په هلال باندې مين شي

---

(۱) والی .



A .S.K B

اخو! ستا سپوږمۍ هر چا ته خاندي    که زهري دي که بلا

هیڅ په پته دې پوه نه شوو    د سزا او د جزا

څوک په پټو سترګو ډوبیږي    سمندر کښې د غرور

څوک په تخت لکه فرعون    ناست دي خاندي په سرور

څوک په څنګه پروت ملنګ دی    یاد دي قیصې د طور

څوک په وینه مور خدا نه    څوک په مینه کښې نغوړ

روند قسمت کړی زړتی نه کړی    د فرعون او د موسیٰ

هیڅ په پته دي پوه نه شوو    د سزا او د جزا

عجیبه ده فرق نشته    د غرور او د نیاز

عجیبه ده بیلتون نشته    د یزید او د ایاز

عجیبه ده انعام یو دی    د تپوس او د شهباز

تا ته واړه چغې یو دي    که د ویرو دي که د ساز

تا ته یو دي لویه خدایه!    هم خندا هم ژړا

هیڅ په پته دې پوه نه شوو    د سزا او د جزا

یو خوا سره سترګې شاهین    پنجو کښې پروت ژړیږي

بل خوا زیر سترګې شغال    په ټغلو کښې لوغړیږي

یو خوا ننګ مینه او توره    وړه دره سوځي او ږ کیږي

بل خوا چل د مکر دروغ    را خوریږي زرغونیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

آستا غښتې لا پې څه شوې؟ — د قسمت او د سزا
ماته یو دې لو یه خدایه؟ — هم خندا او هم ژړا

# ماتم

ذلخونه وګې غم له جوړې — ستا دا سترګې د غم ډکې
چاتې بڅرېږه اړئې — د افسوس او ماتم ډکې
په ژړا بانډې چانه دی، سړې مانۍ اباد کړې
په شېرو بانډې چانه دی، مړ ښېږۍ آزاد کړې

داستا کوتې د پولا دو — تش دعا زارۍ له نه دی
داستا مټې د مړانې — جوړ دې خوارۍ لمنه دی
داستا زور پښتو او تورې، ستا د سر وېښته غوړخنګ
چه ښکلی سړې تیتېږي څو آشکارې ډېر بل رنګ

پاڅه پاڅه چېچه وکړه — ستا د سر وېښته غوړخنګ
نه آفت ئې نه غضب ئې — د سور تېل ړیو ګوزارې
ستا د لاس قسمت لاسر دې، ورانو جوړېدل نه لکا
ستا په سترګو کښې اجل دې، وړکول سوڅول دوی کا

د زغون دکوړ په شانې — د احصار خاورې ایرې کړه
دا مغرور سر تس نس کړه — دا غرور ذرې ذرې کړه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاغمو ښیه دنیاته دپښتون دججو ننګ
پاغمواړه شغالته . دویستلو توره شرنګ

# پلوشه

زور شومه زور شومه　　مسلمان نه شومه
ارماني ډیر شومه
خوپښیمان نه شومه

# شاعري

دسکرتو بیخ مِ وښکه　　سر مِ خوږ که په ګړ ولو
ډیر مسره ونه مِ رایادکړه　　یو هم نه دی دیاد ولو
نه تپه شوه نه چاربیته　　نه غزل نه نیمګۍ شوه
نه قصه شوه نه بدله　　نه ساقي شو نه کوکۍ شوه
شاعري هم یارانه ده　　نه په زور نه په زارۍ شي
نه په چل نه په هنر شي　　نه په مال نه په خوارۍ شي
شاعري لکه باران دی　　کله تند ناکړه زهر شي
ناګمانه داسې شړق شي　　چه صحرا م سمندر شي
کله نرم نرم پشم　　پوست نازک نازک ښیښین



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نسیم په شان مستانه
د مخمل مسې مهین
کله سبه درنه شیبه شي
په اوږده صحرا وریږي
کله تور باران د ژمي
نه کمیږي نه ودریږي
کله شر د پشکال شي
چرته لمر چرته باران
عجیبه لکه د ژوند
څه خفه او څه خندان
کله داسې سوکړه راشي
باغ چمن شي کربلا
لا د خاورو وتي نه وي
چه بیا خاورې شي لالا
کاش چه وي زما په لاس کښې
د وریځو فرښتې
ما به هر وخت ښکلې ښکلې
سپینې لړې راوستې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما بنام به م جوړولو — په قبله د بودی تال
زه د رخ به م ستایلو — د اشنا د زنے خال
ولے څه وکړم جانانه — واک د بل اختیار د بل دے
دا به تا مینے ستړے کے — د دوی نور خمار د بل دے
دا چه ته پرے راته خاندے — د دے سر شونډو د دے جار شم
د دوی نیست مستی د بل ده — د دوی سر سینګار د بل دے
(او بس:) دا د دوی واکم بس دے — چه زه وېم د ربته غزلے
ته نیسته به پښتو مست ژړګو — راته ګورے غلے غلے
چه سات کړی مشغول شو — بیا به څو زما بلبلے:

مونږ له توره اوږده شپه ده
دی د ما دا یوے بلے

حیدرآباد جیل
۴ - ستمبر - ۱۹۴۹ ع

# ټک

ماله قصه د دروغو تاته د خوږ قسم
بے وفا ژبے م هسے تاته وے صنم صنم
ستا معصومو سترګو وکړه په تکی باندے اعتبار
لکه ونیسی ماشوم چه په خندا خندا بناما



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما چې ستا په سرو لبانو قسم وخوړ ه مابنام
د شرابو په نامه مې ډېر کړ ډک دخاورو جام

ستا معصومو سترګو نه وې لباسي سترګي ليدلي
خکلۀ ډېر پکښې روښانه شوې د مينې ډيوې بلې

زه وم غل د دوو څاڅکو تا د حسن دریاب راکړ
ما په چل چړنګ د کوکو تا د مينې سيلاب راکړ

تا د خپل ايمان په زور زه کافر کړم مسلمان
زما زړه کښې دې کړل خاورې د تکي مه بوتان

ستا د شونډو غلا له لاړ وم خپل ځيګر مې پکښې بايله
د خوارۍ او تنګۍ جمع تول دفتر مې پکښې بايله

جام مې وړے وړوکوټ له دوب دریاب کښې د سرو د شوم
د منصور پېښو له لاړ وم ليونے شوم زه منصور شوم

ليونے نه زړه کي يووړ، نازنينو، مو سکو شونډو
غلا له تړه په داکه واوريد زړه نے وچاود په منا

حیدرآباد جیل
۱۲- ستمبر ۱۹۴۸ ع



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کډے وړے

یاد مې باندے کړے دے — خیال پخوم پلاو
ځان له سیخکی وریتوم — د زړه داور په تاو
ناست لکه منزرک یم — جیلخانه کښے په ډے ساو
څوک به ترې خدایه! — د قسمت د پیشو میاو
خلاص که کړے نه په چل شو — لیوانی او نه په داو
ګډ ئے په ګلزار کړو — نصیب بے موسمه لاو (۱)
کوره کشمیری ته — په پښتو کوی دباو
کال چه شی کونی، بغ
هم مرغی ونی (۲) د تلاو

## پلوشه

کعبه جوړه ابراهیم کړه
وایه څوک لوے شو او چت شو؟
زه جوړ کړے یم الله
وایه وایه اے ملا!

(۱) لو. (۲) ورمی.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پائوس

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لکه واخلي چه ماشوم

لکه واخلي چه ماشوم — دکـ شکرے دسرو کالونو
خاندې چغې وهي غوزنې نے — پسے پسے پـه موجونو
دے په غاړه ورته خاندې — خو سیلاب نے کلاب یوسی
نه په زور د سیلاب پوهیږی — نه په قدر د کـــکالونو
دا سے مارا خپل جمدون[1] — د مستے سیلاب کښی لاهو که
په خپل لاس مې ځان بندی که — د خوقسمـــه دوزخونو
لکه واخلي چه ماشوم — دکـ تالے دسرو او سپینو
په خندا خندا نے نولي[*] — په کوڅو پـه بازارونو
غله والی واه واه د نر زوبه — خه سخي ارسلاخان نے
دے نه زور د دولت وینی — نه در دونه دغـــمونو
دا سے مارا خپل جمدون — ژرک[2] که خاورے که ایرے که
ځان مې وتره په خپـــله — د غضب په زنځیـــرونو

---

(۱) جمدون = ژوندون. (۲) ژرک = زرکې. (*) نولي = لوټي = شیندي.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادا ژوند بیللے جنګ دے

او بیا زه پهلوان نه یم

ماخو هیڅوک هم اوُ نه لیدل

چه زوره ور شو په غمونو

زه لاویښ نه وم د خوبه — چه زیړے مازیګرے شو

چه ئے زه په قدر پوئے شوم — ګلزار تش وُو د ګلونو

اوس نه رنګ شته نه مستی شته — نه سیلاب شته نه ګلونه

دیو خوب لیدو وو تیر شو — ژوندشو د ک دارمانونو

باغ د ګلوم تالاشو — دالا لونوشکور م تش شو

دالا واوره ملاجان — کیُ (*) تنګ تنګ د حسابونو

وخت او ژوند د تقدیر غښه دے

دیوا ورے بل له بوتلم

داجمد ون وُو که یو دام دوُ

دا وردونو د غمونو

(*) کیُ: کوی.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تبسم

خوږ لیوني شي — خوږ لیونتوب شي
خوږ شي په خوب ویده — خوږ رنګین خوب شي
خوږ احرام وتړي — مخ په قبله شي
خوږ جلال واغوندي — پاکه کعبه شي
خوږ مست بورا شي — مسته لولئ شي
خوږ په نګینه نیاز بینه — د ګل غوټئ شي
خوږ یو د درد تصویر — د غم قصه شي
خوږ ے په مینه مینه — په ننداره شي
یو خو ساعته د رنګ — د خندا تیر شي

اخر تیاره را شي
او واره هیر شي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بیا

قسمت مې روند جولا دے ناست کړې (۱)، ته په آرام
د منو بلو عجبه تنسته بُـدۀ روانـــه

د وخت ملګو چلیږي زر سپنهي (۲)، ټپشي تمام
خبر نه یم داخه له او داخه جوړي زما نه

زه کړ خمه چاپیره تپو سونه کوم مدام
د ګل نه، د ساقي نه، د کتاب نه د ملانه

داخه له دے جوړ شوے دوره اوږد انتظام
داخه وي چه ژوند راوړي او مرګ یوسي د دُنیانه

دا لکه هسے رفتار دے که لري چرته مقام
تیارو نه دارا غلے لاړ تیارو ته ده روانـــه

اوه! هغه دِ والاړ دے په کلو نو کښ خیام
ولي ژوند خاور ےایر د بے د مینے او جانانه (۳)

---

(۱) د جولا د او بدلو دستګاه.

(۲) سپنهي. (۳) ولي: والي.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَے درد لړلی ژوند کښ بےخودی کښ دَ آرام
د ظلم په دے اور کښ یو ساقی دے مهربانه
دا مست بے خوده سړے، نشه ځوانی او دِلارام
راواخله په شکرونو ئے قبول که غنی خانه
خو هغه دے جمات کښ اوچت بانګ او دَ امام
وئ دا دنیا بلا ده تښتـه تښتـه دَ بلائنه
ساقی ده ته ډک کړے دے د سور انګاره جام
دا سرے شونډے دے اور دے دَ دوزخ په لاره روانه
دا ژوند د دنیا څه دے، لوبے ټوقے مسخرے دی
جنت کښ شرابونه، سپین غلمان حورے مستانه
سقراط وکړه آواز وے دَ دے ټولو دے سرسام
هیچرته رښا نشته بے د عقل دَ جهانه
په پوهه او په فکر کښ دے حُسن هم آرام
دا نور دے د رب نُور د آدم خاوره کښ ګړ بنانه
دا خبره دی نه پوهیږی وائی وهم ته الهام
منطق او فلسفه ده چه پے ګرانه شی آسانه
راځه روح له دِ هم ماپوره کړے انتظام
که بُت وی او که رَبّ څه بره آمنه دَ خانه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو چاړه چاپېره شور هر خوا ولاړ وَ یو امام
هر یو وے زه په سمه یم دا نور دي ټول په وړانه

یو یو ته ورنژدے شوم منبه مِ ولټول تمام
یو هم نه کړم آزاد دَ ځنځیرونو دَ سودانه

مستي مِ کته داسے چه نه مے غواړي نه جام
هغوي ډیر وړک، کوښکا مرے جوړ وُ زمانه

جانان مِ کته داسے چه مِ هوش واخلي تمام
هر ساز مِ دمستئ نه هم سوز مِ دَ ژړانه

دلبر مِ کته داسے چه وي تل روښان په بام
یو ګل د رڼا جوړ، خبر دَ مینے او ارمانه

یوازے تړے روان شوم زړګي کښے مِ ماښام
نصیب نه کیله منـد، په هوش جمـدونِ باندے ستومانه

ورغلے مِ په ولي باندے لاس کینبو دخیام (1)
وے په دے کوڅو کښے څه تلے راغلے یم د پخوانه

دخاور روده آدم آخر دخاورے دے مقام
هیڅ داسے علم نشته چه ژوند خلاص کړيَ دخزانه

دوخت هر لمحه ده هم شروع او هم انجام
دژوند راز و نه مرګ کښے دي پټ شوي دانسانه

---

(۱) عمرخیام (۴۴۰-۴۴۱ - ۵۱۵ یا ۵۳۰ هـ ق)



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه ئې سرښته نه لګي يو دايره ده ځله د جام
رنګا د تيارې تاو ده او تيارې تاو د ... سرنهانه
په خود کښې درد دے، او درد، بے خودئ کښې آرام
دے درد له لړ ځوند کښې يو ساقي دے مهربانه
دا مست مستانه سر، نشته ځواني او دل آرام
د دې به زيات څه ده کړي، او زيات څه غواړې د چانه
چا پيره خيشت او رنګ تش د کتلو په انعام
په هر متي د خاورے کښې زرګونه ګلستانه
يو ښا غلي کښې ... د ژوند، د عقل، پوهې، ګل سمام
زرګونه د نيئ ... بڼ او د بابانه
د تال او ساز او شرنګ او غورزنګ بے ميو خمار
دا ټکلے ليو نتوب د بے وجوده شان هوانه
دا ستے هنرمند هنر له نشته دے تمام
قسم د جهانونه شته ښايسته د د جهانه
د نيش نه لاروان شو شے شو د دا ننګين مقام
چه هر چرته د بيائي زه، ور څه ورله خندانه
او پرين ده جولا کے خپلے کله ئې نه په آرام
جوړئي دے چه کم شے وي که وي ګرانه که ارزانه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

او چه دا قوته پوره شي، دا پښتنې(۵) شي تمام
نو ځه په خندا یاره دکډې نه دَ جولانه
چه تش یو یاد او هوش شے لکه بوي باغ کښ بانام
آزاد شے دَ دے توروزنځیرونو د دُنیانه
بیا بل جهان، او نوے هوش، او نوے مست خمار
او بل قسمه سرود نورو پردوکښې د ستار

---

(۵) پښې : سپښې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لیلهر

دکارغه خوله کړه ‎ ژبه دمار کړه

دچرګی عقل کړه ‎ زړه دسیاړکړه

مړے دسپی کړه ‎ چه بنسه غیارکه

ضد دکچر کړه ‎ غرور پرے بار کړه

خته د ـــــکلی ‎ دیران دبنسار کړه

بیاچه ته روند ‎ کولال یو یار کړه

تاله به نوے

لیده تیار کړه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څوکه

لړې لړې په وږمو کښې یو سپین څوکه ښکاري
خو په لاره کښې دي غوږونه اوږدې دي غمونو

غلې غلې مې رګونو کښې یو ښکلې آواز ولې
پکښې تور سري سازونه، زیړ یا سپینې د کلونو

رو رو پټ پټ مې ځیګر کښې یو ټمبین ستا غږیږي
عجب ساز د خاموشۍ دې لیونی کړم سُرونو

او ما ته ډېره لویه لاره، د ازغو د تیارو پاتې
خو چې دغه څوکه وینم اور مې بل شي په رګونو

ډک د ګلو کور مې کور شي، هر ګلاب راته سپوږمۍ شي
همه خښت(*) د ژوند کړي پستې تورې لړې د غمونو

زړه مې وائي چې پاڅه پاڅه غني خان پسې ملنګ کړه!
دغه څوکه کښې پټ پروت دې ستا مطلب د مطلبونو

---

(*) خښت: بنایست.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وخت

تکنه غرمه د لیونو د ګرځیدو دے وخت
لږه، تر مکئ (۱) د یاره د سترګو د لیدو دے وخت

زیړ ماز یګرے د ژوند غمګینه شان نشه لري
توره شپه د ژمي د اورولو اوریدو دے وخت

هغه د سپوږمۍ د ونو خوګوګښ مسکۍ شوله
پاڅیږه لالیه! اوس د باغ د ګرځیدو دے وخت

لاړه ساقي بوده ماشو، خیام هم د بزمه پریوتو
اے د مستۍ جامه دغه ستا د ماتیدو دے وخت

مه ګوره آئینه ګښ لیلے هسے به دِ وژړی (۲)
لاړه چه ځوانی شي بیا مه وخت د ژړیدو دے وخت

(۱) مړکی: ترو ږمی. (۲) وژړی: وژړېږی.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرګ به ما مئین شو، اوس ئې هم وخت د سلام راځي
وئ مخ که یاره ماته اوس نه هو نه د لیدو دې وخت
مګر صبر اوکړه لږ شان اور م به وجود کښې شته
ډیر م دي سوزولي اوس نه ما د سوزیدو دې وخت
هغه سے م ساز لیونی، مست نظر مستولے شي
وینه کښې م اور دې دول د ګډیدو دې وخت
سوز او ساز چه لاړه شي، تشخاوره شم نور اشنا یاره!
دره به شم سینې له دغه وخت د ټوکیدو دې وخت



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وائی ملا جان

وائی ملا جان چه په جنت کښې حورې پلې دي
غټې غټې ، سپینې سپینې ، مستې او بربنډې دي
کوره ډمباڼې چه ئې خُله د لاړو ډکه شوه
بنا نګو(١) کښې د حورو ئې ، الحمد قامو" کړه شوه
کوره د آشنا په بېړ لاړې راروانې شوې
قول شهوت شهوت ، سترګې و راسره ئې تښتا شوې
دا وجود د خاورې ، دے نه پائی جنتو کښې
دا د خاورې ګل مست وي د خاورې په کاڼو کښې
خاوره به شي خاوره یو احساس او یاد به پاتې شي
ساز سره به لاړ شي خوږ ئې تښې باد به پاتې شي
زه به حور څه کړم(١) چه ئې غېږ کښې کینوے نشم
غټو مستو سترګو ته ئې په سرو سترګو کتے نشم

(١) ورنوکی .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

او دا وجود که بیا شي جوړ شهوت حورې شراب وي
مست مست هلکان چه به هم بنګلو هم خراب وي
کوره ملا کې ته دې چه لس ځې دې له کیره کړي
ته به ورله کورې او هغه به دې له تیره کړي
او لونه دې راونیسي. لا مور دې له په مخه کړي
تول خیلخانه به دې له کرمه کړي او ګخه کړي
دغه که جنت وي ملا ربّ دې ورله بوځه زر
دغه دله توب نه زما زړه خله دې غوښه سقر
یا خو وجود نه لري یو مست او رنګین خوب دې
حورې او غلمان د مینې خیشت او لیونتوب دې
یا داته چه وګړه دار ښتیا ستا په کتاب کښې وي
تول غلمان به مړه وي پېښتانه به په عذاب کښې وي
تالا ملا جانه ربّ دې درکړي جنتونه ډیر
اوس پوره شوم چه وو دا او بندکوې مخونه ډیر
زه به سور دوزخ له خپل غیرت او غرور یوسمه
ځان سره به خپله حیا. خیشت او سرور یوسمه
او روی که عذاب وي تیروم به ئې لکه خان
ته همسایه لا اس شره د ښځې نه غلمان



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشه

ژوند او ساز واړه د باد دی
ژوند هغه بویه چه ساز وی
ساز هغه چه ساپکښې وي
ساه هغه چه د نیاز وي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نرس

د دردمند خوار خلقت
خدمت نه د عبادت دے

لکه مور، رحم او مینه
د حوا اصلي فطرت دے

دا د مرګ سره جګړے
دا نرتوب او شجاعت دے

دا د درد په اور کښې رحم
او تیارو کښې سپین مشال

هر ژوندي د ښځے نه دے
هم ئے خیښت او هم کمال

که دنیا ورته سپک ګوري
دنیا خوک دي پېژندلي

د شمکورو خره کالېده
هر یو لال ئے خاورے کړے

لور د خیښت او مور د ژوندُ
دے له ربّ پیدا حوا کړه

دا خو مونږ ه شاعرانو
یا ساقي یا دلربا کړه

د مغرب قېچر تهذیب دا
یو مسته شان بلا کړه

نه ئے مور کړه نه ئے خور کړه
نے د دین نے د دنیا کړه

د حوا اصلي مقام
رحم مینه او خدمت دے
دا د مرګ سره جګړے
خدمت نه د عبادت دے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپه وه د سپرلي

شپه وه د سپرلي ژوند ه پيدلو په ګلونو کښ
ټول جهان روښانه وو، وه تيارې زما خيالونو کښ
او ښکلي د سپوږمۍ رڼا د مينې د آواز په شان
روح ئې د زړونو نيوه د حُسن په دامونو کښ
څه دَ ولې ولې په دریاب کښ روک لاهو ومه
ډوب په بې حسابه لاجوابه تپوسونو کښ
ماوې ژوند څنګه دے، يو جنجال چه معنى نه لرى
بې مطلبه د ژړلي اور کښ او غمونو کښ
کوز شومه چمن ته د لښتي غاړے ته لاړمه
څاڅکي له دَ جوندم کته کوږ چَله سينو نو کښ
حُسن باغ کښ او خندل د هر سوال ئې جواب و کا
ژوند شو لکه ناوے د امید په سرو ګلونو کښ
هغه سرے غوټۍ چه قسمت کښې سپر دل نه وو
غوټۍ شوې د بادلاه خور شوے په بادونو کښ



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېرې چغې کړه چې ژوند د روند دیوه نه ډ

نه د غم قصه بنا دی د اور په زخمیرونو کښې

حُسن دې بس حُسن چې هم خدای او هم جانان دې

د فاني مکان کښې بل مثال د لامکان دے

یو د ګلاب غنچې کښې چه ښکاره کوم جوابونه دي

نشته یو هم نشته د منطق په کتابونو کښې

مینه چه تالا شي یو امید شي یو ارمان شي ټول

حُسن په خلا شي تورو لړو د غمونو کښې

ژوند او درد او غم همه ګړی شي د زنځیر د نود

مرګ او قسمت ډوب شي په دریاب د خمارونو کښې

وخت بابا د تال دې، بې پایانه سمندر دے

تال د ساز ژوندون دې، چه ګډیږي په سرونو کښې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کیمیاګر

راته ښکاري جوړ پاست — په آسمان کښې کیمیاګر دی
کله سره زر کاندي خاورې — کله خاورې زر کوي
ډېر ګلونه یې راغونډ کړل — د جانان شونډې یې کړې جوړې
چه د ګلاب خاورې — په کوم ګل ګجر کوي

د تقوی زر شپې کړې جمع
د عشق یو ساعت یې جوړ کړې
څه به ناز غني ته خاندي
چه دلبر دلبر کوي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دبودے تال

داکم جانان له بابه جوړ بنکلے تال کښ
رنا بندی کړے خنکه د رنګ په جال کښ
داغه له جوړ که چا . دَغه تصویر دے دا
خوب دَ یو خوب دَے دا . که نه تعبیر دے دا
که دجنت ورچا لمحے له لرے که
که دوصال ارمان دَچا د لمکیر دے دا
که مخ زما د خوانئے، ارمان او خیال کښ
که امید ونه خاندی ، مخ دَجمال کښ
بنکلے دهوکه دَنظر وه ، په آسمان کښ سراب
که دَکتاب دَجمد وان . ډیوه نګین غوندے باب
دریاب د رنګ . که ثبوت ، چه رب مُبین دَ په خیشت
. بنه صحرا کښ روان ، یو دَنور ونور . دریاب



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

که رنګ د یار د ستر ګو، د و بلې په خیال کښې
که د اجانان مسکې شو، خوب د وصال کښې
تڅرنې تالې بلې باغ ته ماښام کښې
ځکې خپلې او سپکې ګلاب د غم په جام کښې
په مړاو مړاو ستر ګو، والي نصیب ته ولې؟
ولې کړې خیشت پیدا، ولې تمام کښې
ناوې خزان، خزان، د سپرلي شال کښې
رنګ او رنا بندیوان د وخت په جال کښې
نژ یم دیر ستړې بلې دیر د جهانه ستړې
د خوشحالو سکین، او د خفګانه ستړې
د است سفر خدایا. نه نې پړاو نه دمه
داهوش په بیرته واخله، یمه د خ . ستړې
بس تش خزان او خزان د ګل په خیال کښې
یو سور عقاب ګیر پروت د غم په جال کښې
ومه یو خاخکې د رنګ، شومه نه ګل نه تصویر
لمحه خمار و وی شو، نشو د ستر ګو اسیر
یو ساز چې دام کښې د سر، د چار باب او نه نیو
یو خوب چې خوب پاتې شو، نړوند او نه که تعبیر



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو لال بندي به سينې د كوټې لال كښې
يو بې قراره ښاخكې . سينه د كمال كښې
ما هم لږ پرېږده بورې ، دې خپل جهان ته
ستا د رنګونو ، خندا ، روڼ ګلستان ته
زړه به يوه ښاخكې د رنګ ستا د دريابونو كښې شم
اور د آدم به وښيم ، زور د آسمان ته
پټ م كه ، پټ م كه ، لږ ، د رنا شال كښې
يوه تمالئي راكه . د بورې تال كښې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ساز

زه یو مست شان لیونتوب یم — دهوا په اَس سوریږم
که یو رنګ دیار د سترګو — شل رنګونه شم ګډیږم
دا زه څه له وی جوړ شوم — خبر نه یم نه پوهیږم
وی سوز شم، وی ساز شم — یو آواز یم چه غوږیږم
د زړه پښو تار خانو ته — یو شغله یم چه کوزیږم
یو سُرور یم چه شرنګیږم — یو خمار یم چه مستیږم
چه په رګ رګ کښې د اور شم — یو لمبه یم چه رپیږم
دا زه نوریم چه برقیږم — که سُرور یم چه سوریږم
حقیقت م نشته بادیم — مستول کوم هم مستیږم
په خندا کښې م ژړاده — په خفه سترګو خندیږم
وایا وایا لیونیه ! — وی ژاړې چه ژړیږم
او چه برق دا تپ ولجوم — ستا په وینه کښې ګډیږم
دا زه تش دخیال دهوکه یم — که یو خیشت یم چه خوریږم
که یو مست د باد نیالی یم — په فکرونو کښې خُغلیږم
که تال او شرنګ نه جوړه — یو دُعا یم چه قبلیږم



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ناوې

اُف دنیا کې پلیتې　　ګنده دګنده وبوتې
نه یو لمبه نه دَ اور　　دې کښ غیرت سوزیږي
سړیتوب ، علم ، پښته　　ډوب او نازک خیالونه
د دې نه ښه څو چنده　　حرام حلال مالونه
بال بچ او دین او ایمان　　په مال او ښیار ورکوي
دَ سړو بدل کښ والله　　جانان دِلدار ورکوي
لوړ خاندان ښه خصلت　　دا هیڅ قیمت نه لري
خیشته صورت دَ ګلاب　　چه حبیب ئې تش کې خوري
دلوُر دخوښې تپوس　　وئی دا سپک کار دے
یو سړي ته ئې ناوې ورکړي　　خو سړے مالدار دے
د مه غریبه سړې ده　　چه په ښکاره چلیږي
دلته زر کونه دے　　په سړو دولو کښ پټي
په مړ که مال او دولت　　ښه په عزت ورکیږي
که په یو نوټ لاړه　　د مه ده د مه ده
د زر جریب خړشه　　تړے په خه کمه ده
دانه تیږ باسے څوک　　په د سړو بریتو خان ؟



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماله دهوکه راکوے — که دهوکه کئے دخان ؟

مُلا دغت پتکی — او دبیرے بزیرے

کی معربے غُتے — دغوړ تالوخبرے

خان او جهان دیاړه — څه تماشه جوړه کړی

جُمات مُلا سپین بیری — قصه دڼه جوړه کړی

لکه غوا خرخه لیلیٰ — په شهنکا شرنک ورکوی

دے دله توب له بریتو — دپښتو رنګ ورکوی

بیا لاړ شی کټ کښی دکور — نوتونه او شماری

که زر پردو کښی پټ شی — دله منکاره بنکاری

او دګلاب هسے لور — که دسپی کوړ له لاړه

خیر دے چه ته مور شوے — که هغه خور له لاړه

اے مصوره دخیشت — اے دخوائے الله

اورے سلګی دناوے — پته بر ستن کښی ژړا

که وی خنزیر سره مال — ګل او جانان به اخلی

ستا شهنیان فقیران — تش بیابان به اخلی

دا دله کان شو مونږ — که ستا قانون دے دا

دا زه چه ویم (*) پښتو ده — او که جنون دے دا

اے مصوره دخیشت

اے دخوائے خدایا!

---

(*) ویم: وایم



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اسپتال

مستا د جهان کښې خدايا!

يو سور غضب دې خوارۍ

مړي په زړو دې خښ — دَ دوی رسول سامري

که وي د چا موټر — د ړنډ لنډ لوڅې او ډنګلې

دَ صحت پلاړ نيکه هم — شي ستا نه سنه ګڼلي

پورته به پوزه کړې دې — ډک د غرور شاخيلې

داغل لومبړ به غالي — زهرې به ناست وي غلې

زړونه زور شو جوړ

شو ستا د ملک بادشاه

که ئې وي دغه رفتار

ورانه دې واله (*) دنيا

يا ئې که سمه جوړه — او يا ئې ورانه که

يا دې داخپل عاشقان — وړک دَ دُنيا نه که

دَ دوی يو سودا ده — زمونږ ده نور غمونه

---

(*) واله : واخله.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

## خوښۍ او ښیاروی مال

## دَ لیونو ــــکلونه

ستا جمالتونوکښ نن — دَ زړو سخی (*) دی ډلا ړه
په ممبرو نو ورته — خــرمن شوی سپی دَ ولاړ
ستا په نامــه مولا — بل ته ســجدے کوی
تا ته ــــئے لاس نیولے — بل ته اســرے کوی
ستا عاشــقان مولا — اور کښ ترلی دی تول
ستا غـــریبان بادشاه — په ژوندون مړی دی تول

دغه دُعا قبوله مے کړه جانانه
یائے که سمه جوړه اوی یائے وړانه که

---

(*) سخی: خوښی .



A .S.K B

# شهید ډاکټر صاحب

(*) (د مرګ په اووم کال)

د بهرام بابا بچیه ستا په وینه کښې نرتوب وُ

په ځیګر کښې د قام وینه یو سور او دیو لیونتوب و

داچه پښے تا لوګے لهٔ دِ پښتون د غېرت خوب و

هم بابا وے هم اشنا وے عجیبه دِ سړیتوب و

زر ځلمي به تر قربان کړهٔ دا مستے دِ بُباتوب و

پاک زړګے دِ د ماشوم و تا لهٔ نهٔ وه پته چلونه

ننګ، پښتو، تورهٔ، غېرت وُ کاکا ستا د باغ ګلونه

دَ هر چا به ښل تا، زړهٔ دِ دریاب دِ رحمت و

په سور اور کښې به خندل تا، دومره مست دِ شجاعت و

بادشاهي او ملنګے کښې، هغه خوی هغه خصلت و

تخت غوږ تا کښې رانه وست، او ایرے ته دِ دولت و

زور، زور نهٔ دے، اور دے، اور دے سوزي زړونه ملکونه

تا دا زور د خان غلام کړه، سپے کول دِ خدایتونه

چه به زړهٔ د محتاج شوم، لیونے او پریشانه

په خپل خود په خپل احساس او په خپل ژوند بانډے ستومانه

---

(*) ډاکټر خان صاحب د باچا خان مشر ورور نوم یې عبد الجبار و (۱۸۸۳-۱۹۵۸ع)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا شنې سترګې به مسکې شي وګړې وړې پهلوانه
بچې هیڅ کښې قــرار نشته. دخپل ډېر دخپل ځانه
دیو اوره بل ته دا ننګ، ســمندر ته د طوفانه
بچې ستا سر کښې جوهر دی، ته ځیر جوړ نې دځانه
که مزار به د ژړل زړه، پښتو به دې زمـــانه
مانه تل مسکې کاکا وړې، مینه ناک او مهربانه
نشته نه به را پیدا شي، پښتنو کښې دا سې ترونه
کاش چې ته دلته کښې ناست وې ما بنګولول دې قدمونه
خوتالوئې دبابله یوړل دخپل سوی زړه غمونه
دَ ولس د ننګ جنګونه. د پښتون د شان خوبونه
او چې کله را په یاد شي. سترګې ناوینه م ژاړي
خونبه زړې د ارمان دَ تل ډک شي سوځانان غواړي
که زه ژاړم ستا بچې یم، تول خواران د پسې ژاړي
ستا انصاف او ننګ به ستائي. پښتون چرته چې ولاړ ي
کاکا زه به دې څه وایم. دا خو وئی به تاریخــونه
تا چې خپله وینه ډک کړل. د پښتون ننګ ته جامونه
ستا دَ پاکې وینې څاڅکي، سره ګلونه . سره اورونه
دَ هر پښتون په زړه کښې دے یو اور دوهي تورونه
ما را وړي تاله نه دي درامبیـــلو امیـــلونه
دجنت بلبـــلان څه کړي د دُنیا دَ باغ ګلونه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پروت یمه یوازې

پروت یمه یوازې، تور غمونه رانه تاو دي
هسې خو ظاهره، سره ګلونه رانه تاو دي
کور نه دے جنت دے پکښې زر قسمه ګلونه
هر خوا ته چې ګورے په رنګونو کښې رنګونه دي
هر یو کي قالین کښې د ایران د تلي شان قصه
هغه شان تازه دادَ دارا د باغ ګلونه
زه په دے کښې ژاړم، آزارونه رانه تاو دي
پروت یمه یوازے، تور غمونه رانه تاو دي

لورِ م خاندان، د محمد زوجدی خانان
پلارِ م شین زمرے، د پښتنو یاد په جهان
پاک ښکلے اولاد لکه ګلونه دَ ایران
مورے دا سے نرۀ، پښتانه ورته حیران
زه په دے کښې سوزېمه، اورونه رانه تاو دي
پروت یمه یوازے، تور غمونه رانه تاو دي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاکه لویه خدایا، دا احسان دې که سزا ده
ژړا رمه ګلونو کښې دا څه برخه زما ده
عیش دې راله زهر که آرام راله بلا ده
روږد تیښتې نشته، تیښته لا تر بلا ده
داسې د قسمت سره زنځیرونه رانه تاو دي
پروت یمه یوازې، تور غمونه رانه تاو دي
ولې دې زه جوړ لکه مشال کړم، ولې دې
هله شي رڼا چې م په سر لمبې وي بلې
وژنم که دا اور، ګلزار او حسن شي ځنې لې
اور کښې ګل بدل دي، خدا نیکو ستا د کور مزلې
چار چاپېره تور د تېرو غرونه رانه تاو دي
داسې په ښکاره خو سره ګلونه رانه تاو دي
زه د خپل زړه خان آدم یم ځکه دې پیل کړمه
زه که سل ګیلې کومه که سل ځله ژړا کړمه
یو ښا ښکلی د حُسن له به ټول ژوندون تالا کړمه
هره ساه که اور کړې زه به لا ډېره رڼا کړمه
یا به یو لیدلې خوب د هوش کښې را رښتیا کړمه
یا به ستا په در، د اوریت احساس تالا ژوندیږمه
بل څوک پې ستي کړه، زه اېره شوم نه بلېږمه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډانډت

چه نه خوند لري نه جوش، نه سرور او نه خمار
تش خمونه اغشتل وي، د جنون او د دِلالۍ
تش بې خونده کړو بې دے، د ویرانونه د تنظیم
که هر جام کښې دغه شے وي، خم کوم ځان له افیم
چه هر ټکے ئے شماروي ځئ ټکے کړے هر تال
هر یو خیال وُئ تیندکونه، نه ډُلکي نه تکه چال
څه ضرور وو کجے خر دے، د عربو په سیال پرېښود
د شاعر د خیال لیلیٰ له، دِ په سترګه کښې خال کېښود
دے وینا نه خو چپ منبر ئے، منکاریدلے سنه او منبیا؟
ولے پوئے دِ که جهان چه، ستا خمار وُو ګان خمار
منبه تکړو شه غږ وه ئے، تا ته منکاري چه شهنکار
خو کاسه ئے کښې ماته، او بے سُره د هر تار

او والله که زه پرې پوئے شوم
چه ډانډت دے که ستار



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرثیه

# حُسین

دا قیامت دے که معراج دے او که ورځ د کربلا؟
دی د اشکو کښې سرې ویښې که ګلونه د لاله؟
سو خمار نه هر و کښې کله دے تر نه ډکه ده پیالا (*)
څه په جوش وینه روان دے د مینو سربالا
وے خپل عاشق ته اچې د سکرو تو کر مالا
چا ته وے ګلاب بچې د وینه غوارم حلاله
چا ته اور صلیب او دار کښې هم خلق ته م وصال
چا ته سر چا ته ګلونه، ژوندانه حسن او کمال
نن بادشاه د عاشقانو، در روان دے اے جانانه
شان د مینے د ره ته ښنائی، توان د دخاورے بے توانه
تول جهان تیاره کښې ربې، یو ځغرے خې روښنا
کور په ستړے خلیږی، په څه نوی نور ستانه
ستا منصور وته پسخیږی، ستا عیسیٰ وته حیرانه
دا د ده د دره لمبې دی، که د نور ستوری روښانه

---

(*) پیالا: پیاله۔



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو ګلاب خان له روان دے، تک تور سوی بیابا کښې
یو سپینه شمع خاندی، دیو تهر په طوفان کښې

ولے کم خواته روان یې! اے حُسینه ولے
کربلا نه ده بلا ده، په دے شګو کښې څه ګورے
ولے غم دِ لاخیشته کړے، پستے بنګلے سترګے تورے
زور او زر، اقبال او بخت دے هم ماده ئے هم سوے
یزید خان دِ دَ جهان نن، انسان وړے او کمزور دے
دَ انسان د شان مثال بنئ دے خرڅ شوی زرک غلام ته؟
دَ سبا دستوری تور بنئ دِ د ژمی تور ماښام ته؟

بره مه ګوره حسینه، نن ستا خدائے دے ستا جانان
نه ما دکئ نه پوه کئ ستا دے وخت دَ امتحان
ستا اختیار او تقدیر یو شو په دِ ورځ په دے مکان
ستا دَ مینے مستی ګوری، زور دِ ګوری دَ ایمان
اے د سرو ګلابو خانګے، نن ماښام دے دَ خزان
دا کافر شګے تږے، ستا دَ وینو په ارمان
څه ورځه زما جانانه، ساقی لرے میخانه کړه
دَ سور اور او سور خمار نه، تالئے دکه پیمانه کړه
اے زما غمګینه یاره، غم د مینے دے حصه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

سور دَ ساز خیشت او خمار دے، دَ یقین موړ تلوسه
چا چه مو نتے دِ جانان خپل په آرام په دلاسه
نوم نشان ئے مرګی ړوک کړل، وخت ئے ړوکه کړه قیصه
چه دَ سر ئے داؤ کړی مستی حُسن ارمانونه
سُوري زر قسمه مستی شی، خمار زر رنګه نشه
ګوره ګوره اے حُسینه، ګوره دغه دے عیسیٰ!
دغه مست ملنګ منصور، او ابراهیمؑ د رب آشنا
یو په دار، یو د اور میخ کښې، حُسن ولید دَ دِلبر
بے ګناه یو په صلیب شو، د ازغو تاج ئے په سر
ستا د یاره اے حُسینه، دغه سپین تیغ دَ شمر
هم ایمان دَ هم نوتوب دے، هم قسمت دَ هم باور
آ دَ مینے بل مشاله، ربا راغله دَ سحر
دا د قهر طوفان راغے، که یزید سره لښکر

---

ګوره ګوره پاکه ربه، عجیبه میدان د جنګ دے
یو خواه زور ور تورے صفونه، بل خواه تش حسین تنګ دے
یو خواه زور، غرور او حرص، قت قت په اوخنګ خنګ په دے
بل خوا یو مئین ایمان دے، مستانه او په غورځنګ دے
ربه او ګوره فرعون نن بیا موسیٰ سره په جنګ دے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

عجیبه شین زمری دے، هم بادشاه دے هم ملنګ دے
یو خواه ستړے دي دکانو، هم ضمیر خوړلے زنګ دے
بل خوا ورو کے خوار تیو دے، هم دستنه په سیاسي تنګ دے
دم یو نظر کښې کوري، نړ توب څه چه لیونتوب دے
دَ آدم د شان قیصه ده، کلک یقین دَ سړیتوب دے
تول جهان توره تیاره ده، دوئی د نور لیدلے خوب دے
جنګ په تاج کې نه په تخت، جنګ په حق دَ سړیتوب دے

---

د لمغروره فرعون ناست دے، که یو مست ببر حیوان
یخ بے رحمه چیچمار، چیچبه شوے په دیران
مړی دَ ستنے دمې لتے، روکی روکی ماشومان
چار چاپیره تے ولاړ دي قطار وونه لښکریان
یو یو ګل دَ ستنے ړنګ ري، دَ رسولؐ دَ ګلستان
او یزید ولاړ دے اوري، دا سلګئ او ماسوان
دا بلا د کربلا ونیم لیوه او نیم شیطان
په دنیا کښې دي تیر شوي، ډیر بے رحمه بلا ګان
داسې ظالم نه دے شوے، نه به اوشي په جهان
دَ چینے په غاړه مړه شو، تول دَ ستنے ماشومان

---



A .S.K B

آخر چغه کړه حسینؑ، نړیچې زه د حیدر یم
څه که تن یم او وږی تږی، زه په اصل شیر نر یم
راشه او ګوره فرعونه د حیدرؑ د وینې اور
لوړ راؤ د انګه میدان ته، چه ښکاره کړو سر زور
خونړیلۍ مشاته پټ شو، چار چاپیره جنګ شروع شو
کربلا په وینو رنګ شوه، بیابان ډک د نارو شو
دا د لسو او د زرو، جنګ خونه وی قتل عام وی
په لکها په زرو خرڅ، د خیل حرص یو غلام وی
د حسینؑ ملګری واړه، په نړتوب کښې حیدری وو
خو سیلاب د تورو ډوب کړه، که هر سل ځله زمری وو

سره تږې خوږ یواځې حسینؑ او کتل آسمان ته
وو علیؑ مسکې ولاړ، نه کتل ښکته میدان ته
وے اے حسینه زمونږ وینه تل د خدائ له بخښیلې
ستا نیکه او بابا دواړو خوشحاله بیولے
او ربس او ږدے عجیبه، چه پاکیزی په فولاد
د شهید وینه مستیږی، تل په توره د جلاد
تول جهان تیرو کښې کیږو، خیل غیرت ایمان هیرو
چه بند د بل بند شی، دیر نسلونه کړی برباد

(c) ketabton.com: The Digital Library

زوړ م زهر م شراب دی، د سړي نه ځان خطا کړي
د غرور رمانځ وي د ننګه، خو کچه نه وي بنیاد
د آدم نوسانو سوکښ نه بادشاه شته نه غلام
خپله خیته سړه سپه کړي، سړه توب به شي برباد
بل په مکر په فریب، په دهوکه په چل ولونو
نیم لومبه نیم زمري وي، په خپل علم کښ استاد
رحم روک شي، ظلم ډېر شي، سړه توب که سوه هېر شي
یو سوړ او ورته ناچاپېر شي، هر څوک خپل عذاب کښ ګیر شي
قانون هم شي، زور ناد شي، نر تالا کېده دلېر شي
بې غیرته غیرتمن شي، سپي غره ببر شېر شي
زر شي زور د هر چا ځان شي، خوار غریب په ژوند ستومان شي
بلبل خنزیر د هر چا پلار شي، که خنزیر سره مال ډېر شي
وزیر غل، امیر ډاکو شي، ایماندار په سینه لاهو شي
روغ به مړي یا به غل کېږي، چه ټول غله ترینه چاپېر شي
ټول وطن یو تور ځنګل شي، یو د بل په غوښه پائي
ځناور ترا مان غواړي، چه انسان په کمه تیر شي
علم چل شي، مذهب دام شي، رنګ حلال کښ حرام شي
هر سبا لکه ماښام شي، ژوند به تور آفت کښ ګیر شي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه وخت کښې د خدائے رحم، او رحمت په جوش کښې راشي
چې ترته غلي د چا کور کښې، یو حُسین په کښې پیدا شي
چې کې نه کلک پهلوان شي، ورته جوړه کربلا شي
مرګ له نوي معنى ورکړي، ژوند کښې نوي رڼا راشي
آخر چرته په سپرلي کښې، پے باران او برقرار شي
ناګهانه وچ صحراتول، سره ګلونه د لاله شي
ځه وړځه وړځه حسینه، په چپل بخت شکرګذار شه
ستا شمر سره نیته ده، سپیلنے د مخ د یار شه
که دنبتیا پے ته مئین ئے، په خندا ورته تیار شه
اے په غم سوي ګلابه، ورشه خمله په قرار شه
حُسین اووے مرحبا، دا اړزانه ده سودا
کاش چې وے م په تنا، قط سرونه په زرها
او یو یو ورکولے ما، په زر قسمه کربلا
دا دے د ړغلم بابا، لا اله الله !
اے بادشاه د یزیدانو، اے مالکه د جهان
ستا تقدیر مے یاور د ځې په مخه کے روان
کله وسیزي بے وجے، سپین ګلونه ماشومان
کله تاج د سره په سر کړي، ګیله ستړګي شرمنبان



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ یزید په لوئے محل کښې ، د شرابو رود روان
د رسولؐ بچي دِ مړه کړه ، او چې شونډې په میلان
دَ یزید په سور پالنګ کښې ، په ژړوندو خوږې غلمان
دَ حُسینؑ جانان مرګے دے ، او پالنګ ئے ریګستان
ظُلم ظُلم دومره ظالم ، وران دِ نه کړو پے جهان
د حسینؑ په زنګدن کښې ، دیو کوټ او بوارمان
امتحان دِ کو دَ مینے ، د حُسینؑ څه امتحان
ولے زوے دَ حیلهٔ نه و ، شیر ببر مرد میدان
مکوه مکوه اے اجله داسې نه د دَ وژلو
د آدم شان او سینګار دے . تا پے اور اولګولو
مُنتے خاورې . داسے مسته د زهرې په ناځلیږي
ستر سرے نے داسے اورکئ لښکرونه تے تښتیږي
یو مثال د حریت دے . د خپل زړه په زور بلیږي
پټ دَ زړه په تارخانو کښې یو سهر دے چه غزیږي
حُسین او کتل چاپیره . او ورسو ژوندون او ورسو اور
دے بے جسه تور ملحول کښې هر ساه شرم پیغور
په دَ ظلم په دِ اور کښې یو ساعت ژوندون حرام دے
داد دَ علم مرګیه ، زور او صبر م تمام دے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کربلا ذره ذره ستا، وئی به چغې تر قیامته
چه انسان به زور او ره په هیڅ شان سر نه کړي ښکته
غلامي نه هر څه منبه دي، دا چه تیر شو او تیریږي
رتبه دا دې زمانه ده ژوند د مرګ په بیعه کیږي
په خپل ژوند کښې په هر ځا به کربلا یوه جوړیږي
چه خوک ځي د جانانانو کور ته په د لاره به تیریږي
دا یو ستړے غمګین زړه دے. لوګے کومه ئے له تا نه
دا روښتے مراوے سور ګل دے د حیاته د ګلستانه

---

سر دې ورکه لکه نر، شیر بچې د شیر ببر
نه د خیشت دې خوک ثاني شته نه د نور دے برابر
اے بادشاه د شهیدانو، نر ځانه د نرانو
ستا مرګ هغه یاد تازه که چه هیر کړے هر انسانو
ستا د ژوند او د مرګ تول، مانه او ښو کربلا کښې
څه رنګین سر ورد د واچولا اِلٰهَ اِلاَّ الله کښې
خکه کله کله زه اوس هم د شپې ژاړمه
ستا د خیشت او نور کمال بیا په دنیا غواړمه
کوم د ته منت دعا، اے حُسینه راشه
هر قدم شو کربلا، اے حُسینه راشه



A .S.K B

ولاړ ؤمه په اور کښې ما وې اور زما قسمت

لمبې دَ قسمت نه وې، وې لمبې زما دَ نيت

نه ګل نه دُلبربا منم، نه حُسن نه بهار

يو ستا دَ سترګو خيال منم او ستا دَ شونډو وست

نه بخت او نه کمال منم، نه تور، نه جلال

يو ستا دَ خندا راج منم، بې تاج بې سلطنت

نه چل او نه تدبير منم، نه عقل نه تقدير

يو زير دَ سپرلي ګل منم، ضامن دَ يار دَ بت

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سپوږمۍ

اے لیونیه ساقی　　دلیونو د شراب
ستا جا دوگره رنها　　د خمارونو دریاب
نن م به سترګوکښ ستا　　سورے دَ غم ولیدۀ
دارمانونو لړے　　خاموش ماتم ولیدۀ
یاده که هیره دِ ده　　خُماخوانۍ لیونۍ
چه تابه سرلمبه کړه　　نَ مانشه دخوانۍ
ستا پلوشو به رانه　　آرام او خوب پټ که
یو بے قراره ارمان　　کښ به مِ هوش پرک که
چه را بنکاره به شوے ته　　لکه مسکۍ محبوبه
خما هر رګ به دِ که　　یو دَ جنون لمبه
بس یو آرمان یو درد　　سوزا و خمار به شومه
هر سر کښ اور او ژړا　　داسے ستار به شومه
یا به دِ داسے مست کړم　　یو سورا نګا به شومه
یا به دِ راوړو اُمید　　یو سپین ګلزار به شومه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خونن خفه غونکے سئے — زیړه حیرانه ښائے
سترګے دِ مړاوے مړاوے — اوپریشانه ښائے
پټول جهان دِ که خوږ — مړاوے غمګین ایمان
لکه سبے وسه مالیار — په تور ماښام دخزان
نن دِ رڼا کښې هغه — رنګ او سرور نشته
هغه مستي دځوانئ — دخیشت غرور نشته
سترګے دِ مړاوے مړاوے — خفه روانه وے
لکه زما دَ زړه — ستړے ستومانه وے
هغه جادو د څه شو — هغه شراب څه شو
هغه د اور لمبے — او سره ګلاب څه شو
زما رنګینه ځوانی — خوږ وخت په غلا یوړه
خمار ځوانے سړلاړ — مستي سودا یوړه
ما ځان باچا ګنهلو — دَ بل غلام اوختم
ما یو دریاب ګنه ځان — دَ خاورو جام اوختم
خوستا جادوګره رڼا — دخمارونو دریاب
څه شو ستاد کخمونه — دلیونتوب دَ شراب
بس هیڅ جواب نه کے — کم خواوته ځے زمانه
سترګے مسکے مسکے — مړاوے خفه حیرانه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نوے بلا

کله کله را پیدا — شي یو دا رنگے بلا
ژبه ښکلے او پسته — سره دک دي د رنا
هر یو سوال کښے ئے معنی — هر جواب ئے فلسفه
هر دلیل ئے ښه پوره — پوئے په هره مسئله
فکر تیز او ښه روښان — علم خور لکه آسمان
د هر ونډ په عقل هم بیان — د منطق په تول پوره
دا په شکل فرښته — ده بلا تور ه بلا
زړه کښ قهر او تیاره — با هر(۱) سپینه تجلے
د ده هر خیښت او نیت — یا ورانے کي یا علت
دا سکرو تکه(۲) د نفرت — سوز ولو له پیدا
د ده هر زور د کمال — هر لطیف او مهین خیال
بس یو جال او یو جنجال — ستا د خود او هوش پرګه
د ده دا ښکلے ګفتار — دے یو دام د منګلی تار
دلو مېړه هسے ننګ — را ګیرے دے په رضا

(۱) باهر: بهر - (۲) سکروټه: سکروټه -



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوئے غازی مست په اسلام   لیونے په ننګ د قام

تاجوری د خان غلام   یا په زور یا په دهوکه

په هر چل په هره لار   د کمبکارۍ او ته بنګاړے

دغه سترګے د ښلدار   ستا د دړه دې کښې اسره

سپین ګمبت کښې د جمات   دی پراته لات او منات

دا په شکل آدم ذات   په هاړ و ینه اژدها

دده دا شیرین ګفتار   کفر کفر او انکار

پروتے زړه ته دے زنار   دده هوش توړ لمبه

دغه علم د جهان   ورته سبودلے شیطان

د ده دا رنګین بیان   اړولے بسم الله

دغه ښکلے سپین صورت   مقبره ده د نفرت

دغه پند او نصیحت   دی د زهرو پیاسه

دا دلال دے د تیارو   د سکرو تکو د سکارو

دغه سپینو منارو کښې   او ړونه دی زړها

دا په شکل فرښته   ده بلا توره بلا

هم آفت دے هم وبا

غنی خدائے دے ساته



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دغنئ تپوس

غوټئ ماشومه کوکئ　　　دکه دخیښت سینګاره
الله ته پورته کړله　　　خفه او بې قراره
وې اې د ګلونو خدایه　　　اورې که نا اورې
ولې کړې ما ګلاب　　　او ګلاب خاورې
مابنام د باغ مالکه　　　لیلی په سیل راغله
وې واه دا زیړه غوټئ　　　پریکه و ینبستوله زما
مابنام ؤ ساز او محفل　　　تول دخوانئ غوبل
یوازې ناست ؤ غنی　　　غمګین غمګین نې کتل
لیلی نې خواله لاړه　　　وې سترګې ډکې کړې
وازې دی ماته اشنا　　　بل خواه ، بل څه کوړې
غنی دغمه ډکې　　　سترګې ور واړولې
هم هغه سوال نې اوکه　　　چه سار(+) غوټئ وکړې
سترګې روښانه لیلی　　　غاړه مسکئ غوندې شو
وې ددې سوالونو جواب　　　چرته مُنتلئ(*) دې چا

---

(+) سار: سحر، سهار. (*) مُنتلئ: موندلی.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

جانانه بس دے دا — چه شته د خیشت په دنیا
د عقل تور خنکل کښې — نه شته گلاب نه رڼا
ستا د زړه سوالونو — رنگین جواب زه یم
چه به تا مستے جوړکه — هغه گلاب نه یم
د دے وړے جهان — دالا جواب سوالونه
بس د رب شکر کوه — او ښکلوه گلونه
شکر او باسه چه چا — خیشت او خواني کړه جوړه
زړه ما شکرونه په دے — چه ئے فاني کړه جوړه
د زړو کالو لیلیٰ — او وسل کلیز جانان
د خوانے خیشت د دغه — چه ئے خلاصین ی ستان
چه مستي خیشت ښئ خلاص — شکر چه شته مرکونه
شکر چه خادر خواني — نو کوي زیړ گلونه
د وړے وړے تپوس — ئے د ما لیاره اوکه
زه دیو سات سیلانئے — پوتے مسکے شه یاره
جانانه کي(*) خوانے کښې — خوند د مستئ اورونه
دے فلسفوله د شته — دا پاتے تول عمرونه
راشه د سره شوندو کښې — سوز او سازونه دی
عجب رنگين خمارئ — د جوند(+) رازونه دی

(*) کي = کوي. (+) جوند = ژوند.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حساب کتاب

په ژړا ژړا مې عمر په سجدو مونځونو تېر کړ
نتیجه ئې بس مرګی یو، تور لحد رانه چاپېر کړ
د قسمت او د تقدیر یخه قانون لاړه کوډه ښته ؟
د ځوانئ اور ته مې ولې، بیا وې او سوزیدې ولې؟
لاس او خپې مې دې تړلې، او وې شا به کړه شکله
هر انسان دې د اتن ته، زنځیرونو کښې بللې
د مسکو سترګو جانانه لړ د خپو مې که دا پړې
بیا مستي د څادرې ګوره، او توپونه د آدم
کله شرنګ د خواخواکښې، کله زیرو او کله بم
د تقدیر ګرځی که سسته، بیا زما ګناه ته ګوره
ستا د عرش په منارو کښې، لیونئ خندا ته ګوره
چه زه مست شم په هوا شم، او ړشم تنده شم، رڼا شم
چه یو ساز مست او سهار شم، نور شم پړق شم، پخلا شم
روښان تور د مرګي سوړې، برنډ سترګې تکې تورې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو نظر راته را واړئ . یو نظر کښې روک تالا شم
رڼا نور مستي لا هو شي ، مُټې خاوره د صحرا شم
اے زما د زړه د نور ، د دنیا او د خیال رتبه
د خوانئ د سرور نښکونو ، د مستۍ او جلال تبه
اے چه زه جوړ تش د خاورې بس د خاورو د مه سیال
ولې تار اکړه سازونه ، او ښکلونه ، او جمال
د انصاف دے مُټې خاورې ، د خپل تخت پایوله یو سے
بیلئ درو زرمکے له راولے ، هسې کار بنایست تے یو سے
دلیلی نه بنایست وا خلے خوان بوده کړے بوده خاورے
نور د بیر بنه د راروان دی ، د مُلا هغه چه واورے
مستي خیشت کمال م وا خلے خپل یو تور دِ بینه پړې نن دے
زه دِ لوټ تالا کړم دلته ، ته به تله کښې دِ خه بِږدے
د کلاب په شان خوانی دِ ، راله خاورې کړه تباه کړه
ترمخے به م انځور کړے چه مر شم م واویلا کړه
دا لږ ژوند پوی تے احساس د غمي مرګی له غلے غلے
چه آخر به رانه جور کړے ، یو تو پکے شان د خزلے
حساب ؟ ستا به څه حساب کړی ، جناب را وسپوو رو کړه دِ
لوټ تالا برباد دِ زه کړم ، خو کمزورې دله پر دے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دَ زړے خال

په سپينو کوتو ايرے کړے پوره ته
په ښکلو سترګو په کښې تلاش کړے
لا لونه ګورے ته په ديران کښې
ليلىٰ دا ته ئے دا چه مجنون دے
چه دے مړ باغ کښې ګلونه ګوړے
دا ستا مستى دهٔ، او ستا جنون دے
زه؟ زه يم څه، ستا تخيل يم
ستا خوبونه، ستا ارمان يم
بے خودى زه ستا دَهوش يم
ستا چشمے له نړه طوفان يم
چه ستا زړه مين په نور شو
زه شوم شمع زه مشال شوم
چه تا ځان سره له ورکه
نو زه ستا د زړے خال شوم



A .S.K B

چه ستا خود د ساز ليوال شو

زه سرور شوم زه بلال شوم

نه چه طمع د سبا شوې

زه سبا شوم زه هلال شوم

نه خفه چه د ايرو شوې

زه يو مست او دروک جلال شوم

چه تلخان په عشق کښې ډوب که

زه مستي شوم او وصال شوم

نه چه وږې د کمال شوې

زه همه کمال کمال شوم

چه تا يره(+) د تيغ وکړه

زه قلا شوم زه ډهال(*) شوم

چه نه وږې د دولت شوې

زه الماس شوم زه لال شوم

چه نه وږې د مستي شوې

زه منصور شوم زه بلال شوم

چه تا نيت د کتې وکه

کله دام شوم کله جال شوم

(*) ډهال = ډال. (+) يره = ډيره

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه تا واغیستم جانانه
زه بنائُست شوم زه کمال شوم
چه تا وُلیدم دلبره
زه هلال شوم زه مثال شوم
چه ستا زنه په کسم لوېده
بس زه ستا دَ زنې خال شوم



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تیارو غلام

ولې ماله د نور که په خوا ده اور
د شغلو په بستر ولې خوب راځي

ولې ماله په جنګ کښې خواني مستي
په آرام کښې فنا بدماتوب راځي

ولې ماته د لړو په شور کښې
د جذبو ولولان خاښت نمایان شولو

ولې ماته هر کال مستانه او مست
په مابنام، په مابنام د ځان اشنولو

ولې شور د وجود زما ساز شولو
ولې ماته ارمان چپل ایاز شولو

ولې ماته د ژوند همه نوی اورنګ
یا لښکرې یا شاهین یا شهباز شولو

ولې ماله د ژوند ګل سوب ضرور
نه نیاز شولو نه انداز شولو

ولې ماته خاښت دهر سر او تال
د غمونو دردونو آواز شولو

ولې ماله د نور که په خوا د اور
ولې ولې شو سپین سر مرګ د تور

ولې ژوند بس پیغام او مطلب د ګوړ
زما سور ګلاب شو غلام د اور

ولې ماله همه خوشحالي د ژوند
یو تنګ تور بې مطلبه تصویر شولو

تش په خاطر په جهان پسې ژړمه
زما ساز هم هم مرګ هم ویر شولو

کمزوري د وجود او خیکر زما
زما خود شو قسمت شو تقدیر شولو

او زما د تیاره تاریکو غلام
زما ځان شو امام شو او پیر شولو



A .S.K B

زما مینه دعوه د دې دغو شوه — زما حسن لیدل د راندو شولو
زما زړه شو غلام د وجود زما — نظرونه بې د لیدلو شو
تورې لړې، او لړې او کړې خوب — نه اُمید شولو نه ئے راز شولو
زما ژوند، یو سلګۍ د شکست شو له — چه نه سوز شولو او نه ساز شولو
خپل ویجاړ ژوندون پسې ژاړمه — زما ژوند هم مړګے هم نے ویر شولو
چه د عقل نظام یو برق وکه — هغه هم د تیرو یو تصویر شولو
خکه ماله هر تال او سرونه ساز — د غمونو د دردونو یو راز شولو
خکه ماله دِ نور که په خوا د اور — خکه ورځ مِ د شپې د روند آواز شولو
د ژوند هره شعله، شو لمبه د اور — هر اُمید، ارمان، یو دهوکه د خان
زه غلام د تیارې په پنجره کښې پروت — کړیکې وام (*) چه زه نو یم د کل جهان
زه چیغې په ویران کښې غځېږمه — رنګ سترګې م رنګ د بهار نه وینی
زما ونه کښې اور دے خاوره د ویران — د یار سترګو کښې مړ اے خمار نه وینی
زه لوئے شوے صحرا او تیارو کښې یم — دغه شکو کښې ستوري هلال کم دے؛
زه یو تور او او نبیار شان کو نکت یمه — شمع چرته دے، سپین دِ شال کم دے؛
دا اُمید، داخیشت، یو دهوکه د خان — ژوند تیاره ده او مړ سمنده، دِ تور

زما سر کښې سپوږمۍ او کلونه شته
خو هر رنګ دِ تور، لکه کوږ، کور

۱۹۶۵ع

(*) وام: دهم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یورپ

د مغرب د سوي زړه نه یوه سوے کړیکه وځي
جنګ دے داسے درد وے اوس هم رپي اوس هم سوي
ماشومان کلونه ښکلي
امیدونه نیازولي
د سبا خوبونه خاورے
پروني سازونه غلي
د یو بم په سُور انګار کښ تول ذره ذره هیروشي
دا تور تم چه په چا تیر شي وړه ته تول جهان تیاره شي
ژوند یو توقه بے مطلبه
ډک د درد د غضبه
څه ثنا به د رب واوُرے
په سرو تیلو کښ د کبه
دا ړانده په بټو کوري، لمبو سوے ئے نظر دے
دوئ بیناؤ ته ړانده وئ، او چغرے پیغمبر دے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر ماښام مغرب را وړي، شپه راځي د دهٔ د کوره
د مشرق رنګینې خاورې، تا نه تل ختلے نمر دے
پاڅه پاڅه راپیدا که یا یو بد هم یا مسیحا ئی
کښې لاړه تیاره وی پوره دا رڼه شعله دنیائی
ورته او وایه چه مرګ بس د ژوندون د دلیل تول دے
د ژوند سره ګلاب بے بنج دي، مرګ که تور دے ازغونښيلو دے
که مرګ نه وے ژوند به نه وو هر ماشوم به دې پوهیږي
بند غوټکه به وچ پوه شي، چه ماښام کښې تیاره کیږي
انسان نه دهٔ تشه خاوره، چه په خاوره کښې مټي خاورې
دهٔ کښې ساز یو ابدي دے، که لږ چپ شو ته به نے واورے
دهٔ کښې سوز دهٔ کښې مستي ده، دهٔ کښې مینه او خمار دے
دا به کم لحد کښې پریږدې ته، دهٔ له کم قبر تیار دے
آ غلامه زنځیر د تیارو کښې پروت، خان که میر لیږې چا پیژخواوکړه
د جانان د خاښت او د مینې نور، په هر ځا بو سیز خو او کوره
هره بانه کښې ژوند لا زوال ژوندے، هر ګلاب کښې د بهار سره دے
بدلیدل د ژوند د دوام دلایل، کوره هره غوټۍ کوه لحوړ دے

۱۹۶۵ع



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اے زما وطنه

اے زما وطنه د لالونو خزانے زما　　ستا مړو ډکښی دی د تورے نښانے زما

ستا سر چه وی تیت نو زړه به شان و شوکت څه کړمه

ته چه خوار و زار یې زړه به مال او دولت څه کړمه

ته چه روان ویجاړ یې زړه به خواب او راحت څه کړمه

مسته به دې خاوره کړم په وینه مستانے زما　　اے زما وطنه د لالونو خزانے زما

عقل مې ایر شه ستا د پاره د فکرونو نه

ستړے مې قربان شه ستا د پاره د سوچونو نه

زار شمه قربان شم ستا د خاورے د کورونو نه

ستا زړه کښی پرتے دی تورے تلے زمانے زما　　اے زما وطنه د لالونو خزانے زما

یا به دې زه سیال کړمه وطنه د جهان

یا به ستا په خپو کښی تورے خاورے کړم خپل ځان

ځان به در ورے کړم خو تا به کړم ودان

نړیمه پښتون یم تا ته یاد افسانے زما　　اے زما وطنه د لالونو خزانے زما



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جنّت او دُنیا

چه مستي وي او ځواني وي او جانان وي او ډک جام
ډېر کلونه، لږ یاران، او غمګین غوندې ما ښام
عشق څه او روي او څه نور وي زړه لېږي لکه تنور وي
په دې ژوند به زه ور زار کړم جنتونه ستا تمام
خو داکته په دې وګړې چه هیڅ رنګ له قرار نشته
هر ساعت هر رنګ د ژوند، ستا د وخت کس غلام
او جنت کښې مُلا وائي وخت به وي زما غلام
د کچه روک شي او زه شته شم، تول به ودان م شي تمام
چه زه تول غم زلېږي یم، زلمے توب به یو عذاب شي
ځکه اوس را باندې ګران دې، چه نې خیشت شي زر تمام
تل سپوږمۍ د خوار لسمے، تل جانان دَ شپا سمے
تل ځواني، سیند د شرابو، دا دوزخ دے که انعام
دے دنیا پسے به ژاړم. دا تیاره هلال به غواړم
هره ورځ به یادَ ومه. نرۍ لره د ما ښام



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تمنګ د حورو وفادارو . بې وفا جانان به غوارم
ستا آدم په ذات ښکاري دې . د ښکار خوند کوي مې کام

د مستۍ د سیند په غاړه ، ثوابي روږدې به نیسم
اسویلي به کوم یاد دوم به د ساقي نیمګړې جام

هر څوګڼې چه ابدي شي ، یو آفت شي یو عذاب شي
بس یو تا سره مزه کا دا ازل ، ابد ، دوام

بند نوې رنګ محل کښې نوې نوې جانان غواړي
بیابان کښې سره ګلونه ، تور ږمې چراغان غواړي

تل تیاره کښې د روکېږي . تل رڼا کښې هم ړندېږي
دې بچې د تغیر دې . یو حالت کښې نه ټینګېږي

که ده ستا جنت له یوړه . دا فطرت او دا وجود
یو څو ورځو کښې به سوزي . په سره ستر ګو به ژړېږي

اې د لوی فضل مالکه ، ماله دا دنیا جنت که
فارموله ئې ده آسانه . د دې توکونه جوړېږي

لکه ویلي مې د سر کښې ، بس جانان خواني او جام
چه زمالیونې سره پې ګله ګله مشغولېږي

او هغه بل د مرګه پس مې ملاجان سره پسې خیرات که
تش د حورو په خوبونو که د خوار ګدا ارام کېږي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماله دلته یوه راکه غونډه ، مستئ ټکه سپینه
مینه ناکه ، سپینه شمع ، چه لمبې وهي بلېږي
شل رنګونه نظر کښ ، شل مزاج په ځیګر کښ
د سپرلي هسې خوبونه ، کله نمر کله وریږي
یو ځرمنه کښ دننه ، یو حرم د جینکو وي
کله مستئ او سرشار ، کله غلې شي شرمیږي
او زما دې ستړي زړه کښ شل رنګونه او لمبه کړي
چه د اور هسې سوزیږي ، دلبنتو هسې ګډیږي
چه په یو بې تاب نظر مې دا مست داسې نشه کړي
میخانې ورته حیرانې او ساقي ورته پسخیږي
دغه زړو بدل کښ ماله دلته یوه راکه
د ابد تول‌خوانی مې ، دخوږ کالو مشغلا[1] که
که دانه کړې اې جانانه ، سر بې حور د سبا که
نه مې هغلته پکاردي ، نه مې دلته کښ یادیږي
غټې غټې ، سپینې سپینې ، چه نه سوال نه منت غواړي
ارتې بیرتې ، او زما سترګې ، په بخملو به لغړیږي
رتبه ! اې جانانه رتبه ! دغه یو سوال خو منظور که
کنې لاړ غټی د مرشو ، وړ لیپې نې ځبې[2] کیږي

(۱) مشغلا ، مشغولا . (۲) ځبې ، ژبې .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مینه او حسن

ستوري ته اَسمان کښې يوه ورځ ووې هلال
خدائے آدم له مینه ورکړه مونږ له تش جمال

زه به په خندا ورکړم داخپل ښائست دکمال
ماله که يو څاڅکے مینه راکړي څوک په سوال

مینه حقیقت حسن سایه د حقیقت ده
حسن له زوال شته مینه نه لري زوال



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ریدی ګل

یوه ورځ یو صحرا کښې په ښکار روتے ووم روان
یو ګلاب مې ولاړ ولید، پړقیده خیشته خندان
زه خفه ئې خوا له لاړم، ما وے، اه! زما په شان
ته هم ګل ئې بد نصیبه، روک د زلفو د جانان
نه د چاپانیان سینے کوتے، نه م مخ له به دِ یوسی
نه به ښکل دِ کړی سرے شونډے د یار په نازک لبان
هغه غلے شان مُسکے شو، وے خان مه کوه خفګان
زه به د صحراو ښکرم، د ایران په ګلستان
دلته زه یو او یکتا یم، هلته زر زما په شان
چار چاپیره سپیره خاورے، زه یواز یم روښان
دلته د تور ریګستان کښې زه د رنګ او نور لمبه یم
د خالق چپه نغمه یم، کرشمه د لامکان
ستا په باغ کښې به زرګونو، دی ګلاب زما په شان
یو بے نومه سور دریاب کښې یو بے نوم څاڅکے روان
ته دِ هم په خپل صحرا کښې خفه مه شے زما ورورہ
آخر ابه شی دیدن له دِ څوک سوے غني خان



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دُنیا

دا په خپل خود کښې دے دنیا ته کتل
ګرانه ده، ګرانه، ډیره ګرانه ده
دلته شل قسمه ډهوسان(*) ګرځي
ډنګ د شهباز کښې تیوسان ګرځي

ګیدړو بریت دَ ببر شیرو ایښی
غړمباکوي لکه شیران ګرځي
ځوګ د غره یې خوار لګه زنګ کښې
آدم خواره او شرمښان ګرځي

یو غټ پېتنګے، سپینه همسا په لاس کښې
په اور د زبیره کښې شیطان ګرځي
زړه خو سینه کښې دی پټ پټ پروت دے
نقشه ئے سترګو کښې روښانه ده

دا په خپل خود کښې دے دنیا ته کتل
ګرانه ده، ګرانه، ډیره ګرانه ده

(*) ډهوسان = دیوسان.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو خوا ته کند کښې د ملنګ سامري
د فقیر نوم نے سپک بدنام کړلو
د ملک کښې داسے وخت تیر شوے
بادشاه به سوال د خپل غلام کړلو

فقیري هیڅ جامه لباس نه لري
بادشاهي تورے او الماس نه لري
دا خو یو نور د ذره په زړه کښې بل وي
د روح مستي ده، نه لباس نه چل وي

دغه بوبل چه جونکے جانه شو
منګاري د خورئے تا ته دام کړلو
داچه هوهو لکه ګیدړ کوي
دا ذکر نه دے تا ته خان یاد وي

یزید د ناست په چغو چغو تا ته
په کربلا کښې شهیدان یاد وي
که یوکه لس و مابه منولے و تول
دغه شماره خو بنه آسانه ده

دا قسمه، قسمه پېژندل منتریان
ګرانه ده ګرانه، ډېره ګرانه ده



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ګوره دغه دے یو صیب راغے
بریت ئے جنډ الکه قیصر نیولے
سترګې ئې دي د شاهین غونډے
خومره مغرور ئے د سر نیولے

د ډیر شو زرو په موټر کښې ناست
خومره لوړ ئے د رانیو رنیولے
سوټ ئے د زرو روپو لاندے نه دے
شمله ئے نیغه ده په سر نیولے

والله سپے دے د ګید ر بچے
هر دله توب ته ئے ټیټ سر نیولے
نه دے په لوړ نه دے په ښکته حیران
لوړے ښکاره خی منبه ارزانه ده

دا قیصر شکله دلالان پیژندل
ګرانه ده ګرانه ، ډیره ګرانه ده
دغه دے یو چه شمله نیغه لری
ګرے خبرے په لاسونو کوی
دوه غلچکی ورپسے روستو روان
ښځے خبرے د خونو نو کوی



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه معجزه او ږد کوټ تک تور
د مولانا توره قبا ښکاري
سپین پرتوک توروبوټا نوسره
خیښته سپین ستوري د سبا ښکاري

دادِ بنهیا(۱) اټې(۲) او ښکې ده
د پلار ننګه ننګ، نوم او عزت خرڅوي
ماخرڅي، ماخرڅي، اتڼلخرڅي
چه څه تي غواړي په دولت خرڅوي

دغه رون مخ، دغه بت شو شمله
په تش د دکان کښې ناشوکت خرڅوي
څه چه ترغواړې، سبه داده په ورځه
د ده سودا تول ارزانه ده

دغه چه سپین لکه ګلونه ناست دي
دا د رنا ورځې داګوان(۳) کي تول
ژبې ئې تیزې، چلولي سترګې
نیم ازمري، نیم لومبړان دي تول

څه ښکلې ښکلې مخونه او ښیار
بلد خبر و سپین قارغان دي تول

(۱) بنهیا: نیل. ما ګکههرنګه. (۲) اټې: دوکان. (۳) داګوان: داړه مار، داړه اچونکی



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی په خوږه خوږه کښې ماره کوی
دا نسبی پاخه ښکاریان دی تول
پښتنے خه دولی قبا پرته ده
مسکولبانو کښې بلا پرته ده

کرځی دنیا کښې په لکهاو تکان
هر یو دځان له یو بنه اوږد داستان
که زه تول عمر کښینم، خلاص به نه کړم
دا تعارف دَدے قلم په بیان

خو په انجیل کښې دی عیسیٰ لیکلی
دے دَ بنده دلیدو یو امکان
سترګے کړکئے دی، دَ روح رنګ ښائی
سترګو ته سترګے همیشه ښائی خان

دُعا کوه، وے خدایا لاوُم (*) نه کړی
خو په دنیا دَدَهوسئ دے طوفان
چه سمه دمه ده نو کرانه ده
او چه آسانه ده نو ورانه ده

(*) لاؤ: لاهو.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# چه آدم خاورو کښې کښېنی

سر يې توب چه لوړ او چت شي ليونتوب شي
چه خودي د خودۀ وځي نو خمار شي

چه فولاد د وينې موړ په مينه مست شي
نو حيران او پريشان تار د ستار شي

چه ترے عشق او جانان دواړه وخت فنا کړي
هله پوے سے په شان دخان او يار شي

چه آدم خاورو کښې کښېنی خه زرغون کړي
منجيله چه په دولت شي نو بنا مار شي

ماته حورے غلمان مه ښندوه بس دے
په والله که بے له تا م په چا کار شي

دا چه نن پکښې زه مست او مغرور کړ خم
سبا خدائے خبر د چا به دا گلزار شي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا د مرګه نه یریږمه پښتون یم
خوږم تش جسدون او خوشې مرګ ته قار شي

زړه کښې ډوب دَ وسوسو دریاب بهیږي
جوړ به کله د اُمید رنګین آبشار شي

دا خپل زړه ستا بې پروا نظر ته کوږي
کله کله په ژړا خکه شاه تار شي

ساز ژړا ده که مستي ده نه پوهیږم
هر آواز کښې کله سوز کله چغار شي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قِسمت

ملاجان وائي ازل کښې تا لیکلې هر یو کار دے
یو له ستر گو کښې شفق د ګُل له مخې ګلنار دے
ستا تقدیر هر لمحه کښې د هر یو وینسته واکدار دے
یو له ګل یو له د ِلدار د یو له او ریو له اګار دے
یو به ټول عمر نالان وي، او بل تر بے پریشان وي
یو نیاز بین به په بخملو بل به پروت په بیابان وي
یو به ترږے د سپي غپار کا. بل خوړل به لکه مارکه
یو به منګلے ځنا پیرے وي. بل به باڅوي تورا بان وي (*)
مُلاجان وائي اے رَبه! د هر خون ته ذمه وار ئے
دا ټول ظلم تا لیکلے، ستا د کوتو دا آزار دے
دا بے رحمه افتونه، دا بے ځایه رحمتونه
د حُسینؑ په مرګ تورونه، او یزید د ملک سردار دے
ملاجان وائي تا اینبے په آسمان کښې یو کتاب دے
چه هغې کښې تا لیکلے هر آدم له هر یو کار دے

(*) ترابان دغه چه د شهزاده بهرام په غوڅ لګولو قصه کې یاد شوي دي.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو چه دا سې انتظام دے اے زما منصفه خدایه

مانه څه له کے تپوس . نه مې واک نه مې اختیار دے

ما کښې دومره طاقت کم دے چه ستا لیک د ابد ورانکړم

نه د زرو زورو خانانو زه بے وسه خوار غلام

که زه خاندم که زه ژارم ، ستا یو تکے نه بدلیږی

دا بتان دی ستا د کوتو . دا کفر ونه ستا الهام

دا حساب کتاب به څنګ وی ، دا تپوس جواب د څه شی

هر کلاس چه زما څکلے ستا د کوتو وو اکرام

مُلاجان وائی ساقی هم د تقدیر د کوتو جوړ دے

مُلاجان وائی داخیشت هم تا جوړ کړے د تمام

نو چه زه د ساقی سترګو ستا د کوره خان له بو تلم

ماکړه سینه را وچته په آسمان ماه کلفام

چا نه تبکیل کرمه په دام کښې د سرور او درنا

چاکړه جام کښې راته کړه په شرابو کښې خندا

او مغه راته روښانه سینه شمع بلیده له

زه جلبل لکه پتنګ شوم . د دے شمع په لمبه

دا به ته په کوم قانون کښې راکوے ماله سزا

تا آسمان کښې بره لیک کړه ، او ما اوکړه په دنیا



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه اختیار نه وي جانانه څه ګناه دَ چا ګناه
راته ښکاري ملاجانَ چرته تلے دے خطا
که قانون وي که رواج وي که منطق که فلسفه
دا ګناه خو اے تقدیره ټوله ستا را وخته
که اختیار وي ګنهګار یم، که اختیار نۀ ګناه کم دي
دا خو لاس دبري کار دے ته په هر څه کښې ټکره
وایا وایا ملاجانه که اختیار راځي قسمت ځي
د قسمت سره دِ واړه آرامونه او راحت ځي
د تناري لیکلے روک شي، بس سړے د خان مالک شي
که په باغ کښې دِ آرام ځي، که په لار د مصیبت ځي
بیا کیدے شي حسابونه دَ جزا دَ ثوابونو
چه سړے په ښه په بد په خپل وس په طبیعت ځي
خو قصه چه دَ قسمت شي، ملاجانه زه برے شوم
تل به ځم په هغه لار چه په کمه م قسمت ځي
زه موټر، هغه ډرائیور دے ځم په کمه چه م بیائي
که جات که میخانه وي که په سمه په صحرائي
که موټر کنده کښې پریوزي، نو ګناه د موټر نۀ ده
دا چه هر قسمه سزائي د ډرائیور سره ښه ښائي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

که ګناه ده که ثواب دے، زه په دواړو کښې بے وسه
ملاجانه داکتاب دِ خوږه بږغے ژبے وائی

زه بے وسه ګناه اوکړم، بل بے وسه ثواب اوکړی
په دِ دواړو کښې به کم یو قسمت سور دوزخ له بیائی

نهابوتله خوسړو په جفاده دغه بل کښې لا ښائے شته دِ
دے جهان کښې خو به ئے عمر سبه تیر کړے په خندائی

مادیو بے واکه اوره بیائے بل بے واکه اوړته
بیا دا سا خویو غضب دے، که دا بیعه ددے سائی

ستا کتاب په دے کښې څه وی لږ به پوئے که ملاجانه
یاخو راشه کوده شروع که قلار کښینه د آسمانه

یاخو تله مله نه ده، دجات کړه دینګرے ده
یاخو تاڅه اکو بکو ایجاد کړی دی دځلنه

وران او وسم د بل دلاس دی که ده ورانه که ودانه
اور او ددد او منا ماران به چاپیره وی زمانه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مرګ

ماتم وُ د خانانو د میاګانو ډک کمونه
بچې نچې خبر وے او کلک ئے ذلیلونه
ټولو په نظر کښې یوه لړه یو ارمان ووُ
روک شوے ترے منطق کښې وُ د حسن امیدونه
د مرګه یریدل دا چې ژوندو ورته اوده
غرے د بلاونو ښکاریدے ورته قبرونه

د ټولو سترګے وازے. لکه اسپے تریدلے
نغه خفه خبرے او پاسته ئے آوازونه
چې زه شوم ورښکاره یو یارم بابا ته لګیا وُ
لاله دیرے مرشم چې د مرګ مخ را ښکاره شی

چې فکر مې ورسا شی زړه م ولویږی خوریږی
د ژوند هریو امید مې د هیرو ذره ذره شی
یو تور غوندے ښامار وازه خُله ناست خرې عَلَمونه
هرځای ته چې شوے په هرځای دده حمله شی



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه ځوان ګوري نه زوړ د قهر اور يې هر څه سېزي
که فکر ورته وکړې ژوند يو ته مسخره ښي
او ته هم بې رحمه. ته هم نه ده سره لمبه ډ
دا څه مطلب د ژوند شو چې ئې خاورې خاتمه ښي

وې وايه لاله وايه څه په پته خوم پوې که
په کم هنر به جوړه د ژوند ورانه ماشومه ښي
که تا پکښې څه خوند مطلب ليدلې وي نو وايه
زمونږ په خيال خو ژوند يو دَ دردونو دے کاروان

ګوتم بودا رښتيا وې، چې پيدا اسونو ته باشې
دا داسې جوارۍ ده. هر يو داوړي ده تاوان
يا لس کاله يا شل سړے په اور آفت کښې تير کړي
آخر ئې چرته تورو تارخانو ته کړي روان

د هغې خا خبرې قياسونه دي دعوې دي
په عقل چې ئې کوړې خرافات هر يو بيان
لږ عيش. لږ ځواني. مال محبوبه. بس دغه وايه
بس يو خيام خبره نور رانده دي شاعران

زمانه په خرا کښې ناست يو ليوني وو په خندا شو
وې واوره دا خبرې دَ باچا دَ دسترخان



A .S.K B

وے دا ژبه دپرېانو، دَ دښاے دَ بیابان
دانشته په کتاب کښې دَ منطق اودَ امکان
نو ټول ترینه راتاؤشو نښه خیشته او ښیار مخونه
په سترګو کښې تیر وے خوشندي وژړونباز .

وګوا به لیونیه خلق وئي ته مرګ ته خاندے
دا دے ګیښې دَ خندلو څه خبره ده آشنا
لږ مونږه هم خبر که کنه، یار چه په آرام شو
که تا چرته کښې پته وي مونښلے مامله

هغه پاڅېد په سپین دیوال نے سپینه کرښه راښکه
وے خان دغه جواب دے در، ـــ شتے دَ مرګ اوسا
هغوی حشمے کړے پاکے "والله که مونږ څه پوهېږو
په سپین دیوال سپین خط چرته لیدے شي بابا

هغه وګه مرګ نو ژوند به هم دَ غسے روک وو
چه عقل دانسان کې بس دَ فرق انداز وو
چه سوړ او تیاره نه وي رڼا نشي لیدلے
دروند نظر کښې تل وي یا تیاره او یا رڼا

چه دواړه پکښې راشي رنګ خانشت حسن ترجوړ شي
که مرګ نه وو دُنیا کښې ژوند به څه پوهیده په سا ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

تول حُسن د ښکلو د مرګ د تورو سترګو تور دی
دا ده په تور جهان کښې تول رنګونه د دنیا
که مرګ نه وُ، ژوند به نه وُ، که بڼ وُ سینه به څه وُ
که توره بلا شپه نه وے چا څه کاوُ سبا
راځه زما ګلابه، ژوند او مرګ دواړه ته خانده
په دواړو کښې یو هم نه دے لایق ستا د ژړا
که خوامخواه ژړا د ښځې انسانانو، ځانانو ته ژاړه
چه دغه په ربښتیا، او که ګُلا کے دے د ژړا
یو حُسن رب ورکړے د چه ژوند له معنی ورکړی
او د غریب تے ځان ته جوړه کړے ده بلا
خزان که نه وُ، نو یو ګلاب، یوه میوه نه وه
که مرګ نه وُ جمالونو به یو رنګ خوب وُ په دُنیا
که نه وُ سمندرونه به جهاز نه به بیړۍ وه
که نه وے بلا توب ځوانۍ به څه کوله چا
یو زهر دی ځوانۍ له او مستۍ له اور نا له
د ژوند چینه د خضر چه یادیږی په دنیا
انسان د ریدی ګل دے، د ده کور دی بیابان
بهار د ده ځوانی ده، خزانونه دی د خزان



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

که یو ځلے خطا شو، شي به ورک مو ګلستان

او ورک شي هغه سات د ده د هوش د احساسه

کم شي چه ورته شي قایم، دائم، او جاویدان

دا ژوند کښې چه څه خوند دے مرګ جوړ که پیدا په ځان

که مرګ نه د جهد ون به وُ، د ورکو ورک جهان





A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یو آن

قسمته کښېنه په آرام کښېنه　　سباله ولیکه چې څه د خوښې وي
د سپین سبا په مخ خالونه کېږده　　چرته او چرته تور لالونه کېږده
تراخه بر خورمه که تراخه د خوښې وي

خو اوس مې یار لږ مسکې شوی دی　　قسمته چپ شه ژوندۍ شه په قرار
وخته د خدای د پاره ساه واخله　　دغه لمحه مې که د کال مقدار
سبا شو ستا خو نن که یار واکدار

ټول ژوند د ستا دیو بخښې زمونږ　　ټول ژوند مې واخله خو دا سات پرېږده
نن د دفتر که بند او سترګې پټې　　قلم د ما که داسې مات پرېږده
وا وره ، اوره ، وا وره ، دوه خبرې زمونږ

په توره شپه کښې د غم غاغکی ډنګ　　پرېږده چې ټنګ پکې ټول جهان کړمه زه
د خزان سترګو کښې تصویر د ګلاب　　د مقبرې په منځ کښې شرنګ د رباب
جند خزانی قسمت مې ستا دي واخله
قسمته ماته دا یو آن پرېږده

سباله توره که ټول جهان په تېرو　　خو دا لمحه ما او جانان پرېږده
بس چې ژوند ولیکم د زړه په کتاب　　د خزان سترګو کښې تصویر د ګلاب



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رنګ

ښه دے په رنګونو کښې زړګیه د ځوانۍ رنګ
مرګ او غم له ورکی دَ جمدنو جاودانۍ رنګ

هڅن هڅن په ممبر او محراب کښې تقبور کوی
یاد شو ملاجان ته دَ کوګے جمدانۍ رنګ

زیړه شوه دَ شرمه دَ یېرس مستۀ بیبانه
وے لید چه دستر ګو د خړے پاکستانۍ رنګ

سُرلندے تے جوړ کړی څڅرک او قولنګی تے کم
توپ چه کله وُوني په بُډاکښې د ځوانۍ رنګ

ورپسے شوندے وخاندی په تش لاس شمله ښغه کی
کله چه شی پوره غنی خان کښې دَ خانۍ رنګ

داخو ستا په دربار کښې قبلولوله — کله شین، کله سپین، کله تور یشمه
داخو ستا قدم په ارمان کښې زه — په از غود قالین په شان خور یشمه
داخو ماته خپل ځان ښکاره کوله — کله ساز کله رنګ کله اور یشمه
داخو زه دَ جمدن یو آوازیمه — خکه خکه یا شرنګ شم یا شور یشمه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کږې وړې

جنګ و دسنډ کانو، چینډ خوبي بي نې یوړه
ورانه به ورو شي چه دَغتو شي جګړه
سره دَغونډ ئې چه دَسیلاب چپه ړنا شي
کندو، ډنډو کوکښې به نیز وخوره کړي خړه
غم دسباکوی به سبا، نن دنن مزه واخله
خانده خوشحالیږه، وارا کاږه غوړه زیږه
دا خوبرېدو عشق دے چه بخبل کړي بے غرضه
هسے ځوک ناري کښې چاله نه ورکوي ګُره
هله به خبر شے چه دکنډے مینځ له ورشے
ژاړے به محل کښې یادَوے به دِ جونګړه
بے سره سَرَدَغنَي نه دے دَخرشولو سر
خکه مدام سپوږه خوري نصیب کښې نشته غوړه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تصوّر

زه یم ناست خان له جانان یو تصور کښې جوړومه

کله ئې سترګې تورومه. کله ئې شونډې ښکلومه

زه یم ناست دغم په ښار کښې د درنا بخرې پېیمه

خُم د رنګ کښې لا خمار شته، زه ئې لپې ډکه ومه

د سینې کوټو دِ خُمار شم. خنګه ښکلې ویش دِ ډکه

زه یو ښاخکې خو ځیګر کښې دریابونه سکر زړومه

زر او زور او تخت دِ واغښت. خیشت. نظر او خیال دِ راکه

دَ سرور په سُور طوفان کښې دِ کړه ډوبه لوئې لمعه

دا یو غم دو دیشه پاتې چرته پټ تیاره کښې ناست وُو

رو رو پټ م زړه له راغې لکه مار د ښکار په سمه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ډکه خښه دې رضایم ذَ لالونو زړو خانه

غم خښه، مرګ م هم قبول دې په خندا نې قبلوومه

داخو تا اور اور کړے یو د سرور ماته ښبلے

ښکه زه دې تور محل کښې خپل خوبونه بلومه

خلق وائی لاړ بلا اشو، غني خپلې مستۍ وخوړه

زه یم ناست دیار و ښتو کښې د نرګس ګلونه بیدمه

مرګه نه چرته ګرځیږه زه لا نه یمه اوزګار

خم د رنګ کښې لا خمار شته زه تے لپے ډکه ومه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دَسامري محل

شمع نشته دِ رڼا نشته | وجود شته خو سرور نشته
روڼدل او تړقيدل دي | لمبه نشته دِ او ر نشته
عجيبه د رند و ښار دے | ستړګے شته خو ليدل نشته
دے کوڅه کښ دَ مليانو | ښلفکوڼه دي جام نشته
دا مکه دَسامري ده | خانان ډير دي خيام نشته
ياداکوروُ دَ منصور | دلته خاورو کښ مستي ده
دلته هوش يو مست جنونُ | دلته مرګ خه دُ هستي ده
دلته حُسن دوحدت يو | دعاشق بت پرستي ده
عبادت دَ ستارسرُ | بند کي خه ده دوستي ده
يا خو داتا تمام ژوند | هم آخر و هم تمام
دلته دا زما خوبونه | هم اَبدُ و هم دوام
اوس دا ښار په ورانيدو دِ | جمات شته دِ امام نشته
هسے نوم شته دَ کلونو | د باغونو سمام نشته
هاے افسوس چه جنون شته دِ | سر سرور د جمدون نشته
محل جوړ دے ليلیٰ نا سته | مجنون نشته مجنون نشته



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دے عجب د رنګ جهان کښې | سپین غالب دی او تور نشته
روتیدل او ترقیدل دی | لمبه نشته دِ اور نشته
عجیبه لار مِ نیولې | نه پړاو شته نه مقام
نه جنون نه بې خودي ده | عجیبه زما ماښام
نه ښائست شته نه رڼا شته | عجیبه ساقي او جام
نه خندول نه مستول کړي | دا زما ماهِ ګلفام
او زما په دِ جهان کښې | د رڼا خوریدل نشته
سترګې شته وازې تشې | د خوبونو لیدل نشته
دلته او ګوره جانانه | ستا په غم مستیدل نشته
دلته او ګوره دلبره | ستا د نور بلیدل نشته
دلته رنګ نه رنګیني شته | نه شراب شته نه خیام
دلته شنګ او غوړنګ نشته | تور او سپور او نسکور جام
دلته چغې دي د نن | نه سبا شته نه پرون
دا محل د سامري دے | نه منصور شته نه مجنون
دلته جهدون د تیرو ډک دي | دلته رنګ د خیام نشته
دلته تول تشویش تشویش دي | امید مړ دے آرام نشته
دے تک تور د غم وطن کښې | اور بلیږي اور بل نشته

عجیبه د ړندو ښار دے
سترګې شته خلیدل نشته



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کډوړے ځي په شا

چه زور په مخه وکړي سخته اووي ډېره
مازغه ورله کډوړ کړي خپل رقیب کاندي اوتره
دَ لرے راشغله شي. توپ وچت وکړي په بره
يو تنله دځوانئ په زور دخپل طاقت نشته
کډوړے ځي په شا
کډوړے ځي په شا چه بل له او لګوي شا
کډوړے ځي په شا

وي مروخت مرشي ته په غصه دا سے په قار
په مرچا دَده دق دے که وي موړ او که وي خوار
بل زور خپل ورته ښکاري خاص دِ خپلے ښځے یار
خپل زور ته اُور آفت پردي ته نه لري نشه
کډوړے ځي په شا

يو تنله په خلوړي، اُور د زور، آفت د جنګ
په ځان دے نه په بل. ليونے کړے دخپل ننګ
که ځا دي که بے ځا دے دِ بس جنګ او جناله جنګ
غيرت يو لاشاله په خپل جهل کښې نشته
کډوړے ځي په شا



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جلال

چه زه غواړم د هیرو نه مستی سره ګلونه جوړ کړم
د سرو اوښکو نه سرې شونډې، د زړه سرو نه جوړ کړم
د خزانیانو کرم دوبه، د امید په سمندر کښې
د ګنجکو نه لالونه د غلو پلونه جوړ کړم
چه دا روح م په ښکار اوځي، د رنګونو د خوبونو
که نور نه وي د تیرو زړه رنګینی نورونه جوړ کړم
چه د خیشت شم زه لیواله، د صحرا مره ذره کښې
په زرهاو بوستانونه، په لکها ګلونه جوړ کړم
چه زړه ور بې دارمان شم د سپرلي په سپین سبا کښې
بې حسابه ماښامونه، بې پایان غمونه جوړ کړم
تور او سپین زما د سترګو، کله تول کله تلل دي
شپه او ورځ زما نظر د، ورکول دي او منتل دي
که خندا ده که ژړا ده، دا ځګر مشغولول دي
که وصال دې که فراق دې، خپل سره ورته کړه یادل دي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه زه مست شم دَ ویرانَ سره خیشته کلونه جوړ کړم
دَ سرو او سپینو نه سرے شونډے د جرا سره نه جوړ کړم

چه زه نیت د کتے اوکړم د پریوتی د شکست نه
د فاتح د سترګو کبر او دَ شونډو غرور جوړ کړم

دا چه زه ځان له یو تخت د رنګین باد نه وړان کړم
د غلام خوارۍ بدله د پادشاه په رنګ سرور کړم

دا چه ته ئے اے جانانه، دا چه ستا مستی دنیا ده
دا زما مینه ارمان دے، دا زما ژړا خندا ده

دَ ملا خبرے خوشے، معامله ستا او زما ده
دا داستان د لوګے نه دے، دا قصه د عشق او ساز ده

دے زما سره رکښ پټ راز ستا د حُسن او کمال دے
دا زما کمزورے سترګے ستا د خیشت جاه و جلال دے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دا زمونږ غوندې
# دُرکو کمه لار؟

خوش نصيبه خوش قسمته وې منصوره
خلقو جوړ که د ہله دار څه مزیدار
مار او ړې دې زړګی کبن له ازله
هم منصور هم سرور او هم دار
وايا وايا د رندانو بابا وایا
دا زمونږ غوندې دُرکو کمه لار؟



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زما محترم رور سردار علي خان

## (امیر جماعت اسلامي) ته

دا چې ته په سجده پریوزې او زه ډک د میو جام کړم
دا م زه غواړم قرار . دا هم ته غواړې قرار
ته لټې مغجان کښې حورې سپینې ګل اندامې
زه جنت دلته لټومه . نشم کولې انتظار
تا په قرض جنان و ورکه . زه ترې نغده سودا غواړم
دا ته سبا شي په بیو پارکښې . که ما سبا او که بیو پار
شیخه راشه میخانې ته . چې مقصد زمونږ دیو دے
ستا د مرګه پس قرار . زما دلته کښې قرار
نور د سوال مقام مو نه و . د ژړا خاموشي یک دے
یو ارمان د دواړو زړه کښې کې جدا جدا اظهار
پتنګان د یوې شمعې . که بینا دے که ښمکور دے
دا خو خکه ده حاجي صیب . لیونۍ دے د زړه یار



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بینواته خط

بینوا په هشتنغر کښې ستا یو رور دلته او سېږی
بېرسرے، بېپټے سترګے، پټ پټ شونډو کښې مسېږی
ستا قلم چه نولی او بنکے د هغه سترګے ډکېږی
تا چه خپل درد په ژړا کړی، هغه دلته کښې ژړېږی
دلته ناست په هشتنغر کښې ستا یو یار دے په رښتیا
په خانانو کښې یو خان خو، ستا په شان دے بینوا
خلق وائی لیونے دے عجیبه سکوی کارونه
سره او سپین د خان ولی چرته کوری زیر کلونه
د شرابو جام په لاس کښې او زده وائی حدیثونه
کله غواړی په مسجد وکښې د الله نه شرابونه
تول بے توله شان تلل کړی د مرګی او د دُنیا
وائی که سترګے د مرګ نه وے ژوند به نه لید لو چا
چه نبه روغ وی چرته جمع د به ناست پکښې حیران وی
خپل غمونو نه بے غمه، او پردو ته پریشان وی

(*) د هشتنغر یو کلی اتمانزی دی، چه د خان عبدالغفار خان ټاټوبه دی.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

په غرمه کښې به یوازې چرته ښه رو کښې روان وي
د ملا د ذات دښمن دی، ډیر خوار به وته د مان وي
مات تو بک د منطق واخلي نسبه ولي پرې د رسا
عجیبه ورانې خبرې، مرچکي سره حلوا
ستا په شان دَ ده زړګي هم د مړ خوار سره خوږېږي
په وجود ئې غرمن نشته په بخرې اور سوزېږي
زړه ئې ډک د میو جام دی که لږ رقی نو توئېږي
تمبه وکړه ئې او وړدې په لږ تاو سره لمبه کیږي
ستا د هر تنګ سره هنګ کې یو ستار دی بې بها
نه د نوي قندهار دی د زوړ (۱) دی باشنده
ستا د هر سر سره رپي، یو شا تار ستا د رباب دی
نیم او سنبیار نیم لیونی دی، مراو شوې شان ګلاب دی
از غمي ډیر شو خاښت کم شو، وائې دا ئې انقلاب دی
زه طوفان یم سمندر یم، په دغه کې ژوند حباب دی
زما خاوره کښې ډیر نور شته، تشه نه لري دا سا
زه غرور، ننګ او سرور یم، سره رنګینه م ژړا
ته چه کم رنګ کښې غوبه شې دې هم هغه رنګ کښې رنګ شې
ته چه مست په ما تن وړې، دې ګنګروشي په ښنګ ښنګ شي

---

(۱) د وادي پېښور زوړ نوم قندهار ؤ. لکه باد وفي بابا د خان مطلب قندهار نه، بلکه ګندهارا دی. (مولف)



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه چې غم فریاد شروع کړې، د بې خوبۍ اکنګ شي
نه چې توره کړې راپورته، د یوسف نر توب په جنګ شي
بل ددې په شان به کم خاخان له رورکړې راپیدا
یارانې له داسې یار، داسې بل د زړه آشنا
ستا په زړه کښې چې کوم نور دی، ماکښې هم هغه ځلیږي
ستا د زړه چینه د رحم، د لته رو رد دې چې بهیږي
نه چې ویښې کم خوبونه، زماسترګو کښې غړیږي
نه چې زانګې په کم تال، په هغې غنۍ زنګیږي

بېنوا په هغه کښې ستا او رو رد لته او سیږي
بېرسې پټې سترګې، خانه خاندي او ژړیږي
کلمتنګ کله تکورشي، کله ساز کله ژړا
کله ورو ورو کښې لړلې، غیرتونه فلسفه
دیرخیزونه رتب ورکړي چې بنا دیږي دنیا
چې څه غواړي هغه نشته ستا په شان د بېنوا (*)

(*) مراد د پښتو ژبې لوی لیکوال او شاعر مرحوم استاد عبدالرؤف بېنوا (۱۳۹۴ هـ قمري) دی چې پښتو ژبې ته ئې په نظم او نثر کې ډېر خدمتونه کړي دي. او مختص (...) آثار ئې هم چاپ شوي دي چې په علمي کېدو او ... ئې ... ګڼل شوي دي. استاد عبدالرؤف بېنوا (خدای دې وبښي) تر څو سوو زیات مستقل آثار او لیکنې او مقالې ... ته پرېښي دي.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشه

هوش دِ د علمونو نه جدا جدا روان شو
خدایه ولیونیه جوړ سم لیونے کیږے
مرګ کښې دا ښکاره راته جمود نو یو جاودان شو
زه ور پورے خاندم د نیا، ته ورته ژړیږے

# پلوشه

نن ربابي د خیال دنیا جوړے بدله ده
نوے دِ مضراب دِ نو لاهو کښې غـــزیږے
هغه دِ رباب هغه پردے خو نن دے شان د بل
دا د کـــلا تال دې، یاره پاڅه که ګډیږے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نقاب

واچه زه ځان لیونے کړم، دا زه تنګ شمه د ځانه
شیخ بابا ته لګیا دے، مسئلې کې د عذاب
زه خو دلته په عذاب یم، د دے خپل خود او احساس
ځکه کله په سجده شم، کله او څښمه (*) شراب
چه بے حسه شم رو کیږم، چه احساس لرم سوزیږم
نه طاقت شته د سکون او نه همت دا ضطراب
چه چا پیره نظر او کړم، همه پټ او ښکاره زه یم
دا شراب د ما جوړ کړے، ما جوړ کړے دا محراب
مذهب څه د شے خو رسم ؤ، مسئلے او منطق و نه
او د هغې سوال جواب د چه نشته د جواب

(*) و څکم، و چښم.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

جانان تش د عاشق سینه، د خپل زړه وینه څښل دي
چه ډیر وږے شو مجنون، ځانئ کړ ځان له کباب
رباب څه شے دے مرګله ورے او د توت او چه تنه ده
خو چه سوز د آدم راشي هله هنګ وکړي رباب
کله نو کله د رنا شي، کله غم شي او ژړا شي
دا ځیګر دَ ربابي دے، چه هم جام شي هم شراب
خو دا زړه م راته وائي، دا هله وکي م کونیږي
چه آخر به څوک اوچت کړي دَ جانان دَ مخ نقاب



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اختر

غمی او خور داسې غم | نه دارو لري نه دم
کل جهان دِ سترګې سترګې | نشته سترګې د صنم
خلق وئی اختر اختر دے | ماته ښکاري محترم
چار چاپیره ساز او شرنګ دے | ماله سوز ته بها او غم
چه جمله ون په کمید وشو | شو هر خیز و سره کم
دَ شهوت نه وحشت لاړَ | دَ نیکئ سرور شو کم
دَ ګناه نه مزه لاړه | پیکه خوله شوه دَ صنم
نه په بام دلیلی مست شوم | نه سایه کښې دَ حرم

خلق وائی اختر اختر دے
ماته ښکاري محترم

اختر خو سترګې دُوه دَ دِلبر وي | مسکے مسکے شان پکښې نظر وي
ایمان چه زړه یو دک دَ درنا وي | مرحبا کعبه وي مرحبا کوثر وي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوا به د شعر همه احساس کړي ــــ چه ځیګر تش وي تش د اثر وي

حُسن خو سترګو کښې د عاشق وي ــــ رڼا د ډوی روښان دِلبر وي

رنګین ګلونه، شګې صحرا شي ــــ تش د رنګونو چه د چا سره وي

جهان دې یو اور شي توره بلا شي ــــ چه بې سهره نې ما نه ګیري

جانانه په ښنګ کښې خمار په سترګو ــــ د وصال مهر و اختر اختر وي

خونه دِ دلدار ښته او نه خار ښته ــــ د دا ژوند به بې سبه سفر وي

لا ربګا شي سو جور د غني خانه ــــ دکوا ني ماو دِ آخر قرار شو

د رنګینۍ وار دِ لا رلوتیر شو

تره سامان دِ اوس به سفر وي

زه نه یریږم د سفرونو

د جهدون هره لمحه سفر وي

خوږ روی م داشوم قسمت خپل

چه یا سبا وي یا ما نه ګیر وي

ګرانی مستی م چه کم خوا لا ره

وربسې خدا یږ دهم هاتحُمه

لا د علام وي که د تورت وي

که تور غمونه که سور سفر وي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تپوس که جواب

وایا وایا ملاجانه — ژوند تپوس دی که جواب
ژوند وصال دی که جنون دی — که آرام که اضطراب
ژوند امام دی که غلام دی — که ممبر دی که محراب
که یو مست غوندی جهان کښی — رنګین خوب دی د سراب

که لمحه د نور کتمل دی
د دی تور تاریک جهانه
ژوند تپوس دی که جواب دی
وایا وایا ملاجانه

ژوند فرعون دی او غرور دی — که جنون دی او سرور دی
د نمرود د زر و تخت دی — که رنګین مرګ د منصور دی
دا حسین مسکی مسکی دی — که یزید مست په غرور دی
دا بهار دی، که ګلاب دی، لږ پټ شو دخزانه
ژوند تپوس دی که جواب دی، وایا وایا ملاجانه

ژوند یو مست د میو جام دی — که یو مات د غم کچکول



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیونۍ خ د خیـام دے — که اوښیار مخ د بلبل
یو رنګین باغ د ګلونو — که د اور د ازغو شپول

که یو تینښته او قـرار دے
تبتیدلی دی له خپل ځانه
ژوند تپوس دے که جواب دے
وایا وایا ملاجانه

ژوند یو خیشت دے چه خوریږی — که جمال چه خاورے کیږی
دا ساز خپل مرګ ته کړی ساندے (*) — که یو اور دے چه بلیږی
د دے تلو، مقام، دمه شته — که دما نه سا تبتیږی
منکوحی که د ارت دی — څه د کیږی څه تشیږی

که یو نور دے چه خوریږی
ناخبره د خپل شانه
ژوند تپوس دے که جواب دے
وایا وایا ملاجانه

---

(*) ساندے: د مړي ستاینے .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تلے مرګ

په لکه کاله اوده وی — یو ساعت له را بیدار شی
خو لکه به نور او ده وی — چه روان د مرګ په لار شی
شاته تور یو سمندر دے — مخکښې لا تورہ بلا ده
مینځ کښې یو د شبنم څاڅکے — په غوړ ځنګ لکه آبشار شی
د آدم زړه د کتو دے — د ده تورہ دریابي ده
دا سے تلو دا سے راتلو کښې — د دے خوږ شی خمار شی
وو پکار چه ساعت د کوند — په ژړا ژړا تیر و لے
که دے ډیر په لیلیٰ مست شی — خو آخر به د مرګ یار شی
نه په تلی مرګ ستومان یم — نه راتلونکی نه یم
زه به تل د غمے خاندم — که په اور شی که په دار شی



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاتے پاتے دقیصے شوے  د دوزخ د حسابونو
دغه شے د ملاجان دے  زه خو ستا د مینے یار
اوکه وے چه سوزه سوزم  عشق کښی نشته انکار نه
زه خو شیخ ملا خو نه یم  چه نه کار کوم نه انکار
خو د سولو دره نه یم  ساهو خانکه دشا توت یم
دانه جوړکه یو رنګین  او اونګین غونډ ستار
که یو تنګ دی که زړ تنګه  سینه په سر کښی برغ برم
یو قطره ستا د دریاب  یو ښکالو ستا د خمار
اے زما د سترګو توره  دا یوه خوړ کښی واوره
دلته سوے یمه دیر  نور دم پریږده په قلار



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لټون

غرمه دَ اوړي
لکه شپه دَ ژمي
یو خاموشي
او قلارے خور دے
د کور کور کو کو

او چپ چاپ عالم هو
وخت خپه نیولے

په رکاب سور دے
دُنیا دِ خپل زړګی ته غوږ نیولے
دَ مرګ او ژوند حساب کتاب اوري
فضا کښې کله یو مسکے توب شان دِ
لکه په خوب کښې څوک رباب اوري
او زه یوا ځے
په خیالونو کښې ډوب



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَخپل ارمان
تلاش کښې کرځمه
یو روک
مجبوره
مسافر
یم روان
په مزکه پروت
په آسمان کرځمه
ما دِهم خپل زړګی ته غوږ نیولے
د ژوند څه وجه څه نساب لټوم
درد له او مرګ له څه سوب (*) کوم
ابد کښې خپل دهوش حباب لټوم
دَ ولے ولے
په دریاب کښې روک
جام کښې شراب
او په شرابو کښې
په سُور کتاب کښې
دجمات د تاخ

(*) سوب : سبب .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه مرګ اوږوندله
یوتروون کوړم
چپه چپیا
اوخاموشۍ
کښې زه
شرنګ دستار
دتال مضمون کوړم
چاپیره رنګ کښې
شنوکمترو کښې
ځان له جواب دخپل جمدون کوړم
زه لیونے یم، لیونے یم، دبنتیا
په میخانه کښې افلاطون کوړم
ځان ته چه ستر ګے م راواړولے
بس
مرګ
اونیش
وډ ینه
زه لیونے یم، لیونے یم دبنتیا



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمرګ په سترګو کښې جمدون ګورم
غږمه د اوري
لکه شپه د ژمي
يو خاموشي
يو قلار دے خور دے
چرته کښې لرے
يو بحر دے
د نور
ستورے ؟
که لرے د صحرا اور دے
ما ته ورو کو
پلوشو
کښې وائي
که غر دِ لوئے
په سرئے لار خوشته
څه ؟
که جمدون
يو روک



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساعت دِ

دموش

یو

ابدی

دَ ده، دلدار خوشته

زړګیه، ځان ټکې که ماټکې

خنکه ځان خلاص دهــر جنجاله کړے

زړګیه، اے تمه زړګیه زما

ځان کښې مشغول او ما خوشحاله کړے

خوستانه منم

غـرقیږ مه

سـم، په رښـتیا

لیونے کیږ مه

د اضطراب په تور دریاب کښې زه

اوس سـر سری یم بیا ډوبیږ مه

په تورو ویرو کښې ګرکیږ مه

دلته په خپل اور کښې سوزیږ مه

په جمدون تورے خاورے کیږ مه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خپلو وینو کښې ډوبېږ مه

غــرمه دَ اوړی

لکه شـپه دَ ژمی

یو خاموشی یو قلار دے خور دے

چرته کښې لړے

یو بخــرے دَ نور

ستورے، که لړے د صحرا اور دے

ماته ورو کو پلوشو کښې وائی

که غږ دِ لوئے په سرے لار خوشته

څه که جمله یوڑ ساعت ګورن دِ دَهوش

یو ابدی دَ ده دلدار خوشته



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کاروان

یو نیم ژوند ډک د مستۍ وی، یو سرور وی چه شرنګیږی
پردې تولے په خپل ځائے وی، پاکے شے په سُر غږیږی
هر یو تار ئے مست بورا وی، چه کلونو کښې بو ښکیږی
هر یو تال ئے جُنجت په توا کښې، زیر و بم پکښې ګډیږی
خوشحالے په چوړلکونو، په شاډولو (*) پکښې دانګی
یو هوش مست په خپل سرور کښې، دخمار په تالے ځانګی
یو نیم ژوند خوږ او بے نوره، ګډ په شلو خپو (**) روان وی
هر قدم ئے یو تیندک وی، تور په غم ئے کل جهان وی
هر آواز ئے د درد چغه، په خپل اور کښې بندیوان وی
د آرام په ارمان سوی، لکه غرځه ته میدان وی
دغمونو سیلابونو کښې روان یو کنګهر وی
په جبلونو دوزخ کښې پروت، نیم ژوندے دی او نیم مړ وی
یو بل ژوند د شمعے ژوند وی، لا به مړی لا به سوزیږی
هله نور او رڼا راشی، چه په سر سے اور بلیږی

(*) شاډوله، یو ډول ملی نڅا ده. (**) خپو: پښو.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ے یو اور دی سوز د لګېږی ، لاس د جم پې سوزېږی

پل د ښمن د بل غلام وی ، ځان سوزی بل ته ځلېږی

نه نور دَ ده انعام دے ، دَ قسمت ګوتو ور کړے

نه اور د ده جمدون دے ، چه جمدون دے لګولے

ومره قسمه دَ ژوندون دی ، خو بچه د آدم دے

وک په یو ځائے کښې لږ لوئے دی ، څوک په بل ځائے کښې لږ کم دے

ږ کاروان کښې قتول روان دے ، که راننده دی او که سم دی

وک په چغو څوک مسکی دی ، څوک خمار کښې څوک په غم دی

فله یوه روانه ، یوه لار ، یو ے منزل دے

ترمخکښې څوک روان دے ، سپین مشال دے او ډېر بل دے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نه کیږی

چه په څاڅکي کښې مستي د دریاب راشي
لکه ویر کښې سُر او رنګ د رباب راشي
صحرالاندې شي سمندر کړه خندا له
او څپې سره یارے له سراب راشي
لکه غم د خوشحالۍ کره میلمه شي
یا په مرګ قربانېدو له شباب راشي
لکه خوند له د ایام د اوړو سترګو
په جهات کښې ګل، ساقي، او شراب راشي
لکه اوره. اور ږدګے په نمر منین شي
او دغر زور او پښتے له حباب راشي
دا زما او ستا یاري دَ دے عجیبه
په شبنم کښې چه طوفان او سیلاب راشي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# راکه ساقي راکه

راکه ساقي راکه، شراب نا[+] اورم په کار دے
زړه م تور دے خاور دے باهر[×] تا ورانه انکار دے
پرېږده چه ئې وچوم، دا زړه نه دے یو سزا ده
ساز سرور ئې زړک شو، بس یو قهر بے قرار دے
ده به زړه کړ غولم، مئینولمه، مستولمه
اوس م وینه څکي، بس تش یو دړه دے یو ازار دے
هیلو تې ګدا شوه، اوس نه تال دے نه شرنګار دے
راکه ساقي، راکه، شراب نا اورم په کار دے
نشته هغه زور سُرور ساقي ستا په شرابو کښ
باغ نه حُسن لاړ، رنګونه کم شو په ګلابو کښ
واچوه سُور اور د جام کښ راکه چه مستي شمه
مست لیونے نه شوم هسے شمار شوم په خرابو کښ
دا دَ څه جهدون دے چه م هوش پکښ په دار دے
راکه ساقي راکه شراب نا اورم په کار دے
بهار راغے، بهار لاړه، زما ژوند سوے ګلزار وو
یو تباه تالا ګلشن وو، په خپل اور کښ ګرفتار وو

(+) نا، نه (×) باهر، بهر، د باندے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو بې کوره، بې آرامه، سرګردانه مسافر دم
نه زه یار جانان دَ چا دم، نه زملچرته دِلدار وو
جهان تش د جهان درد وو، هغه ښکلي جانان نه وو
هر نظر چې د سترګو، نوې رنګ نوې خمار وو
زړهٔ م توره ادیره ده، د تیارو تاریکو ښار دې
راکه راکه ساقي راکه، شراب نا، اور م پکار دې
یو بې حسه، دوب قرار دې دَ مرګي ښکلي مکان
که ساوژني، او رهم وژني. د تیارو دغه جهان
تورو سترګو کښې نښتي چرته یو دَ اور بڅرې
یو بې خوده چپ قرار دې، دَ ده کور دَ لا مکان
نه دا سوز، نه دا تالاش شته، بې جانانه فراق نه
ابدي وصال، وصال دې. مرګ دې داسې ښه جانان
دَ ده کور ته تورې لرې دَ غملونه پټې دي
تورو لاسو کښې نه رحم په غریب سوي انسان
د ده ملک کښې دوب آرام دې، یو بې خوبه دَ خوب دې
روک جهان دې، روک نې احساس شته. یا صلیب یا لیونتوب دې
راوړه. راوړه چې فنا شم، زړهٔ د ژوندهٔ م بې زار دې
راکه، راکه ساقي راکه، شراب نا. اور م پکار دې



A .S.K B

# دیوداسي

په کوکوړے کوکو شتکے، تو رانغے په تنانه
په چپو چپو مستي به دَ نسیم چپو راوړه

سحر راغے لکه زیرے، دَ خندا او دَ ړنا
غُنچے تولو وے مسکا کښې، نن نسیم کښې نشه

وخت یو بل پراو پوره که، یو بله شپه په تلو شوه
چا کړه تیره دَ چا غیږ کښې، په چا تیره په سلګو شوه

ملګم تیز کړه په ناستے، د زنګونو په جهان کښې
هوش او رنګ به مې یو ځاے کړل، جوړول مې تصویرونه

د زړهٔ غم به مې د رنځور که، د جانکلے په احساس کښې
مړه او مړاوي نظر شو، سوسو شان رنګونه

که تصویر لیلیٰ جوړ کړم، دَ شیرین که د منصور
ده یو ستر ګو کښې زړهٔ یم، زما درد، زما خوږونه

تور او سور دوه رنګه واخلم، که چنګیز[1] یا تیمور[2] جوړ کړم
دَ دوی ستر ګو کښې دا قهر، زما او رګي تو پونه

---

(۱) چنګېز خان (۱۱۶۲-۱۲۲۷ ع م) (۲) تیمور (۱۳۳۵-۱۴۰۴ ع)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې رنګ لیونتوب لوري ته، یو پرۍ راغله غمګینه
نه لیلی وه، نه شیخۍ وه، نه هیراوه نه شیرینه (*)

حیثیت ئے نه وو، یو ارمان وو چا شاعر خوب کښې لیدلے
مراوُ سترګو کښې ئے غم وو، خماري د چا په مینه

هر نظر هر حرکت کښې، لیونے د ځوانۍ تال وو
ټول وجود ئے یو سرور وو، یو رنګینه ځوانه مینه

ما ته وې اے معصومې، ما ته او ګوره زه څه یم
یو خوار د بُت ویښتا، د کمینو نه کمینه

ما وې ته د حسن لور ئې، ته رنګینه شهزادګۍ ئې
ستا په یو سوي نظر به، زر تختونه شي قربان

ما وې اے د غم مینې، ته د ګلو ښاپیرۍ ئې
د ځوانۍ په مست بهار کښې، دا رنګونه د نخران؟

ستا د اسویلي، سوځونکي نه دي، ارمانونه دي مستے دي
یو په یو میخانه، ستا هر څاڅکي کښې طوفان

د نازک نیاز بین جهان کښې دومره تور او درانه غرونه
اے د سرو ګلابو څانګې، ستا خولې دے د خزان

نو ئے شل پرې د پرېږده، دا پرېږدې د غم کړه لرې
چې خندا راشي ګلشن ته، چې روښانه شي جهان

(*) د لیلی مجنون، د ګل شخي، هیرا رانجا او فرهاد و شیرین د قصو مینې.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بت ته نه ئې د بت وینزه، ستا په سترګو کښې رڼا ده
نه ساقي ئې نه شراب ئې، نه خمار ئې نه جانان
دومره خیشت آزدې دیدنه، دومره مینه بې جانانه
ستا غاښت چه لیدې نشي، نور روند شي دے جهان
وفا، مینه او ارمان، لکه نور تا کښې ځلیږي
یو غمګین ارمان پټ کړے، ستاد شونډو رنګین ارمان
راځه خوا کښې را کښینه، زه هم ستا د ارمان رودیم
ته هم ګل د بیابان ئې، زه هم ګل د بیابان
زه هم ژوند یمه خوږ کړے، درد دې ولے، ژړولے
وینه مینه دواړه ژاړي، غواړي مینے لجانان
مانه ئې او ګل مسکے شوه. ستړ ئې ته د شوے له اوبنکو
تورتشا د رخپل را غوندېه کړه، ځان له غلے شوه روانه
خپل امید او خپل ارمان ئې ورته ستوري د کاروان شو
د سرو ګلو په تلاش کښې، په صحرا کښې سرګردانه
د رقاصے په قدم کښې، د ګل څانګے په انداز کښې
یو دنیا د سوز او حسن، هوش کښې راکه شونډې مانه
راته ئې زړه کښې یو بل درد، یو رنګین شان ارمان پېښو د
یو زرین د نور بڅرکے د نورو نو د جهانه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# منم

ولاړ مه په اورکښې ملوے اور زما قسمت
لمبې قسمت نه وے ولمبې زما دمیت

نه بخت او نه کمال منم نه توره نه جلال
یو ستا د سترګو خیال منم او ستا د شونډو وست

نه ګل نه دلربا منم نه حُسن نه بهار
یو ستا دَ خندا راج منم بے تاج بے سلطنت

نه چل او نه تدبیر منم نه عقل نه تقدیر
یو زیړ دَ سپرلي ګل منم ضامن دَ یار دَ بیت



A .S.K B

# ګلونه د ورخارۍ

ګلونه د ورخارۍ  د رنګ ښاښکي ولاړي
سحر په خندا ئیر کړي  مابنام تول ئي وخفه مړاوي

ګلونه د ورخارۍ

اغشتي (*) ئې سل رنګه  خندېږي ښنګ په ښکنګه
سحر ځواني مشرنګه  او مابنام ولاړ وي ژاړي

ګلونه د ورخارۍ

ځواني د یو سحر ده  جهدون ديوے وهځے
بیا هم مانه نزان دی  چه هر سحر خندان دی
او نه یو پوسته غم ته  دلبن ساعت تور تم ته
آدم د اوبنکو نوم دے  په ګلونو پسے ژاړي

ګلونه د ورخارۍ

ښه ښکلے ښکلے خاندي  رنګینه دی تابان دی
بنائست د ګلستان دی
غني ورته همیش حیران حیرانتان ولاړي

ګلونه د ورخارۍ

---

(*) اغشتي : ا...

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څُمه، څُمه، څُمه

په رڼا باندے مئین یم خو، تیاروته نه یریږم
که پښیمان په ګناه نه یم، په خوږنه غادړه کیږم
پړون تخم وم، نن ګل یم، سبا بیا به خاوره کیږم
زه د بادیوه چپه یم، په صحرا په باغ تیریږم
کله باد کله باران شي، کله اورګښ او سوزیږم
خوږه څُم به مخه څُمه
که او د ریږ مه روکیږم
چه ورپیښ شم په کلونو، ګرم خو لئے دعطرو دکه
خو ورومه ئے چاپیره، ورته خاندم خوشحالیږم
چه د رنګ په جهان ور شم، یو رنګین د بوډئے تال شم
رنګا رنګ رنګین جال ګښ، سپینه شمع شم کڅیږم
چه دمستو په محفل ګښ، په ساقي او په جام ور شم
لیونئے شانئے خمار شم، په خوبونو ګښ خوریږم
چه جهان تیاره تیاره شي، او رڼا شي تنله شي عذاب شي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه پښتون د پښتو غږ شم ، نه يرېږم نه نرېږم

چه د علم په جهان کښ ، د اوسنيا رو خوا کښ کښېنم

هم مغوی پوړے خند اکړم

هم په خان پوړے خندېږم

په فکر و نولیو نے شوم ، په لټون ، لټون شوم ستړے

خو آخر دغے له راغلم ، نه پوهېږم نه پوهېږم

خوزه ځُمه ځُمه ځُمه ، تل روان یمه په مخه

یو مقام ته ور روان یم ، یو مقام ته به رسېږم

او په لاړ چه ځه راغله ، که تیاره دی که رڼا

زه رڼا کښ یم خوشحاله

خو تیاره نه نه یرېږم



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یو ټکے

دا لکه زړه ګټاته، مونږ دا یو ټکے زده کړے
که تک تور دې هم خیښته شي، بار چه ستا د زنخے خال شي

خته خته ژړګخته، بے دره که بے زبان
د کلال کوزے چه وشي، د کلال د سترګو خیال شي

یا د چاوره دیوکه، یا ګلاب کوټو کښ جام شي
د خیام لو نګین خیال شي، د ساقي رنګین جمال شي



A .S.K B

# بامیان

یو خوا د قدرت جمال ، بل خوا د انسان کمال
زه ئې لیونی کړمه ، چار چاپېره نور دی
نه دې بامیان (*) نه دی دا ، دا خو کوه طور دی
دلته د فطرت کمال ، دلته د آدم جنون
دواړه په ضد شوي و ، جوړې که ترې څه افسون
هر خوا چې د لار نظر ، غرونه ، نا ، کلونه دي
هر غر دې دریاب د رنګ ، یونا په زرکونه دي
بل خوا د آدم د ژوند ، مینې او ایمان قصه
هر غار کښې نغمې د عشق ، هر خوا د جانان قصه
هر یو غار کښې پروت خاموش ، ساز یو د نورو نو دی
دا روک او ویجاړ جهان ، کورم د نیکونو دی
دی تالا جهان پسې ، دی د پښتونشان پسې
دی تباه دوران پسې ، دی شهید جانان پسې
دی سوی ګلشن پسې ، دی روک ګلستان پسې

زه د زړه په سرو وینو ، ژاړمه ربیعمه
زه چې دې ته کومه ، شر له به سوځېږمه

---

(*) بامیان د افغانستان په یوه لوړه سیمه کې پراته دي چې لرغونې تاریخي آثار لري . د بودا د مجسمې [illegible] لرغوني آثار [illegible] .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سپرلے

اوګوره جانانه دتيارے نه رڼا جوړه شوه
نوے سپرلے راغے دګلونو دنيا جوړه شوه

زمکه لکه ښاره آبے بوره ، وړکه سپوږمه وه
چرته مروره مستي تلې دخپل کوره وه

هانې غوټۍ نه وے په هر بوټي دمرګ سورے و
شرنګ دزړونو دغلے ، ميخانه نے تشه توره وه

يا ساندے او ونګے ، ياترے سپينه خندا جوړه شوه
اوګوره جانانه دتيارے نه رڼا جوړه شوه

يا جهان د ارمان و ، يا رنګين نشه رنګونه شو
مينه زوے مسکے شوه ، په خندا وربه ګلونه شو

مست شو ساقي دا ے ، کل جهانے مست هوښه که
هره سا اميد شو ، هر نظر کښې خمارونه شو

هر قدم کښې تال په هر ځلم کښې مسکا جوړه شوه
اوګوره جانانه دتيارے نه رڼا جوړه شوه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا سپوږمۍ کاسیره شوه ، په سترګو اشارې کوي
ښکلې ، نوې مستې ، شرم شرم کښې نخرې کوي

مرخوا مینه مینه ده ، شیرینه ده ، رنګینه ده
رنګ اد حُسن یو شو ، مست شو خاندي مسخرې کوي

خوب نه جوړ خمار شو ، د فراق نه لیلیٰ جوړه شوه
خاندې غني خانه بیا دِ ورانه دنیا جوړه شوه



A .S.K B

# ماښام

اوږنځیه راغله په ماښام کښې ... خوږ او غمګین خدایه دا تور ماښام شو
اوکوړه سازبیا . مهین مهین شو ... رنګین رنګین شو . را ښکلے دام شو
هوس زلمے شو . شوده زړګے بیا ... خان کښې رنګونه د مستۍ ګوري
زه په ژړا شم . چې ورته ګورم ... دا ژوند خوږے لا زړه تمام شو
دخوانے مشرق اود آسمان تندر ... ژوند ئے مزه کا . اوږد ئے مزه کا
زه سم ژاړم نیش لا . نه وم د خوبه ... چې نمر زېړے شو او زو ماښام شو
نظر کښې لېږے زړه کښې ارمان ... خود کښې خوبونه د بل جهان
دغه به چرنګ ازغی م لاس کښې ... نیم د ساقي دي نیم د امام
خه دے خوند نه کئ(1) مستونه ... سوزيږي وریتي م داخپل اوربنه
ما خو یو ځاځکي خمار کښې ډوب که ... خانه سجانانه . او چت کړه جام
خوره بے خوده هغه سرور مه ... چې ستا علاج دے د . نشه په جام کښې
نا پیمانه(2) کښې د ساقي شته دے ... نه په خندا کښې د دلارام
خوراغله او ږنځیه اوساز مهین شو ... امید روښان روښانه په تور ماښام شو
راکه چې وڅښکم اولیونے شم ... د نن ثواب ئے تول د خیام شو

(1) کئ ، کړئ . (2) خان خانی خانی - ند د نا - په بنه راوړی دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سپوږمۍ مسکۍ شوه

سپوږمۍ مسکۍ شوه وے دا، تول دَخه کې،
مینه کښې مړه، خوک تلل نه کوي
په سو بهار کښې دګلونو حساب
خاند مستیږه او چرچې کوه
دَدے لګها سوالونو وے جواب
خه کښې مینه کوه دَغاټحې کوه
دَ زړه وطن کښې دَسراړه نشته
دفکرتول، لکه بالول به خه کې
دَیار حساب دَخپله یاره نشته
سپوږمۍ مسکۍ شوه وے دا تول دَخه کې
خانده سپرلی کښې خوند تړل نه کوي
مینه کښې مړه خوک تلل نه کوي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# چینجی

پیسې مې د بابا کړې امیدونه د خپل ځان

کړه جوړ مې ځان له کور

یو باغ تې نه چا پیر په کښې میوې د کل جهان

کېلونه د هر لور

په هر قسمه میوې کښې نوې نوې قسمونه

انځر وکه املوک و، که انار وکه بادام

عجب عجب نمونې، لا عجب په کښې خوندونه

خرما هم ثوابونه، جنتونه په آرام

خوګاله مې خدمت ورله د کور د سرې وکه

ماوې د دې بدل کښې به میوې خورمه مدام

ما وهم یو آشنا ته به د ګډې شکورونه بزدمه

سه شوې په غوړو کښې کرینډې کچه بادام

یو کال ئې خرخښې او اشار غوند شروع کړې

چا دوه دانې چا شل او چا په مخه انبارونه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل کال نے نقشے جوړے د جنت د نظاره کړے
هر خوا ته بس ګلونه او ګلونه او ګلونه
سپرلی نو جنت د یار وعدے د وفا کولے
هر ګل یوه وعده هره غوټۍ دعا سلام

باغچه د بوټو نه ده، منار ده د امید
هر شاخ د میوو ډک د یار د مینے د پیغام
چینه ده، که چړه ده، بابا سیند دے، که لښتے دے
هر څاڅکی د اوبو کښ راز د حسن و دوام

هر څاڅکی د اوبو کښ رنګ د حسن د جذبانو
ارمان دے مشغول، د رخار چین ماچین او شام
او دا فصل ئې کوره، د ګلونو نه میوے شوے
اول نے د خمار بیا د طاقت جوړ که نظام

چه سترګو ته رنګونه وو، نوش یے نه مزے شوے
هر څوک پوره ساقی که وی خیام او که امام
او وائی ملاجان، شابه که او باسه شکرونه
دا شکر خو زما نیکه هم نشی پوره کولے

رنګونه او ګلونه، ته بخښے خوجها نونه
خو زه وم خو تکنی دے، او مضبوط دے پے بخښلے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

او اے دښا خکو ستا هر څاڅکے دریابونه
سیندونه ستا بېشماره، زه بس لپه شم د کولے
او ستا په سخي درکښې خوورېږي امبارونه
د تښو په کچکول د سرو مهرونه د لکولے

راوړه وغنی باغ ته دا په کمه باندے لاړے
میوے چه د بخښے شوے نو په چا د اوخوړے
او داخکه میوے چه کربوری د نړی شو
په خټ د لګېدلے دے کړ منړے زېړے

هغه وکې یاره واوره چه میوے په بخښېدو شوے
او بنګلے دا مے بنګلے وړ ته صبر کول ګران
په وړنوکښ پیغلو کو د وصال سترګے وهلے
په مرګ پورے خندل وه، کنډېده وړ ته خزان

نو راغله پرے ځېنې، یاره په هر غنچه کښ دېره شو
په رحم کښ داکوان، د غلا او چل پروفیسران
په ناکو په پښتنګو، په هر څیز وړ حواله شو
د ددی په کور اختر شو. او نها په کور تالان
الغرض، که شلتالو وو، که مڼه وه که املوک وو
دده د آبئ باج



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ږ پوست لکه ریښم خوږ خېرلو تیره ډوک وو
او ډیر نازک مزاج

دا زړګي چه دانه وي د ده مور پکښې لنګېږي
نیاز بینه د جهان

دا ابد. د آفت خم ئې میوه بانډه غښتېږي
د سیلې نوابان

سړي م ورخواره کړه ماوې غوارم دا ساعت
بابو حبیب د داره

که اس، که موټر غواړي، پکښې زړګي دار خصت
سره د بچکانه

سړي به تله راتله د بابو کرم وړ دکان
منت. زاري. سوالونه

دے مینځ کښ لکه ناوې ټر چاپېره باغوانان
کول ئې منتونه

بائیسکل به تانګه کښ، کله بس کله موټر کښ
سړي به م روان وو

منت ئې منځ ته، صبب د وے نواب زاده وو
مونږ ته ئې نقیه ان



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

آخرم وے سہ پته د روپو نوټونه بوزے

دافضل ربانی دے
ایمان نے بس په دغه شین تصویرد خپل بابا دے

سوچه پاکستانی دے
چراغے بابو کل، په رنګ اوفکر بنا پیرے وو

پوره په کمالونو
په عقل لږ میخین وو اوکړ بور وکښی نرے وو

خوښکلے نے پتلون وو
چه دار مدار وشو، د. مینه وایه کنه خان

چه تاته څه تکلیف دے
قسم دے په کار موشو، کرم کوخی افسران

خوزمونږ سہ شریف دے
سہ خاندانی دے دیر خوښ وی شلتالان

په واوره کښی آمونه
په کله کښی نے لم لګی او په چرګوکښی پستان

پاسته پاسته ورنونه
ماوے اے بابو کلہ. شلتالان خودادی دیری

خودګ دی د چینجونه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

که د خور ے آوازونه به دِ نوي پورته کېږي

بېګاله دَ بېنـجونه

ما دے د بوړ زوږیه ګوره څکوره چه غوټخیږي

څار به لګه سیتهماڼ

په خیته سبه ماره دي غوږ خیتنے ځلیږي

تازه پاخه توتان

مېوے بېنے شوے دَ دوي زمانے تش کړاو تاوان

لښکېږي او دیږیږي

چه رزق ترے دوي او خوري زه به څه کړم بیابان

سهے پکښې پریږي

ما وسه به زړ ورله څه راو باسه عــلاج

فو ځونے دیږیږي

دَ باغ نه م شوه جوړه مقــبره دَ سکه دَ راج

قبرونه دي زیاتیږي

هغه وږدا چینجي نه دي محچان دي دَ میوے

دي عام په کل جهان

دَ دېرو باغچونه دوي کړے جوړے ادیرے

کړي نیغ پکښې باغوان



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه پوخ شي وزر او کړي په هوا کښې الوزېږي

ماوې د بوړې زویه ګوره ګوره چه غوغېږي

دَ دې د پاره زمې کښې مونږ والې چکاره کړې

دا رونه ورو اجل وژ

لمبولې په سبه شان موشانګې غټې او نرې وې

هم علم هم اکل وژ

چه راتې خنګه پاتې شو په دې باندې حیران یم

خوږې دَ دله شي کښ جوړه په زړه کښ سا نه وه

ما وې چه څه کښې سا وه آخر اول مال دَ رب شو

او سبه دوه چه دِ خلاص کړل په نصیب به دنیا نه وه

اول خل چې به راغلې نو دَ چه ګوره دَ خلاص کرم

چرګ مې خسمر دې، پوار او نقصاني دې

ایله کمترې سپي او پیشوګان دِ وار یو هل

بشکاله کښې بس یو زه یم او یو فضلِ رباني دې

او یاد دِ شي چه راوستل جیا نه وه دِ امداد له

ګني درته خطا شول خو دِ موت راله خروب کړل

دَ مینبود کتا کتو دَ غمه دِ کرم خلاص

غوایان درته دُعا ګې تا رمه د مګ په خوب کړل

(۵) واله = وهله.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَ سوتونه اوزګار پاکه ښکلي مودېرې شوې
پخپله کار دوېران

خاموشې په غوجلوکښ دَ غوامېښونارې شوې
څه خوند وکه جهان

. څه دَ مزې کار شو چه دَ دولسونه درې شوې
اې پلاره دلقمان

. دا کمال دِ کوره چه، چه دَ نوونه زړې شوې
کامل دِ اُستاذان

په بل عمل چه پې راغلې، نولنډ بوچې دِ يورل
غوکئې کوم پخپله

بخوا به غله زماله کوره لرې تښتېدل
اوس زه تښتم له غله

بوچې په انډرېنو اولنډې په مالتان
دمېږ و دارو خلاص کړل په مېره کښ پیشوګان

خاني شوه دَ منګکو [*] يو برېتوشوې کښ خان
څه ښکلې بنيادي جمهوريت ئې که روان

خبې ئې پټې يورې، بهر بنې دي اماني
اوس قبض دي دَلوګې نه دَ فضل رباني

---

(*) موږکو.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بابو عالي مقامه يو خوږ پشه وکړه نور
دَ خپلې ټيکارۍ

چه نه کئ راته خوک دا دنيکه دَ مال سپغوږي
او خلاص شوم دَ خوارۍ

دا خوږ کې دِي پاتې، صيب دَ دَ غمه م خلاص که
او نر کار م لکه خان

څرګان دِي بيا کن شوي سړې بنکته خپې پاس که
خيشته لکه دَ خان

بابو صيب وکړه چه دانوي دارو امريکني دي
په نوم جهان صفاء

که مال خيراتي ډير څه انګريزي څه جرمني دي
خو دا ټکنس اعلی

دارو نه دي دا خان، بنډ بو تلو کښ وباده
يو اوردګ يو انګار

يو ماشې به کئ بل ته داقصه تر کهل اباد
او ټول به شي فرار

وروکي صاحب وکړې بنې بنې ټيکار دي مونږ ورکړي
يو ځل نا خوږ خو وارا

---

دا دَ ايوب خان دَ وړمر شعر دے او هغه وړمر کښ نواب
کالا باغ زمونږ ګورنر وو.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو نه راځي قابو کښې، داځکه شے دے بنګړه مړے
خواري به دے ده بېکاره
بابو صيب وګړے بس يا خو علاج ئې تبرګے دے
خشاک څه ځېږي ترانه
مېوه دِ او خوږې سرداد لکما روپو لګے دے
قبلئ ئې افسران
او خان ته مېوے څه کړئ تېپېر دير قبض کُشا دي
مزاج به دِ تازه وي
سړے وي بنه خوشحاله چه نه تش وي او نه ډک
او باد به اندازه وي
ورځه خان به تېپرو، رنګ شه روک دَ آلو چې
تراوه مر دار انار
څوک ئې به کړئ به خپله نه ګنډے شته نه بوچې
بېګاله دِ دے وار
چه کله کړې به توپېر و کښې مرچکي شي لونګين
څه ډېرے ئې مزے شي
دَ لوئے نه توبه جوړه کړې، دَ روګي نه غربين
او بڅے ئې نشے شي
واوا، کر کمانئ څینګے لیتهٔ دَ کچالو
قربان تے چرګو تے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

لا بڼ کښې پوست معین کړي په نکوزړ دلته تالو
او کوټې به خښتې

بې کاره دي منځ ، خوږې ماڼۍ او ناشپاتۍ
امرود زوړ دی د نمرود

مسوړ کښې مستي د هما ئې قربان ئې د پیتئ
کلکینږي بې وجود

غلې په ترنم کښې کچالو ته نه رسیږي
شته دال کښې تنګ تکوړ خولې ادخپت سر کښې غږیږي

ونګه په کچالو نو په ننګ شه روک د آلوچې
بیکاله دے خوږے ده . نه لنګه شته نه بوچې

چه خوږ شو په باغچه کښې د بابو صاحب بیان
چینجي شو را برسیره

د ولکي سرنا تے مخکښې بنجلوس عظیم الشان
زمونږ نه شو چا پیژو

یو غټ یکښې را مخکښې شو په شکل معتبر وو
سپین رږے د ټیټ مزاج

د ے ارمان چه ستا نه مخکښې ستار اسے غلے خو خبر وو
لیدله به د خراج

خراج که خزانه نه د تحسین او آفرین
چینجے که حلال دی نو تا پخپو کښې به سره دي

(۱) [illegible] مسوړ بولي .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاباش ستا پچکاری او آفرین ستا سکنجبین

زمونږه روک نسلونه ستا په علم شو ژوندی

که ماشے که میږے وکه ملخ وُکه دمبر دوز

دښمن زمونږ دَ ذات

یو هم دهغه بچ نشو که په سمه که په غر دوز

په بچ (*) وُکه په سوات

هیله مو په آرام باندے سرا و خورے میوے

ماره خوښه ماره شو

هیله مو قام شو خوراونږ دے اوږدے مو سلسلے

نسلونه مو زاره شو

نور هر څه لره مرګے مونږ له ژوندے او رحمت

دَ فکره دِ قربان

په کمه ژبه کم قلم زه وکړم ستا صفت

ای پلاره دَ لقمان

مونږ ټول ستا سو زیارت او عبادت له یو را غلے

حکیمه بے مثاله

دا خان د میوزغل دِ دا دے ګرځی ژوندے ولے

بے علمه بے کماله

---

(*) مطلب د بچ هزاری سیمه ده .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بابو نه ئے بابائے محافظ مدد ګاره

سخی مشکل کشائے دَ نامے نه قربان

بس د هغلو بابا چه شو قربان ستا دَ پیزاره

راځئ چه تبرک له ښکل کړو خپل مړے ځوان

یو غږ شو، او دغه سره بابو صیب بو ساړه شو

بابا دَ سکنجبین

د خپلو مریدانو سره پیر غریب کانړه شو

او بندے شو مشین

ماوے اے بابو ګیه، خوار شے لاس که پچکا رهے دته

چینجو دَ جناب ګیر کړه، که تا دی نه نو مړ دے

او اے دَ بوړے زویه ګوره ګوره فکر اوکړه

یو اخے چینجی زیرنه دی چاپیره وطن زیړ دے

وروکی بابو ګی یو سپلی دَ اوړه کړه جوړه

په څپر کښ خوړه شو

چینجی مینجی خوځه کړے مونږ نے تول کړو بے جوړه

په سترګو موتیاه شو

د تورو تیارو مونږه چه واپس راغلو په هوش کښ

وَ څپر تش میدان



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چینجی و باغ ته تلی بابو که ولاړ وجوش کښی
خپل علم ته حیران

زمونږه بابو کل قلار، بې غمه او خوشحاله
په مزکه پروت ؤ خوار

دارو په مخه بوته دَ جنت تو د ے حلواله
په یونانه بین ګزار

مثال دعلم مرشو، شو یتیم زمونږ قام
او س خوګ به کی خدمت

دیرو کښ دَ میرے خپلوانو منسخ کړلو مابنام
په شان اوّ شوکت

دَ علم برکت و لوئے بابو شو بابو ګے
افسر شو د پښتون

یولاس کښ چپکاړی ګرځی او بل کښ تبرګے
او ښکلے ئے پتلون

شو مور او س په بنیو کښ ئے مست زیر اوبم غږیږی
پش پش دَ چپکاړو د ے په آسمان ترما چلیږی

چه زه وېم بابو خانه ګوره ګوره چه غونځیږی
بابو صاحب په ناز په انګریزے کښ او خنایږی



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

وی خلا مرکې شو ځنځي نو محکمه زمونږ خلاصیږي

اینې م دَ بخملو نه بیا چیت الوان ته کیږي

او زمونږه دا سې بنګلې بنګله کلی کښې جوړیږي

بی بی م ده خوشحاله په جامو کښې نه ځائیږي

او پریږده چه دِ خوري، خان ته یو شے نے دَ خوراک

چه څوک دِ خوري غم نه ېږي

او ته که رُک شوې خه چې، بس خس کم او جهان پاک

پیسې دِ نه زړه کیږي

مچان که افسران دی، خه خوغواړي دَ ژوند ژواک

په اَس هر څوک سوریږي

او جوړکه دکیکر نه یو مضبوط غونډ ے مسواک

چه خوله دِ نه خوږیږي

قیزه دَ قانون خُله کښې او بارونه لس منی

غوږونه دِ که مراوی اوُدلکي بلخشاني

او ګاډ تاسو کښې نشته پو ښتې مینه وطني

وطن شو تول آباد سپینې بنګلې شین چمني

خوند چائے" اصفهانئ. کښې کې تری امریکني

دا ملک چه مونږ کړو جوړ لکه جاپان یا جرمني



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

او باسې به شکروونه او ور کړے به شېريني
خانان دې ټول شو مان قلنګ زمونږ وته مني
هيڅ مينه د قام نشته، بس ګټې، ګټې، ګټې
په خان باندے پوښتنوم، صيب مې (٥) نه يو کښې ورخوندي که
ټوکرے مې ترے کړو جوړه په اوبو کښې مې نسکور که
پوړه په فلسفه مې پوے د مړي اوژوندي که
او د به وے "بوړ بوړ" چه ما به لوے غوندے زور که
خو خاقوانه خلاص که وے پهانسي او دوزخ دواړه
د دے بابو صاحب په نوي خښت پوه ے ترلے
بابو به ډالکے لار سنه کړ ندے د نهر به غاړه
نور بوش شے افسرې وږو خښتنګ نے ولړے
شو باغ زمونږ ويران تاکي مې ړک کړله ګټي
جوار غنم مې لاړل ماليه کښې امانې
ډک ډک د غلے راغلل انګوټان امريکني
ښار به شو افسران خو چرته نه ښکاري غني
هغه چينجو که مړ، که خوږ مني که نه مني
يوازے اوس بنګله کښې ګرځي فضل رباني

---

(٥) نيږه نهر.



A .S.K B

# دلندن معشوقې

دلته خو ته ازغي دي | بل خوا غاټکې د نرګس
د هنر علم سايه کښې | ګرځي کل لبانه مس
ډېر نوي نوي چال کړي | خو مړه نه کښې د خيال کړي
چه له کلو بورا واړي | په ازغو ګې نوي زړه غس (٠)
ډېر ورک کړل ډېر به ورک کړي | ډېر سپک کړه ډېر به سپک کړي
د دنبر لښتې دي پټې | دي الګو کښې د تاوس
غني خان ملا باد نه کړه | عقبا دې برابر کړه
بلا کانو کښې ډېر وڼې
چېرته مات نه کړې اودس

---

(٠) غس : غنج

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عجبه فلسفه

فلسفي د ملک ولاړ وو ، وچاپېره تې علم
د خود سپين مثال په لاس . جدا کوي زيات او کم
فکر تېز ، نظر باريک ، دليلونه کلک مېخونه
د منطق په پاتکو . پاتکو وو روان به بې وسم
ماوې آ د هوش او عقل د رڼا بله مشاله
يو بې خوده ليونے دے . هر يو سازے د ماتم
ستا د پوهے د دريا ب نه يو قطره د رڼا غواړي
خو سوب د خندا غواړي . خو مطلب غواړي د غم
فلسفي کړے سترګې پورته . خله مسکې سترګې د رڼا
خوږے خوږے د غم لړے پکښې ! غمے ناګهانه
وے آ : زما غمګينه زړيه ، خيشت وجود دې نه
د ده نور به هله وينې . چه په پټو سترګو ګورې
علم سپين روښان مثال د خپو پښې ليد ستوري
د نور سترګے د ټے په زړه که . د نوي نو دنيا ګورې
سمندر د خيشت خو که يې ګوري د منطق په ګوډ نې
د غم باد د چاپېره . تړل د ستا او د ږي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

وے دخود په میخانه کښې ستا دَ ښکلو شراب نشته
چه دَ مینې ساز پرے اَورې، دلته هغه رباب نشته
ستا نظر جدا نظر دے، ستا جهان جدا جهان
تا کښې وینه دَ مجنون ده، ستا نصیب کښې بیابان
ستا مستی ومې تالو نه، په سندا دبوره ئی تال کښې
دَ ملال په نری خط کښې وینے شو نډے دَ جانان
لیونیه، لیونیه، دا ټول عقل زما واخله
خو یو دل کښې واله واکړه، یو قطره دَ خپل ارمان
ستا داونبکو نه قربان شم، ستا دردونو ته پیغمبریم
چه په دوا ئې کښې خمار دے دَ خوبونو دَ جانان
تا چه څه دَ دنیا وا روو، دنیا چغې کړے پاګل دے
خو تا تاوان کښې ګټه وکړه، مونږ په ګټه کښې تاوان
چه چاون دخیشت تالاشی، غم تش غم شی دَ دلبر
خو مره مستے هر قدم شی، هر نظر خو مره روښان
راوړه، راوړه زړه دې راوړه، چه زړه په نهنګی ښکل کړم
هر ارمان ئې خمارې دے، مستے هره وسوسه ده
راکه راکه چه ژوندے شم، وی (*) دَ مرګه یره مرګ دے
ژوند ارمان دې او جانان دے، که امید که تلوسه ده
وایه وایه خو مره مسته، دَ دلبر دَ شان قیصه ده
دَ مجنون او دَ جانان دا، څه عجبه فلسفه ده

(*) وی : وایی.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګوګوشتو

همه بحث ئې فالتو      نه بس کې اشنا قرپتو
په چل ځان ئې پوخ ګمان      دا استاذ د ارسطو(۱)

بنده ګړي ذرې ذرې
دا بې واره تر ترې
پېږې ځان کړي بنا پېرې
دا د ډوزو ازمرې

کې مزه دېره مزه      صفت خُله کښ د بلجا
لا چه وشي پېشي شا      شي مزه ئې لا سوا

خوند خبرې کې د وار
غاښ غلې په قرار
شورب خر د قندهار
چې په خُله ښکاري او ښیار

پوښته دې پوره تر تو      دا اوچت آواز قپتو
خان ګڼي پوخ جرګتو      دا د خټو ګوګوشتو

---

(۱) ارسطاطالیس د افلاطون شاګرد مشهور یوناني حکیم او فیلسوف



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ترجمه د اقبال

زه[۱] په زړو پردو کښې پټ یم
ته[۲] زه په زړو کښې د ننه
بس یو زړه دے چه نے غښتے
تیغ د سلو وارو وخي

په هر وخت په هر مقام
د هر شي شکل جدا وي
هر ساعت جهان ورانیږي
هر ساعت جهان جوړیږي

د ژوندون راز بس سفر دے
دابد راز ورانیدل دي
دا پخوا اقبال[۳] زمانه
دیر خیشته رنګ کښې ویلی

(۱) زه (۲) ته زه، زه هم، ته هم. (۳) اقبال. ته اقبال لاهوري ۲۳-۴-۱۹۴۰ع)



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دُعا

ستا د مینې په صحرا کښې، سور پړق د لاله نه شم
ستا د باغ کشمالې نه شم، خوږ لوګې په هوا نه شم
ستا د سترګو مشغوله، ما کچکول ګنګرو وانغښت
سودائي خپلې سودا کړم، مجنون ستا په سودا نه شم
یو کوټ سیخې او به نه شم، چه غرمه او کربلا ده
هر خمار جانان جانان شو، هر خمار بلا بلا ده
زه د سرو کلو غوږور شوېم، د ګلو بوستان نه شم
ستا د کوتو په پړ دو کښې، لکه سُر بندیوان نه شم
راشه او ګوره دلبره، دا ما څه په څه بدل کړه
څه دې راکړه اې جانانه، څه دې راکړه څه مې درکړه؟



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترجمه د اقبال

# میلادِ آدم

عشق کړه چغه چه پیدا شو لیونے ځیګر پیدا شو
حسن ورپید ډیرے، چه د تول نظر پیدا شو

یو چغه له دے خاورے، د ازل تیا رہ ته لاړه
اے پردو کښې پټ و اورے، پرده سوځ شرر پیدا شو

فطرت حیران خفه شو، چه د دے خاورے مجبورے نه
ځان جوړو ونکے ورانه ونکے، ځان لیدونکے سړے پیدا شو



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# يو بې مهاره اوښ ته

ته اول هم زملو ورور وې — مړه راشه بیا مې ورور شه
یا مې سور دَ پښتکی ګل شه — یا مې نر دَ وینې اور شه
دَ پښتون دَ غم کړه رحم — دَ پښتون دَ ورو خوتوړ شه

چه ذَره په سَر غومې وي
ته ذَره دَ منتو زور شه
کني لاړې او ورکېږې
سر په کندو دِ کاروان شه
ته خو دې بنګلو ته رپې
بنیرېه! کور دِ وران شه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سینده څه سینده بهیږه

دا قسمت دی د دریاب　　　چه بهیږه او بهیږه
چه په کټو ورشي او رشه　　　په اواره کښې روکیږه
چه یو ځای کښې آغا نشي　　　او بل ځای غلام نشي
نه خوراک د کل مخلوق شه　　　پلاره د ویل موږه دکیوږي
زه دائي شه مورا او پلار شه　　　دبنا مار او ده چرګوري
زه چې چیرې شه خوږ شه　　　چه دِ غاړې شنه توشي

او باغچې او چمنونه او ګلونه ازګلونه

چه ما بنام د راځي خواله　　　عاشقان غمګینې ستړي
چینګې درته ګلویږي بلې ستړ سړه لاسونه

ګله ډوب لکه د غم زه　　　ګله مست زلمي ګلویږمه
سینده څه، سینده بهیږه　　　سینده څه، سینده بهیږه
بس هم دادي چه تنګ دي　　　دیره سیین او د بل سیین



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

واړه غرسره جلا دي آمو او اباسين

دَ جينډي او اباسين

چه خيالے زه په کم خيال کښ

په قلاره جينډي کښ کم دے

چه راوي (*) په کم خمار ځي ‏ ‏ ‏ ‏ د نوښار لنډي کښ کم دے

سيند ځه، سيند بهيږه ‏ ‏ ‏ ‏ سيند ځه، سيند بهيږه

دَ هر سيند وي خپلے لارے

هر يو خپل کو ته روان دے

د هر يو خپلے دشوارے ‏ ‏ ‏ ‏ زه چرے چرے شه اوده

چه دِ غارے شنے پټي شي او باغچے او چمنونه

---

(*) راوي : د پنجاب لر يو مشهور سيند دے څه يو سيند .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بادیوه

ښځې دې پرېږدي څه مستانه دِ رفتار دے
کوږه دَ کاغذ نه چا جوړ کړے خپل خمار دے

باد ته دَ عاشق په شانِ خاندے خوشحالیږے ته
مسته، سولئ مارهٔ دَ طاوس مسے ګډیږے ته
بے جړې ګلا به په آسمان کښې زرغونیږے ته
زړه دے دَ قسمت په تار ترلے ګرفتار دے
تول رنګین خمارے خو مجبوره هم خمار دے

دومره وړیه آسمان کښې دَ خپل رنګ شاخکي ښکاره کړے ته
باد باندے ومهور دَ لاندے خاوره ښنداره کړے ته
چونکه خاوره وجود دیو لیونتوب یو تراره کړے ته
ته د بنیادم دَ بخت او تینښتے یو تصویر یئے
یو رنګین خمار په تار ترلے دَ تقدیر یئے

زه هم ستا په شانِ کله کله په هوا شمه
پریږدم خاکي ځان بس یو ارمان یوه دعا شمه
خوب شم د امید، دَ ژوند رنګینه شګوفه شمه
چې قسمت وُدی (۵) راشه سَرم ستا پکار دے
اے دَ آدم زویه ستا د خاورو سره کار دے

(۵) وُدی : ودهی .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تالئ

ژوندم تال دی زړه پرې زانګم — زړه دَ خیال په نیلي سوړی
دَ قسمت پرې اګوره دې — خیږمه پرې تالئ
څه دي څه دي بد که ښه دي — دَ دیواله اخوا څه دي
چې محراب دَ ملاجان دې — که خمار دَ ملالئ

زه دَ مستو په زور پریم — زړه په وږي نظر پریم
زه دَ ځان سره سیالي کوم — زه پر نه یم په سیالئ
زه دَ خیشت مقام لټومه — رنګ ، آواز ، خیال او نظر کښې
لکه څاڅکي تله واخلي — تلي زور په سمندر کښې

که د فکر نظر تیز دې — دَ قسمت دیوال محکم دې
دیخوا ، دیخوا خو به سم کم — خو دا غم دا خوا غم دې
زه پوستې درنا څاڅکي — په پوتور او روک جهان کښې
دَ خپل خود په رڼا ګرځم — دَ قسمت کوڅې لټومه
دَ تال پرې که پاخه وي — که نرۍ وي که رواسته وي (*)
زه تالئ خو به خیږومه — زړه تالئ خو به خیږومه

---

(*) رواسته = وړسته .



A .S.K B

# خیام

اې خیامه ته تش غم یې، تشه تیښته تل فرار
ته د جام او ساقي یار یې، یو خیشته رنګین انګار

عجیبه غوندې جنون یې، نا امید او بې قرار
ستا احساس د تن بند دے، په یو ښکلي رنګ بیمار

ته لمبه یې د تالاش، د لټون او د ارمان
نه او فکر د خزان، ښکلې ژبه د بهار

سر د بحر سرې چپې وي، ډوب یې بیخ کښې قرار
ته کشتۍ د کلو ډکه، سر سري د کشتۍ لار

آسان بلا دے د سبا، هم بخچې دے د پرون
دا هم جام د هم ساقي دے، چه وصال او څه بېلتون

دا یو ساز دے چه روان دے، د آواز د سرو کمال ته
یو د رنګ څاڅکے چه څخلي، څاڅېږي (*) د نیړۍ تال ته

(*) رسنې: رسوني.

(c) ketabton.com: The Digital Library

داستا غم خو غخه غم نه دے، چه دوبیږی په یو جام کښې
دَ امید سپوږمۍ دَ پته، تورو وړو دَ ماښام کښې

په دے مست ښکلی دماغ دے، تو خوږ شوے دَ مرګ جال
دَ ساقی جمال پټ کړے، ستا دَ زړه نه بل جمال دے

یو مسته او شیرینه، عجیبه دَ غم نغمه یئے
دَ سرو زیړو ګلو دکه، یو رنګینه مقبره یئے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# روره قلندره

روره قلندره (۱)

څه په پته پوې شوې چه دا ښکته څه کبره
دې کښې څه واره شسته چه سړې وکړې خبره
لسو بلا ځکانو کښې ده، کمه بلا غوره

او روره قلندره

مانه خفه شوې، که خفه سې نه دا شغره
کله کله مونږ له هم راځه د پېښوره
سره وی چه یارانی وی د سړی تکړه غاړه
نوم، ناموس، او خوی او همه خونه معتبره
خوږ یو په کښې پکار دے دا نا غونډ بے سره
دا په کښې ګنجکه چه ساقی مو د نظره

او روره قلندره

دانا تا رخبره

---

(۱) زما محترم دوست قلندر مهمند چه په ۱۹۷۰ع کښې د شهباز اخبار ایډیټر وو.
د شعر کښې هم د دغې کال الیکشن ته اشارے دی. (غني)



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـــ کټې د زندان او قلا دواړه د یوغره

او روره قلندره!

راخو څوک د متهٔ غواړي څوک یې د خکره

زه کمزوری نه یم وي کمزوري بې ضرره

مونږ نه بل وژلے شو نه خان له لرو زغره

او روره قلندره!

ډیر وکړې ضرر چې ته کړې ورانه شي خبره

بس د نور به چپ کړم خو بس راپکښې د سره

راځنګه سیند و نه دی م بنګته خی هم بره

مغه صاحبزاده (۱) ته وایه یا پیره کافره

خلاص ډ موریدان شه د تاتار د بربره

سټا قیمت به ډیروي هم یاران د بې لمبره

سر د آشنا نه غاړي. یار، ځوان د خدا د سره

او روره قلندره! (۲)

نوره که څه ورانه وي نو ته نے کړه برابره

(۱) صاحبزاده فاروق د کوهاټ. (۲) استاد قلندر مومند [illegible] ۱۳۴۹ [illegible]
استاد قلندر مومند [illegible]
[illegible] صاحبزاده [illegible]
[illegible]



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نوے سیاست

دَ اوښیار و لارے مې ډیرے زده
خو زما دَ شان دغه لار نه ده

زه د زړو صحرا وو ارماني یمه
زما بخت کښې کوځه دَ گلزار نه ده

زه یم خاوره خو ډیره بے تابه یم
ما مو ښتلے لمحه دَ قرار نه ده

دا دَ دغو منډۍ ده دَ سودا و زیان
دے زمونږه دَ کړو یو بل جهان

دلته ښځے(*) به یو او خرڅے به بل
دا بازار تنگ او کړو ته سامان

دلته مینه وفا او غیرت او ښېښتیا
چه بے سوده ئے کړے نو خه توب دے

دا قصه بس دَ چرگ او ډیران ده
خو پرے نوم دَ اوچت سړیتوب دے

---

(*) ښځے.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زما لال

(د مور قبر ته)

زه د هغې لال زه د هغې د سترګو تور وَمه
زه به د هغې په سينه تل اوده نسکور وُمه
اوس ئې ښکته ښکته د مزار کاڼو ته ګورمه
خاوره کښې پرته ده چې زه د زړه ملال وَمه
هغه لال ئې شو خاورې چې زه وړوکے لال وُمه
لا مې مه آسمان ته ماورے اے د جهان مو پېښورے
زور د مرګي زيات دے که دغه ياد د مينې زور پېښورے
آوري په لحد کښې څوک د سوي زړګي شور پېښورے
مونږ ته خاورې ښکلے بت د حسن پنهان کړے
يو پوکے آباد داچمن ښکلے بيابان کړے
ګله مې نه جوړيږي چه ظالم او وايم رحمن ته
مرګ چه د جهان بادشاه کړم څه وايم خان ته
ولے دروازه د علم لرنه شوه انسان ته
سيال نه د ځان وګڼم چه زه د خاورو سيال وُمه
هغه لال مې څه شو چه ئې زه وړوکے لال وُمه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کنی دنیا ښه ده

دَ سیمے لږ خوب　　لکه دُنیا ښه ده
نیته سے لږه ده　　کنی دُنیا ښه ده
خوَک وائی جغه ښه ده　　خوَک وائی دا ښه ده
ساله زما ښه ده　　او تاله ستا ښه ده
چاله ژړا ښه ده　　چاله خندا ښه ده
زړه دَ مجنون له　　خپله لیلیٰ ښه ده
زړه دَ مُلا له　　توره حلوا ښه ده
چاله مستی ښه ده　　چاله سودا ښه ده
چاله محل ښه دے　　چاله بیدیا ښه ده
دنیا هغه ښه ده　　که دنیا دا ښه ده
چاله هغه ښه ده　　او چاله دا ښه ده
ژوندی ته ساز ښه دے　　مَړ ته دُعا ښه ده



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنیا له سود سره دے — ماله سودا سره ده

د ملا عقل له — خُله ده لا سره ده

زما اوتک نه — ملا د لاله سره ده

مزدور وے خانته — خبره دا سره ده

ماله تیر بد دی — تا له حلوا سره ده

د جرمن توپه سره ده — د صیب قلا سره ده

زمونږ تمتو سره دے — د پنډت غوا سره ده

حبژ سره د کاندهی (*) — خُله د جنا سره ده

چاله هغه سره ده — او چاله دا سره ده

ماله زما سره ده — او تاله ستا سره ده

نیته نے لنډ ده

کنی د نیا سره ده

---

(*) کاندهی: کرم چند گاندهی (۱۸۶۹ – ۱۹۴۸ ع) گاندهی د هند مشهور ریفورمیست
او سیاسی رهبر.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشه

په غمونو کښې خندا کړه — په خندا کښې غم هېر نه کړې
او د ډېرو په سودا کښې — چې قیمت د کم هېر نه کړې
د وصال په لمغړو کښې — د فراق ستم هېر نه کړې
دا چې ته د سترګو تسخا نکې
د سترګو غم هېر نه کړې
د الله الله په شور کښې
چې صنم صنم هېر نه کړې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دعا

اے خدایه عقل راکه — اے خدایه پوهه را
زړه کے مضبوط راکه — او سینه لویه را
سترګے د نور راکه — رحم د ځان را
بیا تول غمونه دے — د دے جهان را
ما تنے په سر که — زار درنه شمه
زه به ئے اوړمه — زه به ئے اوړمه
یار بهادر راکه — که همت نه راکے (*)
غیرتی زړور راکه — که غیرت نه راکے
د سکندر بخت را — د دارا خیال را
مت د خالد کبس — توره هلال را
اسلام دِ پرین دہ — زار درنه شمه
زه به ئے کتمه — زه به ئے کتمه
د شپے خیمه کبس — د عشق شراب را
پاک مل د لاره — لکه ګلاب را
د سپوږمۍ نور راکه — لوبو کولو له
د بوډۍ تال راکه — جوتو وهلو له
جهان دِ پریږده — زار درنه شمه
جنت به ئے کرمه — جنت به ئے کرمه

(*) نه راکے - نه راکوے.



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هو بر کیه هو

پیښ په لیوني باندې شو پیښ لیونې یو
وې روړه په یورپ کښې سهې کئې دَ سړولو
بانګ کښې د سپاهِ پرون نوې تپه واوریده
تلې وم خالصې ته راته ئې اُووې "نهکې ناوه"
پرېږده باچا خانه دا دَ جیل قیصې دِ خوشي دي
دال مِ نه ضمیر دي نه عادت یم په پولاو
واوره دَ یورپ نه دَ انصاف خوږې خبرې
واوره مږې واوره دَ پیشوبي بي میاوُ میاوُ
یو نهنګ غټ شوې سو دو کبان ئې ډیر خوړلي وو
بل نهنګ پرې راغې او به سړې شوې دَ تلاوُ
یځې دَ قسمت کوتې مړوند سکله مړې نیسي
خپې که خان له ماتې ګډاکي کړي په داوُ داوُ



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

محبت بې وفا یار دے دیو غیږ کښې بل ته خاندي ګل

وُپړون غږسو سزنن دَ صیب سره وُ

خاڅے خبر تسابه چاته خاندي خندوي به خوږک

مونږ نه خوخفه بوته مُلا شلي داو داوُ

دلته چرګوړے دَ ګُرګه جنګ ے په آلوا(٭)شو

ورکړو دَ چابے(+) موتره بیا فبرنګی تاوُ

کوږکښې دَ قصاب غویان په اوچوتانتو نښتی دي

هو لنډه یه ، هو برګیه ، هر چرګیه هو

جنګ غنیم ۱۹۴۳ع

---

(٭) آلو: هګره هګیو. (+) چابے: کلي.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشه

ځمې زۀ قبلې ته لیونے ترے خبر نه و
سترګې وې وازې د انسان په تماشه

عکس د سپوږمۍ وې د شبنم څاڅکي کښې اولیده
ځکه په سجده شوم ارمسکې شو د جانان په تماشه

نښته دې د ژوند د خوب تعبیر کتاب کښې نښته دې
سترګې د که پورته د آسمان په تماشه

خدائے مکه کښې نشته د منصور د خلې مې واوریده
ورښته لیونیه، مشه د ځان په تماشه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حقیقت او مجاز

دا دوه حورې دَ جنت دِي دِي شرابو کښې لامبو
که مې سترګې دَ جانان بیا شولې ډکې دَ اوبو

چه دَ مینې په مذهب کښې شک کول کافري دي
که منم دي کافر کېږم خلاص به نه شم په توبو

دَ نرګس بوی کښې پیلے دسپوږمۍ دَ شغلو جال دے
په کښې پروت یو لیونے دے چه مجنون دے که بلال دے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اوه چه تول عمر ما شوم وے

بے پروا لکه لولو وے په ګلونو کړ زیدلے

او چه تول عمر ما شوم وے، په بلا نه او ریدلے

دَ دنیا دَ او ږ ستر ګو، بے خبره ګوزیدلے

چه په خُله دَ جانان نه وے، دَ فراق و ریه غزلے

بي پروا لکه لوئے وے، په ګلونو ګوزیدلے

بے خبره چه آدم وے، دَ رازونو د هوا نه

نه آشنا مجنون او ده وے، دَ غمونو د لیلیٰ نه

او چه حُسن خبر نه وے، د خپل حُسن دَ غرور خنګه

دا زما زړه نا آشنا وے، د دے بنو بلو دَ جنګه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشه

اوږد بنده مثال لکه د خس دے
تو دشې لوګے وکړې رڼا کړې جوړه
لمبه شې وسوځې خاورے ایرے شې
بوده ابې پرے ژړا کړې جوړه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ته او زه

مجنون وې ليلى پوه نه شوم      چه ته ښه ئې او که زه
بلبل ګل ته په خندا شو      وې دا څه وائې دا څه
ګلاب رو په نياز مسکې شو      وې که زه يم او که ته
ته ئې زه او زه يم ته      فرق زما او ستا د څه
هغه چه فرق لري زموږ      نه پرې پوهېږو ته او زه
ليوني که سر راپورته      وې جواب ولې دَ څه
صوفي خان که ډېر کړې ستړې      که د ښو نه ښه شې ته
خو دَ عرش پايوله نه ځي      د هاؤ هاؤ چغې دَ څه
ليوني ستړې کړې ښکته      وې ليد شين روکې واښه
واې زما دَ روح خاونده      چه دَ ښه دې او که زه
د نسيم يو چپه راغله      خوله زما خوله دَ واښه
تې په خپلو شونډو ښکل کړې      دواړه خولې په يوه خوله
ليونې لا ليونې شو      دانې وې برې کاته
هيڅ په پته دې پوهې نه کړم      چه ته څه ئې او زه څه

(۱) پوهېږو = پوهيږو



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دَ زړنے په کیدو

اوه یو ذره دَ نور وه — شوه دریاب کښې دَ خښت په
په خوبونو د ځوانئے کښې — یو شعله دَ نور پیلے
دا نرئے دَ هلال شونډے — دا دَ دوو ستورو رڼا ده
دا د مخ خوب تعبیر دے — چه دوؤ ما ازبالید لے
دا هم ګل دے هم بهار دے — هم سازونه دَ بلبلے
دا چه ستا نیازبینو ګوتو — دَ ازل څانګے ته لاس کښې
دا ګلابئے ترے راواغښت — په نوروونو لمبید لے
دا چه ما غمګینئے سترګے — په ژړا کړے بره پورته
دا زما دَ غم جواب کښې — سپوږمئے ګل دی رالیږلے
دا اوبه دَ دواو جینو دی — دَ دریاب په طمع دړګي
دا هم زه یمه هم ته ئے — هم زما او ستا خوبونه
دَ تبه جوړ ترے اباسیند کړے
په ګلونو کښې بهید لے



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کړې وړې

ورځ مې ورکړه زمکې له او شپه مې ورکړه ستورو له
خان له چې کم عقل شوم، شوم هله او بیا نورو له
سترګو د جانان کښې کله کله د ګل پاڼو کښې
زه ئې هم خانه وینم شیخه جوړه جمات نورو له
لوې جنجال ئې جوړ که چې ئې ویش د نصیب وکه
دومره رحم سپینو له او دومره عقل تورو له
واچولې نیک تالې ملا بابا په خېټو موږ ښو
زړه د غریب سترګو وړو په تلو جانانو سپینو له
دا عجب انصاف د ساقي ستا په میخانه کښې
غورو د غورو دریاب او څاڅکې نه ځي نورو له



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خندا او ژړا

د ساقي لاس کښې شراب کې
يو د غم يو د خندا
ما پياله تشه نيولې
ستا د فضل په سودا

اے ساقي چې کم دِ خوښوي — په خندا خندنے را
ليونے يم کار مِ نشته — په خندا او په ژړا
زه يم ستا د سترګو تږے — تږے نه يم د خندا

دا پياله مِ که لبريزه
که خندا دی که ژړا
خو چې تږے مِ پرېږدې
ستا د حُسن ميخانه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# چه د مستۍ نه
# هستي جوړيږي

پوره سپوږمۍ چه رو رو کمیږي
ژوند ئې پخیږي غم ئې زیاتیږي
ډیر ارمانونه پوره او لږ نیمګړي
چه ترې محل یو نیم ډیرې جونګړې

ستارکښ شرنګ هغه د ماښام نښته دي
سرور په سترګو کښ د خیام نښته دي
د نور شغلو کښ شفق غرقیږي
چه د مستۍ نه هستي جوړیږي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وړه مُلا

ما نه یاد خپلې ګناه که　　　تا نه هیر خپلې نیکۍ که

ما جانان که دلربا که　　　تا تکې او ناتکې که

ما د خپلې مستۍ تاج که　　　تا د خپل جهل لکۍ که

ما او بنیادم د جهان پلار که　　　تا جولا د ویښتکې که

ما تر بې مینه مستي جوړه کړله　　　تا کاڼه په دوه څکې که

ما د حُسن سمندر که　　　تا شوق د مسلکې که

نو اوس وایه ملا ته

چې ته خوښ یې که زه؟

نه په لیونتوب تر فلسفې کړل څه جوړه　　　نه فیلسوف تر څه کړه جوړه لیونی

دا کړه وړه د دنیا کړه وړه وړه وانه ده　　　بو یه دوړه بو یه بو بخت د خوار غني

دا د ستورو شمار، د وخت تلل د ساز لید

سنه خوښولا دي چې ډیر او شوکني



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژوند

ژوند م ډوب دریاب د زورو خروشو سمندره کښ
خاشکی روک دریاب کښ شو په طمعو د ساحل
بخت کښ د سیلاب دی په مستئ په چپو تلل
نه وړځی دریاب له غونډیدل او اوړیدل
دے لهر د سازله تله ژوندون او دریاب مرګ دے
زیړے د ماښام وی د سحر راخلیدل
ګلونه دے چپے کړو د ابد مستانه تال ته
او ګرځیدو سازے تارخانو کښ د ازل
لاړه لیونے لاړه چرته د نور شغله کښ ډوب شو
خاشکے روک دریاب کښ شو په طمع د ساحل

—•—

اے دانګوره چپوره　　　اول چه را غلے به ته
په قول عقل کښ به دے　　　خندا به سیره کړله

—•—

او اوس چه را شے ته　　　درد او تیاره راولے
رڼا دے کمه کړله　　　ژړا دے ډیره کړله



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عشق

سوز نه دے عشق ساز نه دِ عشق، آه او ګریان نه دِ عشق
مسته رنګینی دانه ده، غم دَ جانان نه دِ عشق
خوب دَ خوانے نه دِ، دَ خوبونو ارمان نه دِ عشق
مینه د ملیار دَ سترګو، وخت د خزان نه دِ عشق
تور تش دنیا ږے ږک، دَ تیرو بیابان نه دِ عشق
مست د امیدونو، یو دریاب روان نه دِ عشق
سترګو کښں که راشی دَ شفق سره دَ خمار
عقل له که راشی دَ سپوږمۍ دَ رڼا تار
دے مستانه زړه له یوه حوره دَ تاتار
دا دَ مستۍ حد دے او دَ حد بندیوان نه دِ عشق
مسته رنګینی دانه ده غم دَ جانان نه دِ عشق
عشق یو وجد دَ رب دے په وجدونو دانسان کښں
یو دَ مینے ساز دَ زړه په سوی قبرستان کښں
روح دَ روکی ګل دَ سپرلی سترګو دَ خزان کښں
مرګ عشق ته حیران دِ خو مرګی ته حیران نه دِ عشق
خوب دَ خوانے نه دِ د خوبونو ارمان نه دِ عشق



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په مردان مارچ د باچاخان

راشه اې خوشحال بابا — اې خالده او چکوړه
پاڅه ننداره مه تښتي — دا تماشه اووینه

جنګ له دے منصور روان
توپ او نه ټوپک لري
نه د توره برق لري
نه د زغره شړنګ لري

زور د دښمن نه وینی — دا سے لیونے روان
دار او رسن نه وینی — دا د مستانو خان
دا د پښتنو ملنګ — څه بادشاهي ټنګ لري

جنګ له دے منصور روان
توپ او نه ټوپک لري

سپین مخ د لیلی وینی — دشت بیابان نه وینی
زړونے د دیوار مانند دک — غم او ارمان نه وینی
سرے د باتور سترګے نے — مینه د رنځار ټنګ لري

جنګ له دے منصور روان
توپ او نه ټوپک لري



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاج ئې د ازغو په سر — مست لکه مجنون روان
نوم د پښتنو ګټی — زوئې د پښتون روان
نر، داد نرانو خان — څه غیرت او ننګ لري

جنګ له دے منصور روان
توپ او نه توفنګ لري

سړې کینبو د خاورو ګنې — مرګ له ئې سینه ور کړله
د پښتون د سر صدقه ئې — خپله وینه ور کړله
وے هر څه م د تام دي — والله، هر څه چه ملنګ لري

جنګ له دے منصور روان
توپ او نه توفنګ لري

اے د پښتنو بچو — دا میدان م هیر نشي
سپین سرے د ونیو دګ — هغه خان م هیر نشي
پروت دے دلته خاورو کښ — دا مکان م(۱) هیر نشي
پاڅئ ننګ پرے اوکړئ — خدایرو دیره تاسو ننګ لري

جنګ له دے منصور روان
توپ او نه توفنګ لري
نه د تورو برق لري
نه د زغرو شرنګ لري

(۱) میدانم . میدان مو ، ځانم . ځان مو ، مکانم . مکان مو.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پوښتنې

دَ سپرلي شپه وه مسته مستانه — ستوري کېدل ورو ورو روښانه
سپوږمۍ وه لاړه وه ښکلې حيرانه — لېونې سوال اوکه دَ خپل جانانه

دنيا مې پوښته له دَ لامکانه دا
مستي مې ستر کوله دَ خپله ځانه دا
دَ خپله ځانه يارا دَ خپله ځانه
لېونې سوال اوکه دَ خپل جانانه

ناګاه برق شو د رباب د نور راغے — خه به مستي راغے خه به سرور راغے
مستي شوه کو نکه مستي کوبانه — لېونې سوال اوکه د خپل جانانه

او لېونې ورته ذره کړے که لږے
ډېره به خوار په کښې ځاے شو پوښتنې
نو ډک دَ ځانه وو ډک دَ جهانه
لېونې سوال اوکه دَ خپل جانانه

د رباب دَ نور لاړه خيشت او رنا لاړه — او دَ جانان مستي جانان له بيا لاړه
لېونې پاتے شو خبرے کړے لېوانه — دَ سپرلي شپه وه مسته مستانه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سوال وجواب

لیونیه مکه څه ده — مُلا کوړ دیو عاشق دے
کوتہ نئی دی گیمنے دیرے — دَ مور رَب خالق دے

لیونیه ایمان څه دے — مُلا دا دے پوخ گمان
دَ یو خوب په ننه لیدل دی — دَ وصالونو دَ جانان

لیونیه جنّت څه دے — مُلا ستا جنّت پیتی ده
او زما جنّت وصال دے — یو خمار یوه مستی ده

لیونیه حوره څه ده — مُلا سپینه لوګئے ده
یوه کړ بنه دَ شفق ده — دَ خندا بُر بره کئے ده

لیونیه نشه څه ده — مُلا دا په سیل واته دی
دَ مستئے رنګین محفل کښ — دا واته نشواته دی

لیونیه چه نموځ څه دے — مُلا خاوړے ښکلول دی
دَ جانان کوځے ته تلل دی — دَ اُمید ارمان کیدل دی

لیونیه سجده څه ده — مُلا ځان خاوړے کول دی
دَ مستئے دکلو مار — دیار څپو کښ اچول دی



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیونیه ژوندون څه دے — ملا نه یمه ژوندون
رازما دَ خوب لیده دی — دَ سبا او دَ پرون
لیونیه وصال څه دے — ملا خیښت کښې دو بیده دی
دا په ستوروکښې پلندی — په سپوږمۍ کښې خوریږدی
لیونیه حُسن څه دے — ملا لړ دِ خمار دے
بو مُسکے مُسکے شان خیال دے — یو نزے دَ رڼا تار دے
لیونیه جانان څه دے — ملا روغ ورته نه ګوري
لیونی سے هیله (*) دینی — دَ تاو کښې دوبا نوسوري
لیونیه ته سے څوک — ملا زه دَ چا ارمان

زه یو ځل دَ چا دَ ګوتو
په قدمونو د جانان

---

چه سے خودی دیره شی دَ خودے رنګ ورکی
یا د بوډا توب له غم د ځوانۍ رنګ ورکی
غم چه دیر زوراوکړی دخوشحالۍ په شان
د ژوندون تارکه رقصانه شی رنګ ورکوی
سترګے چه تښے شی خوبونه ډک وینی
په تش کاغذ مصوره مستانه رنګ ورکوی
سحر له شپه ورکوی شپے له سبا ورکی
دَ فلسفیانو سره ور رنګ ورکی

(*) هیله = ایله.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اے دَ لیونیانو نیکه

اے دَ لیونیانو نیکه حسن که وفا ښه ده
برخه دَ مجنون ښه ده ، که برخه دَ لیلیٰ ښه ده
وے اے زما بچیه ، دَ دلبر دَ خُلے هوا ښه ده
تخه نرمه لا ښه ده ، تیزه کګړ لا ښه ده
تاو د مخ دَ پاره لو پټه ، سره ګنګینه لا ښه ده
زیړه ښه ده تور ښه ده ، تکه سپینه لا ښه ده
نو اے زما بچیه حُسن ښه دے هم وفا ښه ده
برخه دَ مجنون ښه ده ، هم برخه دَ لیلیٰ ښه ده
ښه ده فقیری نیکه ، که ښه ده یره دنیا ښه ده
ګل صنوبر ښه ښه دے ، که خُله دَ محبوبا ښه ده
وے اے زما بچیه سور عقاب له دَ غر سر ښه دے
ګل د صنوبر له ښه ، او ګل له صنوبر ښه دے
جام له قلاره ، او سمندر له طوفان خوند که
سترګو له مستی خوند که ، او زړه له ارمان خوند که
نو اے زما بچیه فقیری ښه ده دنیا ښه ده
تخت د سلیمان ښه دے چې نګړه د عیسیٰ ښه ده



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

آخري

# شهید

اے شهیده! اے عاشقه اے بچیه دَ مصره
په خندا جانان له لاړې، ډوب دریاب کښې شوې نوې
نادانان دې پسې ژاړي ماشومان درته مجنون وائي
لیونے درته پېغمبرې اے ایرے دَ کوه طوره

ننګیالیه سرو ورکه د یار خپو کښې دِ لوګے که
اوس یې کوه مسکے سترګے ښکلې دِ کے دَ غرور
ما اورے تاله نه دي د سرو ګلو امیلونه
د جنّت بلبلان څه کړي دَ دُنیا دَ باغ ګلونه

تا کړے ښکلے سترګے خاورے چه زما پرے شي روښانه
تا قصه زما دَ درد بره یوړه تر آسمانه
ستا دَ وینے څاڅکے څاڅکے چه تا توے کړه دَ ارمانه
ما ته سرے دیوے بلیږي په کوڅه کښې د جانان

دَ دنیا تا جونه خار شه ستا دَ بخته ستا دَ شانه
د لیلٰی په زنګون پروت نے د مجنون شوې خېر ګریوانه
ما اورې تاله نه دي د رامبیلو امیلونه
دَ جنّت بلبلان څه کړي دَ دنیا د باغ ګلونه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# منصور

منصور یو لیونے ؤ د معشوق اداب تعمیر کړه
منصور یو لیونے ؤ د مستۍ شراب ئے ډیر کړه
وے مستي دا نه مانه ده د جانان د سترګو نور دے
زما د خُلے خبرے هم تورات او هم زبور دے
دا رنګ زما د سترګو نه دے رنګ دے د جانان
دا شرنګ زما سینه کښ د خپو شرنګ دے د جانان
منصور چرته لیدلے د مخ نور و د جانان
دا مست چه پرے منصور شو دا سرور و د جانان

وے د حُسن ارماني نه یم زه د حُسن سمندر یم
زه مست لیونے نه یم، زه مستي د بحر و بر یم
دا رنګ زما د سترګو نه دے رنګ دے د جانان
دا شرنګ زما سینه کښ د خپو شرنګ دے د جانان
عالمه! اشنۍ واورئ چه زه نور او زه رڼا یم
زه ګل یم زه بلبل یم، زه وصال زه محبوبا یم
منصور خو خپوا ډوب شو دا آتش نور دے د جانان
دا نه دے منصور نه دے دا سرور دے د جانان



A .S.K B

خبر پرے ملیان(۹) شو وے منصور خان ته الله وانی

دا کفر دا غرور چه ئے هر چا ته برملا وائی

وے کافر دے شی سنګسار دچه پلیت نه شی جهان

بادشاه دَ لیونوئے زولنو کښی که روان

منصورو ے خلقه واورئ چه زه نور او زه رڼا یم

زه ګل یم زه بلبل یم، زه وصال زه محبوبا یم

منصور خو پخوا دوب شو داَتش نور دے دَجانا ن

دانه دِ منصور نه دِے دا سرور دے دَجانا ن

---

(۹) ملیان: ملایان.



(c) ketabton.com: The Digital Library
A .S.K B

# څهٔ و

دا په سترګو دَ مريم کښې چه ژړا وه که خندا وه
چه ئې سوړ په صليب او ليد د عيسیٰ دَ زلفو ول

ذائقه او وا ئيه تاته، چه رحيم ئې که رحمن ئې
چه په خاورو کښې ګوړے خاورے دَ ګلاب ښکلے اوربل

دا مستي وه که معراج وُو دا جهان ئې چه روښان که
که د نور ديار د سترګو دَ رڼا بوند بهيدل

چه دا کفر که ايمان وُ، چه دا نه وه ئې ليونے کړم
چه دا غم مې په خندا شو که مستے مې اوړدل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پیدایش

او ما خان له ساز که پخپله جوړ
دَ خپل خوب نه دخپل خیال نه
دَ خپل غم نه دَ مستئ نه
دَ خپل تول نه دَ خپل تال نه
او ما خان له یار که پخپله جوړ
دَ خپل سوز نه د ارمان نه
دَ خوبونو نه دَ رنګونو نه
دَ ګلونو نه دَ خزان نه
او ما خان له غم که پخپله جوړ
دَ خندا نه خوشحالئ نه
دَ وصال نه دَ خمار نه
دَ بهار نه د لوئے نه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ما ځان له ژوند که پخپله جوړ
د امید نه د رڼا نه
د تیرونه د ښیرونه
د غمونونه د سودا نه
او ما ځان له مرګ که پخپله جوړ
د ژوندون نه د مستۍ نه
د سپرلي د زیړو ګلونونه
د لالونونه د خوانۍ نه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کږے وږے

## دا څوک دی؟

د چا نه خفه دے او چا ته پکار دے — په ژمي واوره ښي په اوړي انګار دے
پلار نے ژوندے دے خو دے خپله پلار دے — په کږوږي سفر په نوم آباد ګل او ګلزار دے
په بلې نے پیاز دے خو په سر نے دستار دے — په لاس کښې نے تیغ دے، په ځل کښې بنامار دے
د شیطان مرید دے خو د خدا تابعدار دے — خبرې نے یو نه منی، خو هسے یار دے

په جرمست لکه خر، په سر کلک لکه غر
په زړه سپے لکه سپے، مریرا قریرا
په خوله خوږ لکه ګوګ، تش ایمانے دبوک
یارانه نے لیقرے لکه سخا ایریره

کله ماول د پېښو، کله غپ د خرو — کله غرم د زنهري، کله بړ بړ بړو
کله شنګ د لیلی، کله رنګ د ملا — کله شپول کله زور کله ګل د لاله
کله پرس د سونلن، کله سوبیت د دهو — د دوشان د حاتم او ایمان د چرس

د دوست د کونګت مریرا قریرا
یارانه نے لیقرے لکه سخا ایریره



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لنډۍ

تو تو تو خړ او تته تته

ارمان زما لنډۍ له فیرنګ شنه جوړه کړه کته
خبرې اوس پښتنې کړي شمله يې دوه بې بته
يونوې اسلام راغې د خانانو د مالته
چه خوښې يې دې موټر که مجبورت د جماعته
تيز کړئ په پټرولو کله بره کله ښکته
په بله تماچه کړئ يرېږي د پښله ته

اوه تته تته خړه اوه تته تته

ارمان زما لنډۍ نن په اسلام کړې ډېر ننګ
ارمان زما لنډۍ سخکال(*) کولی ډېر بادرنګ
ارمان زما لنډۍ کښې دي چالونه رنګ رنګ
ارمان زما لنډۍ په کله پلن شي کله تنګ
ارمان زما لنډۍ ورۍ کله بره کله ښکته

اوه تته تته خړه اوه تته تته

ارمان زما لنډۍ په لړې خپته دماتي
په نسل فتح خان او په خوبونو جلاتي

---

(*) سخکال: سږکال.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارمان زمالنګه زړه کښې زړه کينه ساتي
ارمان زمالنګه نن کي کاروونه خيراتي
زمالنګه حاجي شوو نه ښپيرو ويشته لته
او ته ته ته خړو او ته ته

زمالنګه بنه شي دې غيرت د مسلمانانو کهي
مړو له جنت کهي ژوندو له دا جهان کهي
زوي له نوکري کهي او خان له پاکستان کهي
د استاد رقيب دلال بنن تا له جانان کهي
په بله تماچه کړي يرين ي د بنله ته
او ته ته خړو او ته ته

ارمان زمالنګه دې چه پښتون لکه زمري دي
په لنډه کښې بنه دهرند دې خوګر بورو کښې نري دي
په فکر افلاطون دي په اخلاقو بنا پيري دي
په عقل لږ ميخين دې خو په زړه چړچړ دي
ارمان زمالنګه دي د ک د چل او د حکمته

او ته ته خړو او ته ته
الله زمالنګه نن د فيرنګ نه ګټ خان
الله زمالنګه دې کهي هم مصر ايران
دې نيت م د کعبې دې خولند ن ته د روان
هندو ډ فيرنګو ته خپنې نه لګي هندوان



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارمان زما لنډے نه باکوکړ دے او نه بته
اوه تته تته خړو اوه تته تته

پرون زما لنډے چرته ولاړو په دیران
پرون زما لنډی چرته خوړل پړګي توتان
پرون چه جهان روان (*) وو، ؤ زما لنډے ودان
پرون دَ چا په دین وو چه دا نن شو مسلمان
زما دَ بنا دئ مشرو ستاوی غم کښ کمه پته
اوه تته تته خړو او تته تته

زما لنډه په واوره دَ بوټو ئ لګے دِ ځار شم
دښمن م دَ دښمن شه نو زه یار به ستا دیار شم
که ځے دَ جانان کور ته زه به ستا دخپو غبار شم
ته زار شه په وطن نو زه به ستا دَ سترګو زار شم
تش منه خوره قسمونه ستا شه توره ژبه تته
اوه تته تته خړو اوه تته تته

ته نوم دَ اسلام اخلے په اسلام پوهے خندا کړے
مستی هم دومره بویه چه دے تمام پوهے خندا کړے
دعوه دِ دَ عاشق ده دیار بام پورے خندا کړے
که سم نه شوے روان چوکه به دې وړمه ښکته
اوه تته تته خړو اوه تته تته

ایکشن ۱۹۳۵ ع

(*) روان = وران



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مسلمان

مسلمان هغه بنده دے، چه ئې شونډې تل مسکې وي
سترګې ئې د ړنا ډکې، د خلے يې په سل مسکې وي
سپين ايمان ئې لکه تندر، بې دغه نه ورڅه سيزے
د جانان د دربيو تې نه لغے ول په ول مسکې وي
چه ئې زړه ډک د آرام لکه وږغ د سمندر وي
ځله ئې ډکه د ګلونو لکه باغ د صنوبر
داسے مست د سرشاره لکه مينه د کافر
اراده کلکه ئې کړے لکه څوکه د خنجر
وجود هر ځا ځکې وينه سره په مينه د دلبر
په سينه کښې ئې رڼا وي لکه شرپکيه د جوهر
په ژړا کښې ئې تاثير وي په خندا کښې ئې اثر
مټ ئې بر په هرڅه بروي لکه مټ د سکندر
د زړه نور ئې لکه شمع په اوروونه بل مسکې وي
د بلبل د خلے آوازونه د غوټې د ګل مسکې وي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ساقي

دَ ساقي لاس کښې شراب دي، دَ خندا دي که دَ غم دي
چه دَ سوز او که دَ ساز دي، دَ مستئ که د ماتم دي
ساقي سترګې مهرباني، خو بڼې ګورے په ستم دي
دَ ساقي شونډو مدهوشو کښې خيالونه دَ کرم دي
دا تپوس زمانه مکوه، چه دا ډير دي او که کم دي
دا نشه هم دَ صنم ده، دا شراب هم دَ صنم دي
ميخانه هم دَ صنم ده، مستانه هم دَ صنم دي
زه نے څکمه ستا په نوم، دَ جمشيد که د عدم دي
جام په سر سر په سجده يم، يو قطره دَ خمار غواړم
دَ دلدار وصال په کښې ژوندانه تش خيال دَ دلدار غواړم

نه خوشحاله دِ وفا کړم، نه خفا دِ (*) کړم ستم
ژوندیو تال دِ چه عزيزي، کله زير او کله بم
دا يو دوه ګړے ژوندون، په خندا خندا تير که
دا جهان خدائي جنجال دے، کله وران او کله سم

(*) خفا = خفه.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نوے کال

خاوند به بیا سپرلے شو دنیا یو کال وارَوُ
چا په ژړا وارَوُ، چا په وصال وارَوُ
چا د نستو په شان په ساګ او دال وارَوُ
چا د صاحب په شان دَ بل په مال وارَوُ
څوک په سفر لاړل بلخوا ئے مال وارَوُ
چا د جانان په سَر دَ خاورو شال وارَوُ
چا دَ ګُنګرو په شان په شړنګا شرنګ تیر که
چا دَ سپوږمۍ په شان په رڼا رنګ تیر که
او غني دا هم رهبه لکه پخوا وارَوُ
څه ئے په خندا وارَوُ څه ئے په ژړا وارَوُ



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

## زه

زما بخت د شمع بخت دی یا به مړ مه یا به سوځم
یا به ونغ له دې دریاب ځم یا به پاس په څپو خوځم

عجب زه عجیبه لاره عجیبه کاروان روان دے
مار سوتی پړاؤ له بیائی که زه ځمه او که نه ځم



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سپرلے خلاصیږی

ماؤ دغږے لاړه ما سپینینے شو — لکه د منی یخ باد د سینے شو
سوړ د سترګو دیر خود زړه کم شو — او د فراق اسانږے د صنم شو
ساز کښې سوړه نن د خاموشۍ خیږی
د هوش جنګے په سکوړ د بیهوشۍ خیږی
د شفق سره رنګونه شو لړه توره — بادشاه شهړ و نګے شو د خپله کوره
او ستاړه کښې شرنګ هغه د ماښام نشته دے — سوړه په سترګو کښې د خیام نشته دے
خپے د رقاصے سره خوتال نے هغه نه دے
بانګ د بلال هغه بلال نے هغه نه دے
په جام کښې کوټ کوټ شراب ګمیږی — سپرلے خلاصیږی ګلاب ګمیږی
او رڼا د شمع کښې د سحر نوړه راغے — باغ د بلبلو ته نوم د باتور راغے
د غمو سترګو له خیال د خزان راغے
لږ مستی لاړه او لږ ارمان راغے
او د فراق سوړے په وصال پریوته
ستوړی راوختل او هلال پریوته



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دجیلخانې خوب

(۱)

خوب وینم عالمه که ئې ښوک راکړې معنیٰ
پروت یم سر مې اېښې د خپل یار په زنګانه
خوب وینم چه پورته په هوا لکه د باز شومه
کینا ستم په بام د محمود ستر ګې د ایاز شومه
پورته د خاموش زړګي نه خوږ د مینې ساز شومه
خوږ شه مې په حورو کړه د دمو زمانه

(۲)

خوب وینم چه ناست یم د جیندی (۱) په ښخیه غاړه
شاه مې سویلو کښې لکه سره شمع ولاړه
سپې شوندې مسکې شو مانته ئې وکړه زاړه زاړه
خکه دې د زړه وینې د اشراب دی مستانه
خوب وینم عالمه که ئې ښوک را کړې معنیٰ

---

(۱) "جینده" د ښنګر د مینې هغه سپینه ډکه چه نهوتی
اته وار په کلي ئې په غاړه پراته دی. (غني)



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۳)

خوب وینم چه باغ دے دګلونو اوماښام دے
سرے سترګے ساقي دساقي سرو ګوتو کښې جام دے
لاس په ستار پروت لیونۍ مست لکه خیام دے
اړئ پړ نړۍ نړۍ د مینے افسانه
خوب وینم عالم که نے څوک راکړي معنیٰ

(۴)

خوب وینم چه سپینه سپوږمۍ پاس په خندا راغلله
ماله محبوبا په شرم شرم ترخوا راغلله
شونډو کښې شراب او په کوکۍ کښې قضا راغلله
سر خمارے راکه پیمانه په پیمانه
خوب وینم عالم که نے څوک راکړي معنیٰ

(۵)

خوب وینم چه پټ شوم په نسیم کښې بیا لاړمه
خواله دَ جانان لکه دَ مینے نظر لاړمه
سترګو دَ دلدار له لکه خوب دَ صحرا لاړمه
یو شرنګ کښې م لوټ کړه دَ عمرونو خزانه
خوب وینم عالمه که نے څوک راکړي معنیٰ



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۶)

خوب وینم چه زه لکه لولکه په سیل اووتم
پورته د نرګس نه شوم په خوا د رامبیل اووتم
ناز د سیبے عارے د لیلی په امیل اووتم
پته م ورته ووے سلامونه جانانه
خوب وینم عالمه که ئے څوک راکړي معنی

(۷)

خوب وینم چه پورته لکه چغه د منصور شومه
یا یو مُتے خاوره وم یا لوئے دریاب د نور شومه
خو بانګ د صحرا وشو زه راویښ شوم کور وکور شومه
خوب یوره خوبونه راجمد (*) ئے شوه زمانه
وے پریوزه لیونیه تیره وه د جیلخانه

غنی

حیدرآباد جیل - ۱۹۳۰ع

(*) جمد ئے : ژوندی.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کړے وړے

واوره فلسفه د ليونتوب د ليونى نه
دا آيات خو نه کړے خو قرآن کښې ما ويلے

مرګ او ژوندګى يوه ده . غم او خوشحالي يوه
ژوند چې چرته نه وي مرګ چا ملته ليدلے دے

زه لکه د جام د خوشحالئ غم ئے شراب دى
ته ئے په رخصت شے تا خو غم ته نسکور کړے دے

خوند که ئے حاصل دے . دا نشه يوه د دواړه
دواړو کښې خمار لري د ساقي د سترګو تلے دے

مرګ کښې پټ دے راز د مرګ ژوندي په نه پوهيږي
دا آيات خو نه دے خو قرآن کښې ما ويلے دے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قید

دسحر تیل او دال      د ماښام دال او تیل
نه کوټکۍ په کټ کښې      قلبۍ (۱) د عطر او فلیل
دسحر دوه چپاتۍ      لکه زړه چیتړې
داسې خوارۀ او پاسته      لکه دَ خرو تغرې
چاۓ لکه یخه ښوروا      په تروې کړې توره
پیاله دَ زیړو دولچه      اوس را شه خوند گوره

بستر د برګ ترپړی
سوړ نۀ تورۀ کمبل
او یارانې لهٔ دَ شپې
ښار به ښار به کتمل

محفل د بنګلو خلقو      قول بزرګان شریفان
یا تمیزک کښ کپان      یا اجرتي قاتلان
چه نور زیړې شي هیله      ما په پنجرو کښې کړي بند

---

(۱) د جیل چکئے کښې د بولو لوښه هم پروت وي.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه مرز په قطار

په بلاړو کښې کړي بند

تمامه شپه ګرزي

دم په دم کي تفتیش

ته به وې چرګ یمه زه | یو به م سي پناپیش
د بندیدو سره | همه دنیا دَ بهر
یو تورِم لره شي | کښېیني م ان په خکر
دَ جهان قول نمونه | لکه سیلۍ راشي
دَ زړګي سرله بدِ | لکه ګولۍ راشي
او چه ارمانونه پکښې | لا د لولۍ راشي
لکه د مرې په کور | چه سرو دولۍ راشي
او چه دې باغ دکلو | ما سبام رایاد شي
لا چه دِ دکِ دَ مستۍ | سور جام رایاد شي
که دا خدمت وي دتام | زموږ توبه ده

دا دال او تیل مضمول

ګرانه قصه ده

او لا په دې کښې هم

غني غزلې وي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عشق اور دے مزلے
په بلے بلے وئ
ولے په تشو اوبو
شاعري کرانده

| | |
|---|---|
| چه تاؤ د اور نه وي | زر کري کرانده |
| قاضي (۱) صاحب وئ قرآن | سحر ماښام ماز يګر |
| خان لړ نے کينو آواز | او ماله نے خوږ که سر |
| که ميله غږ کوو | اوس راته وائي آيات |
| قهر په مست او ښار | رحم په صوم او صلوٰت |

خه او کړو صبر به شو
دا د الله نه ده
ولے په تشو اوبو
شاعري کرانده

غني
حيدر آباد جيل ۱۹۴۸ع

---

(۱) قاضي عطاء الله وزير تعليم زيات حيدرآباد سنده جيل مړ کړے دے. نامتو پښتون پښتو شعر هم يا سياسي شخصيت او ليکوال (۱۹۵۳ع مړ) قاضي د پښتنو تاريخ هم ليکلې چې په څلورو ټوکونو چاپ شوے دے.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خاورې

نه منم نه منم یاره مرګ انجام د مستۍ نه دے
خلا مېدال شراب په جام کښې اختتام د مستۍ نه دے
چه ماښام د کمې شپې وی نو د مغې سبا هم وی
چه رڼا وی تیاره وی. چه تیاره وی رڼا هم وی
که یو نه وی بل هم نه وی، او چه وی نو وی به دواړه
دے دریاب له چرته شته د لرے بله یوه غاړه
زر سحره د بهار دی یو ماښام کښې د خزان
شل خمونه د ګ د عطرو یو دانه کښې د رنجان
چه یوه غوټۍ شی خاورې تخم وکړی روغ ګلزار له
د خپل رنګ او بوقې پناه ونه شکرانه یوسی بهار له
دا جهان د نور او سوز، ولے روګ شی چه ساز چپ شی؛
چه جانان په مستو سترګو ګوتے و ر وړی ستار له
په قبرونو کښې پرتے دی لاس او خپې شونډې او ګوتے
خوګ شی تېر چه روے د دے سرو سترګو خمار له



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

جام نه مات شو میخانه کښې لیونے تے غلے پاڅید
زړو مے ډک د رنګه یوړو دے روان کوڅے د یار له
ساقي نوے جام راواغښت په سرو شونډو کښې مسکے شو
بل عاشق ورته لاس ونیو شکرانه تولې د دلدار له
ملا بے سره سرورو تش کنډول د مرګی یوړه
خاورے خاورو له لاړه کنډه او کنونه خوار له

غني
حیدرآباد جیل ۱۹۳۸ ع



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دخوبونوجهان

زما په ولینه دخوبونو لوی جهانه
په شپه کښې راشی په وخ بیالاړشی له مانه
دستورو باغ پېیلۍ دخاورو دانسانه
ښیسته دګلستانه راځه ماله راځه

دا ینے عکسه و لے بل خواته ور کیږے؟
سوره لوګیه آسمانونو کښې پټیږے
دصحراسینډ چرته کوم خوا غیبیږے؟
وچیږے وچیږے راځه ماله راځه

دسیلئ آسه دآسمانه غورځول کوے
اول داروښے بیا دزړونو ماتول کوے
دیوکارنه ئے او به ما کارونه سل کوے
وژل کوے وژل کوے راځه ماله راځه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اَے بادِ صبا

ته څه خبرے اَے باد صبا
څه دنیا کانے تالا کړے مونږ

هیریم کړے زلفِ خوږ ورے
زلفے جانانا تالا کړے مونږ

هیرم که هغه دَ نور صبا
هیر مستا لیونے ما نبام

هیریم کوکئے مینه ناکے کړے
پرون دے اروے دَ میو جام

کړے د کے زولئے دَ نور
څه په خندل مونږ نو ستلے دی

سرے صراحئ د رنا او ساز
مونږ په صحرا اروے دی

ستر چه وے د خمار د کے
مستے د ژوند د شرنګار د کے

پور د شرابو پیالے دَ ناز
شکلے د سُر او سینګار د کے

روسو هیر سوے خاور شوے
یاد او ارمان هم خاور شوے

پانے ګلاب او غُنچے څه کړے
غم د خزان هم خاور شو

ته څه خبرے اَے بادِ صبا
څه دنیا کانے تالا کړے مونږ؟

هیرم(*) کړے زلفے خوږے ور
شونډه جانانا تالا کړے مونږ

غني
حیدر آباد جیل

---

(*) هیرم: هیرمو.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مهذب

چه خراب مِ په سګرټو عمر و پر پوس
او په مس مِ خرڅ کړو دین ایمان ناموس
چه مِ هیرې د پښتو د ملک قصې کړې
چه په مسلک مِ کړه بدل د وطن بوس
چه په نوم د پلاو نیکه به شرمیدلم
شوم فدا د مس د خولې مرید د بروس
سوټ مِ واغوست جهالت ته په غضب شوم
ماور او وره بابا اوس نزه مهذب شوم

١٩٣٢ ع



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سوداګر

عجیبه دا سوداګر دے | په لاس تیغ په سر قرآن

شنه قبائے دا امام ده | کلکے سترګے د شیطان

په خکر لکه چنګیز دے | چلولې لکه مامان

په خُله خوږ د ګلو باغ دے | په زړه سخا لکه ویران

غړمبیده لکه زمرے کړي | غــړیده لکه حیوان

پنجے د وبے په سرو وینو | ســرے بره په آسمان

ماته وَئ چه خُوانه راکه | ستا پښتو توره او ننګ

راته وَئ غیرت دې پریږده | شه زما د در ملنګ

وَئ سرټیټ کړه کنې کړم به | په تا مسلک د الله تنګ

وَئ زه هوښیار لکه ابلیس یم | زه خونخوار لکه پلنګ

ته راکوز شه منګته کینه | مالره د یار پالنګ

یا ما خدائے که سجده اوکه | یا زما او ستا دے جنګ

وې دا توره زما لاس کښې | ستا د ژوند اختیار زما دے

ستا خمار غیرت او مینه | دې ګوتو ښکار زما دے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

داشمله د ننګ کړه تېته — دیر تیره غوزار زما دے
د فرعون چنګیز وار تیر شو — اوس را غلے وار زما دے
شه غلام د دے غلام — په ده دیر اتبار زما دے
خاوره خټو کښې پراته دي — چه خوړلے وار زما دے
که زما شوے زما خوانه — ګوره دا د زړو تخت
پاس په دې د پاسه کینه — خوشحالیږه په چل بخت
داجامونه د شرابو — مسند د زر بفت
داسپړ دا پیغلے مستے — ستا د سپینے خوانئ وخت
داجنت د عیش او زور — بل خوا اور دا ور ره سخت
خوانه زه ساقي له وړه شه — کړه دا سره سینه بالبنت
رته ښکلنه سودا کړه دے — ښکلنه زړه دکرم جهان واخلم
ښکلنه نظر دستر کو ورکړم — او چشمه د مرجان واخلم
ښکلنه بهار او سپوږمئ در کوم — دلالونو دیران واخلم
د ګیسو د طوق بدل کښې — ښکلنه دین او ایمان ورکوم
د دیدار دیرے ښکلنه — بے خودي او جانان ورکوم
دا د نور او مستئ ډک سر — په سجده کیږه دم غلام ته
د قصاب د چیچرو مینه — ښکلنه او بنا یم خیام ته
ښکلنه د بل د تا لی پا تے — کرم چوکه د مستئ جام ته



A .S.K B

خنک دلدار په دنیا ورکړم — رقیب او خیژوم بام ته
د جانان خیشته سر څنګه — د فرعون په پښو کیږدم؟
نه د لیلٰی سودا کړه — تا د سرې وینې غوړنګ
په ټیټ سر باندې نه ښائی — دا زما شمله د ننګ
د سرو زرو تخت قربان شه — په آزاد کند د ملنګ
ټیټو سترګو کښې اوچیږي — د سرو او مستې رنګ
ستا شراب زهرو کوټ دے — خلاصول کړی د ایمانه
ستا ساقی د چکلے دمه — په دوه نیمو پیسو ګرانه

---

زه رو کیږه سودا کړه — لیونی مونږ د دلدار یو
ته ئے اوږے دلالونو — مونږه اوږی ښکاریو
نه ئے دم نه ئے داروشته — مونږ په داسے ښخ بیماریو
ته مغروره په خپل زور ئے — مونږ په مینه کښې سرشاریو
راشه او ګوره فرعونه — دا دوه د ملنګانو

په دے خاورو کښې خوږ دی
کیږی د بادشاهانو

---

غنی
هری پور جیل
۱۹۴۷ع

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کوګل

دے کوګل کښې مې د ننه — هم دوزخ دے هم جنت
دے کښې قهر او غضب دے — دے کښې رحم او راحت
دے کښې پروت یو سمندر دے — د نشے او د خمار
دے کښې پروت یو تهتړین دے — د لمبو او د آزار
دے کښې پروت دے دوه مره رنګ — د سپرلی او د خندا
چه یو برق نے پو جهان کړی — د مستۍ او د رڼا
دے کښې پروت دے دوه مره رنګ — د ستیارے او د ژړا
چه یو اُف نے تور لحد کړی — د خندا ډکه دنیا
دے کښې دومره شجاعت دے — چه د ټول جهان مرګونه
یو نظر کښې تار په تار کړی — لکه باد وړی بوسونه
چه په یوه باندې راشی — زړه تنے(٭) غټ دے د مزرک
واسے رپی واسے تبنتی — دا او بو خاشکے تے کلک
او چه کلک شی داسے کلک دے — لکه کاڼے د فولاد
نه پرے زور ترسے اثر که — نه پرے زور کاله فریاد
دے کوګل کښې مې د ننه — هم دنیا ده هم قیامت
دا هم لار هم کاروان دے — هم تدبیر دے هم قسمت

---

(٭) تنے : سرې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پروت په دې کښې قول دَ داستان دے — دَ جزا او دَ سزا
خور په دې کښې لوئے جهان دے — دَ وصال او دَ وفا
دا هم باغ دے هم خزان دے — هم بلبل دے هم بهار
دے کښې سره نیا زهین کانړه — او د شنو اوبو شړار
دا هم زهر هم زقوم دے — هم ګبین دے هم نبات
دا هم تور دَ مرګ ښادړے دے — هم چینه دهٔ دَ حیات
دهٔ کښې پروت داسے شراب دے — چه یو څاڅکے د مغے
په بد مستهٔ او سرشارهٔ — کړی دا واړه فرښتے
دے چه ځی په بره درومی — شی جبریل ورته حیران
چه په بد و باندې راشی — امان او غواړی شیطان
عجیبه دیم جوړ کړے — اے زما خدایه عجیبه
بے دَ تا نه نور دَ هر څه — دَ همه یم مرکبه
دا داور او نور دریاب — دومره لوئے لکه آسمان
دومره روکے لکه څاڅکے — دومره لنډ لکه یو آن
دا قصه دَ سوز او ساز — ولے ولے څه له څه له ؟
خیشت او غم راز و نیاز — ولے ولے څه له څه له ؟

غنی
حیدرآباد جیلخانه
۲۳/۹/۴۸



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جناب شیخ

زړه دې ړک دے دَ خپل جانانه / په کښې ښائے نښته دَ یار
دا سے ړک نے د نیکونه / لکه ړک دَ مرو ښار
د واړه وسترګے دې ړندې دي / دَ بل بله دَ خان ښه وینی
تل آئینه کښې ښائسته ګورے / د یار نه وینے سینګار
ښناسے ستا او ژګارے ندي / چه صفت دا آشنا وکړے
د خپل نور قصید سے وائے / په کوڅه کښې دَ دلدار
دا سے ته په نیکے مست ئے / لکه وو فرعون په زور
د ریا ښه دې نه تاو دی / لکه لوئے او تور حصار
چه په بل کښې بدې وینے / خو مړه و زړه دې شي خوشحاله
د بل خیشت دې ته غلا ښکاري / ستا د تور تاریک جماله
دا شکور رانده چه وینے / چه دغرکوئ غُزیږی
دا هم ستا په شان روان دی / دا چه پریوزی او پاځیږی
دا چه ته ورپورے خاندے / دا مجنون او دا ملنګ
ستا قبا د ښنو ریښمو / او دَ دوی شلیدلے لنګ



A .S.K B

دا هم زوی دی د آدم — د الله د کوتو جوړ دی
څه که ډوب دی په تیږو کښې — په شرابو کښې شوړ پوړ دی
دی هم ځی په چغو چغو — دی هم غلته روان دی
ته چې ځې د کسم په طمعو — هم هغه دده مکان دی
ای چې ډوب په فضل دوبې — ای چې بره ځې خوشحاله
دده شور چغې هم واوره — دا هم ځان له وی هم ناله
دا چې دې پرېږه غځ پرېوزی — تا ته بنیې تیندک د لارې
دا دې دې سرماتې ولیاء — خلکه ته روان اوبنیاری
شیخ چلو د نیکو د که — ګنهګار دی ستا استاد
ستا دعا د ځان د پاره — ناله دی د ده فریاد
ستا د بنو دیوه بلیږی — په سینه کښې ځان د پاره
دده سری لیږی داوردی — د همه جهان د پاره
دی تصویر دی د آدم — د ختو او پریوتو

او په سوو وزرو نو
د پتنګ د الوتو

غنی
حیدرآباد جیل
۱۹۳۹ع



(c) ketabton.com: The Digital Library
A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تاریخ

دخوبانو سره مینه
ده خوراک دزړګی وینه

چه د بانے وی تندی کښ
تل به رخ وی ماه جبینه

زنګ وهلے توره چړے
تویوی نه سټکے وینه

قتل عام دمغے کار دے
چه ځلیږی تا نه سپینه

دخزان رنګ دسړی زرد
دغنی یاره حسینه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ساز

شونډو له خوند　　اوسترګو له رنګ

پوزې له بوئين　　د نرګس د لونګ

زړه له اميد او　　مستي او ارمان

غوږ له سرود او　　شنا را او شرنګ

ماله سرور او　　جمدون او نور

داخو آوازه　　د ژوند د رنګ

تق تق د اور　　تپ تپ د باران

آخ آخ د وصال　　اُف اُف د ارمان

وَی وَی د جنون　　وَخ وَخ د صنم

نانا ، آو آو　　هـــر وَخ د صنم

قت قت د خندا　　پرق پرق د مستې

شرنګ شرنګ د پانزيب　　چن چن د لښتۍ



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

شړشړ داوبو　　　شغ شغ دَ نسیم
بس بس دَ دِلبر　　　بړ بړ دَ غلیم
هیں هیں دَ ډهلکي　　　شنګ شنګ دَ ګولئ
قړ قړ دچلم　　　پړ پړ دَ لولئ
ډُم ډُم دَ دوپړے　　　ټنګ ټنګ دَ رباب
غړ غړ دَ پیالئ　　　سخ سخ دَ کباب
چپ چپ دَ کوکئ　　　پس پس دَ دلبر
چړ چق دَ تارو　　　کوکو دَ کمتر (*)
بس بس دا آشنا　　　بد بد ے روان

ایش ایش دا قلم
هاں هاں دا بیان

غنی
حیدرآباد جیل
۱۹۴۸ع

---

(*) کمتر: کوتره کبوتر.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# صاحب

زوے مې راغے دیورپ د تربیته
جوړ سنبال لکه دَ ناوے پوټه ښکته
تر یو تندی پوړی مخ ئے وو نیولے
تا به وے وُ د لاتانو دَ محلته
دَ ډوډۍ او دفیشن سره ئے شوق وو
ډیر نفرت ورله    ورته دَ جماعته
لکولو د پیسو کښ افلاطون وو
خو کتلو کښ غریب وُ بے همّته
نن چه ما ورته په فکر نظر وکړ
خرمهره وُ بس نوئے وه کته

۱۹۳۰ع



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اور

ګنهګار یم ګنهګار یم
هم د خدائے هم د دلدار یم

بے وفا په محبت کښې
نفس پرست او بے اختیار یم

مینه مینه په خوله وایم
مینه نه لرم حیوان یم

نه م لوظ نه م قسم شته
نه مین په یو جانان یم

چه کم ځائے ځواني او رنګ وي
چه کم ځائے د ګنګرو شرنګ وي

چه د چا د تمبل ټنګ وي
نو زما ورته غوږ ځنګ وي

یو مکه د مسلمان وي
د کافر یو بت خانه

مړه ورځ زه بدله ومه
نوے نوے میخانه

هم م مینه ده بے پته
هم ګناه م بے وفا ده

چه م کمه مخامخ وي
زه وېم دا خما لیلیٰ ده

کلمه لا پرشمه جماعت ته
په سجدے په زارے پریوځم

مشل سجدے م کړے نه وي
بیا د چا په یارے پریوځم

یو سور اور م دِ کوګل کښې
ما سوزي دننه بهر

نه دے یخ خونه دے کم شو
چه دا اور دے که سقر

که ساقي د کوه قاف وي
که شراب وي د شیراز

بس پیکه م تر زړه کے شي
چه معلوم نے کړمه راز



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

که ما بنام وي که سپوږمۍ ګې — که وي راز او که نیاز

روح م تنګ لکه لحد که — که وي سوز او که وي ساز

دا زه څه پسې حیرانه — سرګردان پریشان ګرځم

دا زه کم خواته روانه — په باغچه بیابان ګرځم

ګنهګار یم ګنهګار یم — آدم خور یمه خپل ځان خورم

خپل بنایست خاورے کومه — اژدها یم خپل جانان خورم

دے په زړه د نه اورم — رو رو تن لوګے لوګے که

د ګهیرے[۱] ګړه سره ګلونه — شین چمن لوګے لوګے که

دے دا اورمے خوراک که — نوے نوے امبار غواړي

نوے رنګ نوے محفل کښې — نوے نوے خمار غواړي

دے دغجن یم دے وغجن یم — داد قسمت کوم فریاد

نه یم تنګ زه د دے اوره — زه په دے یمه آباد

زه به ده له خاشاک ګورم — که باغچه که بیابان وي

زه به ده ته لوګے کومه — که خواني وي که جانان وي

داد ده په شنو لوګو کښې — زه اوربل د دلدار وینم

داد ده په لمبو ګوره — زه سپوږمۍ او ګلزار وینم

دے زما په وینه پالي — زه د ده په لمبو پایم

دے زما وجود او سا ده — زه د ده وجود او سا یم

چه د ده برق او شنار وي — هلته ژوند هلته انسان وي

چه د ګنی د خاورو توپ کي — پنه خزله د ویران وي

(۱) ګهیرے = ایرے.



A .S.K B

لیونی یم لیونی یم — نه م سرشته نه سامان
نه په مینه مستې پوی شم — نه په سود او نه په زیان
عجیبه سبې زوره لار ده — عجیبه بې خې کاروان
که قدم اخلم غورځېږم — که او درېږم مه تاوان
عجیبه غونډ شراب دی — چې نې څکم لا تږې کېږم
عجیبه من او سلوئ ستا — چې نې خورم لا وږې کېږم
دا په زړه دننه اور م — که نې وژنمه روکېږم
که نې نه وژنم سوزېږم — لوګې کېږم ایرې کېږم
لکه شمع بد نصیبه — لا به سوځم لا به مرمه
لا به خان تالا کومه — لا به تور دریاب له ځمه
بس دے بس که لیونیه — داد ولې ولې باب
جام که ډک سترګې له پټې — تنکوه دِ خوږ رباب
ور نږدې شه ور نږدې شه — چې د یار شونډو بې شکرې
رو په مینه مینه اوګورې — دوه خوږې خوږې خبرې
تورې سترګې بلېږي — لکه شمعې د معراج
دغه سرې شونډې کښې اور دې — اور د غم دا ور علاج
په سرو ګوتو کښې جنت دے — که دوزخ دے که بقا ده
وی سوزه سوزه خاندې خاندې — ژاړه ژاړه دا دنیا ده

غني
حیدرآباد جیل
۱۹۴۹ ع

(c) ketabton.com: The Digital Library

# آدم

عجیبه م وجود لا عجب م خکر
څه بې توکه بې توله دا سترګې او سر

یا په بام د حرم دَ مستۍ ترانه
یا په شپه دَ وصال د نفلونو بهانه

یا موسی ته قیصې د فرعون دَ محل
یا فرعون ته بیان د ابد دَ اجل
یا د غم د بي بي نه سرور غوښتل
بت خانه کښې پر قونه د طور غوښتل

کله روح د مجنون او ساقي او پیاله
کله سر د خیام او ژړا او صحرا
کله خوب د منصور د رنا دَ وصال
کله شوق د حبشي د کوکې او دَ خیال

کله روب بې پایانه کوې د غم
کله هره پیاله کښې صنم صنم



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یا دَ ژوند کاکوکښ د مرګ تصویر
یا دَ مرګ ساګوکښ د ژوند تعبیر
یا پیغام د فراق په خندا کښ دیار
یا امید د وصال په ژړا کښ دیار

یا دَ جیل کوټکۍ کښ خوبونه د کور
او ایروکښ ارمان د رڼا او دَ اور
دا بیخوده دماغ بے کماله وجود
پچاری د مندر او شوق دَ درود

هم غلام د ښایست هم مرئے دَ وفا
هم دریاب د تیرے هم مستی او رڼا
بے آرامه ارمان بے قراره نظر
څه بے توکه بے توله داستړکے او سر

یا په بام د حرم دَ مستئے ترانه
یا په شپه د وصال د نفلونو بهانه

غنی
خان پور



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نه کیږي په عقل

سپین ویښته دې تاو که سټو کې خنه ترې جوړه که
قرض رنګ پرې توی که قالین جوړ د خپله پوزه که

نه کیږي په عقل توکل غواړي د چرسیانو
نشته دے کالونه په کوټه کښې د ملیانو

دلته ښانګونه دي تالي دي رکیبۍ دي
دلته شراب نشته پیکوړي او زلوبۍ دي

عقل له سرور کښې سره عقل کښې کور نشته
دا خبرے ماته مې رو رو کړے آبۍ دي

مینه خو یو مینه وي نه سود وي او نه زیان
دلته په کچکول کښې خوږے شوے نوابۍ دي

لاړه د هوښیار په کنډ و کنډو به دروږده
مینځ د لوړے ژورے دے او د که داسے ږده

داسے آواز کوړۍ چه نه زیر وي او نه بم وي
خو ښه ئے رباب کښې خاموشي د مقبرو ده



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بنر خوار له یالوړ او صحـــراو و یا مهار وو
خـر د موسئ رور د ے خو مینے د پـه جوار وو

کور د طمع څه دے تور محل د بلا کانو د ے
روح نا و ے کول پـه ډولکی کښې دیـریا نو د ے

تش د کباب خوند له اسمعیل حلاو ل دی دا
ما دا او ریدلے پـه کوڅه کښې درندانو د ے

زور او غـرور نـه لوی عشق صبر او ارمان دے
سر او سـهر نـه لوی سـړخان د ے او جهان د ے

رحم نـه انصاف د ے یو تدبیر د ے د دوام
هر څوک نے پکار د ے کـه خیټه د ے کـه خیام

شـنـګ وی د نـړ د نـه او ډولکے د لرے لر ے
دواړه غزنی یو شان او یو ر نګے خـبر ے

ډک د ظلمه زوره د طاقته د باز پر ے
جوړے د مینې او رنګین بوی د ګل ورز د ے

کومه لارچه اخلے خو مقام نے بس یو د ے
دلته زر جماته دی امام نے بس یو د ے

څکه لیونے د ے مرور شتې کـــله کله
بل خواته ورتاو کړی داد هوش تهتقه شله



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پریوزی په پړاو کړی تغانه کښې ډېوه بله
خپې سپینې پولۍ طمع تاتې دَ منزله

تانه اور سور ورد دے یو مار ولے وژنې اوکښې؛
اے دسپین او تور ماالکه څه مزه ده تور کښې؛

ولے زما لال وی پروت په خُلے کښې دَ بنامار
ولے دے ګلاب له نه اوربل او نه بهار

ولے دِ بندی که خاشکے تن کښې دَ ډنډ وکی
غواړے تر چپے دسیند سازونه دَ ابشار

ماله مرګ او ژوند دے تاله تش دَ څښنے ولاړے
اورکښې ډکے بل کړے ولے حُسن الول دے

اوره دے نبولے یم فولاد جوړے زمانه
سبه چه زه فولاد شمه نو څه زما جانانه

جسلۍ فولاد وله جوهر وله کمال له
بس خاورے کیږدی رو کیږدی دَ دُنیانه

ولے دِ ورانو لوله جوړ کړے سور محل دے؛
اورکښې دے بل کړے ولے حُسن الول دے؛

ډیره اسماعیل خان
۱۹۵۰ع



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اختلافات

پلار مې ورک په خپل وطن
زه د خپل وطن نه ورک

د هغه خوبښ دې تعلیم
زما خوبښ ساک د پالک

د هغه خوبښ دي خوانان
لوی د قام په جنګ روان

زما خوبښ هر ګلستان
هر چمن د لولو ډک

د هغه وطن جهان
دا بې نوره بیابان

زما ملک ښکلی آسمان
د ښیسته ستورو نه ډک



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لوږه

چه شي خُله د خوږو سپوږ ... د دنیا خوا بزه همه
نه ملام ملام یادیږي ... غونزاخي(*) او قتلمه
چه شي خیته ډیره وږې ... د دنیا گُل خوراکونه
نه په سترگو کښې غږیږي ... سیغلکی او کباپونه
چه شي سترگې ډیرې وږې ... د دنیا کلونه واړه
ورته خکښې خکښې کیږي ... تورې زلفې سپینه غاړه
چه شي شونډې ډیرې وږې ... د جهان همه خوبانې
ورته وړانګې وړانګې کیږي ... سپینې تورې سمې ورانې
چه زړګې د مینې سپوږشي ... تیرې نوې خوشحالۍ
پکښې د نه رَپي رَپي ... لکه ناوې په ډولۍ
او نږیم او نږیم دا سې وږې ... په یوه کوکۍ ورکیمه
دا جهان او جنت دواړه ... په دوو سړو شونډو خرڅومه
کښینه کښینه لیونیه! ... دا ل خته وهه کوکارې
دا مزې د دې نصیب کښې ... چه ته زوې دا سې پلارې

---

(*) غونزاخي: الحجور



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

آخر خُله به دِ خوږ شي  کښېنه وایه کُړه ګړه
دَ قسمت غاخاورے کړي  راغونځي کنډے ته لوړه
که بهار کښې دي ګلونه  نو میوے دي په خزان کښې
سبا دغه دے راوخوت  ستوري ښکاري په آسمان کښې
سره ګلونو شنو اوبوله  بیا به لاړ شے هشتنګر ته
په نرتوب عزت به ګورے  خوږه سترګو دَ دلبر ته
بیا به غاړه دَ تالاؤ به  دَ سرو میو ډک کړے جام
بیا به ګرزے په مالتو کښې  دَ سحر او دَ ماښام
بیا به او ترړے په یوه  برګ او مست هندکي غوایان
بیا به نیسے په جینکي کښې  مار مهۍ او سره کبان

بیا به شور شغرب د ژوندي
دیارانو شتے مستے
چپ چپ شه مخکښې مه ځه
ژړا راغله بستے بستے

غني
حیدر آباد جیل



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ویښ

باغ کښې ښوک گلاب شي ښوک شي سرے ښوک ورخاړي
ښوک د مینې غنچه شي ښوک کبل د غاړے غاړے
تاج د چا د زړه د چا تاج شي د غمو نو
ویښ د بل په لاس دي که ته خاندے او که ژاړے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دَغم لوَر

لنګه تیاره شوه دنیائې راوړه
آدم چه مست شو حوائې راوړه

مرګ چه د خپل ژوند تالاش کښې روت
ژوندون ئې راوړه او سائې راوړه

تورې چه چغه د کفر او کړه
د مال ئې پیاله قلائې راوړه

چه اوبنګې سرې شوې شراب ترې جوړ شو
چه غم با با شو خندائې راوړه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زور

خدائے چه پیدا کړ دځان نه زور
کړل ئے تړلے لاندے څیزونه نور

سړے او چت کړ تر نیم آسمانه
بادشاه د هر څه ؤ بے سړه زور

الله موسکے شو حسن پیدا شو
طاقت به مسکه پریوت نسکور



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بُت

دا شونډې سرې د ګل غوټې — دا شونډې سرې وړې وړې
دا شونډې سرې قطرې د ناز — دا مجسم مکمل نیاز
تش او وچ زړه کوته دا — رنګ د مستۍ او ارمان خوري
ما بانډې نښې او خوږې لګي — ما ته نښې د جانان خوري
دا خوږ ژوندون مست شونډې — مرګ پورې مسخرې کوي
دا خو ګلاب خندا نه دی — بل پسرلي ته آسرې کوي
دا خو د تور مرګي په مخ — رنګ او امید د دنیا خوري
دا خو د مجنون سترګو ته — خیشت او سینګار د الله خوري
پوهې د دوی د آدم په راز — پوهې په تللو د سوز او ساز
تولې قیصې نې یادې دي — تولې قیصې د راز و نیاز
دا د عیسی د لاس په شان — ژوند او امید او خندا خوري

"بت" ورته خلکه او وایه
ماته چه نور او رڼا خوري



A .S.K B

# پېژندګلو

هوښیار هغه وی چه ځان کښې خرتوب وینی
خر هغه وی چه خپل ځان ګڼی هوښیار
عاشق هغه وی چه طمع د څه نه که
په شرنګار به مخه ځی لکه آبشار
غوث هغه وی چه له ځانه خبر نه وی
خو خبر وی له ژړا د غریب خوار
چه د قام د پاره دانګی اول اور ته
د هغه منم بریتونه کوناه د دار
غني هغه دې چه سر دې د بې سره
کله خر کله نقلي کله هوښیار

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ولې؟

گل له بنده خاندنت ستر گوله پسته دنها
شونډو کښې دابېخودي شونډو کښې نشه نشه
خیشت له دچل خان پښان نور او سینګار او خمار
یار له دخندا په خاے سپین دسرو گلونو خار
مینې له دَ زور دَ سمندر زړه دَ بادشاه ورکه
ساز لره آواز، اثر خاندنت، تا دنشا ورکه
ماله دغمونو ارمانونو جهان راکه تا
ماله زړ کے پوست او مستانه او حیران راکه تا
او ستر گے خمار دَیار دحُسن د آرام ډکے
کله د سپوږمۍ درنها کله د ماښام ډکے
کله دَ خوانۍ د امیدونو د ارمان ډکے
کله لیونۍ ستا دخمار او ستا د شان ډکے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اے دَ دوزخونو قیامت — او د حساب رَبه
اے د تورو زلفو دلالونو — دَ رباب رَبه
اے دَ مستو سترکو د نرگس — او د گلاب رَبه
اے دَ مینے حسن د ځوانئ — او د شباب رَبه
اے دَ لولکۍ د حُسن — اے د گل د خیال رَبه
اے د راز او نیاز او — دَ نسیم او د ملال رَبه

ولے دے د حسن نه
جوړکه دا د خاورو ښار
خیشت له د خپل ځان پشان
نور او سینګار او خمار



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# باچا

بادشاهي د جهان څه کړې؟ — خان له وې زياتې غم
د انصاف تلل مشکل دي — څه به ډېر کړې څه به کم
خپل غمونه د لالو دي — د جهان غمونه غواړې
دا سې تخت بخښه کړې څه — چه پر شپه او ورځ ژاړې
د ناتوانو په حلقه کښې — غټ تښتو مخکښې روان وي
لوی باچا د ښخنا وروو — د هماؤ لوړې حيوان وي
دا دنيا د سپي لکۍ ده — نه نېغېږي نه سمېږي
په وجود توره پېشو ده — چه سړې وينځې لا تورېږي
بادشاهي مله جوړېږي — چه نيم لګي شي نيم مړو کړي
چه يو کس د بل په غوښو — د خپل کور کوترې ماړه کړي
د دې ژوندون څه مطلب شو — چه يا مړې يا به بل وژني
دا ميوه ګلاب د څه شو — باغ ساتي او بلبل وژني



A .S.K B

رتبه ماله که دِرا کړه — بادشاهي دکل جهـ

زه به ئے وغور رزوم له کوره — لکه سوټے په دیران

دایو دوه کړئ ژوندون زه — په جګو ونشم تیرولے

ددے ظلم په کتوئے دے — رتبه بل کیږده برغولے

ماله راکړه خو کلونه — یو نیا زبین شانتے جنان

یو ورو کے غونډ باغ — او په خوائے سیند روان

چه ئے زه په غاړه ناست یم — په یخ سورې دَخرولے

په مزه مزه لیکمه — د مزے مزے غزلے

کله سوال منت جانان ته — کله بد او رَدْ مُلا ته

دساغر ساقی صفت کوم — د تیږو دک لاله ته

کله کله تا نه رتبه — دَ ورو په شان کیلے

کله تور جمعے (۹) امید — کله سوے اسویلے

کله تنګ کله تکور — کله جام کله دِلبر

یو جهان کښې درنګ ډوب — دجهانه بے خبره

بادشاهي مغوله وړکه — چه زغملے ئے شی زور

چه په لاس لکه قصاب وی — په خصلت لکه منګور

چه خپل خان ته شی کولے — قربانی د رود د وینے

مر مغلو هـم خورے شی — دغریب دغوښو پینے

(۹) جمعه ــ ژوندــه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاج وړلے هغه سر شی ‏ ‏ ‏ ‏ چه وژل لکه وبا کړه
لکه پړانګ داړل خپل کړه ‏ ‏ ‏ ‏ یړول لکه بلا کړه
تخت هم نه پائی بے زوره ‏ ‏ ‏ ‏ بے د تورے دَ جلاّ ده
بادشاهان چه خوړه دین وی ‏ ‏ ‏ ‏ دومره وی دنیا برباده
لوی بادشاه وی لویه ژوره ‏ ‏ ‏ ‏ دے په وینو زوو پائی
بادشاهی لکه دَ اور ‏ ‏ ‏ ‏ په روتو په سوو پائی
رتبه فضل په مونږ اوکه ‏ ‏ ‏ ‏ مونږ ساته ددے آفته
چرته غښته خرته په شاکه ‏ ‏ ‏ ‏ دا دسرولا لونو کته

سفارش ورته دا وکه
صیبَ زمونږ ده دَ بابته
وے پام کوه نه دله خره
غَنی ونه وے (*) په لَته

حیدرآباد جیل

---

(*) وے: وهے.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوزخ

دَ آدم دَ نظر تول دے ... که دا تور دے که دا سپین
دَ آدم دژ بے خیال دے ... دا سپلنۍ او انګبین
دا آواز زما دَ ګوتو ... پوست مرۍ ونډ تنګے مهین
دا زما د خکر لوبے ... ګل اندامه او شیرین
دا زما خودے جوړ کړے ... دا وبوږ شراب رنګین
چاله نجر دَ شرابو ... یو قطره ده دَ زمزم
چاله نجر د زمزم دے ... یو غمګین ما بنام دَ غم
چا ته روکے سپینه شمع ... دَ سپوږمۍ نمره روښانه
څوک پیغام دَ جبریل واوري ... دَ سرو شونډو ده جانانه
چا ته سور په وینو تاج شو ... چا ته تور په تیرو تخت
چا په سر دَ صلیب ولید ... چا په سور ربښمین بالښت
دَ موسیٰ پښان څوک سیئ کړي ... په مربت کښې مخ دَ یار
څوک ترے جوړیږه ژړا کړي ... څوک تر حُسن او خمار
څوک د ګل دماشوم مخه ... دَ آشنا شونډے کړي جوړے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چا په خوا د نرګس ومنت — چا ازغو کښې دکړو ړے
خوش نصیبه څوک ولاړه — په خندا غېږې د یاره
چا د ناوې د جوړې نه — کفن او شلوو دلدار له
ربه! ربه! زما ربه! — لیونے شوم په فکرونو
ښکنځل خور قهر او غضب کوم — په سپرلي او سره ګلونو
ښکنځل غوږ کیدم ملاته — تورانے بلبله هیره
ښکنځل ستا د نور او ښایست نه — بد رنګي تیاره چاپیره
د خندا د سپین سبا نه — تورماښام او لحد جوړ کړم؟
د انسان د مایوسۍ نه — څه سرور دا بد جوړ کړم؟
د فقیر د تلوسو نه — د بادشاه خمار کړم جوړ؟
د دوزخ د اور او زور نه — ستا ښایست سینګار کړم جوړ!
ښکنځل ومنم تاجوړ که — دا جهان او آسمان دے له!
چه خیام روان په زور کړے — طوفانونو د کعبې له!
د مستۍ دا دومره ډک زړه — لس پیدا او وسوسې له؟
جوړ د حسن یارانه کړه — د جزا سزا قیصے له؟
تا کړه جوړ د خپل ښایست نه — یو حسین یو نازنین
ستا د ښکته بهو سوړے — مرها ښام پوست او رنګین
تا خندل چه د ګلاب رنګ — د لولکې زرد یوړه


A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا په لاس، خیام، په جام کښې ــ بې خودي او دلبري وړه
ښکله غم غني له ورکړم؟ ــ د قیامت او حسابونو
کړکه زړه کښې دَ بلبلې ــ دَ سپرلي او دَ گلونو
ښکله شال دوینزې خوکړم ــ دَ لیلئ په سپین جبین
د حبشي دَ عشق لیواله ــ ښاپیرې کړم د ماچین
ښکله لاس کښې محبوباله ــ خنجر ورکړم د غماز؟
ښکلې ډیرې کوې کښې ډوبې کم؟ ــ د مینو سترگو راز
ښکلے جهان حسن ډوب کم؟ ــ په یو ښاخکي د تیرو کښې
او دَ شمع رڼا ښکله ــ کړم بدله په ایرو کښې
ربه! ربه! زما ربه!
لیونے شوم په فکرونو
ښکله خو زړ قهر و غضب کړم
په سپرلي او سرو گلونو

خانپور خیل



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لیونی

یو منبارے روان کړے د نوو نوو کوخو دے
یو خیالے روان کړے د ژوندکی د تلوسو دے

یو نشهٔ ے روان کړے تکے سوز او تکے ساز
یو عشق د حقیقت جوړ د عشقونو د مجاز

یو کوډ ے روان کړے د خوبونو د رنګونو
د تورو تهترینو کړنګیدونکو شرنګونو

او خاندی لیونی سترګے ډکے د مستونه
وحدت ے روان کړی د لکها بت پرستونه

او کله لیونتوب فلسفه ګل او صنم وانی
او کله د مستئ خبرے دیرے په غم وانی

سرے پاسه نے ګل غوړیږی مخ د شبنم پرے پټوی
او ربل مست خوروی د سترګو غم پرے پټوی

[illegible]



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زه

زه یم زه یم رنګ سره او د او شرنګار زه یم
د جانان ستر ګو کښې هوا او د خمار زه یم

دا تعبیر زما د مست زړه د تالاش دی
یار زما د زړه ارمان دی دلدار زه یم

دا زما زړه چه د خیښت او رنګ شی ورته
سپرلی سره ګلونه راشی بهار زه یم

دا چه زه شم د مسکو شونډو لیواله
لیلی جوړه کړم د حسن معمار زه یم

دا خوزه د خکر سوز په هوا سور کړم
روح، مطلب، معنی، آواز، دستار زه یم

چه زه نه یم بې معنی جنت آسمان دی
د جهان د سوز او مینې مختار زه یم

دوم د پوی شوم په دې د روکی غونډ ژوندکښ
یار زما کمال، کمال د دلدار زه یم

خاطره جلیل



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اوښ

لکۍ دې دَ خرچوکۍ او غړانګه دې د بتې
کوږ وږ اوږدان ویجاړ او دولس نیم ګزه اوچتې
په غوږو کښې عرب ئې او په شونډو کښې حبش
که پاؤ هم خوک دراچي، ورته ته شغ اخلتې
دیر زیات بې نوره ښکاري ستا په پوزه کښې مهار
دې دومره اوچت سر کښې د پستې نیستې زنار
نصیب کښې دې چنه شته نه اوربشې نه شلتې
بس لوڼې دې را نه بار ونه، لګاوې تغرې کټې
ستا ستر کې د شاعرۍ تله دلچک د نواب
په شکل معتبر، معقول ملک یې د نیستې
خندا دې زړه کښې نشته په سینیرو دې تل خوله توره
بورا په هغه ورځ شوې چه پیدا شوې ته د موره
مستي وچه نوره او ځواني دې بې سروره
غوږونه د نیلي، تش د نیلي د خیال غروره!
اوږې دې خپې دې د ډنګ د توپ او تله بې خبره
دَ قبر په شان ملا دې د سرګي په شان مجبوره



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تہ ټول ناکام ناکام ئے نہ رنګ وینے نہ خمار
همت او جوش دِ نشته ګورخه اوږې تږې خوار
پہ خیټہ دِ ځان ورکہ خکہ ډوب سپک او سپک دے ووشو
مین پہ پکوړے شوے خکہ پاتے د جلوس شوے
جنون خندا دِ ورکړه د زوزانو پہ بدل کښ
دُحسن بادشاهے کښ د ډرونډانو جاسوس شوے
تا خیشت د ارمان ورکړه بلا نګی کښ دَ ډرونډانو
تا ورکړه پہ تیپرو فلسفہ دَ افلاطون
تہ ورور شوے د خرو پړے دِ سنبوړو روړی دا زمری
تا غږه موسیٰ ورکړو پہ کوخہ د سامری
تا لے د یزید وینے وینے نہ مرګ دَ حُسین
پہ ژبہ دِ شراب تراخہ خوږه لګی ترے
تہ نن پہ سبانہ ورکے تہ نہ ئے جوارګر
دا خکہ مهار تیپ کہ، ستا د تولو اوچت سر
اے اوسنہ غټہ اوسنہ، تہ ئے روکے د میږی نہ
لس چنډه کہ زمرے شے، خو ییږے د لګی نہ
تر هغے بہ ییږے، او ژړیږے او کړیږے
تر کومہ چہ ونہ باسے دِ طمع دَ زړګی نہ
دَ طمع ستا نہ ډیر اوچت سرونہ کړم را ښکتہ
دَ سپینے شهزادګئے پہ سرخوږے دَ رمے کتہ



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا طمع مې زړې اوښکې کاندي سترګې نږې نږې

دا طمع خرڅوي بازار کښې شونډې ګرې ګرې

دا طمع شهزاده کاندي غلام د کوږد وېښتو

دا طمع د جنت حورې له سترګې کړي بې شپې

دا طمع شهزادګۍ کړي د مرني سره نوکره

دا ډېر غمي مېړه کړي، کړي کونجکه تر نه بوه

دا جوړه د عقابه کړي د تور ککوي کمتره

دا زړه نه غم راغونډ کړي او خندا خواني درښه

دا جوړه د کعبې نه کړي منډه د سود او زیان

دا ګل خاور نه ایرې کړي مستي بوسې د عنبره

دا جوړ کړي د عیسی نه مقتدي د سامري

د دې په ښېو خوړ کړي نظر ونه دلبري

اے اوښنه خواره اوښنه بې بنا اُسته بې جماله

اے اوږنه د زوزانو بې خبره د کماله

ته نه لوږه اوتنده نه سرور ړے او نه ساز

هم د غه د ے دا اوښ او د آدم د فراق راز



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مرګی

مرګی دِ راشي
چه کله نې وس وي

ګل به مِ لاس کښې وي
او یا به اَس وي

یا به توپک وي
یا به قلم وي

ډوب به خندا کښې
دَ دنیا غم وي

چه څه مو بخت وي
دو مره به بس وي

مرګی دِ راشي
چه کله نې وس وي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کمتره

دجنت مرغۍ کمترې — دغم درده بې خبره
که سپرلې وي که خزان — ستاوې مستې بازيګرې
شپه او ورځ په بقبقورې — دَ آشنا په ننداره
ديارې مستې قيصې کړې — دَ جمات په مناره
دوه دانې کړې چرته پورته — بيا مستۍ غوڅې شروع کړې
دَ پيريانو په کوڅې کښې — لمغړې دښاپيرو کړې
اې دَ مينې ليونيه! — بې ګناه او بې آزاره
دمحراب دپاسه تاخ کښې — کوکې اخلې دَ دلدارۀ
خپې دِ مرګې سرې وي — هره ورځ په تا اختر دې
تل نشه نې بې شرابو — مدام خواکښې دِ دلبر دې
خوش قسمته بې خبره — د دوزخ نه دَ مُلا نه
د نيکو دَ ثوابونو — دشرمونو دګناه نه
ده کوکوله جوړه شوې — ستا مينوکه بې آزاره
ستا سرۀ سرۀ نرۍ نوکونه — ډک دخيشت او دسينګارۀ



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه دِ جنګ نه دِ غم بشتته     سو چې مېنه بې نفرته

نه دِ چل نه دِ دوکه شته     یاري پاکه بې علته

اَلوته دِ هسم دسیل دي     د مستۍ د بازیګرو

که باداشته هم پېښې کېږي     ډَ ورږو کوتوتکو

غونډو ستر ګې دِ معصومې     د رڼا اتباره ډکې

پیمانې د سرو شرابو     ډَ خندا دیاره ډکې

کاش چې زه هم ستا په شان
اې کمتره مستانه وې
چې نه غم وې نه ارمان وې
بس خندا او یارانه وې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# باویړے

بیا شروع شوے په ما دَ غم چپے
بیا بے خوبه بے آرامه مے شوے شپے

یو خوا رند یو خوا ساقي یو خوا شراب
بل خوا لوټ کښېنـ زاهد اړوي تسپے

په لوګی دهغه اور دواړه تو دیږی ی
چه عالم ئے کړو جلیا سے تپے تپے

غني خوبه دارمان په لمبو سوزے
خوبه وی دا د فراق سهے تپے

دځوانۍ اختر دے لاړ نګوېز څه کړے
منبه به وی چه په دیوال ئے وټپے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# میږې

اوږد کاروان ستا — ګرم روان وي
سم په قطار قطار — لکه اوښان وي
په ځله ځله — په منډه منډه
نمر درله اوسوو — لښکره بربنډه
لکه د سپي ځے — خُله کښې اوړه کړے
او د پلټنے په شان — په پرېټ تلل کوے
د مرمتي په شان — هم غل هم نرے
په حکم کلک روان — د خپل افسرے
د خپل نظام تابع — لکه انګریزے
په زړه مضبوط مړنے — لکه چنګیزے
ملا لچکداره نرے — لکه لښتئ لړے
خُله د کلنګ ځے — خپے پټ پټے لړے
وجود د درے بنده — او شپږ پښے دی
نوکئ نرو چکے دی — کوږے وږے دی



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اولاس دیو نشته — دا عجیبه ده
څه بې تولهٔ غونډې — د معامله ده
د پیدا کولو آفت — د جمع کولو بلا
لکه د شوم خنبوړے — زمکه کښې واړه دنیا
په هیڅ حیله نه کړے — لږم خوړے مار خوړے
ته د مچو ډنبرو — تر سکون اچار خوړے
د سبا فکر کوے — نوے فلسفي ئے
مستي خندانه کے — پخو صوفي ئے
یو قدم نه اخلے — ته بې غرضه
رب دے مونږ وساتي — د دے مرضه
بس د خوراک له غمه — لیونے کړے ملام
ته ئے د حرص بنده — ته ئے د خیټې غلام
ستا طبیعت د قارون — د خزانو شوقي
مین په هره میوه — د هندوانو شوقي
داسے په ډوډۍ زغلے — ایکـ بګی
آچے د چرګے هسے — سپینې آګۍ
دیرا استکارے ته — خولا مبو کښنه وے
په سر زمري ورشے — ژوندے ملغ نه وے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکل جهان صفائی — ستا به تنکے دو
ستا نوکری په ماچین — په امریک
او ړے او ژمے — هر پشکال
ستا دغه لاروی — او دغه خیال
دَ پیدا ایښ نه واخله — تر دَ مرګی
تل د غم پناه لا ناه — کوے زویږګی
نه دِ پوره کړه — او نه ته مے پرېښوے
او نه پیدا اوے — او اوږے زوږ پښوے
تا کښ خبرے دیږے — دی زما خوښے
خو هیڅ مستی نه کے — په زړګی سیځے
بس منا و منا نے — تُل اوګا وانه کے
بے دخوږلو خکلو — بله سودا نه کے
خو زما خوښے په دے — نر بها دړنے ته

په ماچک مه لکوه
که زما یارے
الله دِ درکړے
دانے بسیارے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وصیت

که خازې شنې م په قبر وي ولاړې
که غلام مړ وم د ځځې توکړې پړې لاړې
که بچپلو وینو نه وم لمبیدلے
په مامه پلیتوي د جمات غاړې
چه قطرے قطرے م فوځ د دښمن نه کا
مورے ما پسے په کوم مخ به ته ژاړے
یا به دا ننګه ملک باغِ عدن کړم
یا به کړم د ښېستنو کوځے ویجاړے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماشے

دَ ما ښامه تر سبا — سر ښیا ده کا سها

پېنه پېنه پنګه پنګه — هم خوړل کړے م وینا

سپک به وخیژې په تول — دوؤ دانو سره غوښتو

خوماتې ستا دَ ګذاره — خان کړي پټ په ختو ختو

پچکاری دِ ئې تل ډکه — وے هر چاله انجکشن

ته به وے ستا باباجي وو — د نوښار سول سرجن

دَ میړې ی هوره کوټې کښې — دِم خُله تسته م خرتم

اوږے دَ خپے دِ دَ جولا دی — نر چوکی وزرد دَ دم

اوږ ده دو نګه درنبرے — باد دِ نشته په لاشه کښې

وا وه زهر دِ راغونډه دی — دَ وکیل په شان په خوا کښې

نور همه غله د جهان — وی د مال د فصل غله

ته زما دَ ژوندون غل ے — زما وینه ستا خوراړه

په زړه سخت ئے دیزیله — د کلاب په شان درېږے

سر تر خپو سوے سوے کړے — هر سوے کښې آفت پرے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه زه دا شمه ستو مانه — په کټ پرېوزم بې اختیاره
ته به دې تا ته غورے چا — د پولاو کیبنوه تیاره
تل م او باسے دغوږه — پوست بالښت ته رسیدګېن
بیا تموری خپله شروکړې — په نرو نرو پردو کېن
ستا په طمع ګذاروکړم — خان له سټ او سوزومه
ته م شا ته سرپنډوې — زه غوږ ونه کړومه
که دیښمین شانې مابام دې — سور ګلزار او ښین چمن دې
چه یاران اوده په ویښه — نشه شوې په دیدن دې
په سر خپو دلیلی کیږدے — پلیت ورېږې د سپي داره
لیلی وخ او ویش شروکړې — خوار مجنون پرېږدې ولاړ
که خوک پټ شي په څادرکېن — ته نے پاس کړې پنګه پنګه
چه آخوے پوزه راوزي — لکه شکون د خپل سر ننګه
ته بے شغ شے دابریوزے — لکه بازکیني په زړکے
هله پرېږدې په قلاره — چه جلد ترے نه استوکے
بندیان کوې ورو کی څخکې — هر څستانه په ازار دی
غوان سناکا میښې آسونه — دلکو مالوبې آزار دی
دوګے خاشکے د دوزخ نے — که د شرافت مجرے
خله زما په ونو سره کړے — بیا پے وے راته سنا کړے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

وی ملا بابا چه ستایو — قرنیکه په پاپو شل
د نمرود سپینږمه کښلاږه — غاغا په چال وَل
هغه اوږغږید په زمکه — کلک ئے وښووله تشی
چه شروع ئے په یو خُل کړه — هم تیزو نه هم انتوشی
خوګله ئے دننه ناست ؤ — دقول به ئے وزړ
هاه ئے پرینبو دچه ئے ونبکه — دَ غریب نه کچو مر
حرامتوب کښ د شک ځه شو — چه کَدَ ئے بابا زوے نے
چلولی لکه لومبړے — اوږئے سر لکه سپے ئے
لا یوه بله غږه دے — د هماوُ ده عجبه
خان سړه کوزے په بله — منه تو ده دمنی تبه

را دعا دَ لیونی ده
پاکه دَ ربه که قبلے
که را بنکے په وارو ماشو
تیزه سر دَ هر (*) سیلے

---

(*) هر: اهار.



A .S.K B

# پیرې

ویره پیرې ده     امید د فنا ده
د شک تیاره کښې     ویره بلا ده
که جوړېده دی     که ورانېده دی
کاروان روان دی     د لاړې تله دی
ویره تیاره ده     او ورکېده دی
امید ژوندون دی     امید لیده دی
د وسې ویره کفر دی     خدای نه منل دی
په تور دریاب کښې     غوپه وهل دی
لمبې د روح     لوګې کېدل دی
په ژوندون ګور ته     ورګوزېدل دی
امید هستي ده     امید بقا ده

ویره پیرې ده
ویره بلا ده



(c) ketabton.com: The Digital Library
A .S.K B

## آس

# بدو

ترپ ئې د هوسۍ په شان | زړه ئې د زمرى وو
رنګ ئې د غمي په شان | خيال د ښاپيرۍ وو
سترګې د کور کوړپې | غونډې غونډې ښکلې ښکلې
تله ئې د نرانو | طبيعت ئې د بلبلې
تن ئې د طاقت او مستۍ | او د نرانې ډک
روح ئې د همت و | ځيګر ئې د مړانې ډک
خپوکښ ئې ګډا وه | د ساقي د سپينو خپو په شان
سترګو کښ غمونه | اميد و نه د هوسو په شان
زړه ئې د پښتون وو نه | په کنډه نه په غرا يسار
جوش ئې د غازي وو نه | په ځان او په سرا يسار
چپه خله آشنا زما | لا پرې چرته لاړې ته
چرته د چا کور کښې ئې | چا نه وړى غواړې ته
شته هغه دنيا کښې نه | نوکر د لادر په شان
شته هغه دنيا کښې واښه | شته د هشتنګر په شان
چپه خله آشنا زما | چپه خوله وې ټول عمر

---

(۱) بدو : زما عربى آس وو. دِلاور ئې سائيس وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوه چه زه نه لې وې تل      اوه چه ته وې تل عمر

دغه وو آشنا زما      دغه وه دَ ژوند قصه

دغه دَ آدم وجود      دغه دَ سمند قصه

ترپ شو او تویونه شو      خوب شو او خوبونه شو

دوه د مستی ورځې شوې      دوه دَ غم کالونه شو

نه شته دَ راتلو سبب      نه شته تللو علاج

نه شته دَ ژړیدو دوا      شته دَ ولولو علاج

نه شته دَ کمولو بند      نه شته دَ زیاتولو شان

نه شته دَ هیرولو تاب      نه شته دلیدلو شان

نه شته دسلګو تپوس      نه شته دخندا وجه

نه شته دَ پرون سبب      نه شته دَ سبا وجه

اے مسته آشنا زما      لاړې چرته لاړې ته؟

چرته دچا کور کښې ئې؟      چانه وزې غواړې ته؟

څوک به نوا لے دړ کې؟

څوک به کوی ستا مدار؟

کوم جهان کښې الوزې

ستا د مستو خپو غبار



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشے

هندوستان کښې دوه تنه نومندے راغلے
په کښې خلق خرڅوي ايمان په ختو
بابا وے: غنی: سړے شه جيل ته لاړ شه
غنی وې بابا لنډے نه دے زَ ختو



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قارغه

تور دې مخ دے غل چکیه — تور دې زړه تور دې آواز دے
سپے نے خیته دکول بس — ستا انجام او ستا آغاز دے
چا تورے که د ماستو وی — که د بچے دَ کچالانو
که پولاو د خان لاله وی — وظیفه دَ ملیانو
ستا په هر څه کښې حصه ده — ټول جاندار دے دَ ستا دپاره
یا تو ننګے وی یا تغیږے — نه آرام کړے نه قرار
غل هم غل نے بے غیرته — د پوټی چرګوټی غله
نه دې پرک شته نه دې لته — ډک د شوره دَ چلو له
موټے خیته کښې دې پروت — ډ ناه د حرص تهترین دے
نه ډکیږی نه ځخیږی — عجیبه درکښې مشین دے
که د سوتو صفا ډیران وی — که اګځ وی د کوکوړے
که بچے دَ تورانی وی — که وی سخا مردار کبوړے
که غریب وی که ماشوم وی — که حلال وی که حرام
ورته ستا کیاه کښې درد وی — که سحر وی که ماښام



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل مارغه کښې دومړه بوم — دومره چل او هنر نشته
خو افسوس قارغه په تا کښې — د عقاب سره وزر نشته
تش په چل سردار نشي — د سرو ونه د مارغانو
دا په مینه مستي کیږي — په مورو زړه د لیونیانو
ستا لغار د سپي کونکار دے — یوه چغه ده د لوږے
د بلبل په شان نه ئے — د شبنم د څاڅکي تږے
په هنر که سامري شے — په حکمت باندے لقمان
تل به خورے چیچړے او سوټے — اے جوړیه د آسمان
سره ګلونه د لولي دي — شنے کمرے دي د کري
یخ سحر د تورانۍ دے — ما خیګر د تو تکري
ستا حصه دوه دغه سوټے — دغه شور او دغه منډے
دا کنځل د خدمتګارو — دغه چیغے دغه غونډے

څه که تیز لکه وکیل ئے
خیله وائے د بل ناورے
په مارغانو کښې چوړے ئے
که وزرے د رتب خاورے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشه

یارب مغه مزه که
چه د وار وسیال وی

سړی هم دومره وی
چه خومرو نے خیال وی

شپه به د جنت خدایه
چه د وار و ال وی

خومره چه زړه وی بنکلے
دومره نے جمال وی

د قام په مینه مسته
کوخکه لال وی

دا یو نے به هله
خدایه خوشحال وی

چه لاس او زړه وی د ده
د قارون مال وی



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# چرګ

خوراک کوي د سپي　　او مسئلے د ملیانو
بانګونه د بلال　　او لنګوټې د چنګېانو
پرتوګ دِ یاره نښته　　او شمله نیغه د خان
شل سټغي دِ ساتلي　　خو سحروانې اذان
په جنګ کښې بهادر　　او مستانه لکه چنګیز
په مینه کښې بې شرمه　　بې پروا لکه انګریز
او وبوز دِ د قاضي دے　　طبیعت دِ د ملا دے
آواز دِ د پښتو دے　　او انداز د منستر

انجام دے تخت دے
اے مجنونه د دیران
یو روځ به روسته بانګ
وکړے دوڼ به وکړي خان



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بنځې

چاله شراب ورکړي — چاله سرې وينې د جام
چاله خربانو د پاره — چاله ګل اندام
څوک په اديله بانډې — پرې د ماچين واخلي
څوک په چوارڼې پسې — دنيا کاندې تمامه
چاله سنه خربه خوره — بوڅي لکه د ګوړې
چاله نخه نخه شيخ — روکړې دا بومړې
چاله د لولکې په شان — چسته او رنګينه
چاله د کوڼتې پشان — توره او مهينه
چاله قتقي کوکاري — ګړکه زره چړکه
چاله غونډه مونډه — مسته تکه سپينه ګړکه
چاله داسې ستغه — لکه اوچه بکيانه
چاله دوبه مسته — لکه نوې دوک بيانه
چاکره صابره کوروداڼه — درنه مينبه
چاکره سيمه کوترئ — په هر چا چه شو مينه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاکره چلی دَ چلی — لوړه بده مکاره
چاکره کمتره چه هم — ښخه وی هم یاره
چاله زره خره بېخو ناده — بې نوره پواره
چاته لکه سروه — د خندا د که ولاړه
چاله ښه ترسکه نه — چاله ښه خوږه حلوا
یو له د نیمبو اچار — او بل له مربه
یو له خمیره دودۍ — پر سمنه پسته نرمه
بل له د مسورو پېتې — کړمه کړمه کړمه

ورکړه دَ قسمت دی
چاله ډېره چاله کمه
خدای د هغه دَر کړی
چه وی ستا په شونډو سمه

حیدرآباد جیل



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تیروتې

سقراط (*) دغه ځانې کښې تیروتلې
ایمان دِ واغښت فلسفوله یووړه

د غلته زړک دغلته زړک شوے غني
زړګے دِ خپل پړ دو سینوله یووړه

خیام دغه ستا د مړک دوساعت
چه خپل سرور دِ صراحوله یووړه

منصور خکه خوپه دار او ختے
چه دَ آشنا راز دِ مجروله یووړه

دا ظلم ظلم دے زما جانانه
چه دِ مړکل خاورے کیلوله یووړه

(*) سقراط د افلاطون استاد مشهور یوناني فیلسوف او حکیم



A .S.K B

# زبرګ

چه دِ وس د بادونه وي | څه به ته څه به دِ بنه وي
توبه هله دَ شرابو | چه شراب ورته پراته وي
چه بله ها شي خاګوشپه | بیا توبه توبه د څه کې ؟
هغه بنه د بدو بدو وي | دَ ناکامه چه ته بنه کې ؟
مُلا ناست د تکړو شکور ته | وي رندانو ته خراب
غریب څه وکړي جنات کښې | نه معشوق شته نه شراب
دا چه باغ دَ ګلو ډک وي | مستانه غوټۍ ما بنام وي
دا چه سرې شونډې ساقي دِ | په سور لاس نیولې جام وي
دا چه تا ته رسېږي ستړې | غلې وداني سلام
په مکیز دِ زړه کښې بل کړي | دَ مستۍ دوزخ تمام
اووې راشه راشه یاره | وخت دې لږ خبرې ډېرې
بیا دِ روښان د اورونه | پښتنې لیچې کړې چاپېرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځله دِ ځلې ته کوې درپورته  مشونا ئې تو دې بیهوشه
لکه بله ډیوه ډکې  دځوانۍ مستۍ دجوشه
سینه دروړې سینې له  دَ مخمل ھسے ریښمینه
د ارمان او مینې ډکه  د نرګسونه نیاز بینه
او ستا وجود یو سمندر شي  د طاقت او دَ سرور
زړه دِ واخلي هغه اور  چه هم اور دے او هم نور

ته چه دغه وخت اوچت شې
ــ شے جمات کښې به ژړا
لیونے وائی قسم دے
یا خو غوث ئے یا مجرا

غني
حیدرآباد جیل



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګړے وړے

راشه راشه ساقي راشه
ډېرے ډېرے مُلا ډېرے

په ما باندے بدے لګی
ستا پخے پخے خبرے

غټه پګه دِ شه خاورے
عجیبه ته خناورے

ته دَ مینے بے خبره
ته دَ حُسن نه منکرے

دا محفل دے د رندانو
اخوا اخوا لرے لرے

د شرابو د څکونه دی
ستا ترخے شونډے ببرے

ورشه د غاښه خیرات دے
تا لے تول ایښے دے لرے

د کعبې په شان خورے که
په مردارو دې وزرے

ساقي سترګو کښې مسکے شوه
بیا ئے دَ خیال کینوے وزرے

په تُل مسته مسته راغله
سرے پاڼے نے د کمترے

ستا اوده واړه جنته
دَ دے یو د ناز نخرے

ستا خلوت زره کتابه
دَ دے دوه خوږے خبرے

ستا دعاے او زه دے د حوږ
دلته سرے شونډے شکرے

تاله قرض زه اداوُن درکوم
دا راکړه پرے ماغلرے



A .S.K B

ما شوم بیم (*) چه جنت پریږدم ستا د سور دوزخ ذږے

جانانه میخانه در کړم واخله ستا ګندے ہ ے

ملا تا خکلے نه دی نرے سړے شونا کافرے

ستا په غیږ کښې نا ستے نه دي د کالوړ کے کمترے

د جهات په چار چوبی کښې یا ده وه پر د توره سرے

د ګلزار کښې ته ولاړ په ویران لکه د خرے

اوږے سترګے اوږے خیته بد قسمته بد نصیبه

خیشت او مینے تږ شمکوره او په زړه په روح غریبه

راشه راشه لیونی له

جام او چت که مسلمانان شه

د رندانو په مذهب شه

جنتی په دے جهان شه

حیدرآباد جیل

(*) بیم : سه بیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګل ورې

مسلوم زړګي دروند که یاره ماته ېکتې شه
نور درو توتاب م نشته پراته شه چپاتي شه
دا اوږدې اوږدې د خبرې داواړه واړه فکرونه
دَملي ماي ذَکړلو نه یم ماته مې تنې تنې شه
رنډو ستړګو د پتنګ نه دَ نورونو قصې مه کړه
پتنګ لمرته ګتې نه شي دیوګۍ شه موم پاتې شه
ماته ماشیه: قصې ته دهاتیانو دَ توال مه کړه . . .
بس په دغه خاني پریږده بکتې شه

# عجبه فلسفه

زړه مې واچوه په تال کښې　　دَ جمات کوټې له لاړم
دَ مُلا په خپو مې کېښود　　ما ورته دام صدقه ده
داچه خومره زه پوهېږم　　په "طٰهٰ" او په "یٰسین"
داچه خومره ښکته تلې شي　　په سجده زما جبین
داچه خومره اخلي نور　　دا زما خاکي وجود
داچه خومره زما ژبه　　شي خوږه لکه انګبین
مُلا مخ زمانه واړه وو　　وې دا څه دی ستا تالي کښې؟
نه پلاو دې نه فرني ده　　نه حلوا نه فالوده ده
وې ئې شرع ظاهر ګوري　　او ظاهر وته فاسق ئې
دا دَ رب سره دَ مينې　　تارا غشتې څه قصه ده
ېره ېره دَ قهار نه　　دا ايمان اصلي حصه ده
دَ جنون او دَ جانان ستا　　څه مهمله فلسفه ده
زړه دې کېږده په سينه کښې　　دلته رنګ او لباس راوړه
ستا شراب دلته حرام دي　　ښه بهت راوړه ګلاس راوړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما خپل تال ډک د خوبونو | د قاضي دربار له يووړو
روکه لال مې را او چت که | تار خانې اومار له يووړه
ما وې اې د سبو او باڼو | اې د تورو سپينو خانه
د دلته زما قبوله | په نامه کړه د جانانه
قاضي اېناسته په تخت خپل | په سپين سر يې دستار کينبوده
په يو لاس يې توبه کينبوده | په بل لاس يې حصار کينبوده
تله يې پوره ته د منطق کړه | يو خوا دے يو خوا م تال وو
يو خوا شور وو کمزورې وے | بل خوا ژړه وو، کمال وو
يو خوا عقل وو دليل وو | نه مستي وه نه جلال وو
بل خوا زړونه غونډې تلاش وو | ذکر بې خوده غمونه خيال وو
ما وې دا يو نتوب واخله | او خپل عقل سپې تاله کړه
ما وې دا زما خمار | د خپل علم کتماله کړه
ما وې اې دا انصاف ډېر! | دا د زړو مستزال کړه
ما وې اې د تول اميره! | دا بې توله تلل کوره
قاضي سترګې کړې سپينې | شونډې يې بند مخ پرېشانه
وې افسوس زمانه وړک دې | دا چه ته غوا پرې زمانه
زه خو زوريم د انسان | زه سرور د آدم نه يم
ما دي سپين او تورا غستي | د مستۍ د کاستانه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه تور وینم او سپین وینم
بس زما دغه قصه ده
دغه تول زما امید دے
دا تسلسل هم فلسفه ده

ماخیل زړه لاس کښې راغونډ که    تورے شپے او غم له یوړه
د ما ښام تیاره کښې ورک که    د صبا شبنم له یوړه
او س یو زه یم یو ارمان دے    د جانان د شان قصه ده
رو کے ګل او لوے خزان دے    یو امید، یو تلوسه ده

ما مرګی ته شروع کړے
د ژوندون د خپښت قصه ده
د جنون او د جانان دا
څه عجبه فلسفه ده

بهنګو تر (مزاره)



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دتوت ښاخ

کړدې سر کړ سرور　　نور دې پاتې په غم
دا رحمت او بخل　　زور د زور او ستم
مایوسي او مستي　　دواړه شال د صنم
دا خندا د یقین　　او دا شک د ژړا
دا تیاره د جانان　　دا هلال د صنم
ښاره خه دې ، یوستار دې
دتوت ښاخ دسیموتار دې
ځنګ او شنګ او ټنګ دردو دې
دبل لاس دبل خمار دې
مجلسي چه په خندا شي
دې بس شور دې او تقار دې
غوږونګې چه بلبل وي
دې هم ګل دې هم بهار دې
چه منصور په ګوتې کیږدي　　هم دار هم خار دې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

عطر تول د بل د خیال دے
دے پوګل دے بهار نه دے
دے روان کاروان د بل دے
دے ارمان دے د لدارنه دے
دے مجبور شان مسافر دے
منزل نه دے اولار نه دے
د بل خیال د ده تقدیر دے
دے نصیب دے او نه تور
ناز او راز آواز د بل دے
د ده شرنګ او د ده شور
شپه او ورځ د ده تول
د سبا او ماښام
د ده هوش جوړ وی
هم ساقی هم خیام
دے نظرے د ګلونه او نوری د بل
د ده سترګے خیشت او سهوی د بل

غني
(بهارپور)



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بس دے افلاطونه

بس دے افلاطونه فلسفه د سنبال کېږه
غونډ دې کړه دا موږ نه خپل او ته د جال کېږه
عقل عقل عقلځه دے، کف کف کف دے
عقل چې نه کېږي دے غلام زما
زه نه چه الوتېم نه ږوکے دے زمانه
لا نه کړم د خپه ختنه تر سره مقام زما
د مه فرښته کړم وینه د کړم نه د هوش تر ...
مه لېونے ماله د خښت تر سپینه او د هوس ...
... تنها الغول اختیار د نک او هوش د
... [illegible] او خدا د کلمه هوش د کوي
ستړي [illegible] خیال ...ول د ... ت که
دا مسافر د حسن دے تخم د عقل کوه
دلته تول سپات سپات د نشه د کتاب کتاب
دلته ژوندونه کول دي جمع کول اغونډه نه دي

ددد

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته مینه تش یو ښکلی سینګ کښې د ویدانه دی
دلته ژوند داستان د غم خندا کله اکمل نه دی
زر لکهه معنی که د ملال د دنیا وکړے ته
نشته دے په تاکښې د ملال ګجرے یو
زر زره رازونه دے کومې ښکاره شوي دي
نه دے خوړلے تا ته د ارمان کمترے یو
دلته ډیر خوبونه د ړنا لیدلے شوي دي
نه دي خولې تا ته خپلے مرے دلبرے یو
ته نیولے نه شے. لیونتوب ته جلال پرېږدۀ
کینه افلاطونه. فلسفه د سنبال کېږدۀ
تا سره ده تله د سیرونو د منونو
دلته کښې نجرونه دي او تور او درانه غرونه
ته نے بیوپاری د عطرو ګرو، د چرګانو
دلته کښې پرتے دي ولولے او امیدونه
تاله یو قطره شراب. دریاب د تورو زهرو
دلته کښې پرانه دي په زرګونو ډک خمونه
اے د ړنا زویه دلته لوړے او خوبونه دي !
ستا تله قطرے تلی، او دلته دریابونه دي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته د آدم لاس نه د آدم سترګې او سر

ته د ده پوشاک، د ده لباس، د ده بستر

ته د ده وجود، د ده آرام، د ده مجبود

ته د ده قانون، د ده آقا، د ده افسر

دلته ته ول تلل دي ستا د تالي نه اوچت

غرونه د عقاب دي، د بلالي نه اوچت

ستا سترګې روښانه دي خوږه دې درنه او لوړ دې

تاکره روښانه ستوري نه دي، اوږدې، اوږدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پتېره دا دُنيا

خاندې نن مه کوه غمونه د سبا
سبه پوهېږې نه ده په پتېره دا دنيا

د کړه وخت کښې د غوږل فکرونه مه کړه
خوږه او ترښه حساب کتاب نې مه منا

دنيا ليکلی نشي چې خوښې
په ويرونو په ژړا په واويلا

دا ځواني به همېشه نه وي نامړه
څه رضا کړه د يارانو په مينا

سبا بيا خدای د چې سبا نو مسنا دي
ترينه نشته زړه وره مسنا

وړکړه
نن د ټ زړه د تول اختيار د بادشاه
سبا خدای خبر چې څه به وي سبا

زړه وخاندې چې وخاندي غني هم
ورله نه ورځي خوند خندا خندا



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جوارګر

په جوارګرو لا زکار روانو نه شي
او په غرور روان خط و خال دې

څه جوارګرو لا ژړغنګ زړه وا خلمه
شي کاڼه په ګلډ او په دال سره دې

د جوارګرو ځنګونه او خندا او رنګ
په شکروتي ديوان قربان کړمه

لوز آرام له دخان د رقيب سره
زړه کاڼه دې خودي او جانان کړمه

که دا توره تيره دې لاتوره دې شي
او جهان دې په قار د دوزخ په شان

او م خاغکے د رنګ د تيروه ک
هم هسا دګلبانو به د سنګ په شان

زه به ساز او پرواز ورته کړمه
او ملا له ایاز ورته کړمه

نيت م کړے دکوړ د جانان دے
خه خندل وي خه سپيل او خه ژړا

دا وم اینبے په کوړ د سره وردے
خه ږوزه خه وسره خه وي ال

بخوا ته د رنا د ريا او چل
با خوا سره او سنزو او ملال

خنګ مين به په دل دشي خو
خنګه يو د په يوه بخال دے

الکه سحيه پخيته قربان کړمي خو
يا دا په سره جمع کړي مال دے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه خرڅ چه د بلبلا په زړو کړی
خپل جانان په ما بنام د وصال سره

دا دی زهر دا زهر د روح دی
خو نامه ورله ورکړی د مال سره

دا و بنیار ولاړې م ډیرے زده
خو زما د شان دغه لاړ نه ده

زه د زړو صحراو ارمان یمه
زما بخت کښې کوڅه د ګلزار نه ده

زه چینه د ژوندون د خوبونو یمه
لا م موندلې سینه د دلدار نه ده

نه یم خادره خو ډیره بے تابه یم
ما موندلے لمحه د قرار نه ده

تا لا کړے م ژوند هم غرور دے
داؤ م ایښے په کور د سرور دے

غنی - غرسر



A .S.K B

# الابلا به کردن ملا

به کل کښې ولید | چه تنے نه مو کتاب کښې
اے ملا: ستا نیم کتاب م | واورېده د باب کښې
ستا پګړۍ د عقل | زما تاج دلیونتوب په سر
تانه په غاره زارے | زه غوټے وهم دریاب کښې
دے جهان کښې مورنه شوے | د مغه خانه خدائے خبر
ستانه نبه بنیا شو | ملا تیروے حساب کښې
نشته ستا زمزم کښې نشه | واخله سره شراب زما
وایه ملا صاحب ستا خلا | خه وائے دے باب کښې
میردے کړ منطق کښې | په مینا(*) کښې د وینه موندو
زه نے مدام وینم | د غمونو په دریاب کښې
حسن د ړنه ورک شو | د کعبې په دیوالونو کښې
ورک دے سمندر کړ | مرانه شوے سراب کښې
زار دے شم له ډیرے ملا | سوال د لیونی واوره
نوم پرے د کافر مه ږده | ورد ے غزل جواب کښې

---

(*): مینة المصلی



(c) ketabton.com: The Digital Library

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جلال

چه زه غواړم د هیلو نه مستي سره ګلونه جوړ کړم
د سرو اوښکو نه سرکښې ښوګې د ژړا سره جوړ کړم
د خزان تیاره کړم دوبه د امید په سمندر کښې
د ګنجونو لالونه، د غمو، پېلونه جوړ کړم
چه دا روح م په ښکاره ووځي د رنګونو د خوبو نو
که نور نه وي د تیرو نه، رنګیني نوره جوړ کړم
چه د خپشت شم زه لیواله، د صحرا هره ذره کښې
په زرهاو بوستانونه، په لکها ګلونه جوړ کړم
چه زه وږے د ارمان شم، د سیلي په سپین سبا کښې
بے حسابه مابنامونه بے پایان غمونه جوړ کړم
تور او سپین زما د سترګو کاله تول تلل دي
شپه او ورځ زما نظر دے وګړال د اومونتل دي
که خندا ده که ژړا ده، د اخکلو مشغولیال دي
که وصال دے که فراق دے خیال سره تړله پیدا ل دي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه زه مست شم د دیوانه سرو د خښتې کلونه جوړ کړم
د سرو او ښکلو نه سپېښتې د ژړا نه جوړ کړم
چه زه نیت د کتې وکړم د پرېوتي د شکست نه
د فاتح د شونډو کېږم او د سترګو غرور جوړ کړم
داچه زه خان او تخت د رنګین بادنه ودان کړم
د غلام امید بدل زه د بادشاه په کاسه ورکړم
چه خپل نوم د سړي ډېرې کړم ترینه ډېر نومونه جوړ کړم
چه زه غواړم د میوونه مستي سره کلونه جوړ کړم
داچه ته او دا ته نې . داچه ستا مستي زما ده
دایم زه . دا بس پوزه یم دا زما ژړا خندا ده
د ملا خبرې پرېږده . مامله ستا او زما ده
دا داستان د لوړې نه دې دا قصه د عشق او ساده
دې زما بې سره ژوند کښې ستا حسن او کمال دې
دا زما الحمد و رسته کې . ستا د زور جاه او جلال دې

بهنګوټ





A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشه

یو توره شپه د غم کښې یو ښخرې د رڼا
زرغون په ویرانه کښې ښایسته بوټی د لالا
د ښېرې تور ځنګل کښې یوه زړکه په خندا
یو ښاخکې د امید د نا امیدو په دنیا
رنګین د بودۍ تال د تورو شګو په صحرا
مستي ده که ځواني ده که دلبري که الله؟





A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشه

جو مات ته لار په میخانه کوره
په زیان کښې سود دے شان جانانه کوره

نیته ده لنډ او کارونه ډیر دي
پوره به نکړے شې خان له بانه کوره



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اراده *

نه مې یار شته نه به وشي
اوسني یاران دي خوشي

چه حاجت نه دې ته وینه
ستا به پلار نیکه مې نه شي

کار چه خلاص شي دے تښتي
ډلیندے نه لکه غشي

چه یارې ئې په مستانو شي
دا یارې به یارې څه شي

من خوده ېې باران ډېر شو
لکه سیند کښې خشي بشي

مخا بادام دي واڼي خلې
یو به دک وي سل به تشي

په فایده دے ظاهر خاندي
خو پکښې او به او به شي

ته په دغه لاره مه ځه
غني دا به دې له نه شي

---

* د غني کال او عمر کښې مې دا لیکلے وو.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# رښتيا (*)

چه م باغ د ګلونه نے بهار به خښه کړم
چه م سترګے د یار نه نے خمار به خښه کړم

چه د خولے نه د بلبلو ستا نه وي
که هزار بخاشي خوږ چغار به خښه کړم

که یې نور د الله نه وي وریدلی
د اعجب د شګو د ک مینار بخښه کړم

مقبره د مړو که ترینه سپن ده
د جاهل بے غیرتو ښار به خښه کړم

چه زما زخمو لاسے پرینه زغیږي
ملا! ستا قصه د نور او نار بخښه کړم

چه زما د عشق سازونه پکښې نا وري
د سرو زرو که وي تش سه تار به خښه کړم

---

(*) داهم د ماشومتیا د زمانے ده.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَجانان زلفې چه شته رونده زاهده!
ستا تسبیح. د برهمن زنار به څه کړم

چه زما د تمام جنت پرے نه رپیږی
بیا چا دغرور په شان حصار به څه کړم

چه ئے تل دَ بل په غیږ په خندا وینم
دَ دے یار دَ ښکلی مخ دیدار به څه کړم

ماته غوږ دَ دلبر د کوڅے کسندے
دَ رقیب د محل نیغه لار به څه کړم

چه ئے تمام د یاره جیب کښې پیسه نه وی
غنیؔ: دا د ښکلو غواؤ گوار به څه کړم



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# غمونه

په خندا د سرو غوټو کښې
د خزان سلګۍ پنهان

مستې سرې شونډې مسکۍ زړه
کړې خداۍ وچې په ګریان

یو قطرې مستي د ګړه
ښکاره رنګ ښایسته شادان

خو دننه نې آدم جوړ کړ
د غمونو قبرستان

او زما وړوکي زړه کښې
دي غمونه په شان شان

یو دي غم چه د رب خوښ وي
هغه غم دې د ایمان

یو د غم د قام د ننګ
خوشحالي ترې شه قربان



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو دے غم چې څه غم نه دے — بیا دې به غم د ځان
یو د غم چې سړے سړے کړي — هغه غم د خپل ځان
یو د غم چې سنه تورے نښته — غم د شان د خاندان
یو د غم چې سر ژوندے کړي — غم د قام د نوم نښان
یو دے غم د شاعرانو — غم د مزکې د آسمان
یو دے غم د بادشاهانو — غم د خوار د بې زبان
یو دے غم د بې غیرتو — په پښتو کښ د تاوان
خو دا غم ترخ د دښت وارو — د دې اخته زما په ځان

نه یې دم نه یې غمخوار شي
نه یې دارو شته نه درمان
یو خدائې غني که مرکړي
غم د سته ګور د جانان

۱۹۳۰ع - لندن



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تجربه

د رواج چپې مې وسوې — د قانون لنګر مې کېښود
په خندا دریاب له لاړم — سټاسپېره ګودر مې پرېښود
دا اوده او یخ بادونه — نوې ساز نوې سرونه
نوې بنایست نوې ګلونه — چه د خیال وزر مې کېښود
کله تاو غولې کښې شمه — بیا چپو کښې ونښلمه
خوږه وخمه خمه خمه — غم د ځان وزر مې پرېښود
خبر نه یم چه به کېږي — چه څه کېږي ښه به کېږي
که ورکېږي که ډوبېږي — پخپل لاس کښې سه مې کېښود
مړ د خپله لاسه ښه یم — خوښ پخپل دوزخ کښې ښه یم
نیم پوردې جنت کښې نه یم — سوال د بل د دې مې پرېښود
ځان مې وپېژند دانا شوم — خپل مالک شوم لکه بادشاه شوم

تیارې لاړې سپین سبا شوم
د قانون لنګر مې کېښود

۱۹۳۱ء - لندن



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خدایه ولې؟

خدایه! عقل چه دې زړه دې ولې راکړ!
په یو ملک کښې دوه خودسره بادشاهان

بادشاهي او فقیري دې ولې یو کړه
د ژوندون په هره ساکښې مرګ پنهان

ولې غم لکه آسمان په جهان خور دې
خدایه ولې خوشحالي دې کړه نایابه

ولې جوړ دې کړه ننګې د ګل د پاڼو
خدایه! ولې نشته بیائې له شرابه!

ولې بنایست او رنګ دې دواړه خوار او روړ کړه
ولې ولې دې جهان کړ دک په رنګ!

ولې کوڼ دې زه پیدا په جهان نکړم!
خدایه! ولې دې آواز پوست کړ د چنګ!

ولې ما ته دې عطا کړو فکر و خیال؟
ولې ولې په دنیا ورسره خوبونه؟



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدایه! ولے دے ځواني مې چاله ورکړه؟
خدایه! ولے دے پیدا کړل امیدونه؟
ولے جوړ دے د یار سترګو کښې جنت کړ؟
ولے ترخ دے کړ بیلتون او خوږ وصال؟
خدایه ولے دے سپوږمۍ له رڼا ورکړه
چه زنګنې مې د مستۍ په مهین تال
ولے جوړ دے کړ ازغي د ګل په خوا کښې
ولے زړه مې پاک خو جسم مې ناوړے؟
ولے ماله دے د ولے طاقت رانکړ؟
خدایه ولے، خدایه ولے، خدایه ولے؟

۱۹۳۰ع، لندن



A .S.K B

# بابا ته

دا منم که عقل دېر دی
که ته مې غني سېر دې

چه حساب کتاب ته کښېنې
ته به وې خان د بونېر دې

دا منم په خیال ماشوم دې
د ملک رو رواج ته رهېدې

خو مې ترخ سر مغرور ده
د خواهش غولي کښې کېږدې

خوږ زړه سپينه بکوره
په يار دوست د سر تېر دې

بابا ته مه خفه کېږه
د دې زنګ لا نه شمشېر دې

۱۹۳۱ ع - لندن



(c) ketabton.com: The Digital Library

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څه دَپاره

ازخان جوړ جهان کړ دَ عالمو
دَ لوړو دَ ژورو ورانو سمو

زرغون شوي په اصيل ژوندے په طمعو
شو پيدا دَ کومے مو ره دَ کوم بلا ره

څه دپاره، څه دَپاره، څه دپاره

مونږ بربنډ له کومے راشو په تش لاس
ولے واغوندو دننګ شرم لباس؟

ولے جوړ کړو دين ايمان ويره وسواس
په تش لاس کوم خوا ته خو چه ژوند شي خلاص

په کوم ملک په کوم وطن په کومه لاره

دا ويروونه دا غوغا دا شور دَ څه دے؟
دا چه زه ورته ويم کور دا کور دَ څه دے؟

اوه، دا سوځي چه عالم دا اور دَ څه دے؟
زندګي څه ده، مرګ څه دے، ګور دَ څه دے؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

چا پسې ځه پسې ځه بې قراره

غیرت څه شو، طاقت څه شوه، دولت څه شوی؟
ولې ما ته چه وی منبه بل ته منبه نه وی؟

څه وی څوک چه جهان نتی عالم نه وی؟
کوم خوا تبتی مړه رنا که نه سوی؟

یورپ کے سراو دا قیصے بے شماره
څه دپاره، څه دپاره، څه دپاره

۱۹۳۱ ع - لندن





A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بوډا

بوډا په بريتو لاس راښکه وي مې تښتي
لاوڼ د مړو ډکه دا دے د لاس پيتې

هېنکولې م د خوانښے او چرګوړے م د نږدې
مازغه د ځوان کډه وړي او پيرو د کتې

په لاس دے جوارې په باڼ سرے غوټه د پياز
د پاسه پکوڼے پړے د ژمالس د سخا متې

که ډير په زړه مالدا دے پيسے کونګړې م واخله
بيا خه په تړو سکواټ کړه شروع خپله پتې

۱۹۳۰ع - لندن



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشه

زما بخت د شمع بخت دے یا به مرمه یا به سوځم
یا به بیخ له د دریاب ځم یا به سر به چپو خوځم

عجب زۀ عجیبه لارۀ عجیبه کاروان روان دے
ما وروستی پړاو له بیائی که زه ځمه او که نه ځم



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حال زما

هيڅ د عشق له غمه نه دی برابر غمونه کل
چه د یار فراق دې وُوی دغه دی د خدائے وصل

چه مې زړه دا يرو ډير شو د قارون خزانه شه کړم
چه لالی مې خوا کښې نشته شه کړم گل شه کړم بلبل

چه دنیا ئې شی برباده آخرت به ئې خوک جوړ کا؟
چه د زړه پښې مې شوې شلې شه به کړم د امید زغل

زه به تمو تموا وسم به خوانۍ مې خان کړم خاورے
چه هيچا زغلی نه شو هغه ما به خان زغمل

بے جانانه جنت شه کړم بے وطنه بادشاه شه وی
یا به خان پسې لاهو کړم یا به ئې کړم د پټکی گل

په جومات کښې مې و نه موند په مکه کښې را ورک شو
خدائے مې زړه کښې را پیدا شو چه مې مخ د یار کړ ښکل

غنی: بله به زړه ښکاری گنی ده به وه جوگیرے
په سیلاب دې سوخت د اوښکو اباسین دې دیوال

۱۹۳۴ ع (اتمانزی)



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څه وکړم؟

یو سرک د ګلستان  بل لاره د زندان
مېنځ کښې زه ولاړ حیران  چې په دې غم که په دې
یو خوا عیش عشرت سېلونه  بل خوا کندې کندې غرونه
دې خوا ساز اخوا وېرونه  اوس په دې غم که په دې
دلته ښکلې موسکې شونډې  هلته غم فریاد د کونډې
دا خوا خوب هغه خاندې  اوس په دې غم که په دې
یو دې ډنډ پټ په شین رنګ  بل دې سیند ډې غوړ خنګ
دې خوا قبر اخوا جنګ  اوس په دې غم که په دې
یو خوا سوې غږ د سکور  بل خوا خاندې سوځي اور
اخوا تاج دې خو سر تور  اوس په دې غم که په دې
دیخوا څښې د زړه وینې  اخوا سره شراب د مینې
نه روند ئې هلته وینې
اوس په دې غم که په دې

۱۹۳۴ع

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زړه چاودے

ستا زړګے وچوه پښتونه — زړه م چاودے دے له تا نه
خوی خصلت دے د غلام — نشته زیاته له با چا نه
کله سکه په تا سوریږی — مغولی دے بابا کیږی
بیا به تا به جوتوکیږی — مغلے خوګ له کوره دا مانه
عقل پس زړه دے ناپاکه — لاس دے ستړے خوله چالاکه
ستا تاریخ دی عبرتناکه — چیرے خلاص نے له خزانه
خپل خیر خواه ته لاس په بلا — سر سړی ته زړ کړے درده
معامله دے ګډه وډه — خیل خانه دے بے نشانه
تا توکړے توکړے خوشحال کړ — دره بلا! دے جمال کړ
خوامان دے په خه حال کړ — بے وطنه سرګردانه
په دیران ناست نے خوشحاله — دکونکټ سو تو کښی جاله
بے هنره بے کماله — په هنر د ورور پښیمانه
بے ناموسه ستا کارونه — ستا بے کاره ناموسونه
ستا زړګے وچوه پښتونه — زړه م چاودے دے له تا نه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګلړے وړے

| | |
|---|---|
| ویل کمتر وایه | خو په هنر وایه |
| چه ژبه لویه لری | همغه ته خر وایه |
| غمی په هار کښی یو | خو د ګوهر وایه |
| ساز د ماښام ښکلی | نمونځ د سحر وایه |
| چه وی مجرا بد وته | همغه ته نر وایه |
| چه دے خدمت کړی مدام | همغه افسر وایه |
| چه وی په تا شیدا | همغه دلبر وایه |
| که وی دیار تیکری | ورته سره زر وایه |
| غوښه د تور تخری | بوی د عنبر وایه |
| الله الله که نشے | دلبر دلبر وایه |
| چه په مردی لرشی | همغه ته بر وایه |
| بوړا ته خدائے یادوه | خوان هنر وایه |
| چه ستانه غم کښی دړمی | همغه رهبر وایه |
| لګئے دے پرے ګروهله | غنی ته خر وایه |



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زما محل

د سینې د سپینو شګو نه مې جوړ کړلو محل
چې تواخ کې جهان ورته حیران حیران کتل

قالین مې پکښې خور کړو د سرو پاڼو د ګلاب
او چت ئې دیوالونه وو سازونو د رباب

بیا رنګ مې ورله ورکړو د خوبونو د شباب
هر ګل مې ورله راوسته مالیار مې کړو بلبل
چې تواخ کې جهان ورته حیران حیران کتل

نرګس مې په غیږ راوړه هم میامه مې کړه امیل
د غاټولو د شبنم نه مې ښیسته جوړه کړو امیل

نسیم په خندا راوړل زیړه ګلونه د چامبیل
شراب مې ورله ورکړل بیا د اوښکو د بلبل
چې تواخ کې جهان ورته حیران حیران کتل



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

رڼا مې د سپوږمۍ کړه دننه اېښې غزلې
خندا ته د تنخو ښکلې نږدې کړه پیالې
د ستورو مستې سترګې غاړې غاړې پیدا لې
روږدو پښتنې راغله د خدای اور کړ بل
دې ټول ځنګل جهان وته حیران حیران کتل

یوه ښځه د بادشاه ومه په سرم تاج د غم
په خوا کښې م دلبر وو مسکې سترګې پر نم
په غاړه مې امیل ښایسته د څاڅکو د شبنم
ماشومه نازنینه پاکه ښکلې الکه کمال
دې ټول ځنګل جهان وته حیران حیران کتل



A.S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قسمت

ګوره طاؤس ته کړ ښایسته وزرو
ابلیس برباد کړو علمي خبرو

سپینې وېلې وړه د سین په تل کښې
زړګې نه وچاوده سره ملغلرو

ګلاب خپل رنګ اخپل بوي بیناوا کړ
منصور په دار شو چه با خبرو

پتنګ خپل نرم زړګې سستی کړ
مېږي برباد کړ خپلو وزرو

غني په مېږي خکه ژړېږي
څه ښه به ژوند وکه ژوند د خرو



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اور

زما خته چه خوشته کړه
په څه اور دې ابته کړه

چه دې نه وژنم ورتېږم
چه دې وژنم لا لمبه کړه

نو رمه دې دخان جوړ کړم
دشیطان دې یوه ذره کړه

خو مرا! زما چه ورنژدې وم
دومرا! غته دې پرده کړه

چه جنت ونه رواں شوم
دوزخ لوی دې دروازه کړه

چه دوزخ ته ورنژدې شوم
چاپېچې بچې نعره کړه

خدایه! دې ورکړه! دَ ذره اوره
تا دَ ژوند ورکه مزه کړه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دځوترانه

خوږ دې ماته ملک زما

خوږ تر کل جهان

زه به ځم په جنګ د کام

زه چه شمه ځوان

وینه ده توده زما رګونو کښې ډنګ — سر که مې قام غواړي زه به ئې نکړم په ځنګ

زوړ زه د مالیا څم د توپ مې د تفنګ — زور مې د غیرت دی د څه زور ورو نوځان

زه به ځم په جنګ د قام

زه چه شمه ځوان

سر څه دې سې سر چې پنډ نه شي په قام — نوڅه بنځوني وي چه شیدا نه شي په قام

نوم مې موس څه وي چه نوم وي د غلام — دا نوم به بدل کړم یا به کړم بدل جهان

زه به ځم په جنګ د قام

زه چه شمه ځوان

زه پښتون بابا د خپلو پښتو پیدا کړې — زه پښتنې مور په غیرتي پیو لوئې کړې

مونږ به پلار نیکه د ذمری کار نه کړي — زه به غلام نه شم که غلام شي ټول جهان



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه به خم په جنګ د قام
زه چه شمه خوان

زه به په وجود یمه کو تلې وزیر آس
کرم به د کاروان خبردار لکه د آس

یم به د ظالم سترګو کښې تل د ستړ خس
زه به لکه باز یم د نر توب مرد میدان

زه به خم په جنګ د قام
زه چه شمه خوان

زه به لوی زړګی لکه شیرشاه د بنګالي لرم
مت به ابدالي لرم همت به روهیلي لرم

سر به ښکته نه کړم که مې سر ځي له دا م
ژبه ښکته مه کړې چې ته سر یې ته د افغان

زه به خم په جنګ د قام
زه چه شمه خوان



A .S.K B

# پلوشه

زړه مې پسې وچاود خواشنام نکړلې اندې
هغه په موټر کاټ کښې ناسته په سترګې تتو بانډې

کوره نژا چا ژړدې په اینبولو تر سکونیږ ی
منبغه مریږه ده چه تاله وی مزه کاندی

مالی د وصال په صبا رالګړ تالټپ کړے بل
د وسره مهذب او ښایسته نه جانان دے

نن چه د مس کورتے د بابا په کور داخل شوم
لسونه تاریخ ورکړے وار د غنغان دے



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مینه

هغه وې مینه یو کال دے — اوس تازه وي اوس فنا شي
ما وې یو کال چه شي مړاوے — سل کلونه ترې پیدا شي
هغه وې مینه ده اور — سړے وسیځي فنا شي
ما وې اور چه چرته بل شي — جهان کوم شي رڼا شي
هغه وې مینه یو خوب دے — چه ترې ویښ شي لا بلا شي
ما وې ګوره ژوندون خوب دے — چه سړے ویښ شي شیدا شي
هغه وې مینه غضب دے — سړے ړوند شي نابینا شي
ما وې خدائ ته بینا سترګے — ټول جهان ته نابینا شي
هغه وې مینه دوزخ دے — ماشومان پکښې جلیا شي
ما وې بنه دے دوزخ بنه دے — له ګناه وجود صفا شي
هغه وې مینه تیاره ده — پکښې خان ورک شي تالا شي
ما وې بنه ده تیاره بنه ده — پکښې پټه سخا دنیا شي
هغه وې خوږه دلبره — کاشکې ستا عقل زما شي
غني وې ماشومه ګله! — ستا د سره دے فدا شي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تماشه

خښتګ دَ پښتون شلیږی باچا خان ورته ګیندے وهی
ګاندی لیونے شوے دے سنګلاته سرپیندے وهی

ښتمنے مراوے وچ خوراک مرچ تهتهی نے کور
زړګی نے ړوکی ړوکی سخا زړوکی او به بوږتور
دهند دابنیادم نه لری دم نه لری زور
په ښخه هیڅ بد نه ګنهی پیسے پیسے تنده وهی
ګاندی لیونے شوے دے سنګلاته سرپیندے وهی

دَ غوږ نه تادکړی تارنو بیاکړی ښادکوښی لوړته
دهوتی په ښټ را واړی تورا ښته ګاندی پورته
هم دومره لوی وی چه ښی آواز ے کوړته
وښتی سحر چه پاخی خوله کښی ښکی دو بندے وهی
ګاندی لیونے شوے دے سنګلاته سرپیندے وهی



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تل لا پے دَ تهذیب کا دَ تهـذیب نه بے خبر ه

په خوله سوړ مزړی وی خالے به ښکته کوی خان بره

چه وخت دعمل راشی بل ته وائی دانګه نره:

په خپله پټ تُل تښتی الله : تُل خه کړند ے دمی

کاندی لیونے شوے دے سند اته سر پنډے دمی

خار به او مرغن نے لیه ران دی مالیدلی

وښکو کښ نے لعاب ښایسته دَ پان وی بهیدلی

په سټیج کوی ګفتار لکه سالار تور د ویستلے

که باو پرے چانغرے کړے تښتی خان پسے جرند (*) وی

کاندی لیونے شوے دے سند اته سر پنډے دمی

---

(*) جرند نے : جلد بے .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پلوشه

وړه دا ظلم و ناروا او دا بیداد  په خندا نه زغمه مه کوه فریاد
کوه تل د لوی مکان ذکا نو زور
وی په سر باندې د کټې د بنیاد
چه تکلیف او غم سړی خوږ دانا کا
دومره پوهه ښودې نه شي هیڅ استاد
طوړ د ختو کا نو جوړ بدرنګه غږو
چه اسیر شو نو شو په جهان یاد
شین زمری ځنګل ترتوب توره یادیږی
کړنے تن د نه ذرے کاندی صیاد
او د ځنګله سوځي خکه سو خول کا
دانه خاورګي سپېتے کاندی آباد
د مظلوم د درد او ښکو پاک سیلاب
په لکها و ښار ریئے کاندی برباد
غني چپ شه د بزرګے خبر مکړه  ما تے وا ورستا ختروب شورا په یاد



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زړه نوے

زوړ اشنا زین کړې اَس دے | دے زوړ کور لکه جنت
زوړ دلبر نوے برستن | نن دے واله نے راحت
زوړ نوکر سوچه قالین دے | بے بها دے بیش قیمت
نوے دوست ته چه زوړ پرېږدے | بے غیرت دے بے غیرت
په کمځو باندے زیات شی | زوړ خاښت نوے شهرت
یا ئے ښه په چپه خرابه | یا پوره پرېږده سنت
یا کچه خبرے مه کړه | هم زنا هم عبادت
ښئ زوړ خیال نوے جامه کښې | دغنی دے دا صفت

# پلوشه

سر مِ مشین کړے خونده مِ پرېښود
تمهید مِ کېښود دَ لیده وری
خوږه مِ هغسے دَ مستے نا وړی
تبه مِ کیږی نوی نوی



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کړے وړے

چه خلاصیږي بې وفا عمر زما — د جهان د ښاخه ځي ثمر زما
تور لړه د مرګي چه شي را پورته — چه پېغیږ د عزرائیل ډسه زما
زه به شین د سرو شرابو جام په خوله کړم — د جنت باغچه به شي بستر زما
په ژړا او په سجده چه شیخ ورنه لید — ما به یو کوټ ولید آ دلبر زما
مرګ یو خوب دی یو نشه د بېهوشي ده — په دے وار به دي بلد شي ځګر زما
ته د روح په کوتک نه ونیږې زاهده: — روح او زړه زما یو یو افسر زما
نابینا عقل مې مست زړګي ته پېښوده — اوس تیاره کښې د غم شو د صبر زما
د غني د همه لاړے کړے وړے — خان سړے بے سړه لوکا سړه زما

# پلوشه

چا ته نے ښایست ورکړو غمګین
چا ته نے غم ورکړو ښایسته
زه نے مست او هم هوښیار کړم
هم نے په تخت کړم هم په تخته



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مخ دَجانان

کله مخ زه په قبله کړم کله کړم مخ وجانان ته
هیڅ په فرق ئې پوه نه شوم زړه : خیرم کړے ایمان ته

هغه ورځ چې خلق پیدا شو دَ خالق په تجـلي شو
زه وم پروت مخمور مشکور په سجده مخ دجانان ته

او س زما په بیکسی کښې دمستئ لمعـئې وینې
زه دَ مېز کے قابل نه وم ولے تا بوتلم آسمان ته

دَ خبرو ئے خوګ نشته خان سره غنی ګوېږی
لیونئ ئے هله بولي چې ئے وګوری جانـان ته



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# يو جام

د هغه دے هوا نن الوځي ماښام کښې
واخله ډوب کړه ټول غمونه په يو جام کښې

ښه که شوې چښتي ملنګ ښه که امير شوې
کور کښې فرق نه وي آقا او په غلام کښې

تور ښکاري مرګي ټوله دي لاس نيولي
خاندۀ خاندۀ نن بيا ښې خندل دام کښې



A .S.K B

# هغه دغه

تمتو دوست کړه سنډ یارکا
خر کړه خپل مطلب پرې بار کا

خوار لوهار (*) ته لا لا وایه
چه تیره د ده له سپاره کا

سر کار مرګ له چه خوک بیائي
یو کپتان بل صوبیدار کا

د مستئ چه خرشي پاتې
د شیخئ چوغه اختیار کا

چه نرسې رنځ ور شروع شي
خان حاجي کا پر میر کار کا

چه میږې ته خدای په قار شي
دوه وزر ورله تیار کا

چه پښتون ته خدای په قهر شي
لوئې ملک نه د سرکار کا

خان او خردي سکه رونه
مست په جر زنا په جار کا

پښتون هغه وي چه مړ شي
خپل پردي ورته آزار کا

خرڅې لوئې په جهان نه وي
چه په ږیره اعتبار کا

زړه کړه زهر خوله خوږه کړه
خره راشه خان هوښیار کا

یو دیار شونډې خوږې دي
یو مزه غوښه د ښکار کا

---

(*) لوهار: آهنګر.



(c) ketabton.com: The Digital Library

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ولې (*)

څوک دې ماته وواٸي — څرنګه شيدا شي څوک ؟
څوک چه چاته وخاندي — ولې په خندا شي څوک ؟

ستو‌رې دَ غرۀ څوکې ته — غاړې شان بېګاه ووې
مينې په ژړا ووې — حسن په خندا ووې
ماته موسکو سترګو کښې — ښکلې دلربا اووې
ولې څوک زړه وبايلي ؟ — څرنګه شيدا شي څوک ؟
څوک چه چاته وخاندي
ولې په خندا شي څوک ؟

سترګو دمجنون ووې — او ښکو دَ ليلې ووې
او وې په نشه خوانۍ — غم ورو په سودا ووې
ماته موسکو سترګو کښې — ښکلې دلربا اووې
ولې څوک زړه وبايلي ؟ — څرنګه شيدا شي څوک ؟
څوک چه چاته وخاندي
ولې په خندا شي څوک ؟

---

(*) دا ما ۱۹۳۹ ع کښې د وادۀ په شپه ليکلې وو.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# يو جام

مستانه ساقي راشه — يو جام جام راوړه
موسکۍ شه په خندا شه — يو جام جام راوړه
پياله کښېږده شيرينه — خواني د ځوانئ وينه
رنګ رنګ مستي رنګينه — حسينه نازنينه

مجنون يم ليلی شه

يو جام يو جام راوړه

يو ګل يم ژړيدلی — يو باغ يم سوځيدلی
يو ساز د ژړا يم — يو آه د بلبلی

ژوندون شه زما ساشه

يو جام جام راوړه

ګل فامه ساقي راشه

يو جام جام راوړه

يو راګ يمه خاموشه — نغمه يم فراموشه
خواني م په غم بايله — مستي راوړه بی هوشه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د د[illegible] زما شه

یو جام جام راوړه
موسکۍ شه په خندا شه

یو جام جام راوړه

مست مست راکړه خوبونه　　چه پټ کړم پرے غمونه
شروع کړه د ژوند تال ته　　نازک د بنیست سرونه

دلبر شه دلربا شه

یو جام جام راوړه
مستانه ساقي راشه

یو جام جام راوړه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کډے وړے

| | |
|---|---|
| عقل ترینه ږیره وخوړه | خیټے ترے ایمان وخوړه |
| گوره پهٔ وربشو کښی | خره لال دَ بدخشان وخوړه |
| گوړه ئے نهٔ خرخښېږي | خوار لاله دَ غمهٔ خان وخوړه |
| قبض شو دَ صیب | دیرے هندوستان وخوړه |
| خارښتم دَ لیلهٔ دکولمو | خیټه ئے د ښکلو لوده |
| چا مهار چا او ښی وخوړه | اوده وا دهٔ کاروان وخوړه |
| کوڼ ملا شهید دے | پهٔ مزار ئے دیوه بله کړه |
| مړی وؤ کم شوی خوار | دَ لوږے نهٔ قرآن وخوړه |

خهٔ دَ لیونی دَ مرض
خوشی دارو مه کوه
غم دَ مرګ غوږ ځنګ دَ زړهٔ
سترګو دَ جانان وخوړه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کمې وړې

بلبل په هیضه مړ شو ډیرے خوښ وو شاتوتان
لاله م سالا رنه شو اوس نے بدیشي هندوان
وه ناسته په آسمان کښې د تقدیر لوبه لوبه
یو خرے روان کړے وو شاخیل نصرت الله له
فرمان پرے رانازل شو د قادر و ذوالجلاله
کولاے تادئ[1] وکړو بشر چه کړو د یوخان
بلبل په هیضه مړ شو ډیرے خوښ وو شاتوتان
اوربوزے خر و ته سم کړو او هم پرے کړو ترے اکي
تندي کښې ورله کینبوه د غضب یوه تکي
مغزو کښې ورله واچوه مرض د ملکي
شمله ورله کړه نیغه که راجوړے په جهان
الله لاله م و خوړه هم بلبل هم شاتوتان
اوس څه به ساقي خاک په لکنهو کښې نوابان
اوس څه رنګ به لیکي د عشق غزلے شاعران
یاالله تیری شان

---

۱ په تادې: تعدي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بنی آدم ته

## قصیده

لوئے شے کوډاکیه او تورپونونه دِ ځار شم
اے دکنده دکه دَ عملونونه دِ ځار شم

جوړ کړے دِ چا کوتو شولے جوړ بخه دَ پاره
ځار دِ دَ قلمه دَ حـرفونونه دِ ځار شم

یو یو کے دِ بادے خه د رنګ او جنګ خبرې کړے
اے دَ سحـر خوبه دَ خوبونونه دِ ځار شم

حسن دے ایجاد کړو مشغولا دِ ځان لجوړ کړه
ځار دے دَ مستئ نه دَ سازونونه دِ ځار شم

علم دے دَ خیال دے خوب او خوب دے خیال دے
دومره غنو غنو کتابونونه دِ ځار شم

پوه په سودا او زیان دِ سودے او زیان بچے نه نشے
ځار دِ دَ خندا نه دَ ویرونونه دِ ځار شم



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه کړنې ژوندون له دې خو قسمه خړې جوړې کړې

ځار دې دَ مجلسه د تکبیرونو نه دِ ځار شم

ستورو او سپوږمۍ سره د راز او نیاز خبرې کړې

اې دخاورو کلَه! د رنګونو نه دِ ځار شم

کوم د تیارو کور ته مسافره! سپېڅې ستړې ګې ځانه

ځار دِ د مانو، د محلونو نه دِ ځار شم

کوټې دې آسمان ته او پایې دې ډوبې ختو کښې

لوړې شې کوډاکیه! دَ توپونو نه دِ ځار شم



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خیال

آئینې د خیال کښې دا دنیا ده
بادشاهي او فقیري د زړه سودا ده

زما خیال دے پورته کوڅے تبیسته کړے
که مکه که مدینه له دلربا ده

عاشقي د خوب د نه یو مست خوب دے
د دے خوب د ملک سپوږمۍ مې محبوبا ده

وخت دریاب یو بے پایانه او بے کنار دے
بے چپے او بے لنګر کشتۍ زما ده

ګل غوټۍ وې شي ګلاب او بیا خاوره شي
د پښو لاندے مې خوږه خاوره زما ده

یوه ناسته مې په خوا کښې موسکۍ شونډے
یوه ناسته مې سپوږمۍ کښې دلربا ده

یوه خاندي د ګلونو په خندا کښې
یوه ناسته په تیارو کښې د صحرا ده



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوه سترګې

کله ګورم مځکې ته او کله ګورم ستورو ته
او کله ګلستان کښې د تېږو نو خازو تورو ته

ګورم بتخانه کښې ستا د حسن تجلي کله
کله په سجادۀ کعبه کښې وينم خلق نورو ته

لويه هنرمنده د هنر کمال دې ګوره
د غمو خبرو ته او د دې شونډو کمزورو ته

زه چې ګوريم څه وينم ته ګوره ته ګوره
د بې نهايت جهان ته او زما سترګو شمکورو ته

واوره شهزاده زما: غلام د ګيله مند دې
خلق د غمو نو قيصې کړي سترګو غم خورو ته

تا ته يو ساعت يوه لحظه کښې سرې ووائي
هغه چې کلونو کښې ويلې نه شي نورو ته

څه خو مې لږ پوه کړه چې ژوندون د جهان ولې
خاځکې د نور را او ليږلې د لپه تورو تورو ته

نه د تاب د بنيست لرم او نه دې د خبرو
ما ته به ووائې ته ووايه دې ستورو ته



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهٔ سترګې م دوه رنګه هر رنګ دجهان وینی
ګوری یوه منزلونه او بله ګوری ستوری ته
په یوه کښې سروروی مستۍ وی خندا
په بله کښې سوز اسلویلی او ژړا
په یوه کښې دنیا سرسینګار دَ دنیا
په یوه کښې ستم غم آزار دَ دنیا
په یوه کښې ژوندون د ژوندون بے خودی
په یوه کښې افسوس او ارمان په ژوندی
په یوه کښې جنون دے نشه ده افسون
په یوه کښې کافردی فاسق دی مجنون
په یوه کښې پسرلی دی سپوږمۍ او جانان
او بله کښې بیان تول داستان دانسان

د دوو سترګو خه ضرور دوو
چه یوه وی ښه بینا وے
خومره ښه به ستا آدم وو
خومره ښکلی به حوا وے
چه یا غم وی دَ کلونو
او یا غم دَ جنتونو
او مجنون ته په کعبه کښې
موسکے سترګے دَ لیلی وے
تا پرېښےخپل کمال ښکاره کړو
او غوبل دے ماکښې جوړ کړو
په ژړا الیونی تا ته
خکه بانګ کښې دَ سباوے
خلق دَ غمونو قیصے کړی
سترګو غمخوروته
ما ته به نوے ووائی
ته ووایه دَ ستوریو ته



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ورو

ورو یې غوټۍ د ګلاب ورې ماته ورو — او زړګی له قصه داور اشنا شه د ایرو
مالیدلي خوب ګڼې د راتلونکي بهار ستورې د — شپې ګڼې مې لیدلي د جانان د بڼو سوي د

ښکلي خلیدلو د سبا په منارو
ورو یوې چپې د نسیم اوږې ماته ورو
ستورې خوږه پاک خلیږې شپې ګڼې د تیارو

زه یم د بهار سلام د ښیست د زړه دعا
زه د مجنون ساز او وریښې د زلفو د لیلی
وي بام د عشق او چت د د کعبې د منارو

ورو د سبا ستورې سحر ورې ماته ورو
ګل خوب د بهار دی نغمه شپې ګڼې د تیارو
زه د سحر خوب د شپې امید یم د وصال — زه د چا د مست ښخږې یم د خیال
لمر د یوې د پاب جوړه د شغلو زړه د رو — لمر زړه د لمبې پاب د دیاب خانګی

بام د عشق او چت دی
د کعبې له منارو



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شان دانه

﴿ زما لور ﴾

او دیره ذره د نور ده — شوه دریاب کښې د نیست ډوبه
په خوبونو د خوانۍ کښې — یوه شغله د نور پیلے
دا نزی د هلال شونډے — دا د دوو ستورو رڼا ده
دا د معنه خوب تعبیر دے — چه وو ما او تا لیدلے
دا هم زه یمه هم ته یے — هم زما او ستا خوبونه
دا هم گل دے هم بورا دے — هم سازونه د بلبلے
دا چه ستا نیاز بینو کوتو — دا زلف شانگے ته لاس کړو
دا گلاب ترے راواخیست — په نورونو لمبیدلے
دا چه زه په پټو سترگو — مستی دریاب کښې ډوبیږم
دا مِ لال تاله دلبرے — د تیارو راخیژولے
دا چه ما غمگینے سترگے — په ژړا کړے بره پورته
دا زما د غم خواب کښے — سپوږمۍ گل دے رالیږلے
دا اوبه د دوو چینو دی — د دریاب په طمع درومی
زه به جوړ ترے آباسین کړم — په کلونو کښې بیالے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# راشه ورو دیار غمه

راشه ورو دیار غمه
پرېوځه په سینه زما

ګل غمه ګلزار غمه — اې د ګلو بڼار غمه
خوږ لکه دلدار غمه — اې د ستورو هار غمه

راشه ورو دیار غمه
پرېوځه په سینه زما

غم کښې چه امید وي — خه پسته نشه لري
دغم وړ کښې دا ارمان — خنګه پلوشه لري
راستی او دا زړا — سره ستا د ستار غمه

راشه ورو دیار غمه
پرېوځه په سینه زما

راشه اې د زړه خوږه — ویښ کړه دا جهان ستا
ویښ او په لوزانې کړه — سور ګلستان ستا
رنګ زیړ د خزان ستا — بوی دې د بهار غمه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

راشه ورو د یار غمه

پریوځه په سینه زما

ستا په تورو لرو کښې — لږه زما ډیره شي

اور اور کښې ستوری شي — حسن کې چا پیروشي

اې د لیونو نشې — مست دې ستا خمار غمه

راشه ورو دیار غمه

پریوځه په سینه زما

ته د مودو یار زما — نښه د دلدار زما

ته م د وفا ګواه — ته ئې نوم د یار زما

خوږ لکه دلدار غمه — ای د ستورو هار غمه

راشه ورو دیار غمه

پریوځه په سینه زما



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شاعر

پرَچه د شهباز لرے او سترگے دَ عقاب
زړه پوست دَ بلبل خوږے خبرے دَ بنا رو
سر ډک د خوبونو لکه مینه دَ قارون
سترگے مینه ناکے مستے سترگے دَ مجنون
چل دَ سامری اورپاکے گوتے دَ موسیٰ
تور دَ غم صلیب په سپینولو دعیسیٰ
تن ئے سر رباب چه دَ قسمت گوتو کښ هنګ کوی
خوله ئے دګونګر چه د جانان په پښو کښ ترنګ کوی
دی دَ گوتے پوته کړی نامه دَ دیار ولیکی
څه چه قلم نه لیکی هغه دے خمار ولیکی



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تنظیم په نظم
# دَ
# عبدالاکبرخان

غنی کړے ستر پټے ستا تصویرے ولیده
چینلوخ په لوته وخاته کشمیر ولیدهٔ
چا ولید په ژړا جانان چا ولید پخندا
چا ولید په خوبونو کښ یو خوب دَ دلربا
چا ولید په سجدو کښ چا مستئ کښ دلیلیٰ
عیسیٰ وته موسےٰ شو چه شمشیرے ولیده
چینلوخ په لوته وخاته کشمیرے ولیده
چا ولید په سپوږمئ کښ چا د شپے توروتیارو کښ
چا ډوب دغم دریاب کښ چا دحسن ننداره کښ
چا ولیدهٔ پیالے په مستو نرو نرو کښ



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

او اولید لیونی چه خپل تقدیر ئې ولیدو
چینارخ په لوته وخاته کشمیر ئې ولیده
اے لویه سمنګه، او د حسنونو د مستو
رنګین د رنګ جهانه د رنګینو ښستو
چه بخت د لمر خاته دی که قسمت د پریوتو
او، عیسی ولے موسکے شو چه شمشیر ئې ولیدو (۵)

(۵) عبدالاکبرخان اکبر په ۱۹۰۰ ع کال د چارسدې په عمرزو کې پیدا شوی دی. د صوبه سرحد مشهور سیاسي ماري او د پښتو ژبې خدمتګار لیکوال او شاعر دی. خوارۀ تراخه، خوږکړه، سفرنامه، رووبایان، د مثنوي پښتو ترجمه او نورې مشهور آثار دي.
حال په ۱۳۵٦ هـ ش کال ومړ.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اے دَ لیونیانو نیکه

اے دلیونیانو نیکه لمونځ ښه که مستي ښه ده؟
حسن جوړېدل ښه دي که حسن پرستي ښه ده؟
وے ښه ده مستي ښه ده خوږمه پاک لکه آئینه غواړي
دا دریاب مضمول دَ سمندره ګهرو سینه غواړي
حسن جوړېدل دَ ښندو عشق د کمال دے
تور دغم دریاب ګنړ سور رخسار د وصال دے
او اے زما ځچیه! دَ جانان ئے مینه لا ښه ده
نوم ئے ښکلے لا ښه دے دَ جلوه ئے رنګینه لا ښه ده
اے دَ لیونیانو نیکه مار ښه که ملا ښه دے؟
تن مې دک له زهرو که زړه دک مې دَ بلا ښه دے؟



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اے زما بچیه وګړے دیران لره انکار ښه دے
مږے له پیشو ښه ده چینجښے له ښامار ښه دے
تاله لیونتوب ښه دے مستی ښه ده صحرا ښه ده
چاله طاعون ښه دے چاله سوړے د مولا ښه دے
دا د دنیا رنګ دے دا دنیا رنګینه لا ښه ده
زیړه ښه ده توره ښه ده تکه سپینه لا ښه ده
اے دلیونو نیکه حُسن که وفا ښه ده؟
برخه د مجنون ښه ده که برخه د لیلیٰ ښه ده؟
وے اے زما بچیه : د دلبر د خولے هوا ښه ده
یخه نرمه لا ښه ده او تیزه ګرمه لا ښه ده
تاو دغ دیار لوپټه سره رنګینه لا ښه ده
زیړه ښه ده توره ښه ده تکه سپینه لا ښه ده
(نو) اے زما بچیه : حسن ښه دے هم وفا ښه ده
برخه د مجنون ښه ده هم برخه د لیلیٰ ښه ده
ښه ده فقیري نیکه که ښه ډیره دنیا ښه ده
ګل د صنوبر ښه دے که قلا د محبوبا ښه ده
وے اے زما بچیه : سوړ عقاب له د غره سر ښه دے
ګل د صنوبر له ښه او ګل له صنوبر ښه دے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

جام له قلاره او سمندر له توفان خوند کوي
سترګو له مستي خوند کوي او زړه له ارمان خوند کوي
انو ، اے زما بچیه ! فقیري ښه ده دنیا ښه ده
تخت د سلیمان ښه دے جونګړه د عیسی ښه ده
مشوره لیونیه وزیري که جیلخانه ښه ده
ښه مې خپل لوږکی دي که قرض تو تخانه ښه ده
اے زما بچیه ! یار زړ لوله صحرا ښه ده
تخت د رقیب نه دے ښه تکور دے د لیلی ښه دے
دوست د یزید ښه نه دے شهید د کربلا ښه دے
واک چه نے د بل وي د دے نه زنانه ښه ده
او اے زما بچیه وزیري نه جیلخانه ښه ده



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د حورو ښکار

یو عاشق د ګلونو د حورو په ښکار لاړ
او د جانان د کوڅې په توبه او استغفار لاړ

وې ګې د جانان ښیست یو خوب و خیال دے
وې ګې دا مستي بے خودي ژړا وبال دے

وے پرونۍ ښاپیرۍ نن تورے خاورے دي
د ونو بوټي ناکے او په پرونی واورے دي

وې ګې د جانان پښتو سجده روانه ده
د مسلمان سترګو له نشه روانه ده



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپوږمۍ چې واوريده سرې زرې ځنځير يو وړ
رنګ يې د سترګو نه غوټکۍ د ګل يو وړ

د ماښام لوري له د زړه ارمان لاړ
په پسرلي شپې له يې د مستۍ شان لاړ

ارمان چې لاړ ځواني هم لاړه
خمار هم لاړ مستي هم لاړه؟

او د جنت په طمع جنت نه خوار لاړ
يو عاشق د ګلو نه چې د حورو په ښکار لاړ



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کډے وړے

مستي چه چاکښ ډېره شي — یا ډم شي یا شاعر شي
نیستي چه بونیرے وُړي — ملاؔ دَ هشتنغر شي
چه صبر چاکښ ډېر شي — یا ملنګ شي یا بادشاه شي
چه کبر چاکښ ډېر شي — یا فرعون یا ډنګاچا شي
چه اَس دَ تتو زوے شي — قد غټے بلخشانے شي
چه ډم وي په کابل کښ — خالصه کښ ډرانے شي
په چا چه کینه ډېره شي — یا تخت شي یا تخته شي
په چا چه نفس ډېر شي — یا تتو یا فرښته شي
خواني چه چاکښ ډېره شي — یا غل شي یا ولي شي
چه زور په چاکښ ډېر شي — یا یزید شي یا علیؓ شي
د چا چه بخت راوېښ شي — یا مجنون شي یا لیلیٰ شي
په چا چه تهذیب ډېر شي — ملوے یا ملولا شي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنیا چه ډیر سخی شی ‌‌ ‌ ‌ یا پیتی شی یا پالک شی
مهمند چه معتبر شی ‌ ‌ ‌ بے غیرته شی ملک شی
چه مینه چاکښ زیاته شی ‌ ‌ ‌ نبی یا لیونے شی
چه دم وی په کابل کښ ‌ ‌ ‌ - خالصه کښ دړانی شی
چه علم چاکښ ډیر شی ‌ ‌ ‌ یا شیطان شی یا فقیر شی
چه وس د وسه ووځی ‌ ‌ ‌ یا نصیب شی یا تقدیر شی
چه وخت د تولہ ووځی ‌ ‌ ‌ یا قیامت شی یا وصال شی
چه سر د خوده ووځی ‌ ‌ ‌ (نو) یا شهنګ شی او یاتال شی
پښتون چه غیرتی شی ‌ ‌ ‌ یا خان صیب یا خان باد شی

نیستی چه بونیری ووځی
ملا د هشنغر شی



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ځوانه

سوی باغ تالا گلشن دی — مړاوی گل خاورې چمن دی

نه بلبل نه لولکۍ ښته — نه نرگس نه یاسمن دی

دا گلاب دی ایرې شوی — که په اور سوی ختن دی

ای پښتونه! ستا وطن دی — ای پښتونه! ستا وطن دی

دې باغ خاورې را واخله — تر سره نوی بوستان جوړ کړه

ای د سوي باغ مالیاره — د نورو نو جهان جوړ کړه

ای چې ښکته ښکته گورې — نن پښې ابله سره تورې

نه خبر چې ته څوک وې — ته د مینې آسمان وې ستورې

ستا شعله چې به شي پوره — شوې به ښکته شملي نورې

په مستۍ اونگ به سر وې — ستا د تیتې سترگې تورې

ای د تیتو سترگو ځوانه — پاڅه هغه جهان جوړ کړه

د دې باغ خاورې را واخله — تر سره نوی بوستان جوړ کړه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اې دَ وران خپه میرنئ    اې دَ وږی بچي پلاره!

بې دَرکه سرګردانه    اې دَ سوي باغ مالیاره!

اې چې نن پرېښې بچي ستا    دَ خوراک په کشاله دي

ستا دَ لاس ما ښئ ولاړې    په ډهلي په بنګاله دي

اې دَ بل دَ در مریده!    پاڅه هغه دوران جوړ کړه

د دې باغ خاوره راواخله    ترینه نوی بوستان جوړ کړه

اې په غره په سر دره کښې    په باغونو په میرو کښې

په جنډول کښې په تیرا کښې    زما لالا پټ په ایرو کښې

اې د زرګو په خندا کښې    دَ تنزرو په ننارو کښې

دَ شیرشاه نازبینه زویه    ته نې پروت تورو تیارو کښې

کړه دَ غم تیارې راغونډې

ترې دَ مینې داستان جوړ کړه

دَ دې باغ خاور راواخله

ترې نه نوې بوستان جوړ کړه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دُعا

اې د حسن او نور دریابه! ماله یو څاڅکی د نور را
ستړې دې د خندا شونډې دې د سرور را
زه د خپل ویده زړګي له یوه ټنبه د یار غواړم
اې د حسن او نور دریابه ماله یو څاڅکی د نور را
دې تک تور د غم محل ته یو ځغرې د رڼا را
ستړې دې د خندا شونډې دې د سرور را
دې مستۍ او د ارمان له یو تصویر د جانان راکړه
ستا په مینه نازیدل راسته په ښکلي مخ غرور را
دې د خود سوي باغچې له یو وعده د بهار غواړم
زه دا نه وایم چې جنت راکړه دا نه وایم چې طور را
د دې خوب د ساه او وخت اشاره د تعبیر نه کړه
ماله نه د بادشاهانو او سینه د تعمیر را کړه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مینه

رټبه دا سې لیونۍ شوم په یو خیال باندې مین شوم
خُم د وبینې م سمندر کښې په یو لال باندې مین شوم

رټبه : دا څنګه مستي ده چه جانان م پکښې ورک کړ
که په غږ دیار د سترګو په دلال باندې مین شوم

زه دَ سیند د څنبلو نه ووم یو لپه م صحرو پوره
زه دلمر د مینې نه ووم په هلال باندې مین شوم

چه م نه ځاند سینه کښې پخوبونو کښې م ځا یې کړه
غږ م کړو غږ دجانان ته په یو خال باندې مین شوم

دا مستي نه ده ځواني ده نه مستي ده دَ شرابو
دا خوزه دَ یار دَ سترګو په یو خیال باندې مین شوم

دا م بانګ دَ لیلیٰ وا ورید که ستاینه دَ بلال؟
که دیار د پایلو شرنګ کښې په یو تال باندې مین شوم

پتنګ پروت وو په تیاره کښې په نامه د شمعې مست شو
که دا زه دَ یار دَ سترګو په یو خیال باندې مین شوم

ملغ سوې دلمر ولید په یو ځاڅکي دَ شبنم کښې
که صنم ما نه مومې شو په خوبونو د صنم کښې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مړه شمع

ما ته نسیمه مه وایه — مه وایه: یار به سبا راځي
ته د مستۍ خبر کړې — ماله ژړا ژړا راځي

اې د رند و مستو ملا! — اې د اوږدو سلسلو ملا!
ستا په دې راز و نیاز پوهې — ماله خندا خندا راځي

ما هم یو خوب لیدلے وو — ما هم یو باغ کړلے وو
ته چې قیصې د کلونو کړې — ماله ژړا ژړا راځي

زه هم یو شان د ځوانۍ ومه — زه د مستۍ یو تصویر ومه
اوس یو زړه دا ایرو یمه — څه که بېګاه سبا راځي

زه لکه مړه شمع ورکه شوم — ورکه په طمع د سوز شومه
کله په لاس د ساقي راځي — کله به اور اور رڼا راځي

تلے ځواني چې لاړه شي — چرته به بېرته بیا راځي
ته د مستۍ خبر کړې — ماله ژړا ژړا راځي

---

او دنیا مثال لکه د خس دی
تو د شي لوګې وګړي رڼا کړي جوړه
لمبه شي وسوځي خاورې ایرې شي
بوره ایښې پرې ژړا کړي جوړه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بنده

بنده بدلیږی داسې بدلیږی
لکه بدل شی چه وخت دَ کال
کله سپرلے شی کله خزان شی
کله مستی شی کله وصال
کله پرحسن شی پوسوز او خوب شی
کله مجنون شی پولیونتوب شی
کله فریاد سلګئ، کله نرتوب شی
کله سینه دسقراط کله خرتوب شی

کله ارمان دَ سینې او کله لال
کله مستی شی کله وصال

مینه مستی ده داسې مستی ده
لکه مست وی دَ بنکری تال
کله سودکل شی دَ سپرلی شبه شی
کله منصور شی کله بلال



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله یو غم شي ساز او ستار شي
یاد غوټۍ ارمان د گلو هار شي
کله سره و د سوز کله چغار شي
کله قصه د بنایست کله دلدار شي

کله سینې د حور او کله د خیال
کله مستي شي کله وصال

غم یو نشه ده داسې نشه ده
لکه نشه شي په بانگ بلال
داغو یو نقش دی د عاشق زړه کښې
د یار د سترگو د خط او خال
کله شراب شي مست او سرشار شي
کله د زړه جام شو نو هسې د یار شي
خو کله تیپې کوي د چا زنار شي
کله قسمت شي او کله اختیار شي
کله مانبام شي کله هلال
کله مستي شي کله وصال

وخوره، بند بدلیږي داسې بدلیږي
لکه بدل شي چه وخت د کال
و نجي ارمان شي هیڅ جانان شي
هیڅ مستي شي هیڅ وصال



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سلام

نه ساز شو نه سوز شو
بس هسې ژوند تمام شو

نه خوب شو نه شرنګ شو
نه یار ګلندام شو

دا توره توره شپه راغله
نه ستوري نه سپوږمۍ شي

ځواني وه لاړه لاړه
یو کوټ او خالي جام شو

یو ستړی سی د سباوو لاړ
سور ګل یو د لاله وو لاړ

سوړلې زړې زیړې شولو
نړې نړې مانام شو

قصه د حسن هیره شوه
مزه د مینې تیره شوه

ملا بانګ د سبا وړې
اخر په سول خیام شو

مستي بې پروائي ورکه
په خود کښې بې خودي ده ده

او ګوره لیونی هم نن
بادشاه ته په سلام شو



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دږمې ماښام

اوس نن دږمې ماښام ... دَجرګې شپه ده
پوست شبنمي باران ... بهرورېږي
غاړه د اور او خيام ... شروع قصه ده
دَ شاعر سره او ستا ... مهين غږېږي
ټنګ او ټکور دَ ډزوند ... ناز او مستي دَ جانان
شرنګ دخوانۍ کنرېږې ... شاتار دَغم وهي
خندا مستي دساقي ... بت پرستي دَ ساقي
ستيندي د مرګ سره ... دګونګروشرنګ وهي
اونن دَ دږمې ماښام ... دجرګې شپه ده
پوست شبنمي باران ... بهر ورېږي
يار شروع کړي ماته ... دَغم قصه ده
کله موسکی شي
کله ژړېږي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مست

چې زړۀ مې مست وُو دنیا وه مسته
ګلونه مست وُو لیلٰی وه مسته

چې زړۀ مې ډوب شو دنیا بوډۍ شوه
ګلونه مړاوي شو لیلٰی بوډۍ شوه

چې زړۀ مې مست وُو شونډې تودې وې
د زهرو شونډې به هم خوږې خوږې وې

چې زړۀ مې ډوب شو شونډې مړې شوې
یخې د واورو په شان د حورو ښکلې شوې

چې زړۀ مې مست وُو سترګې مې سرې وې
مدام سپوږمۍ وه د سپرلي شپې وې

چې زړۀ مې ډوب شو سترګې هوښیارې
خزان مې مل شو په نیمه لارې

خدایه د ژوندون بس ځواني مستي ده
دا نور ژوندون نه دی کړپاۀ دی



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترګې چه غځې شي رټب دے کړي پټې
چه مستي نه وسیږي داغمه لیاړدي
اوماښامے یاره ورو راروان دے
سبا به چونګ خاورې وي نن غنچان دے
جانانه: شونډے ماته نږدے کړه
چه زړه م مست شي دنیا شي مسته
چه بیا سپرلی شي ګلونه سره شي
چه خواني و دانګي خنداشي مسته



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نور او سینګار او خمار

ګل د بنډ بنایست سترګو له پسته رڼا
شونډو کښې دا بېخودي شونډو کښې نشه نشه

ښایست له د خپل خان په شان نور او سینګار او خمار
یار د خندا په ځاې سپین مېږو ګالونه ما

مینې له د زور د سمندر، زړه د باچا ورکړه
ساز لره آواز او نښت تا د ښار ورکړه

ما له د غمونو ارمانونو جهان راکړ تا
ما له زړګی پوست او مستانه او حیران راکړ تا

اوده، سترګې مستانې د یار د حسن د آرام ډکې
کله د سپوږمۍ د رڼا کله د ماښام ډکې

کله د خوانۍ د امیدونو د ارمان ډکې
کله خمارې ستا د خمار او ستا د شان ډکې

اې د دوزخونو د قیامت او د حساب ربه!

اې د تورو زلفو د لالونو د رباب ربه!

اې د مینې حسن د خوانۍ او د شباب ربه!

اې د مستو سترګو د نرګس او د ګلاب ربه!

اې د لوګي د مینې اې د ګل د خیال ربه!

اې د ساز او نیاز او د نسیم او د هلال ربه!

ولې د حسن نه جوړ کړو دا د خاورو ښار

ښایست له د خپل خان په شان نور او سینګار او خمار



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عقل مې حیرانه

زړه مې بیقراره بې آرامه مې دې خیال
عقل مې حیرانه او فکرونه مې جنجال
پوهه مې ده نښتې لکه لومه کښې سرخکه
روح مې دې تیار وکښې لکه لړه کښې هلال

رتبه: زما رتبه: دَ جانان دا خط وخال
دا زرینې زلفې کچه خوله ورو خې هلال
دا سترګې نیاز بینې دا پستې سترګې بڼګینې
پاکې دنرګس نه دلولې نه ورینبمینې
سرې سترګې مستانې دَ مزې سترګې حیرانې
دې دَ جنت او ددنیا سترګې جانانې
کله د مابنام لړې کله درنا دې
کله دَ بیرون دښکه کله دسبا دې
وینم پکښې زه واره دنیا دجام جم په شان
او ښکې نې دې پاکې پاکوونکی دَ زمزم په شان



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډوب پکښې پراته د ساز او حسن جهانونه دي
دوی لیدلي زر لکه سپرلي او خزانونه دي
دوی کښې دَ مستۍ او بېخودۍ دَ خمانو قصې
دوی کښې د مرګونو د ژوندونو د ځوانو قصې
دا به تور چنجي شي او چنجي به تورې خاورې شي
دوبه به د ناهوکي کښې د غرونو ډېرې اوړې شي
ښکله به چنجي دَ ماښام سوز ساز د سبا وږمې
ښکله به چنجي دَ سپرلي شپه د لمر رڼا خوري
څه شوه د ایاز د زړه مستي د محمود سوې څه شو
څه شوه زلیخا د مخې ښکلي ګوداکې څه شو
زړه مې بې قراره بې آرامه مې دی خیال
عقل مې حیرانه او فکرونه مې جنجال



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژوند

ژوند مې لوئے دریاب دے ورو ورو خوږ شو سمندر کښې
ښا خکې وړکے دریاب کښې شو په طمعو د ساحل
بخت کښې د سيلاب دی په مستۍ په چپو تلل
نه ورځي دریاب له غوښتل او ودریدل
دے لحمر د ساز له تله ژوندون ودريدل مرګ دی
زیرے د ما بنام وی د سحر را خلیدل
ګلدے دے چپے کړو د ابد مستانه تال ته
وکړنګو ساز نے تار خانو کښې د ازل
لاړلیونی لاړ چرته دلمر شغلو کښې د وښو
ښا خکې ورک دریاب کښې شو په تمه د ساحل



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اَرِنِيْ

خان له خپه بهانه زړه دَ بېګاه او سبا ګورمه
خاوړو کښې دې ګل له د ګلونو دنیا ګورمه

سترګې م لټي چېرته صحراګنې منارو يوه
شونډې م لټي دُعا له بنګالي ښنا اوېوه

ګرځم مابنامي کښې د ږمي هلال شغلې لټوم
زه د شبنم څاڅکي له څپاوې او سیلاب لټوم

خان له بهانه د خندا وجه د ارمان لټوم
شپې له د سبا زیړې او مینې له جانان لټوم

ځکه کله ګل کله پسرلی کله هلال اخم
پورې ترې دنیا لټوم په وازو سترګو جال اخم

کله دریاب کله ګورمه دَ خیام تپوس
کومه د غمونو تالو سونه دَ آرام تپوس



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان له څه معنی زه د بیګاه او سبا ګورمه
خاورو کښې ګل له د ګلونو دنیا ګورمه
زه به: د ځوانۍ او د مستۍ خوب له تعبیر لټوم
دے د لمر ذرو له زه تر لوله ځغیر لټوم
زه به: زه ژوندون له او مرګي له یارانه ګورم
دے لیونۍ سره د مینې افسانه کوم
ځان له بهانه زه د بیګاه او سبا ګورمه
خاورو کښې دے ګاله د ګلونو دنیا ګورمه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ساز

ورکړه شرنګ دے ستار له یاره! — نوے د مینې ماښام دے
نوے سپوږمۍ را ختلې ده — نوے سرور کښې خیام دے
او د زړه تار خانو ته دے — ګوتې د ساز ور ښکته کړے
وئ : د محمود خبګرته نن — ستر ګې ایاز ور ښکته کړے
ستر ګې مینې په غم د کے — د کے د سر او صنم د کے
ستر ګې ستے د شبنم د کے — خندګه په ناز ور ښکته کړے
او دے د خاورو ستارګښ تا — خندګ د ابد قصه جوړه کړه
او دیو شرنګ او تهنګ نه دے — ماله مستۍ نشه جوړه کړه
تا د ګلونو د رنګ نه — ماله د یار تصویر کړ جوړه
تا د تارونو د شرنګ نه — ماله یو خوب او تعبیر کړ جوړه
تا د سرور او غورځنګ نه — ماله بیا منیر کړ جوړه
تا د غمونو د رنګ نه — ماله د غم اکسیر کړ جوړه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تا د غرور او ارمان نه ما ته بهار او خزان کړې جوړ

تا د ترانې د آواز نه ما د تصویر د جانان کړې جوړ

تا د نرګس د دوه پانو نه

ما له بهار او ګل کړې جوړ

تا د نسیم د خبرو نه

ما له فریاد د بلبل کړې جوړ

ورکړه شرنګ د ستار له یار

ورکړه رنګ د خمار له یار

ورکړه سلام ګلونو له

ورکړه دعا د یار له یار

بیانست او ارمان او سپینه

ما له ترنه ګل او خزان کړه جوړ

او د نسیم د خبرو نه

ما له تصویر د جانان کړه جوړ



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زړک خیال

يو ښيښته غوندې ماشوم وو . که يو خيال که يو خمار وو
يو مُسکې شان تا ته وکړو د ازل د تيار خانو نه
زما خواله ښکاره راغې لکه يو ست قيام د يار
که يو ستورى سترګې والي چرته لوړې د تيارو نه
که د توبې کوټې وکښې شاهزادګۍ د نوی ولاړه
د نوا ستا کو کښې غمونو . ښکلې شونډو کښې خندل
د جامو ان پيچرګت وو . که يو رنګ د تخيل وو
که د تال لنګر وو په خېږ کښې م خوبونه ګډېدل
لکه رڼو هوسې باغ کښې په هيڅ شي نه يقين نه وي
چرته پټ په کښې يو خوب وي د صحرا او د ځنګل
ما د مينې لاس خوار وکړو . څه د غاړه څه ارمان
ما ونه آسرنګ سېنه نه وه . راشه مست که دا جهان
زه به خپل خود ستا وجود کړم چه ته سترګو ته ښکاره شې
خپل احساس به د جامه کړم چه يو ښيښت يو ښکاره شې
ستا مستې له او خاره به د ځان سرور در کړم
ستا اميد او مشغلا له . به خوبونه د طور در کړم



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه به خپل ژوند تر جهان کړم ستا د ژوند د کتاب نوم
زما کوټې به ستا رڼې . ستا د شنګ ستا د نځ
یو قدم مې که راپورته . هم راته هم پیریده
د صحرا عادت هوسے و به ګلزار کښې ترياڼ

ماخپل زړه ستر ګو کښې خور کړه . دیره په مینه ور روان شوم
عجیبه جهان ته لاړم هم عاشق شوم هم جانان شوم
خو چې زه ئې ورتلم خواله . نو چا چغه کړه چې خان
کیږئ شپوله اغلی . درسے خاوره درله دوستان

یو نظر م چې تے وارو . نو د نو د بنا پیرسے نه و
چار چاپیره په تیاره کښې نه ئې نوم و نه نشان

اے زما ماشومه زویه . ته به ګرځے کم صحرا کښې
د تیاره په شپه کښې ځکه . ستا خو کور دے په دنیا کښې
و لے لاړے یو ځل خوب شوے دا زل ورکه دنیا کښې
ستا خا ښت کښې زما ژوند دے . ستا جهان دے زما سا کښې
یو نظر کښې که د ماته سور ګلشن تور بیابان
لیونے . لیونے ګرځم دسے ځکه شوے م جانان

راشه راشه په خندا شه لکه ستورے په سبا کښې
د تیاره په شپه کښې ځکه . ستا خو کور دے په دنیا کښې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یوه قصه

خوږ که په ساز کښې — خوږ که په خوږ بېسوي رباب کښې
خوږ که په مسته ترانه کښې — يو تمه بل افسانه کښې
هر وخت هر زمانه کښې — په فراق په يارانه کښې
بس د خپل حيات قصه ده — په هر مخ د دې کتاب کښې
خوږ نه وي په دا دستور کې — خوږ په مستې نګين رباب کښې

خوږ د تال او حرکت نه — کوي ژړا او خندا جوړه
ټول وجود يې يو ارمان شي — چه د غم کوي کډه جوړه
لاس او خپې د ګلو څانګې — د بوډې تال په حباب کښې
د اخښيشت داسې رنګونه — نښته نښته په ګلاب کښې
خو هم هغه يو ارمان دی — دې د تال او شرنګ د رباب کښې
هم هغه يوه قصه ده — په هر مخ د دې کتاب کښې

خوږ نه ساتکي را وا خلي — په خپل اور يې سره لمبه کوي
يو مستي سره ورته جوړه کړي — په جانان يې صدقه کوي
کله ډوب يې د خپل خمار کړي — د دې هم خان سره نشه کوي



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله تور غمګین ما بنام کښې — دومره په غم کړي یو تیاره ګړۍ
یو بې وسه مایوسي شي — ناامیده او زړګی ماتم شي
یو بې نومه اضطراب شي — سوځي لوګي سپې آدم شي

د سرو جام د میخانې کښې — د جانان په سپین معراب کښې
د صوفي په پټ سرور کښې — د عاشق د عشق شراب کښې
د شاعر د لاس کمال کښې — په جنون په اضطراب کښې
بس یو رنګ د یوه ځلیږي — هم جانان کښې هم ګلاب کښې
هم په ساز هم تال کښې — هم په خوږ سوي رباب کښې

یو خوا تور مغروره مرګ دی — بل خوا ژوند یو رنګین خوب
یو خوا غم درد او تیاره ده — بل خوا مستي شان ایښتوب
یو خوا ژوند یو بې وسي ده — لویه توره مقبره ده
بل خوا ژوند یو مستي ده — د امید ارمان نشه ده
په یو سوال د هم پوه نه کړم — د ژوندون په لوی کتاب کښې
د غه سوال بس د غه سوال دی — هم په رقص هم په رباب کښې
عاشق مینه کښې سرور کښې — شاعر غم او اضطراب کښې

هم هغه یوه قصه ده
په هر مخ د دې کتاب کښې



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مدون یادونې
# او
# څرګندونې

د پښتو د اوسني ادب د تر ټولو ستر شاعر خان عبدالغني خان له نامه سره به د افغانستان او برصغیر په علمي، فرهنګي او سیاسي حلقو کښې ډیر لږ خلق بلد نه وي . خان له پښتونخوا او افغانستان او برصغیر سربیره په نوره دنیا کښې هم د نامه خاوند دے او په خاص ډول د پښتو ادب خارجي محققین او له انګریزانو سره د لرو پښتو د آزادۍ د جګړې مورخین او مطالعین د ده له نامه او ژوند، کردار او کلام سره آشنا دي . او ډیر لږ دي په هغه مقام هم واقف دي چه زمونږ دغه لوی شاعر د پښتو په معاصر ادب کښې لري .

سربیره پر دې د پښتو ادبیاتو په معاصرو تذکرو (۱) کښې هم خان عبدالغني خان زمونږ مشرانو ادیبانو پر مونږ پېژندلے دے او ښودلے ؟

(۱) پښتانه لیکوال د ښاغلي همیش خلیل ص ۱۰ - ۱۹ . د ۱۹۸۹ ع ص د پښتو بورډ چاپ . او سمسور لیکوال د [illegible] د ۱۳۲۶ ه ش [illegible] چاپ .



A .S.K B

نو هم خپلې څېړنې، تحقیقي او علمي مقالې د ده په ژوند او فن کښل شوې دي (۲)،

مګر دا چه او س د کلام يوه عمده برخه د (کلیات) په نامه د چاپ ز کړه ته

راوتلې. نو بويه چه د کلیات له لوستونکو سره د مرستې په خاطر د ده په

شرح حال او ژوند او هنرمندۍ هم څه وکښل شي. چه له ابتدایي لوستونکو

سره د هغه په دود مرسته وکا، البته منتهیان خو د خان له ژوند او هنره

سره تر هر چا ډېر بلد دي.

نو زه به په همغه نیامت خپله لیکنه د ده د شرح حال له کښلو پیل کړم

او بیا به په ترتیب سره پر بحث ور موضوعاتو لنډې خبرې هم وکړم.

## کورنۍ او د ژوند ابتدایي حالات:

د پښتو ژبې د غه د غوښتلونو د شاعر خان عبدالغني خان پلار

د پښتنو ستر مشر خان عبد الغفار خان دئ او مور یې

د رڼې د خانانو د یار محمد خان لور وه. چه له باچا خان سره یې په ۱۹۱۲ع

کال واده شوی و (۳)

د غو دوو خانخیلو له پښته په ۱۹۱۴ع کال (۴) د شمال مغربي سرحد

صوبې د هشتنغر د اتمان زو (۵) په کلي کښې د پښتو ژبې د غه نومیالی او تلپاتې

---

(۲) کتاب سال ننیس، د مرحوم استاد بینوا مقاله ص ۱۰۹-۱۲۹ د ۱۳۴۶ هـ ش کال د کابل چاپ.

(۳) زما ژوند او مبارزه، د خان عبدالغفار خان ص ۷۰ د ۱۳۶۲ هـ ش د کابل چاپ.

(۴) په پښتانه لیکوال ص ۹۰ کې ی د غني ... د ۱۹۱۶ع ښودلی ده؟

(۵) په کتاب سال ننیس ص ۱۰۹ کې مرحوم بینوا د غني خان د پیدا کېدو سیمه د هشتنغر د زیړي ښودلې ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاعر و زیږېده. پلار ېې د عبدالغني نوم کښېښود.

عبدالغني د مور و پلار لومړنی اولاد او د دوی ډېر نیازېبن و. استاد بېنوا مرحوم د ده د یوه دوست په حواله کښلي دي چه: "غني په کوچنیوالي کښې ډېر ښکلی او د مور و پلار ډېر نازولی و. په غاړه به یې د سرو زرو د ټه او زنځي وه او په نیمه غوږ به یې د سرو زرو والي وه. په سر به یې ټیله داره ډیوټلیونکه تورۍ او په تورۍ کښې به یې یو د زرینه جوټه تومبلی وه چه د جوغې نه چار چاپېره بده دې د نظرمات تاویزونه تاوشوي وو."

مگر د غه نیازېبن توب ډېر پایښتي نه و. ځکه ننگیالي پلار یې هغه مهال د وطن او خلکو د خلاصون لپاره د انګرېزانو پر ضد مبارزه پیل کړې وه او په خپل کور کښې آرام نه و ناست. له بله پلوه د غني مور هم د ده په ښځه کلنۍ له دنیا سترگې پټې کړې او نازولی غني د مور له تودې غېږې محروم شو.

د غني د مور د مرگ واقعه د پښتنو لوی ملي مشر د غني پلار باچا خان داسې کښلې ده: "د جنگ په وجه په دنیا کښې سخته وبا راغله. په جنگ کښې دومره کسان نه وو مړ شوي، لکه په دې وبا کښې چه مړه شول. په هندوستان کښې هم دې وبا ډېر خلک ووژل. پښتانه هم ډېر پکښې مړه شول. د دا سې عجیبه وبا وه اکثر به یې ځوانان، جینکۍ او هلکان وهل او مړه کول او چه یو کوټه یو ځل ننوته بیا به یې یو هم نه پرېښود.... په دې مرض د تولو نه اول زه پرې یوتې دم خو هسې خدای جوړ کړم.... زما ورپسته غني چه د پنځو کالو و ناروغه شو.



A .S.K B

غني ډیر ښکلی وه. د موږ ورسره ډیره مینه وه. ډیر به یې ورته ژړل ما به منع

کوله او د صبر تلقین به مې ورته کوله خو د هغې زړه به نه صبریده. یوه ورځ د غني

رنځوري سخته شوه موږ ورته د کټ سره ناسته وو د دوی سره به غیږ کښې

ایښې وو. ما د ماښام لمونځ کړې و په مصلی ناسته وم. دعا مې کوله غني ته مې

کتل چه بې هوښه پروت دی چه ناڅاپه موږ پاڅیده د زوی سره د خپل ورانه

نه په بالښت کښېښوده او د زوی له کټه چاپیره وګرځیده او سرته یې ودریده

او لاسونه یې په دعا پورته کړل او په ژړا یې وویل چه اې خدایه د ده مرض په ما

کښېږدې او دې ماشوم ته شفا ورکړې. د خدای یوه عجیبه حکمت و. په سبا

دانا جوړه شوه. د دې مرض ورځ په ورځ زیاتیده او د غني مرض به ورځ په ورځ

کمیده. غني جوړ شو. او موږ خوشحاله شوو. ماشومان راته پاتې شو. د غه

وخت غني د پنځو کالو. ولي د درېو کالو او خورې دیو کال وه. (٦١)

د موږ تر مړینې وروسته د عبدالغني خان روزنه د دوه دانا د پاچاخان

د موږ په غاړه وه. مګر د هغې هم د ژوند ډیر ورځې نه وې پاتې. په دغه وخت کښې

چه باچاخان د ډیره غازي خان په جیل کښې قید و. موږ مې هم وفات شوه (٦١)

او د غني د پالونکې او مهربانې مور له دنیا سترګې پټې کړې. غني بې سرپرسته

پاتې شو. لهذا دا چه په غني د ماشومتوب په دوره کښې د ژوند د ناوړه پیښې

راغلې مګر وروروو د دغه حالات مخ په سینه کیده وشول. خاکا غني چې د ملت شو

---

(٦٠) زما ژوند او جد وجهد ص ۱۳۲ - ۱۳۴ .

(٦١) همدغه کتاب ص ۲۰۹ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

او سنوېخیونه لاړ دده په شخصي ژوند کښې هم تبدیلي راغله .

## زده کړه، روزنه او فرهنګي محیط :

د پښتو د اوسني ادب دغه نومیالی شاعر هغه وخت د ملې پسې

د ټګ شو چې باچاخان او نورو مبارزو او ملیالیو پښتنو په همت په پښتنو کښې

د عصري تعلیم د شروع کولو او عامولو جد وجهد جاري وو . او ددوی په همت

او میړانه په ۱۹۲۱ ع کال د اتمانزو آزاد سکول جوړ شوی وو . خو دلوی پښتنو

په چاپیرچل کښې په عام ډول د تعلیم څه شوق نه وو . او ډیرنکي اجتماعي

په د عصري تعلیم د مخنیوي لپاره په خلکو کښې د ول ډول غلط پرو پاګند ے

خپرولي او خلک یې له عصري تعلیمه لیرې ساتل . په قبایلي او کلیوالي سیمو کښې

د سبقونو عام دود په جومات کښې هم غه دیني نصاب وو، چه له خوانه تر اوسه

لا په ځینو ځایونو کښې چلیږي .

غني خان په دغسې شرایطو کښې د سبو ونځي شو، او میړني پلار یې

د اتمانزو په آزاد سکول کښې شامل کړ .

استاد بینوا مرحوم په دې باب کښلي دي : " د غني خان ابتدایي زده کړه

په هغه آزاد قومي سبو ونځي کښې شروع شوه چه باچاخان او د هغه دوستانو

د غریبو هلکانو د پاره په اتمانزو کښې جوړ کړے و ، او زده کړه پکښې

ورباوه .

باچاخان خکه خپل زامن د غریبانو سبو ونځي ته واستول چه خلک



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

وند وايي چه: باچاخان دخپلو اونورو دزامنو ترمنځ توپير کوي. خپل زامن معتبر ښوونځي ته بيايي او د نورو زامن دغريبانو ښوونځي ته استوي (۸).

دلسم ټولګي تر پاس کولو وروسته د دهلي په جامعه مسليه کښې شامل شو، په ۱۹۲۹ع کال باچاخان ديوه مرام لپاره بيرته جهان ته راوغوښت او څه موده وروسته يې تحصيل لپاره لندن ته وليږه، او د ۱۹۲۹ع کال د جولای په ۲۳ نېټه د څورلسو کالو په عمر د لندن په نيت په بمبئي کښې داو بوجهاز کښې سور شو.

استاد بينوا ذده د لندن دسفر په باب زياتوي: «غني خان لندن ته ولاړ او هلته يې د باچاخان په مشوره دوه نيم کاله ديولوي پادري په کور کښې تير کړه، وايي چه په دې کښې د باچاخان مطلب دا و چه غني خان که د پرنګيانو په لوړو او چت خاندان کښې عمر تير کړي نو د پرنګيانو د عظمت په راز به پوه شي....

دانګلستان آزاد ماحول کښې دغني ناياب ښايست دهغه دپاره يولوي مصيبت شو. چه چيرته به ني پرنګيانې جينکۍ به ورپسې وې اوسبق ته به يې نه پرېښود. خو په آخره کښې د لندن يوه دفلم ستاره ورپسې مينه شوه چه ډيره بې بها ښکلې وه. دده نورو ملګرو ته ويره پيدا شوه چه غني يې په نکاح وانخلي، نو يو کس پکښې باچاخان ته خط وليکه او دټولې قصې نه يې خبر کړ، باچاخان د تار په ذريعه حکم وکړ چه فوراً امريکې ته کوم کالج لاړ شي (۹).

(۸) اوسنۍ ليکوال ج ۳ ص ۹۷۰

(۹) همدا غه اثر ص ۹۷۱



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه خبر: خاسے خادے دغني خان په شاعرئ کښې هم خان ښکاره کوي
چه دلندن د پيرنگو جونو ښايست يې په زړه اثر کړے و... دلندن معشوقې
ترمه ليک د ده يو دوه ته د ده چه داسے پيل کيږي :

دلته خواته ازغي دي      بل خوا څانگے د نرګس
د هنر علم سايه کښې      ګرځي ګل لبانه مس (۱۰)

غني خان د پلار په حکم لندن نه امريکے ته ورلاړ. او د لويزيانا د ايالت د بورې
او شکرے جوړولو په يو کورس کښې شامل شو. اما دوه نيم کاله ورپسته چه
باچاخان بيا قيد شو، نو غني خان ته ژوند تريخ شو، ځکه خرڅ نه
ورسيدو او پوره اته مياشتے پيسه خرڅ هم نه ورسيدلے. بالاخره يې
يو خيلوان دوه وخته قلم، و ورليږل چه د يې پرے له امريکے هندوستان ته
را واپس شي.

باچاخان هم د غني د موضوع ته داسے اشاره لري :"مشر عبدالغني د يې چه هغه
د ترو کمستري د تعليم د پاره امريکے ته ليږلے و. خو چه زه فيرنګيانو په ۱۹۳۱ ع
کال کښې جيل ته وليږلم او زما جايداد يې ګړو د کړو نو هغه د پيسو د نشت په وجه
سرته ونه رسولو او واپس راغے" (۱۱)

کله چه عبدالغني خان له امريکے راغے نو باچاخان د هندوستان د بهار
د ايالت د صرازري باغ په جيل کښې و، چه د غني ورسره ملاقات وشو. او بيا جواهر لال نهرو

(۱۰) پانوس ص ۱۱۶، ۱۹۷۸ ء کال د پېښور چاپ.
(۱۱) زما ژوند او جدوجهد ص ۲.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

قصید (۱۸۸۹-۱۹۶۴ع) په مشوره نې د ے، آله اباد ته ولیږل او هلته د جواهر لال نهرو د پلار موتي لال نهرو په کور کښې ديره شو، او ته مياشتې د جواهر لال نهرو د مېرمنې کملا د خپلوۍ په شان ونازاوه. خو کله چه په هغه پسې د ګرفتارۍ انګريزي پوليس راغلل. نو دے او خپله لور اندرا (۱۹۱۷-۱۹۸۴ع) يې د ټاګور بين الاقوامي يونيورسټۍ ته وليږل، د چه غني د يونيورسټۍ ته لاړ. لږ موده پس د محصلينو د اتحاد يې رئيس شو.

د غني د منظم تحصيل دوران هم له واقعاتو سره مل روان و. کله به يو ځه پېښ وو، او کله به بل څه.

د دے تحصيل په جريان کښې د وله خپلې مورنۍ ژبې سره پره عربي، فارسي اردو او انګريزي ژبې د خبرو کولو مطالعے او په ځينو کښې د څه کښلو ترسره حده زده کړے.

په اوسنۍ ليکوال کښې د ده د عربي دانۍ او د اسلامي علومو د تحصيل او مطالعے په باب راغلي دي: " د باچاخان د اخيال و چه د غني نه مولوي اسلامي عالم جوړ کړي، نو ځکه غني خان او د کاله د عربي مروج علوم ولوستل په تيره بي د قرآن تفسيرونه او د احاديثو کتابونه (مسلم، بخاري) احسن المسائل او بلوغ المرام تقريباً ټول په ياد وو او عربي ژبه يې د خپلې ژبې پښتو په شان روانه ويله" (۱۲) وايي چه يو ځل د هند د ديوبند د اسلامي

---

(۱۲) اوسني ليکوال ج ۲ ص ۷۹۰



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملت یې مولانا داتمانزو آزاد سکول ته راغلے و، غني خان د تولو تنکو دانو مخکښې ولاړ شو او شل دقیقې یې په روانه او فصیحه عربي ژبه وینا وکړه مولانا پوښتنه وکړه چه دا هلک عرب دے؟ باچاخان په جواب کښې ورویل چه نه دا زما زوے دے.

دغسې چه باچاخان په غني باندې د عربي د زده کړې باعث شو دے ترڅنګه یې د پارسي ژبې د زده کړې سپارښت هم ورته کاوه، باچاخان په خپل یوه لیک کښې غني خان ته کښلي دي: "عربي او فارسي طرف ته هم څه نه څه توجه وکړه او د دې مطالعې د پاره هم څه نه څه وخت وباسه ما تا نه د دے متعلق اول هم لیکلي وو لیکن تا یې په خپل خط کښې څه خاص ذکر نه دے کړے" (۱۳)

## ملازمت:

بناغلي همیش خلیل کښلي دي کله چه غني خان په ۱۹۳۳ع کال پېښور ته واپس راغلو څه موده دے د تخت بهايي په شوګر مېل کښې ملازمت وکړو (۱۴)

استاد بېنوا لیکلي دي: "غني خان هلته د بورې جوړولو په یوه کارخانه کښې د میاشتې په سلو شل کلدار نوکر شو، په لومړي سر کښې یو معمولي نوکرو، خو په درې کاله کښې د ننه د ننه د خپل نظري استعداد او لیاقت په وجه د کارخانې د تولو نه لوے اوغټ افسر شو.... څه موده ورپسته یې د تخت بهايي په سیمه کښې د بورې جوړولو کارخانه جوړه وکړه، کارخانه په چلیدو راغله، خو اعلحضرت وجه دده د پلار

(۱۳) د باچاخان لیکونه

(۱۴) پښتانه لیکوال ص ۱۷



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

(باچاخان) او پرنګیانو ته ئې ښه بیا جګړه تر ده شوه او د غني خان قول خپلوان د انګریزانو له خوا د استعمار زندانونو ته بوتلے شول. غني خان ته باچاخان حکم کړی و چه خان به قید ته نه ورکوی، او د هغوی د جایداد سرپرستي او انتظام به کوی. غني خان هم د خپل جایداد په پوره کاڼي کښې ځانله سره کور جوړ کړ... کرمه زمینداري ئې شروع کړه او په مزه کښیناست» (۱۵)

استاد بینوا په اول وار کښې د ده د ملازمت ځاے د سبوڼ او د وم والي چه: غني خان هلته د بورجه ولو په پوره کارخانه کښې .... نوکر شو. ځکه چه دا بحث په هندوستان کښې د ده له ژوند سره اړه لري، نو د ملازمت د ځاے دوره به ئې هندوستان کښې وی، خو په او سنی لیکوال کښې د غني خانه د معلوم.

اما په بلو ښے (۱۶) کښې چه د میا جعفرشاه په نامه د عبدالغني خان کوم منظوم لیک چاپ شوے دے، په یوه بیت کښې ئې راغلي دي:

چرته نرم ریښمین تار چرته میزرے
چرته زه چرته «ګوله» چرته شکرے

د محمد منظوم لیک په حاشیه کښې کښلي دي: ګوله: ګوکرناته د هندوستان په (یو . پي) ولایت کښې یو ځاے دے غني ځلته د بورے په کارخانه کښې افسر و.

نو استاد بینوا چه په هندوستان کښې د خان د ملازمت کوم بیان راوړے دے دا به بنایي هماغه ګوله کښې وی.

(۱۵) او سني لیکوال ص ۹۰۳
(۱۶) بلو ښے ص ۳۶ د ۱۳۲۹ هـ ش کال د کابل چاپ - پښتو ټولنه.



A .S.K B

## واده:

اوسني لیکوال کښې راغلي دي: "... او هغه وخت چه د بمبئي په ښار کښې یې د خپل یو دوست کره د حیدر آباد د نواب رستم جنګ کشر لور ولیده نو دلیدو سره سم ستي یې زړه پرې بایلود ..." بیا لیکي: "او تر اوږدو کالو منډو ورروسته یې د نواب صاحب لور د کره او د خپل ژوند ملګرې ارزو تمه پوره شوه."

عبدالغني خان د خپلې د ملګرې په باب داسې نظر لري:

| | |
|---|---|
| یو خوب د شاعر په جامه انساني | یو ساز دور دراز ښکلی خوږ آسماني |
| یو ګل د جنت په خصلت ځماني | یو جسم ناري یو زړه کې نوراني |
| شو له داسې پیدا د غني دلبرا | په غیرتېنېته په ښا ایرا (۱۲) |

## سیاسي میدان:

که څه هم استاد بینوا کښلي چه غني په ۱۹۴۵ع کال د سیاست ډګر ته راغلی هغه وکړه، خو زما خپله رایه او نور شواهد دادي چه د عبدالغني ژوند له ماشومتوب څخه په یوه سیاسي ماحول کښې تیر شوی دی.

خان په داسې یوه کورنۍ کښې زوکړې چه هغه خپله یوه لویه سیاسي ملته وه، باچاخان نه یوازې د خپلې سیمې په سیاسي حلقو کښې مخشورې وه بلکه د سیمې په سیاست کښې داخل شخصیت دی.

عبدالغني په داسې یوه کورنۍ کښې د نیاته سترګې پرانیستې، د هغه وخت

---

(۱۲) د ځوږ ځغاره ص ۳، د ۱۹۵۶ع کال چاپ، پېښور. د ځوږ ځغاره په ۱۹۵۶ع کې [illegible] په ځغرد په هغه یک په ۱۹۵۰ع کال د خپل واده د وسلم [illegible] مورولي دي. خو سکاري چه خان به په ۱۹۲۹ع کال کښې واده کړی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول سیاسي جریانونه او واقعات دده په فکر، نظر او عملي ژوند اغیزمن ووه. په خپله د عبدالغني خان د سیاسي فعالیت زمانه او په سیاست کښې دده ګډون له هغه وخته راپیل کوم، چه د پښتنو د شوغونیا تو په نتیجه کښې په افغانستان کښې د غازي امان الله خان (۱۹۱۹-۱۹۲۹ع) په ضد بغاوتونه او د پښتو سقاو د نه شوه ناروغه. په ټول هیواد کښې د حق او باطل ترمنځ یوه جګړه روانه شوه. او ټول وطن د پرنګي په لمسه په اور کښې سوځېده. زمونږ ترنیو ورونو د دغه مصیبت برداشت نشو کولای. او له موږ سره خان په دغه غم کښې شریک باله. باچا خان او دده ملګرو د خلکو د پوهولو لپاره جلسې کولې او د امان الله خان په ګټه یې تبلیغونه کول چنده یې ټولوله (۱۹)

او د جنګ د زخمیانو د مرستې لپاره یې افغانستان ته د یو طبي وفد د لېږلو کوښښ شروع کړی و. غني خان هم د باچا خان له خوا د غه وفد ته ټاکل شوی و. لکه چه اوسني لیکوال کښې راغلي دي: « باچا خان پښځه زره روپۍ او یو هم غني د غه وفد ته ورکړې » غني خان د غه وخت په جامعه ملیه دهلي کښې سبق وایه، په غني پسې تلګرام لاړ او هغه په دوهمه ورځ راورسید... خان ته یې د رضا کارانو خرڅ جامې جوړې کړې او د ډاکټر خان صاحب (۱۹۵۶ع شهید) له کمپوډر څخه یې د پټۍ تړلو چل زده کړ. خو پرنګي د دغې لې له تلو سره موافقه ونه کړه او د ... وي پاسپورټ تونه یې تر هغې وخته ...

---

(۱۹) مرحوم راحت زاخېلي (۱۸۸۴-۱۹۶۳ع) هم په د سه باب ویلي دي: « یا ورکړې ... په ... کښې د ... » (د اغنټ ص ۳۰ د زلمي هیوادمل په زیار. د ۱۳۶۳ هـ ش ... چاپ)



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې امان الله خان له پاچهۍ لاس وکیښ.

خنګه چې د باچاخان د غني فیصلې ته پرنګیانو په ښه نظر نه کتل او پلمه یې غوښتله چې د غني ګرفتار کړي. نو غني یې له ګرفتارۍ څخه د ژغورلو په خاطر د تحصیل لپاره انګلستان ته ولیږه (۱۹۲۹ع). دا و د سیاسي مبارزې په ډګر کښې د غني لومړی ګام او د پرنګي د اعمالو پر ضد یو پاڅون.

وروسته تر دې چې غني له اروپا او امریکا څخه بېرته هندوستان ته راوګرځید. د هند په سیاسي حلقو کښې محشور شو. له ګاندهي جي (۱۸۶۹-۱۹۴۸ع) او د هند له نورو سیاسي لیډرانو سره یې د پلار په وسیله ناسته پاسته وه. لکه چې پاچاخان په خپل یو لیک کښې عبدالغني خان ته کښلي دي: «غني جانه! دا خو ډیره د خوشحالۍ خبره ده چې د ګاندهي جي په صلاح او مشورې سره بنګال ته روان یې زه به تا نه ډیر خوشحال یم که چیرې ته د ګاندهي جي په صلاح سره کار کوې د هغه تا سره ډیره مینه ده ....» (۱۹)

استاد بېنوا لیکلي دي: «عبدالغني خان په ۱۹۴۵ع کال د دوستانو په سپارښتنه د هغه وخت په مرکزي پارلمنټ (برتانوي هندوستان) کښې د انتخابیدو د پاره ودرېد. خان یې کاندید کړ (۲۰) د ده په مقابل کښې له څه هم د هغه وخت د ډېرو سیاسي ډلو لکه خاکسار، مسلم لیګ او هندو مها سبها

(۱۹) د باچاخان لیکونه ص ۲۰

(۲۰) د پښتانه لیکوال په ۱۷ مخ کښې یې کښلي دي: «کوم وخت چې خان عبدالقیوم خان د کانګرس مستعفي مشرانو غني خان د هغه په ځای د دوو کالو د مشترکه هندوستان د سنټرل اسمبلۍ ممبر یاکتې شو.»



A .S.K B

ولاړ دے، خو غني خان هغوئ ټولو ته ماتے ورکړه او د هند په مرکزي پارلمنټ کښے وټاکل شو نو دهلی ته ولاړ. هند په مرکزي پارلمنټ کښے ښاغلی غني د خپل مستعد دماغ په برکت ډير ژر منلے مقام ومونډ او د هغه وخت د هندوستان په دريو بهترينو مقررينو کښے يو هم غني خان و، که څه هم دے د پارلمنټ تر ټولو غړو کشر و، خو چه ده به تقرير شروع کړو نو بيو دم به چار چاپيره د پارلمان غړي په منډه منډه د پارلمان سالون ته راتلل ....

سره د دے چه عمر ئے لږ و، بيا هم د مرکزي وزيرانو سره د ډيرو ولسي سلا کار کميټو غړے و يو ځل نيم هم داره پا بين الملالے کنفرانسونو ته ليږلے شوے و." (۲۱)

هغه مهال په شمال مغربي صوبه سرحد کښے د مسلم ليګيانو وراني د خدايي خدمتګارو په وړاندے زياتے شوے وے، نو هغه وخت چه عبدالغني خان د خدايي خدمتګارو د محافظت د پاره د زلمي پښتون ډله جوړه کړه او ډير وطنپرست پښتانه زلميان ئے پکښے منظم کړل، د دغه تحريک سره له دے چه شپږ مياشتے وچليد، خو د اتيا زرو په شا و خوا کښے پښتانه زلميان ورسره وو.

فخر افغان د دغه تحريک په باب کښلي دي: "څه وخت چه زمونږ خلک د ميجر خورشيد د ادارے او سيکم نه خبر شول نو هغوي د خدايي خدمتګارو د حفاظت د پاره نو جماعت د غني په مشرۍ کښے جوړ کړو، نوم ئے (زلمي پښتون) و او په دے کښے هغه ځوانان شريک شول چه د چا عقيده په عدم تشدد باندے نه وه

---

(۲۱) اوسني ليکوال، ص ۹۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولې چې هغوی په دې غرض دغه جماعت جوړ کړې و، چې خدائي خدمتګار خوتشند د نه کوي، دوی عقیده په علم تشد د ده ددوی په خلاف د تشدد سازشونه کیږي، نو دوی اعلان وکړو چې دا جماعت هم د خدائي خدمتګار د حفاظت د پاره دی. ددې په مقابل کښې مسلم لیګو د غازي پښتون په نوم يو جماعت جوړ کړو لیکن پښتون قوم زلمي پښتون پسې و، او مسلم لیګ کښې چه کوم خانان د پرنګیانو تالي څټ وو، هغوی په دې نتیجه ورسیدل چې قوم خدائي خدمتګارو سره دې نو که د زلمي پښتون او غازي پښتون جګړې شي نو مونږ مسلم لیګو کښې به یو کس هم ژوندی پاتې نه شي.... (۲۲)

د هندوستان تر ویش وروسته د ۱۹۴۷ ع کال د جولائي په څلرمه نېټه د شپې په یوه بجه غني خان د مسلم لیګي حکومت له خوا ګرفتار شو او د مغې شپې په سبا پېښور ته بوتلې شو، او له مرحوم ماسټر عبدالکریم سره يو ځاي جیل ته ولیږل شو. د هرېپور او پاکستان د نورو جیلونو په تورو او سپینو پنجرو کښې یې شپږ کاله تیر کړل او په ۱۹۵۴ ع کال کښې له بنده آزاد شو.

دا وه د ده سیاسي ژوند او په سیاسي میدان کښې د ده د فعالیتونو او مبارزو لنډه قصه. اما تر دې وروسته هم که ظاهراً خان په روان سیاست کښې لاس وهل نه لري، مګر بیا هم د محیط او خپلې کورنۍ د سیاسي مرکز میو

---

(۲۲) زما ژوند او جدوجهد ص ۶۹۲ - ۶۹۹



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

له چپو به امان کښې نه شي پاتې کېدې او د غه سياسي جريانات د ده په ذهن اغېز کوي او د ده ژوند مل ورسره تېرېږي .

## د ادب ميدان :

ويل شي چې خان عبدالغني خان خپل لومړنی شعر د ۱۹۲۹ ع کال د جولائي په ۲۲ نېټه د عمر په څوارلسم کال ويلی دی ، او د غه شعر يو بيت دا دی :

د تهمت نه به جهان کښې څوک خلاص نه شي
چې آسمان وي کله کله وي وريځې

عبدالغني خان له هماغه وخته د ادب په ميدان کښې لومړی قدم کېښود ، مګر د غه قدم يې ډېر پوخ او محکم کېښود چې ان تر دې دمه په لار روان دی ، او ادب يې د زړه همدم ايسي .

خان له ۱۹۲۹ - ۱۹۰۵ ع کال پورې په د شپږ پنځوس کالو کښې خپلې ژبې او خپل فرهنګ ته ډېره ورکړې دي ، چې د غه ادبي کارنامې به يې نوم ترډېره ژوندی وساتي .

## پښتو ادب ته د غني خان بخښنې :

د پښتو ادب په اوسني دور کښې په سلګونو شاعرانو او اديبانو له او پښتو ژبې ته په نظم او نثر کښې ډېرې بخښلې دي ، چې په د غو ډاليو کښې د ځينو هغو له مرغلرو سره برابر دي ، او د ځينو لا په کوم ځګه نه ارزي .

د عبدالغني خان بخښنې په لومړي قطار کښې ځای نيسي ، د ده چې څه



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلې ژبې او ادب ته غښتلې دی ډېر برخه یې د پښتو شاعرۍ په اوسنی دور کښې خپل بل ساری نه لری، او یوازې دے په خپله ژبه کښې د دغسې بکر او ناویلو شوو مضامینو مبتکر دے.

زه به دلته د دې لیکنې په دې برخه کښې لومړی هغه خه در وپېژنم چه د ده پښتو ادب ته ورکړی دی.

## ۱- د پنجرې چغار:

دا د خان د منظوم کلام اولنۍ شایع شوی مجموعه ده. او له اختتامیه لیکنې یې ښکاری چه دغه مجموعه خان په جیل کښې تنظیم او بشپړ کړې ده. د ده خپله لیکنه په دې خصوص کښې داده: "نن په ۲۲ تاریخ د اکتوبر ۱۹۵۲ع په هریپور جیل کښې دا کتاب لیکل ختم شو." (۲۳)

دغه مجموعه ۲۱۵ مخه په ۱۹۵۶ع کال پېښور کښې د یونیورسټی بک ایجنسی له خوا چاپ شوې ده. د کتاب پېژندګلو د مرحوم ماسټر عبدالکریم په قلم کښل شوی، او په پیل کښې یې د خان خینې منثورې لیکنې هم چاپ شوې دی.

## ۲- دغنی پلوشې:

دا د عبدالغنی خان د کلام دویمه مجموعه ده چه په ۱۳۲۹ هـ ش کال په کابل کښې د پښتو ټولنې له خوا ۲۳۶ مخه چاپ شوې ده. د دې مجموعې د پیل په ۱۲۳ مخونو کښې د خان نوی کلام چاپ شوی دے او وروسته یې د پنجرې چغار

(۲۳) د پنجرې چغار ص ۲۱۵ - خان د دې اثر په یو بل ځای کښې کښلی دی: "هریپور ۱۵ اکتوبر ۱۹۵۰ع کښې دا کتاب شروع کړم. غنی"



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظمونه اخیستي دي .

ددې مجموعې په پیل کښې د مرحوم استاد الفت یو یادښت او په پای کښې یې د غني خان یو یادښت چاپ شوی دی چې د مهپور په جیل کښې کښل شوی او تاریخ یې ۱۹۴۹ کال د جولای د شلمې نیټې دی. د غني په دې یادښت کښې راغلي دي : "کتاب خلاص شو خو شعرونه ډیر پاتې شو، خیر بیا به چرته څه غم وکړو، ژوند عجب شی دی. د دې کتاب کښې اول شعر د اوبو په جهاز کښې په بحر هند ویل شوی او آخري د مهپور جیل د کوارټن په یوه جکۍ کښې په دې منځ کښې چې څه مستي، خوشحالي، غم، ارمان، امید، ویره، خندا او ژړا په مارا غلي دي. نو د دې کتاب په دې پاڼو کښې موجود دي ولې افسوس د چې ژبه مې د زړه هومره طاقت نه لري بیان د احساس نه کمزوری دی. خو هر څه چې دي حاضر دي ما د څه پټولو کوښښ نه دی کړی. بلکه د ښکارو کولو خواري مې کړې ده.

دا زما د خان تصویر دی، ډیر نامکمل او مات گوډ دی ولې دا زړه به په خوشحاله ضمیر ویلې شم چې دې کښې هر څه دي زما دي. دا زما د دې بې ښکاره او بې مطلبه ژوند یوه خواره ډالۍ ده چې ما خپل قام او مسلک له جوړه کړې ده. کاش چې دې کښې د ژبې د ښایست او د پوهې د کمال د پاڼو ما د ک بهولي دې ولې څه وکړم چې هم د ومره وس و. او ښه دې خپله وسه زیاتي په هیڅ نه ده ړپه. که په دې خیالا تو کښې د ومره حسن وي، چې له مانه پس هم



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوندي پاتې شي نو زه به وایم چه واقعي ماد آب حیات چینه ومونده ،او س دوي ماژوندي کړي دي ،او بیا به دوي ماژوندي کوي.،، غني (۲۴)

## ۳- پانوس :

د عبدالغني خان د شایع شوي کلام دریمه مجموعه پانوس نومي چه په ۱۹۷۸ع کال د قامي مکتبه پېښور له خوا په پنجاب آرټ پریس ،، ا هوي کښې ۲۹۲ مخه چاپ شوې ده. په دې مجموعه کښې د خان له نوي نظمونو سره د پنجرې چغار او پلوشې انتخابات هم لیدل کیږي. د دې مجموعې په پیل کښې یو بې مخیز یادښت هم چاپ شوې دې .

## ۴- د غني لیکونه :

غني خان د خپل سیاسي او ادبي ژوند په دوران کښې د ملت او بر پښتونخوا او برصغیر ادیبانو ،شاعرانو او سیاسي خلکو او مشرانو ته په اردو انګریزۍ او پښتو کښې منظوم او منثور لیکونه هم کښلي دي ،چه زه د خان د غني لیکونه د ده په خانه میل اثر بولم .

که څه هم د ده د پښتو منظومو او منثورو لیکونو څېنې برخې د سرحد په اخبارونو ،رسالو او هم د ده په کتابونو کښې شایع شوي دي ،خو د هغو څخه د تولول او خوندي کول په کار دي ، ځکه د غني لیکونه د خپل ادبي او هنري لطف سره سره څېنې ډیر مهم نکات او تاریخي وقایع هم رانغاړي ،چه د غني خان

---

(۲۴) پلوشې ص ۲۳۶



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ملي، سیاسي او ادبي ستیزو په څېړنه او شمال ته د ځینو ماحول او وخت د مطالعې په دوران کې د څېړونکو سره ډېره مرسته کوي. زه په دې خاطر کې د سجاد له زړه ورو رسالو څخه د دوی منثور او نه منظوم لیک د نمونې په ډول راخلم.

دارالامان

۲۰/۱/۵۹

ګرانه مهدي:

ستا د وار خطونه را رسیدلي دي. معافي غواړم چې اول مې جواب در نکړو. خوږه دا ده چې ناجوړ یم او نن سبا خو مې د خپله خانه او تولې دنیانه مرور شوی یم. تا ته دا ښه معلومه ده چې کلونه او شو چې ما څخه خاص شي نه دي لیکلې تیر شوي خرم کښې چې زه په هسپتال کښې وم. نو د امام حسین مرثیه لیکلې ده. هغه د لیږم. هغه مې راته ورکړه شوې ده. خو که ښنه کوم او را یادوم. زه ستا ډېر مشکور یم چې کله نا کله زما شعرونه رهبر کښې چاپ کړې زړه مې ډېر غواړي چې هره هفته د لې څه ناڅه لیکم ولې ډېر پریشانه او ډېر ستړی یم او هیڅ کار ته مې زړه نه کیږي (۲۵) ـ غني.»

لاندې منظوم لیک را وړم چې عبدالغني خان د ۱۹۵۱ع کال د جون په ۲۵ په جیل کښې ماسټر عبدالکریم ته لیږلی و:

---

(۲۵) رهبر کالیز نمبر ۱۲ فروري ۱۹۵۹ع. الف مخ.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

غني ته نه سړی وې        نه سړی شوې نه به شې
بې تکه د خبرې        بې مطلبه د نشې
بې توله د دماغ دې        بې لباسه د بیان
دا سړی د سنړ ادې        نه سود پېژنې نه زیان
تا لو کښې الوته وینې        بق بق آسمان ته کوې
قسمت د ته نارې وې        ته نه ناست او خاته کوې

* * *

جوړې کو محاورنه        د خندا او د هوا نه
په خاوړ خاور کوړې        دا ښایسته دنیا ورانه
دا کړه د عیشونو        کښلو جونو او ړنانه
په خا د مقبره کوړه        تکه توره ورانه ورانه
داخه غواړې د بل نه        خانه څه غواړې د خانه
داخه بلا جوړې        د دې ښایسته دنیا

* * *

نرګس دې د دې کړلې په باړ کښې د جوا رړ        رامبیل د ګلولي په باغچه کښې دانا ړ
دنیا کښې ترقي په خوشامندو د د له ده        تا خو به سلام د او تختونه په منت
دنیا واره کمزور د ده خواره د درغ خواره        چه څه د بل ښاوې د صفه کینې صفت
بادشا د دنیا زرد او یا زورد د بل نشته        مطلب د ژوند یا خا د او یا کورد د بل نشته



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو ته اینې خان نه شې وړې نه به شې — کلونو او کلونو خندا نه وه شې

د خاطر په نظر کښې خان خیال نه دی — ته تول پار سنګ پاره ځلی تو نه دی

ته تول منصور منصور زړه د تود سر دې غ — خانانه حکم د بهلول نه دی

منم چه د ګلونو اشاره نو سپرلو یار دې — خو باله دوه خندا ق دا غوښو نه دی

په دې خته چه د ګل او د نسیم ساقي راز دار دی — چه تاله بل خماول او خاخیو نه دی

همیش په دې شغل یوانه خیتړی په سحر کښې — په کور کښې د فرغو چه خان باول نه دی

رنا که دېړا وکې په د ټشه رنا خه — دا و به خېتې خان په د ټشه خندا خه

* * *

ته حسن خه دلو کی هوا محل دی — انصاف انصاف د خه دې تو هو ښیار شا اکل دی

ایمان ایمان د خړوی هوښیار غم کړی د سبا

اتبار د هوښیار تیا د اکو ایمان د عقل غل دی

رښتینې د مرچنې وهی په زولنو کښې

نن بره د چای ده موره او بره روان چل دی

په بیه شرافت د نوم او ننګې په لیلام

یا ټې په کرایه ښه سر یتوب هم په بدل دی

خکل کښې دیر یا نو لتو ته بنا پیری — تعریف کړ په شعو په دسته خوا د سامری

په شعر کښې لتې د لرو سرو پلو شې — غني ته نه سرو نه ښه نه به شې (۲۶)

(دس ستا ور غني)

---

(۲۶) رهبر ۲۹ فروری ۱۹۶۱ ع ص ۱۱۴ - ۱۱۵



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دغني خان د آثارو سره یو ځای د غني خان متفرق اشعار او نظمونه، لیکونه او نور منثور لیکنې د پېښور په ډېرو ملي رسالو او اخبارونو کښې شایع شوي دي چې تولول او خوندي کول يې په کار دي، ځکه دده هر لیکنه او هر نظم د پښتو ادب یوه قیمتي پنګه ده. او بیا چې زمونږ لرني پښتون قوم او ژبه مینه وروته د غنی کار وکړي.

د غني خان د آثارو په لړ کښې ادب پوهانو په انګلیزي کښې د "پټهانز" په نوم دده یو اثر یادونه هم کړې ده. چې ځينو افغان ته اصلا شوي دي والي چې دغه اثر دوه ځله چاپ او شایع شوی دی. یو ځل په بمبئی کښې او بل ځل په ۱۹۵۰ع کال په پېښور کښې. ما ځپله د غني خان دغه کتاب نه دی لیدلی.

## د غني د کلام ښکلي خوا:

د غني خان د کلام کومه مطالعه چې ما غزیبته میسره شوې ده چې څه کښې زیاتره برخه د داسې شعري سکښت لري چې زمونږ لرني ورونه يې "نظم" بولي او د شعري قالبونو د تخنیکي قاعدو او اصولو ډېر تابع نه دي. له دغو نظمونو سره سره دده په کلام کښې غزل، رباعي، قطعه او یو نیمه مثنوي هم لیدې شي.

د عبدالغني خان په کلام کښې څه داسې نظمونه هم خان بنکاره کوي چې موږ ورته دلته په کابل کښې "آزاد نظم" او یا نوې شعر وایو دغه ډول نظمونو هم خان په خاص ادبي مهارت ویلي دي چې لیکې فکري خواوو سره سره هنري مزیت هم لري او د پښتو د نوي شعر د مطالعې په دوران کښې په خاص ډول د یادونې وړ دي، دلته زه دده د دغه ډول نظمونو یوه نمونه وړاندې کوم:



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوک د زړه غولولو نشته
ځان له زړه غولوم پخپله
ځان له ناست یمه خپل غم ته
د خپل غم وایم بدله
چېرته لرې تیر محفل له
د مستۍ او خندا خمه
چېرته مړه شمع راخلم
خپل مشال پرې لګومه
دې تورتم غم او افسوس کښې
زه په یاد د مینې پایم
سوې زړه ته قصې دیرې
د ځوانۍ رنګینې وایم (۲۱)

د خان د آزادو نظمونو نورې د پېرنمونې په پاڼوس کښې خوندي، په مجموعه کښې یو ځانیم د علامه اقبال (۱۸۷۳-۱۹۳۸ ع) د کلام ترجمې لیدېشي او هم د پښتو د اولسي شعر و نمونې هم.

## د خان د شاعرۍ مضامین او فکري ارزښتونه:

د خان د کلام له مطالعې هرچا ځانله خوند اخیستی دی او لیکوالو او محققینو هریو د خپل برداشت سره سم څه پرې لیکلي دي. مګر زما په عقیده ترهرچا دمخه او تر هرڅه دمخه باید سړی د شاعرۍ په باب د خان خپله رایه پوښتي چې د ده په باب څه نظر لري. عبدالغني خان استاد بېنوا مرحوم ته په یو لیک کښې په دې باب داسې لیکلي: «.... زما خیال دی چې ژوند کښې دیوشاعر مرام او هدف دیو مبلغ او ملا څخه بیخي جلا او بل شان دی او دا ځکه چې انسان په اساسي او بنیادي توګه یو ځناور دی

(۲۱) رهبر جون ۱۹۵۹ ع ص ۱۲



A .S.K B

هغه خوږ اوښک . ښکلا جنسي اړتیاوو او استراحت ته نه پرېږدي او نو هغه ته نه . دا زموږ د شاعرانو وظیفه ده چې د انسان توجه او پاملرنه د هغه دروند او هستۍ ته لوړو مرکزونو ته وګرځوي ، چېرته چې هغه ممکنه ده . د خپل تکامل انعکاس ووینې ، او د خپلې ابدي معشوقې د ښکلا او ښایست دیدن وکړي .

زما خیال دی چې یو شاعر باید د فکر او خیال قول او عمل په ذریعه د ښکلا او ښایست عبادت وکړي او انسان دې ته مجبور کاندي چې هغه د خپلو خواهشاتو له کنده ګړو څخه خپل مخ د خپل باغ عدن خواته واړوي . دا کار په پند و نصیحت نه شي کېدی . زما هغه خلک بد ایسي چې ما ته نصیحتونه کوي .

که چېرې موږ د ژوند له لوري د ښکلا او ښایست د قدر، داني لیاره خان راپیدا کړای شو ، ترکومه چې په ژوند کښې د عذاب او مصیبت درد او غم تعلق دی نو زما خیال دی چې موږ ته د ښکلا ښایست د تخلیق د پاره د هغې قیمت اداکول لازم دي . هر یو آرټسټ دا بوګنو ونکې قیمت اداکوي ، او په دې کښې یو څو کسان خوشبخته وي چې د ښکلا ، ښایست او دلربائي یو څاڅکی راپیدا کړي .

د آرټ ، ښکلا او ښایست او دلربائي مخ ته د راوستو د پاره ته باید چې د ژوند ، درد وغم ته مخامخ شې ..

د خان له دے خبرګند ونو ښکاري چې د دوه شاعري مقصدیت هم په لوړو خبرو کښې نغښتے دی ، او د دوه کلام کمال اقبال هغه غوندې دی چې خان په خپله بیان کړي ول

د خان د کلام زیاته برخه فکري محتوی لري چه د ملي او قومي مسایلو له بیان څخه نیولې تر ژورو فلسفي مسایلو پورې خبرې او د ټولنې ضروریات په خپل کلام کښې رانغاړي.

د خان اکثر فکري آثار د طنز او مزاح په ډول په داسې طنزي انداز کښې بیان شوي دي چه د ټولنې او معاشرې ډېر ناوړه خواوې په ډېرو خوږو طنزونو او ټوکو نظمونو کښې بیانوي. او د پښتو په معاصر ادب کښې ډېر لږ شاعران داسې طنزونه لري. یا خو به دغه ډول طنزونه ډېر لږ وي که وي نو هغه به هم د غني په الفت چه غني بیان کړي دي نه وي. په همدې اساس دلته پښتو ادبي محققین لیکي چه په اوسني دور کښې طنز و مزاح ته په پښتو شاعرۍ کښې لیوني فلسفي عبدالغني خان خاصه ځلا ورکړه (٢٩)

د غني په شاعرۍ کښې له وطن او قوم سره مینه په داسې انداز کښې بیان شوې چه هیڅ ډول تفنن او تصنع نه پکې لیدل کیږي او د ده د قوم پرستۍ او وطن پرستۍ د واقعي احساساتو ترجماني کوي. او په ټولنه کښې مسلط اجتماعي او سیاسي نظام هم د ده د اوږدې تجربې او د نقاد قلم له خوګې خلاص نه دی. د زیار باسي چه د جامعې فسادونه په داسې طنزیه او مزاحیه ټمبلونو کښې انتقاد کړي چه په ظاهر کښې ډېر سطحي او پیش پا افتاده ښکاري. خو که سړی یې مطلب ته ورسي، نو هلته د خان په فکور مغز آفرین و وایي.

---

(٢٩) اټک کښې اسپار ص ١٩٦ طبع لوشنه ادب لاهور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عبدالغني خان او د ده کلام د شاعرانو، ادیبانو او محققینو له نظره:

د خان د پېژندګلۍ او د ده د آثارو او افکارو په باب چه کوم بحثونه شول د هغو تکمیل لپاره لازمه ایسي چه د هغو ادیبانو او شاعرانو آراوې هم راوړل شي چه د غني او د ده د آثارو په باب څرګندوني او نظریات لري:

۱- مرحوم ماسټر عبدالکریم (۱۹۰۸- ۱۹۶۱ع)، د پنجرې چغار په دیباچه کښې کښلي دي: "... د غني د شاعرۍ دري دوره دي: اول دوره د هلکوالي شاعري ده... دویم دور د غني شاعرۍ هغه وخت پیل شي چه وخت چه غني له یورپ، امریکې طواف په هغه زیاته کړے وه... درېیم دور کښې د غني په تخیل کښې پراخوالے موندل شي. د الته غني د خیال په نیلي سپرېدي خو د اګې چپل قابو کښې دي یو آواز د چه سوز او ساز لري، یو سرور دې چه د مسۍ او ستړوخمار لري دې دور کښې غني خان که خپل مسلک هم لري، وایي چه غالب او ټیګور په لاره روان وو غني مخې له ورغي دوا پرې یو بل ته وکتل د غه د غني د درېیم دور شاعري ده او چه د خیام مستۍ له یې د غالب بیباکي او د ټیګور رنګیني ورکړه..." (د پنجرې چغار مقدمه ص د-)

۲- د پښتو ژبې نومیالي لیکوال همیش خلیل لیکلي دي: "د د غه نوم نه ورانده ادبي دنیا کښې غني خان په لیوني فلسفي پېژندل کېږي شو. او د خپلو مزاحیه شعرونو له لکبه چې اکثر به په او د ورځني پښتون کښې شایع کېدل. هم د دغه محبت په ذریعه لیوني فلسفي نه صرف په خپل ماحول کښې بلکه تر لرې لرې مشهور شو..."
(پېغام لیکوال ص ۱۰)



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- مرحوم استاد گل پاچا الفت (۱۳۵۶ هـ.ش مړ) د غني شاعري داسې ستايي: " د غني خان په اشعارو کښې چې څه شي زما په زړه ښه لګي هغه د فکر او خيال آزادي او د تقليد له تلقينا تو څخه سرکښي ده.

د ده رندانه مقام ته ځوک نه شي رسېدای او هغه څه چې د ده په دخپل سباغلي ليونتوب له برکته ويلي شي د نورو خوله پرې سوځي.

غني د شعر او شاعرۍ په دنيا کښې ربښتيا غني دی او ډېر څه يې په ځير رسېدلي دي. د ده په اشعارو کښې عشق او محبت، پښتو او پښتونولي، رندي او خيامي فلسفه، ټوکې او مسخرې هر څه شته له کارغانو او مارغانو سره يې هم په شاعرانه ژبه ډېرې د خوند خبرې کړې دي.

د ده په مستانه ليونتوب کښې شاعرانه هوښيارۍ او بېدارۍ پټه ده او په ملنډو کښې يې د مقصد تکي نغښتي دي. نو ځکه ورته ليونی فلسفي هم وايي " (پلوشې - الف. ب مخونه)

۴- استاد بېنوا (۱۳۶۴ هـ.ش مړ) بيا وايي: " ... ظاهر بين خلکو ورته د ماشوم په نظر وکتل خو د قدرت په نظر کښې هغه د پښتني ادب په آسمان يو ځليدونکی ستوری و، چې له نيمه راښکاره شو.

هو! هغه وخت څوک پوهېدل چې دا ماشوم به يوه ورځ د پښتو د ادب غني او مستعد دماغ شي چې د سپېڅلي طبيعت له الهام، د حقيقي انسانيت له نورو، د سرمست احساس له جامه د رندۍ او شوخۍ له خمه



A .S.K B

دلیونی مینې له سوز وسازه او د زړونو د زوړې فلسفې له تله په پښتني ادب دا مې

نوې خلا، نوې رنګیني، نوې روح او نوې خوند ورښني چه د پښتو زوړ

ادب لره ورته اشناو ". (اوسني لیکوال، ج ۳ ص ۹۶۹)

د- شوروي پوه ګ. ف. ګیرس بیا دغني شاعرۍ له تحلیل څخه دا خبره راوباسي،

" د زړونو ان د پیښو د ترسیم له پاره غني خپل مخصوص سبک او اسلوب انتخابوي

طنز، ټوکې او ټکالې کوي او هغه څه چه د شعر په ذکر کښې د ده مخې ته ورغلي

دي هملته ورته نه دي پاتې شوي او ګوزار یې ورباندې کړې دی. حتی انګلیسان

ملایان، وطن دوستان، اولسي بې سوادان او عتیقه پرستان د ده د ظرافت

لاندې راغلي دي. تیز او مهم موضوعات په داسې رنګ تعبیر سره بیانول په طبیعي

ډول د اشعارو څخه ښکاري. برسیره پر دې د غني خان د آثارو نه معلومیږي چه

د اولس په وروسته پاتې کید او کښې څپله اولس ملامت دی." (۲۹)

۶- استاد اجمل خټک د غني په نامه یو یارکې لري چه یوه برخه یې

دلته را اخلو:

د غني په نامه لیکم څو شعرونه — په نخرو کښې یادوم تازه ګلونه

د هغه سره مې نکونه د قلم دي — زه ولړم په څو ساړه ساړه آهونه

د هغه خوله کښې د خوند ډک چغارې — زما زړه کښې دي د درد ډک داغونه

هغه خیال فن او ښکلا سره لوبیږي — زه ګډیږم لوبوم داغلي زړونه

---

(۲۹) د پاکي اولس ادبیات . مه محقق معتمد شیوازي ترجمه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیلاني هغه د نوي دنیا کې دے — بلوم زه د کوډو د لو مشالونه
د هغه احساس د حسن تازه ګل دے — زه جذبات یم په ما تل دي سره اوروونه
هغه مینه ده، غیرت د ولولې دي — زه وفا یم، پښتو یم، ننګونه (۲۰)

۷- د پانوس په دیباچه کې ورته کښلي اغلی دي: «غني خان چه خپله د آرټ دیوے ماہرے حیثیت لري د هغه د افکارو سره پوره پوره انصاف وکړے شي. . . . غني خان د خپلے پاڅږے د کالې خانګے نه پیکوي. چه د هغه په خیال په پوښتون باغ کښې د ګلاب بوټے خپلے فطري ارتقا ته پرېښودل په کار دي.»

۸- پروفیسور ولي محمد خان سیال کاکړ یې بیا داسې ستاینه کوي:

چه پیدا په هشتنغر کښې غني خان سو
بخت بیدار په رښتیا د لوے افغان سو
شاعر نه دے فیلسوف د زمانے دے
په خپل شعر کښې د پښتون چه ترجمان سو
د لیوني اشعار چه لولي لیونیان سي
پس له لوستو هر سړے خبر په ځان سي (۲۱)

---

(۲۰) د وخت چیغه ص ۲۴۲ د ۱۳۵۶ هـ ش کال ـ د کابل چاپ.

(۲۱) منظومه تذکره ص ۲۷ د ۱۹۹۲ ع کال د کوټې چاپ.



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹ - صاحبزاده محمد ادریس پخپل یو نظم کښې دغني او مفتون مقایسه داسې کړې ده:

فرق څه دې په غني او په مفتون کښې — که څه وینې لیونتوب او په جنون کښې

سرکړدانه که دې یو بل نا قلاره — اضطراب که وي د دواړو په پخون کښې

د احساس دیو کمي په شرابونو — بیا و تیږي د شرابو په بیلتون کښې

بیهوشي کښې او وي خرابه و سرونه — فرق نه وینم د دواړو په قانون کښې

یو د خیال بل د جذباتو په تال زانګي — ورپسې د خیال لیلا د مجنون کښې

سر په پښو یې او مستي په زړه وجابل دي — سبقیان دواړه د عشق په پوهنتون کښې

دغني د خیال نیلې په آسمان کې رغي — ورپسې د مفتون آس وي په کډون کښې

سړي ونه چې د مینې کړې برسیره — مستي داولي د عقل افلاطون کښې (۱)

۱۰ - زموږ نوميالي استاد پوهاند رښتین دغني د هنر او فن تجزیه داسې کړې ده:

"دغني په اشعارو کښې پایه پایه زړه د دردونو په پلوشو کښې عشق او مینه او محبت ښکته او پښتونولي ، رندي او مستي ، تنقید او کوکنه ، آزاد خیالي او بې باکي د بې باکۍ فلسفه او نوي رنګ لذتونه او خوندونه شته او په دې میدان کښې غني د خوشحال د لارې یوځل ملګرې د سخوه تړلو او ملنګو کښې ترهغه هم وړاندې دی" (۲)

---

(۱) د سپیڅلي ستوري ص ۶۱-۶۲ د ۱۹۵۷ ع کال د پښتو ټولنې اداره اشاعت سرحد.

(۲) وږمه د ۱۳۵۶ هـ ش کال ګڼه ص ۱۳۰



A.S.K.B

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۱- ښاغلی صادق الله خان کښلی دی: "د غني خان شاعري سيلۍ ده چه نه نيولې شي او نه تللې پام کوي چه په خپله تاو کښې د غني خان د اچولو ښس ونه کړي. په دې چه ستا او زما تا نه خو د هغه وسعت اټکيدلې شي او نه د هغه د وزن او چتوالي طاقت لرو." (۱)

۱۲- سالار شاهين چه د غني په شعر کوم جاج اخيستی دی د هغه خلاصه دا ده: "د غني د فکر پلوشې د حسن و عشق په دنيا کښې که د يو دنيا د خيال په نوې نوې رنګونو کښې شيندي، د هغه چا نګري چه ال انداز د نظر د ستو ... کوي." (۲)

۱۳- ورځ ليونی پوهاند ليکلی دی: "د غني خان شخصيت د تعارف محتاج نه دی خو ژوند چه د دود کيف او بې خودۍ نه په خوند نه دی اخيستی او د هغه د باکي اخيستي قابليه نه دی د دې قلم نګين عکاس داکاش په سينه چپا شوی ليونتوب کښې هم دستور او پلوشه ګڼلی شي ټوخې هسې خو د ونه هم هم ښيا ليونې د ځاچه هم ښيا انو خيب بلي دې چه دنيا په ليونو خانانو او ليونې په دنيا کښې تاسو ګورئ چه د ازمونږ ليونی فلسفي خيب واي:

زه خپه خوايمان نه خو خو مه ... خدای ليونی په خالق خام ليونی

غني خان د شعر فن په ميدان کښې ډير ځلا او آزادۍ لار نه خستي دی. هغه د ا ټول دي د نيا لاره خوند دوه کوي. خوند د ده چه د لوبې باکه او مخلص په غوندې د خو ځاي په چل د کنو د کيو هوارو احساس کوي خو سختې ډوډۍ لمنه ورکوي. د هغه احساس موثر د اثا چه په کند هم خوږ يريږي. خو خپل ځال وايي خپلو نه نه وي. د دغه حقيقت نه ګړځ غني ې ئ تحاټ دی. د هغه کلام د ژوند د تول او په توره د ژوند د تول او ميرو تو هم. خو ښالو هنداه او ستواو سان خوږ و تو خورتيا او تيا ش ذکر و نه کوي. هغه په زړه د ننه د خپل ګريوان کښې د معاشرې په مقام مطلق اوښکې توي. خو په خوږ و خوږ کښې د تو خو حقيقت نه څښه هم کوي." (۳)

[illegible]



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۴- حامد کښلي دي: «شعر غني بازتابی از زندګی محیط و درګیری های سیاسی زمان اوست و همین مسایل است که انګیزه های بازسازی دنیای نګری او را می سازد شعر در دست او خامه یی است که با آن افکار فلسفی، آزادیخواهی و حب وطن را با تمام ابعادش ترسیم میکند...... در شعر او فضای زیبا و پرشکوهی تبلور یافته است. همین ویژګی شعر اوست که او را در ردیف شاعران ممتاز و برازنده د زبان پښتو قرار میدهد.» (*)

## غني او انځورګري:

په ادبي څېړنو کښې راغلي دي، چه غني خان انځورګر (مصور) هم دی. د ده ځینې انځورونه په بعضې کتابونو کښې شایع شوي هم دي. وایي چه ډیکوریر په بین الاقوامي یونیورسټی کښې غني د خپلې استوګنې په زمانه کښې د هلکانو د توتو تصویرونه جوړول شروع کړل اما دغه تصویرونه چه د کالج پرنسیپل او ډیکوریر (۱۹۶۱-۱۹۴۱ع) ولیدل نو ډیر زیات خوشحاله او حیران شو.

ښاغلی همیش بالکښلي دي: «غني خان د یو ښه شاعر نه علاوه یو بهترین مصور هم دی او د یو خانه د تصویرونو نمایشونه شوي دي.» (پښتانه لیکوال ۱۰ مخ.)

---

(*) حقیقت، دمی در دنیای، ذو ... حامد نیکه د ۱۳۶۴ کال د اسد ۷ مې ګڼه.



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د غني د کلام د غه مجموعه:

کله چې د پښتو ژبې نوميالي شاعر او ليکوال سليمان لايق ماته د غني د کليات د تدوين سپارښتنه وکړه . نو ما لومړی کار له پانوس پيل کړ . پانوس کټ شو او کاتب ته د ليکلو د پاره وسپارل شو . تر ډېره وروسته مې د پنځه څلورو کار لاندې ونيوه او هغه نظمونه چې په پانوس کې نه راغلي وو . هغه تر ليکلو لاندې ونيول شول او باقي برخې يې وليکل شوې او کاتب ته حواله شوې . بيا مې پلټنې وکړې . د دې مجموعې ټول هغه نظمونه چې په پانوس او پنځه څلورو کې نه راغلي وو . هغه تر ليکلو لاندې ونيول شول . او پاتې نظمونه يې وليکل شول .

البته ځينې شعرونه چې زموږ د ځان ټول نظمونه د پلټنې او پانوس له مخې راجمع کړو خو د دې لپاره چې د عبدالغني د کلام مجموعه خپل هويت هم ساتلی شوی وي د هغو ځينې لپاره جلا جلا سرليکونه ورکړل .

د شعر په کليات کې راتلونکو نظمونو په املا کې ډېر لږ بدلون د بدلون تر ډېره حده موږ ياد وو يوسف چې املا د اوسني پښتو ليکنې املا ته ورته وي . هغه کلمات چې خان په شعر کې لهجه کې ناځي و ځينې موږ سم کړل او په مروجه املا مو وليکل خو ځينې برخې يې لا د خان د لهجې مطابق پاتې شول . البته دا خبره بايد هېره نشي د پنځه څلور او بلوښې کوم نظمونه چې په پانوس کې راوړي دي . په هغو کې لاس ملي دي او ما د متن د ترتيب او ... وليکه ... په کليات کې اخيستي دي .

☆ له بده مرغه ځينې تکراري نظمونه هم په مجموعه کې راغلي او زه داسي وخت ورته متوجه شوم چې ايستل يې ګران وو .



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه د دې لیکنې په پای کښې د خان عبد الغني خان یوه خوږه غزله تاسې ته
وړاندې کوم چې زما له دې بحث سره ډېر نږدې اړه لري. او د ده د ژوند په مطالعه کښې
ارزښتمنه ایسي.

## غني غني ته

ماوې غني یاره خه بې اندازه غونډ سړی یې
ادب دې کښې کم زبان دراز غونډې یې

قصې دې کله ورته نه سمې خاشنې نه توقي شوې
خوږه دې د وپیازو کښې خه دې پیازه غونډې یې

پټې دې وران ویجاړه دي او کښې ورږ دې پولې
کومې پکښې کالو نه حسن سازه غونډې یې

لیده دې د ماته کوږ او شړل ماهل دې غشي
خو غزاره دې ـ ساکي تیر اندازه غونډې یې

دولت دې وي که صفت دې وي که ناموس دې وي که شهرت
په ورږ خیټه موړ او بې نیازه غونډې یې

که ننګ دې وي که تراش وي که چاره بیته که بدله
په خپله لاره روان یې بې استازه غونډې یې

په مینه یې مین او خدای ته پلاره او جانان وایې
داخکه خو یې تول بې اندازه غونډې یې

---

پښتو مجله ۱۹۸۲ ع کال (فروري مارچ) ۲۹ مخ
• [illegible] • راټولونکی
خادم العلماء مرتب و مدون ۰ ۲۰۰۰



A .S.K B

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**